داستبداد او مطلقیت په مقابل کې
دځینو افغانانو

ملی مبارزی

مؤلف: محمد ولی (ځلمی)

www.sikaram.com

د استبداد او مطلقیت په مقابل کې
د ځینو افغانانو ملی مبارزی

مؤلف: محمد ولی (ځلمی)

د طبع کال
۱٤۲٤هـ.ق = ۱۳۸۲ هـ.ش کابل

www.sikaram.com

بسم الله الرحمن الرحیم

د استبداد او مطلقیت په مقابل کې

د ځینو افغانانو ملی مبارزی

مؤلف:

محمد ولی (ځلمی)

کمپوزر:

شاهپور

شمیر:

۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ نیټه: ۱۳۸۲ هـ.ش کال

خپرونکی:

د میوند خپرونکی ټولنه

د چاپ ځای:

د میوند مطبعه، د صدارت ځلورلاری، کابل

تیلفون: ۲۲۰۰٤٥٥، موبایل: ۲۸٤۹٥٤- ۰۷۰

E-mail: maiwand@asia.com

د چاپ حق ناشر ته محفوظ دی

www.sikaram.com

د مندرجاتو فهرست

شماره	عنوان	مخ
۱	تقریظ	ح
۲	د استبداد او مطلقیت په مقابل کی د افغانانو ملی مبارزی	۱
۳	د استبداد او مطلقیت په مقابل کی اجتماعی نظریات	۲
٤	د جهاد د اجازی کال	٦
٥	د استبداد او مطلقیت په مقابل کی د موکراسی	۱۱
٦	د استبداد او مطلقیت په مقابل کی د مشروطی نهضت	۱٤
۷	په انگلستان کی د مشروطی نهضت	۱٦
۸	په ترکیه کی د مشروطی نهضت	۱۷
۹	په ایران کی د مشروطی نهضت	۱۸
۱۰	د خارجی استعمار او بیگانه فرهنگ سره ملی مبارزی	۲۰
۱۱	د هلوی شاه ولی الله او د دیوبند مدرسه	۲۱
۱۲	سید احمد بریلوی	۲۸
۱۳	سردار سلطان احمد ته د بریلوی د مکتوبونو څخه	۲۹
۱٤	مولینا محمد قاسم نانوتوی	۳۳
۱٥	مولینا محمود الحسن صاحب	۳۳
۱٦	په افغانستان کی د خلافت او پان اسلامیزم تحریکات	۳٥
۱۷	علی ورونه	۳۸
۱۸	د استبداد او مطلقیت په مقابل کی د سید جمال الدین افغان ملی مبارزی	۳۸

www.sikaram.com

شماره	عنوان	مخ
۱۹	د ترنگزو حاجی صاحب	۵۱
۲۰	مولینا ابوالکلام آزاد	۵۳
۲۱	سر سید احمد	۵٤
۲۲	خان عبدالغفار خان	۵٦
۲۳	علامه ډاکتر محمد اقبال	٦۰
۲٤	په افغانستان کی د استبداد او مطلقیت...	٦۹
۲۵	د استبداد او مطلقیت ضد نهضتونو...	۷۷
۲٦	لومړی ډله مشروطه غوښتونکی	۸٦
۲۷	د لومړی ډلی مشروطه غوښتونکو لنډه سوانح	۹۳
۲۸	مولوی غلام محی الدین افغان	۱۰۲
۲۹	د لغمان د چهارباغ میر صاحب	۱۰۸
۳۰	ډاکتر عبدالغنی	۱۱٤
۳۱	مولوی نجف علی	۱۱٦
۳۲	مولوی محمد حسین	۱۱۸
۳۳	پروفیسر غلام محمد میمنگی	۱۲۰
۳٤	محمد ولی بدخشانی	۱۲۲
۳۵	میر ضمان الدین، میر یار بیگ...	۱۲۵
۳٦	شجاع الدوله	۱۲٦
۳۷	سید جوهر شاه غوربندی	۱۲۸
۳۸	لعل محمد کابلی	۱۲۸
۳۹	تاج محمد بلوڅ	۱۲۹
٤۰	سردار عبدالرحمن	۱۳۰

www.sikaram.com

شماره	عنوان	مخ
٤١	سردار عبدالمجیب	١٣٢
٤٢	سردار عبدالحسین عزیز	١٣٣
٤٣	عبدالجلال کندهاری	١٣٣
٤٤	محمد عثمان پروانی	١٣٤
٤٥	محمد ایوب پوپلزی	١٣٥
٤٦	محمد ابراهیم چنداولی	١٣٧
٤٧	محمد حسین راقم	١٣٨
٤٨	محمد انور بسمل	١٤٠
٤٩	مولا خان	١٤١
٥٠	نظام الدین ارغندیوال	١٤١
٥١	مولوی محمد مظفر مروت	١٤١
٥٢	احمد علی قزلباش	١٤٢
٥٣	حافظ عبدالقیوم	١٤٢
٥٤	ملا عبدالحق ارغندیوال	١٤٢
٥٥	شیرعلیخان بارگزی	١٤٢
٥٦	ملا فیض محمد کاتب	١٤٣
٥٧	امر الدین خان	١٤٤
٥٨	حاجی محمد اکبر پوسفی	١٤٤
٥٩	بابا عبدالعزیز (بابا جان)	١٤٥
٦٠	سردار عبدالعزیز	١٤٨
٦١	قاری نیک محمد	١٤٩
٦٢	پاچا میر خان	١٥٠

www.sikaram.com

شماره	عنوان	مخ
٦٣	د لومړی دوری مشروطی غوښتلو د ناکامی عوامل	١٥١
٦٤	د علامه طرزی محمود پر ژوندانه لنډ نظر	١٥٢
٦٥	د استبداد او مطلقیت په مقابل کی د جوانان افغان ملی مبارزی	١٧٥
٦٦	د اعلیحضرت امان الله دور	١٧٨
٦٧	د مشروطی د دوهمی دوری د ځینو ملی مبارزینو پیژندگلوی	١٩٤
٦٨	عبدالهادی (داوی)	٢٠١
٦٩	مولوی عبدالحی پنجشیری	٢٠٦
٧٠	محی الدین انیس	٢٠٧
٧١	میر غلام محمد غبار	٢١٠
٧٢	غلام سرور جویا	٢١٨
٧٣	مولوی یار محمد مقری	٢٢١
٧٤	سید حسین سید	٢٢٣
٧٥	غلام نبی سرخ رودی	٢٢٤
٧٦	سید غلام حیدر پاچا	٢٢٤
٧٧	میرزا محمد علی تائب	٢٢٦
٧٨	غلام محی الدین آرتی	٢٢٩
٧٩	غلام احمد (اعتمادی)	٢٣٠
٨٠	غلام احمد رحمانی	٢٣٠
٨١	سید قاسم او سید عبدالله	٢٣١
٨٢	بشیر احمد	٢٣٢
٨٣	محمد ابراهیم جمشیدی او آدم خان	٢٣٢
٨٤	شیر محمد افغان بیگ	٢٣٢

www.sikaram.com

شماره	عنوان	مخ
۸۵	عبدالغنی سرخاوی	۲۳۳
۸۶	فتح محمد ارسلا او عبدالجبار ارسلا	۲۳۳
۸۷	میرزا محمد مهدی چنداولی	۲۳۵
۸۸	قاضی محمد عبدالظاهر سامی	۲۳۸
۸۹	محمد ابراهیم صفا	۲۴۰
۹۰	عبدالغفار سرحد دار	۲۴۲
۹۱	احمد راتب	۲۴۲
۹۲	اسمارسمیه	۲۴۵
۹۳	سید اسمعیل بلخی	۲۴۶
۹۴	ماما واحد	۲۵۰
۹۵	مولوی خال محمد خسته	۲۵۱
۹۶	خواجه محمد نعیم قوماندان	۲۵۵
۹۷	کلوب ملی او دمحصلینو اتحادیه	۲۶۲
۹۸	وینې څلمیان	۲۶۸
۹۹	فیض محمد انگار	۲۷۱
۱۰۰	عبدالرؤف بینوا	۲۷۳
۱۰۱	پوهاند عبدالحی حبیبی	۲۸۱
۱۰۲	گل پاچا الفت	۳۰۱
۱۰۳	نور محمد تره کی	۳۰۴
۱۰۴	محمد رسول پښتون	۳۱۱
۱۰۵	قیام الدین خادم	۳۱۶
۱۰۶	غلام حسن ساپی	۳۲۰

www.sikaram.com

شماره	عنوان	صفحه
۱۰۷	صدیق الله رشتین	۳۲۳
۱۰۸	عبدالشکور رشاد	۳۲۸
۱۰۹	عبدالهادی توخی بحر	۳۳۰
۱۱۰	محمد ابراهیم خوا خوری	۳۳۶
۱۱۱	محمد انور اخکزی	۳۳۷
۱۱۲	قاضی بهرام اخکزی	۳۳۸
۱۱۳	دده خواجی حضرتان	۳۳۹
۱۱۴	غلام محمد اورمر	۳۴۰
۱۱۵	عبدالقدوس پرهیز	۳۴۲
۱۱۶	داؤد شاه لیوال	۳۴۴
۱۱۷	غلام جیلانی الکوزی	۳۴۵
۱۱۸	نداء خلق عبدالرحمن محمودی	۳۴۵
۱۱۹	داکتر عبدالرحیم محمودی	۳۴۸
۱۲۰	محمد یوسف آئینه	۳۵۰
۱۲۱	میر محمد صدیق فرهنگ	۳۵۵
۱۲۲	علی محمد خروش	۳۵۷
۱۲۳	استاد احمد علی کهزاد	۳۶۲
۱۲۴	استاد خلیل الله خلیلی	۳۶۲
۱۲۵	برات علی تاج	۳۶۸
۱۲۶	علی احمد نعیمی	۳۶۹
۱۲۷	حاجی عبدالخالق فراری	۳۷۰
۱۲۸	داکتر عبدالقیوم رسول	۳۷۲

www.sikaram.com

شماره	عنوان	مخ
۱۲۹	ډاکټر محمد ابوبکر	۳۷۲
۱۳۰	ډاکټر نصرالله یوسفی	۳۷۳
۱۳۱	غلام حیدر پنجشیری	۳۷٤
۱۳۲	نورالحق ارغندیوال	۳۷٤
۱۳۳	فتح محمد فرقه مشر هزاره	۳۷۵
۱۳٤	افغان ملت	۳۷٦
۱۳۵	انجنیر غلام محمد فرهاد	۳۷۸
۱۳٦	فدا محمد فدایی	۳۸۰
۱۳۷	قدرت الله حداد	۳۸۱
۱۳۸	سید محمد یوسف میرنی	۳۸۲
۱۳۹	شمس الهدی شمس	۳۸۵
۱٤۰	د سرحدی افغانانو او بلوڅانو ملی مبارزی	۳۸٦
۱٤۱	خان عبدالصمد خان اڅکزی	۳۸۸
۱٤۲	خان محمد ایوب خان اڅکزی	۳۹۰
۱٤۳	خان محمد جعفر خان اڅکزی	۳۹۵
۱٤٤	ماما عزیز الله ایډوکیټ	۳۹۷
۱٤۵	فقیر ایپی	٤۰۲
۱٤٦	عبیدالله درویش درانی	٤۰٦

www.sikaram.com

تقریظ

اثر تحت عنوان (د استبداد او مطلقیت په مقابل کی د افغانانو ملی مبارزی) را سراپا مطالعه نمودم حتی المقدور سعی به عمل آوردم تا نظر و استنباط که از آن به وجود می آید آن را به گونه واقعی انعکاس دهم. با آنکه در شرایط موجوده در وطن آزادی فکر و بیان طوریکه اصول دموکراسی و شرایط زمان آن را مقتضی است وجود ندارد. هم چنان در اثر عوامل گوناگون اجتماعی و سیاسی و یا محدودیت تفکر علمی و اساسی دانش پژوهشی کسی نتوانسته است آنرا خارج از تسلط مادی و ذهنی اشخاص ذی نفوذ به صورت آزاد علمی و واقعی بنگارد. با آنهم ذوق نوشته و طرز تحقیق این اثر قابل اعتنا و مدار اعتبار دیده میشود.

طوریکه از مطالعه و تحقیق جریان حوادث به یقین پیوسته، آدم بزرگ و بطل الحرب از آن حقیقت بزرگ نیست که مسایل و امیال شخصی او به واقعات تاریخی رنگ فردی میدهد و علت اصلی آنرا زایل مینماید، بلکه بزرگی او به این مناسبت است که دارای چنان فضایل لازمی است که او را به یکی از متنفذ ترین افراد برای خدمت در راه رفع احتیاجات بزرگ اجتماعی زمان خود مبدل ساخته، و خود آن احتیاجات معلول علل عام و خاص است که تحت تاثیر آنها به وجود آمده اند.

تیوری های نوین مبارزات و عکس العمل ها در مقابل ظلم و استبداد و علت العلل اساسی را به طور همه جانبه باید مورد تجزیه و تحلیل قرار دهد و کمبودیهائیرا که بر اساس تیوری های اسبق در تحلیل تاریخ وقایع کشورکشایان و فاتحین وجود داشت از میان بردارند.

تیوری های کهن در بهترین حالات خود، فقط به جنبه های فکری و عقلانی فعالیت تاریخی افراد معینی توجه داشته و به آنچه بر انگیخته شدن این جنبش فکری و عقلانی

www.sikaram.com

بود یعنی به ریشهء اصلی وقایع تاریخی بذل توجه نمیکردند و به قوانین عام تکامل جامعه بشری و مناسبات اجتماعی اعتنایی نداشته به شیوه های قدیمی نقش شخصیت ها در برابر مدرك علمی تاریخی قرار میگرفت و عقیده داشت تاریخ در واقع تراکم اتفاقی وقایع است که به دست قهرمانان روی هم افتید و وظیفه نویسندگان این است که وقایع را به نام آنها ثبت و به رشتهء تحریر در آورند.

بعضی شان بر این عقیده بودند که قهرمانان و کشور کشایان موجب ابداع تحولات تاریخی و راز ترقی و پیشرفت جوامع بشری است و به مردمانیکه نعم مادی جامعه را به وجود می آورند و ابزار تولید را تکامل می بخشند و به وجود می آورند، اعتنایی نداشتند. حال آنکه قهرمانان بدون مردمان جامعه بشری نمیتوانند رشد کنند و حتی نمیتوانند بدون آنها بر زندگی خویش ادامه دهند. ازینرو تاریخ قبل از هرچیز تاریخ مقاومتهای بشر در مقابل استبداد و بی عدالتیها می باشد، بزرگ ساختن نقش شخصیت ها با فرد پرستی و یا نسبت دادن این و آن اثر عالی و مافوق عالی به رهبران جامعه و سرکردگان قوم و به انگاشتن مردم مخالفت عمیق دارد.

به هر حال چگونگی مقاومت در مقابل ظلم و استبداد یکی از حوادث مهم اجتماعی است که در محور مطالعه جامعه شناسی و پرنسیپ علمی باید مطالعه شود، مراعات مداقت و احترام به واقعیت و حفظ اصولیت و پایبندی به شرافت انسانی علامت قدرتمندی و برومندی است و ریای فکری، دروغ و پرده پوشی حیله گرانه علامت ناتوانی است. باید توانست که جسورانه در دیدگان واقعات نگریسته و تفسیر حوادث را بدون نوسانات محیلانه ولی همراه با شیوه های موثر و هدفمند، ثمر بخش به کار برد چه حیله موجب تناقض است و تناقض ما در شکست طوریکه گفته اند، دروغ دارای پای لنگی است که با آن نمیتوان به راه دور سفر کرد.

یکی از شرایط مهم صداقت سیاسی بیان صریح نظریات بنیادی و نگریستن به اشتباهات خویش و اعتراف بر آنها و اصلاح آنهاست. تفسیر باید بر پایه های علمی و اجتماعی که در آن منافع مردم عامه بازتاب یافته مبتنی گردد.

آنچه در فوق گفته شد در نتیجه آن به گونه خلاصه کلام در مورد این اثر باید گفت که:

www.sikaram.com

آنچه که این اثر را ذی قمت مینماید اینست که نویسنده سعی به عمل آورده است که به رسم علمی و اصول پژوهشی در همه بخش های این اثر روش بی طرفی، اعتدال و رویه انصاف را نظار خویش ساخته و تا حد ممکن از دخالت دادن احساسات و عواطف شخصی خویش اجتناب ورزیده و اگر احیاناً گاهی تحت تاثیر احساسات واقع شده باشد به حد کم است که به هیچوجه نمایان نیست. امروز ما بیش از هرچیز به طرز استدلال علمی و براهین منطقی احتیاج داریم تا جایگزین سقط و مغالطه گردد. اگر این خوی بر ما غلبه نماید آغاز سعادت و خوشبختی ما خواهد بود.

در اخیر بنده طبع و نشر این اثر تحقیقی را برای تنویر و ترقی افکار عامه خیلی ها مفید میدانم از خداوند(ج) متعال طلب آن دارم تا رهروان این قافله وطنی را زودتر به سرمنزل مقصود برسانند.

و من الله توفیق

پوهاند داکتر عبدالکبیر شهاب

www.sikaram.com

د استبداد او مطلقیت په مقابل کی د افغانانو ملی مبارزی

د استبداد او مطلقیت د غندلو په هکله الهی نظریات:

د مځکی پر مخ د بشر د خلقت د شروع رایسی د فساد او شر د دفع کولو او ناروا او تیری د لیری کولو له پاره د شیطان او بنی آدم د مخالفتونو او دښمنیو قصی زیاتی مشهوری دی او څو دنیا موجوده وی د شیطان د دسیسو او توطئو څخه بیله الهی فیض او برکته څوک خلاصیدلای نه شی.

لکه چې خدای تعالی فرمایی: **انما یرید الشیطن ان یوقع بینکم العداوة و البغضا**

ترجمه: په تحقیق سره شیطان ستاسو په منځ کی دښمنی او عداوت اچوی د حضرت (آدم) ابوالبشر سره د شیطان او د هغه د خطا استلو او جنت څخه د را استلو ماجرا قرآن عظیم او زیاتو تفاسیرو راوړی ده:

هغه وخت چې (آدم) او (حوا) په جنت کی اوسیدل له خدای تعالی څخه فرمان ورته وسو، هر څه چې خوری او چیښی اختیار لری، خو دغی ونی ته مه نژدی کیږی چې د میوی خوړل یی تاسو ته وبال او گناه لری او ظلم دی پر تاسو باندی.

روایت دی چې وایی: په جنت کی دری شیان نه وو: لوږه، تنده، لوڅتیا.

نو آدم چې په جنت کی په هوسایی او آرامی ژوند تېراوه د ابلیس یا شیطان د دښمنی څخه غافله ؤ او فکر یی کاو چې شیطان په مځکه کی دی او له ده سره رابطه او تعلق نه شی پیدا کولای. خو ابلیس د نورو په خولو کی دا شایع کړه: آدم که غواړی د تل له پاره ژوندی او خوشحاله و اوسی د دغی ونی څخه چې منع شوی دی میوه وخوری. کله چې آدم د دغی خطا مرتکب وگرځید او منع شوی میوه یی وخوړه، خدای تعالی هغه د جنت څخه را ویوست او د ژوندانه په درد او غم یی اخته کړ، خو په کلونو، کلونو یی خدای تعالی ته وژړل او توبه یی وکښه څو عفو او بخښنه ورته وشوه.

www.sikaram.com

د شیطان د کلمی سره یوځای د ابلیس کلمه هم کله استعمالیږی، د جلالین تفسیر په روایت ابلیس (ابوالجن) د ټولو جنیاتو او د شیطانانو مشر دی چې د خدای تعالی له دربار څخه ترټلی او شړل شوی دی لکه چې فرمایی: **(و اذقلنا للملئکة السجدو و لادم فسجدو الا بلیس ابی و استکبر و کان من الکافرین)**

ترجمه: هغه وخت چې مونږ ملائکوته وویل چې آدم ته سجده وکړی، دوی ټولو سجده وکړه مګر ابلیس منع راوړه او لویی وکړه او دی له کافرانو څخه و.

د خدای تعالی د امر د نافرمانۍ او سرکښۍ له جهته د خدای تعالی د دربار څخه مغضوب او ترټلی وګرځول سو، خدای تعالی انسان د شیطان د پیروی څخه منع کوي او فرمایي: **(... ان الشیطان لکم عدو فاتخذوه عدوا انما یدعو حزبه فیکونوامن اصحب السعیر...)**

ترجمه: په تحقیق سره شیطان ستاسي دښمن دی، هغه په دښمنۍ ونیسی په ربښتیا سره دی غواړي خپل ملګري په دوزخ کي و اوسوي نو د عقل او منطق په فحوا او د انساني عالي اخلاقو د ساتنې په لحاظ د دی دپاره چې د بشری سالمی ټولنی د آزادی، استقلال او ملی حیثیت د شیطاني اعمالو د تباهیو څخه په امان وساتل سي، د اخلاقي د ساتیرو او حسن تبلیغونو او ښو لارو او چارو وړونه د خدای تعالی د مخلوق پرمخ ونه ټړل سي، نو د شر او فساد د لیري کولو له پاره باید حتمي د قوې د استعمالولو څخه کار واخستل سي او دغه هیڅکله ناروا عمل نه ګڼل کیږي دا ځکه چې دغه کار (جهادي هلي ځلي) د بشري ټولني د سالم بدن څخه د مضرو مکروبونو د لیري کولو او د هغه د حمایه کولو په منظور عملي کیږي، نه د چا د شخصي ګټو د ساتلو او انساني حسادتونو او ناوړو رقابتونو د په سر رسولو په منظور.

د استبداد او مطلقیت د لیری کولو له پاره اجتماعی نظریات:

ځیني څیړونکي وایی د شر او فساد، مطلقیت او انانیت سره مخالفت او مجاهده د مخه تر هغه چې یوه دینی او یا اجتماعي مسئله وګڼله شي یو فطري او طبیعي اصل هم دی چې یوازي د انسان په غرایزو او خواستو کي باید مطالعه نه سي بلکه په حیواناتو او جانورانو کي هم باید و څیړل سي.

www.sikaram.com

حیوانان هم په خپلو منځو کي هغه وخت چې د دوی د ژوندانه د بقا اصولو ته خطر پېښ سي جګړې او مسابقې ته رادانګي او خپل رقیبان ځپي، د مثال په توګه چرګان د دانو خوړلو په وخت کي یو او بل ته مشوکه اچوي، ځمریان او پرانګان هغه وخت چې په ځنګله کي سره مخامخ سي، یو له بله زور آزمایي او جنګ کوي دوی په خپلو چمبو، منګلو، داړو، ښکرو یو له بل سره مقابله کوي او خپل حریف له منځه وړي. په طبیعت کي د ژوندي موجوداتو د بقا دپاره مبارزه حتمي ده، نو ځکه مبارزه او جنګ طبیعي قانون دی چې همدغه د نورو قوانینو اساس ګڼل کېږي. د فرانسې نومیالي ژوند پېژندونکي بیشوت (Bichot) ژوند د هغو اعمالو څخه بولي چې د مرګ په مخالفت راولاړیږي همداشان یو بل لوی عالم چې هراکلیت (Heraclite) نومیږی جنګ او مجاهدات د موجوداتو پلار بولي. په ژوندانه کي جنګ او دفاع یو عمومي قانون دی، چې د ژوندیو شیانو طبیعي غریزه ګڼله کیږي او د انسان د پایښت او بقا ناموس دی. که څوک د تاریخ پاڼې په دقت واړوي داسي ملت یا ولس به په مشکل ومومدل سي چې د خپلو ګاونديو او یا نورو هیوادونو سره به په لوی او یا کوچني جنګ نه وي لګیا سوی. مشهور بشر پېژندونکي (سامونل کینګ) د خپل اثر (جامعه پیژندنه) په (۱۵۲) مخ کي په دي هکله وایی: د بشر د تاریخ د پیدایښت څخه جنګ د تل دپاره وجود لری او نژاد پیژندونکو په مشکل وکولای شو چې یو شمیر محدودی طایفی لکه اسکیمویان او یا داسی نوری ومومی چې جنګ د دوی په منځ کی منظم ډول موجود نه دی.

جنګ اوس داسی بین المللی بڼه مومدلی ده، چې د ملتونو د ژوندانه جزء ګرزیدلی او جامعې پیژندونکو هغه یوه اجتماعی موسسه ګڼلی ده.

جنګ هیڅکله له منځه نه ځی دا ځکه چې په بشر کی د تل له پاره د قوتونو عدم موازنه موجوده ده. یو چینی عالم چی (سن تزو) نومیږی د حضرت عیسی د زیږیدنی څلور سوه کاله د مخه یعنی د (هونو) د امپراتوری په وخت کی د جنګ د قواعدو او اصولو په هکله لیکلی: د یو هیواد له پاره د جنګ د صنعت او یا فن زده کړه ډیره ضروری ده، دا ځکه چې ژوند او مرګ په همدغه حس ترلی دی او په دغه کار کی هیڅوک باید بی پروانه شی.

ارسطو د خپل کتاب (سیاست) په یوه برخه کی ځینی جنګونه طبیعی او روا ګڼی مونتسکیو د خپل کتاب (روح القوانین) په یوه برخه کی وایی:... د ملتونو ژوند د افرادو د ژوند

www.sikaram.com

په څیر دی، انسان حق لری چې د خپل ځان په دفاع کی د قتل مرتکب شی، تجاوز گر ووژنی، دا د دی سببه چې د هغه ژوند د تجاوز په وخت کی د خطر سره مخامخ کیږی او باید مدافعه شی یعنی څوک حق نه لری چې د چا څخه ژوند واخلی...)

ځینی لویدیځو متفکرینو دا بیځایه وسوسه پیدا کړی ده چې وایی: اسلام د زور او توری دین دی، نه د منطق او عقل او جهاد چې مسلمانان یی کوی د وینی تویولو او غنمیت گټلو په معنی اخلی، په داسی حال کی چې دوی بینځی پر غلطی لاری او خطا عقیدی باندی تللی، په اسلام کی جهاد د عقیدی د تحمیلولو، استعمار، استثمار، مرئیتوب په معنی نه دی راغلی بلکه جهاد د الهی نظام د ناموس، بقا او د بشری ژوندانه د نیکمرغی او بریالیتوب او د فطرت د قوانینو سره د هماهنگی په اصل پیژندل کیږی د جهاد کلمه د (جهد) څخه مشتقه ده، جهاد او مجاهده د فعال او مفاعلت په وزن د همدی جهد څخه مصدرونه دی او په لغت کی د محنت او کوشش په معنی دی خو په اصطلاح کی د حق د لوړوالی، د حق د اشاعت، د خدای په لار کی د هر ډول جد و جهد او قربانی ته وایی.

جهاد او ملی مبارزه د اسلام یو مهم رکن او لوی عبادت دی، دا یوازی د خدای او دین د دښمنانو سره په مجاهده او مبارزه نه شی تفسیریدلای بلکه د یر ډولونه لری لکه چې فرمایی: **لایستوی القاعدون من المؤمنین غیر اولی النصرر و المجاهدون فی سبیل الله باموالهم و انفسهم فضل المجاهدین باموالهم و انفسهم علی القاعدین درجته و کلا عبدالله الحسنی و فضل المجاهدین علی القاعدین اجر عظیما (نساء، ۱۳).**

ترجمه: د مسلمانانو څخه هغه چې کومه جسمانی معذوری ونه لری او یا ناست وی او هغه چې د خدای تعالی په لاری په خپل مال او ځان جهاد کوی سره برابر نه دی الله تعالی، په خپل مال او ځان جهاد کونکو ته په ناستو خلکو د درجی فضیلت ورکړی دی، او له هر یوه سره خدای تعالی د ښیګڼو وعده کړی ده او جهاد کونکو ته یی په ناستو خلکو ډیره ښیګڼه او اجر بخښلی دی، په صحیح مسلم کی راغلی دی چې حضرت محمد صلعم به ویل: زه هیله لرم چې د خدای تعالی په لاری ووژلی شم او بیا ژوندی سم، د دوهم ځل له پاره هغه ژوند قربان کړم او بیا ژوندی سم او د دریم ځل له پاره ژوند قربان کړم.

www.sikaram.com

خدای تعالیٰ د جهاد د ښیګنی په هکله فرمایی: **(و لا تحسبن الذین قتلو فی سبیل الله امواتا بل احیاء عند ربهم یرزقون)**.

ترجمه: هغه کسان چې د خدای تعالی په لار کی مړه شوی، مړه یی مه شمیری بلکه د خدای تعالی په نزد ژوندی دی خو تاسی نه په پوهیږی.

جهاد کفایی واجب دی لکه چې فرمایی: **ما کان للمومنون ینفرو کافة فلو لا نفر من کل فرقة منهم طائف انتفقهوفی الدین.**

ترجمه: روا نه دی مؤمنانو ته دا چې ټول ولاړ شی، نو ولې ولاړ نه شی، د هری ټولنی څخه یوه دله او نور پاته شی چې د پوهی طلب وکړی په دین کی.

جهاد یا ملی مبارزه ډیر ډولونه لری:

یو دایمی جهاد دی، چې هر مسلمان ته په هر وخت کی پیدا کیږی لکه د دین ساتنه، د علم خپرونه، د حق پالنه، د بیوزلانو سره مرسته، امر معروف، نهی عن المنکر، د عدل قیام او داسی نور لکه چې فرمایی: **(ادع الی سبیل ربك بالحکمة و الموعظة الحسنة و جاد لهم بالتی هبی احسن)**.

ترجمه: د خدای تعالی و لاری ته په حکمت او ښه وینا خلک جلب کړه او په هغه مجادله وکړه چې ښه وی.

حضرت محمد صلعم فرمایی: ستا د بدو دښمنانو څخه یو نفس دی چې ستا دواړو خواته سته.

دا خبره زیاته مشهوره ده: هغه وخت چې حضرت محمد صلعم دیوه جهاد څخه راتلی وی فرمایل: د کوچنی جهاد څخه لوی جهاد ته ځم.

همدا شان حضرت محمد صلعم فرمایلی دی: هغه خلک چې د دین، ننګ او ناموس په ساتلو کی مړه شی شهیدان دی.

نو د خدای تعالی عبادت، د حضرت محمد صلعم د ارشاداتو پیروی، په ژبه، خوله قلم د فساد سره مبارزه د ډیرو ښو جهادونو څخه شمیرل کیږی.

نو جهاد، ملی مبارزه او جنګ تر هغه وخته چې د انسانی طبع سره اړیکی او سازش ولری، ریښه یی له منځه نه ځی د جنګ د تعدیل او د ملایمت ډیره ښه لاره د ځان او عقیدې دفاع ده چې

www.sikaram.com

په هغه کي بايد د انسانيت د حقوقو مراعات وسي، اسلامي جهاد يا جنګ په يوه معنی همداشاني تفسير يدلای سي.

اسلام به په هغي ټولني کي ګام اينبوی چي هملته به يوه مظلوم او غمګين ملت ليدل کيدی او هغه به تر سخت استعمار او استثمار لاندي و د داسي ټولني د ملت او حکومت په منځ کي به زيات توپير موجود و، د حاکم او محکوم رنګ به يې غوره کړی و، د فاسدي حکمرانی او مطلقيت توره پرده به غړيدلې وه، فسق او فجور به په لويه پيمانه مخ رانيولی و، نو اسلام به په خپلو فرمايشاتو وحدانيت او خدای پرستی د ښېګڼو ښودلو وروسته دوی، د وروری، برابری لوری ته را بلل او په هغو کی به يی د اسلامی نظام عدالت او انصاف اساسونه تطبيقول، د مثال په توګه: هغه وخت چي حضرت عمر فاروق (رض) بيت المقدس ته راغی په (القمامه) کليسا کي يې د لمانځه د ادا کولو څخه ډډه وکړه او د هغې کليسا کشيش (راهب) ته يې وويل (دا ځکه نه چي زما وروسته دا ځای مسلمانان ستا څخه واخلي او مسجد يې کړي او همدارنګه يې وويل چي بايد مسيحيانو ته هيڅ تکليف او آزار ورنه کړه سي، د يهودو او نصارا وو علماوو ته بايد سپکاوی و نه سي.

اسلام د مغلويو ملتو د آزادی او انساني کرامت د ساتلو په مقابل کي دوی نه مجبورول چې په زور او جبر سره مسلمانان کړه سي د دې د پاره چي دوي د خپلې ټولني د ښېګڼو څخه مستفيد سي د دوی څخه به يې په سياسي لحاظ بيخي لږ جزيه غوښته او زياته مهرباني او عطوفت به يې باندی کاوه د دوی مال، ځان او ناموس به يې ورساتی، تېری به يې نه باندي کاوه د همدغه کبله و چي د مسلمانانو د اقتدار په وخت کي د نورو اديانو او مذاهبو زياتو علماوو او فضلاوو ته د قدر او اهميت په سترګه کتل کيده.

د جهاد د اجازی کال:

د هجرت په دوهم کال د صفر المظفر په دوولسمه د جهاد اجازه وفرمايله سوه لکه چي فرمايي: **(اذن للذين يقتلون بانهم ظلمو و ان الله على نصرهم لقدير)**

ترجمه: اذن ورکړه سو په جنګ کولو سره هغو کسانو ته چي جنګ ورسره کاوه سي، په سبب د دې چي په تحقيق سره دوی مظلومان وو او په تحقيق سره په نصرت د مؤمنانو باندي خامخا ښه قادر دی.

www.sikaram.com

د ابن جریر په تفسیر کي راغلي دي چي دقتال په متعلق له ټولو څخه پخوا کوم آیت چي نازل سوی دی هغه دا دی: (و قاتلو فی سبیل اللّه الذین یقاتلونکم)

ترجمه: جنګ کوی ای مؤمنانو په لاره د اللّه تعالی کي د هغو کسانو سره چي جنګ کوي له تاسو سره.

د مدینې منورې د هجرت او اقامت څخه وروسته د حضرت محمد (ص) له ټولو کارو څخه پخوا اول کار د خپل ځان د ساتنې او د اسلام د استقلال او خپلواکی تدبیرونو سنجول و، خو نه یوازي دی په خپله بلکه مهاجرین او انصار هم د کفارو د تجاوزاتو څخه په امان وګرزوی، ځکه انصار په دی سبب چي مسلمانانو ته یی پناه ورکړی ده بیخی تر تهدید لاندی وو. او قریش د مدینی منورې د تخریبولو له پاره په تیاری لګیا وه او په هغو ټولو قبایلو کی چې له دوی سره ملګری او متحد وو د مسلمانانو د مخالفت اورونه بل کړل همدا شاني څه وخت چې اسلام مدینی ته راغی، نو ټول یهودانو په دی بنه وپوهیدل چې د دی وروسته د هغوی جبر او ناروا نه شی تحمل کیدلای او په هره اندازه چي په مدینه کی اسلام مخی ته تلی د هغو اقتدار لږیدی. یهودانو په دی وخت کی مذهبی خپلواکی درلوده، او حضرت محمد (ص) په دوی هیڅ غرض نه کاوه لکه چې فرمایی:

(و من الذین هادو و اسعو للکذب سمعون لقومه آخرین لم یاتوك)

ترجمه: او ځینی له هغو کسانو چي یهودان (یعنی د بنی قریظی او مدینی منافقان دی) دیر اړیدونکی دی د خبرو ستاسی له پاره د رسولو، قوم بل نه چي نه دی راغلی تا ته (یعنی بنی خیبر، بنی نضیر).

نو حضرت محمد (ص) د دغو اوضاعو په مقابل کی د دغه دوه تدبیرونه ونیول:

اول دا چې د قریش شامی تجارت یې چي د دوی د غرور او تکبر لویه پانګه او سرمایه جوړه وله بنده کړه سی چي دوی صلح او روغی ته حاضر شی

دوهم د هغو قبایلو سره چي د مدینی په شاوخوا کی اوسی د امن او صلح ټرون وسی. د ځینو په عقیده هغه وخت چي اسلام په مکه کي ؤ، ډول، ډول مصیبتونه ور رسیدل، څه وخت چي مدینی ته راغی نو ټول تکلیفونه ځنی لیری شول، دغه فکر صحیح نه دی کوم تکلیفونه او مصیبتونه چي

www.sikaram.com

په مکه کی «که څه هم سخت وو خو منفرد وه، د مدینی په راتگ سره هغه مصیبتونه زیات شول، مکه ټول یو قوم و خو په مدینه کی د انصارو سره یهودان اوسیدل چې د انصارو سره یی د عاداتو او خصلتونو زیات توپیر درلود، او د دوی حریفان او معاندان گڼل کیدل، همداشانی هلته منافقان هم موجود وو چې مسلمانان یی په دوروي زورول.

هغه وخت چې حضرت محمد (ص) د مکی څخه مدینی ته هجرت وکړ، له هغه څخه څو ورځی وروسته (عبدالله بن ابی) قریشو ته دغسی یو لیک ولیږی: (دغه ابن ابی د محمد (ص) د هجرت د مخه رییس الانصار و او د ده د تاجپوشی د مراسمو له پاره یی ترتیبات نیولی وو)

انکم آویتم صاحبنا و انانقسم بالله لشقاتلته و تحز جنه و ینسرن لکم باالجمعة حتی نقتل مقاتلتکم و نستبیح.

ترجمه: تاسی زمور سړی ته په خپل ملک کی ځای او پناه ورکړی ده، په خدای قسم دی چې یا به یی تاسو هر ومرو وژنی، او یا به یی خامخا له مدینی څخه شړی، یا به ضرور ټول پر مدینه تعرض کوو، څو ستاسو مړونه ووژنو، او ښځی مو خپلی ښځی وگرځوو.

هغه وخت چې حضرت محمد (ص) د دغه مکتوب له محتویاتو خبرشو، له ابن ابی سره یی ولیدل او داسی یی وپوهاوه. آیا ته پخپله له خپلو وروسره په جنگ کی داخلیږی؟ څرنگه چې د انصارو زیاته برخه مسلمانان شوی وو، نو قریشو د دغه مکتوب حکم وځنداوه.

د مطلقیت او استبداد دلیری کولو له پاره مادي نظریات:

د بشري ژوندانه د انکشاف او ذهن د روښانولو له پاره دوه ډوله فکرونه موجود دي:

لومړي ته خلاق فکر او خیال ویل کیږي، چې د هغه څخه علمي انتزاع او دیوې ټولنې د جوړېدلو تکاملي پراونه په وجود راځي چې دوهم د مرحلې څخه شروع کیږي او د لومړي ځل له پاره د ثقافت، عرفان او کلتور اساسونه باندي اېښودل کیږي دا هغه وخت دی چې انسان په خپله لومړنۍ بسیطه ټولنه کې د تولید د وسایلو د مطلق محدودیت سره مخامخ سوی او د طبیعي قواوو د تسلط په مقابل کې د خپلې جهان بینۍ څخه ناخبره او جاهل پاته سوی او د خپل فهم او ذکا د پراخولو له پاره یې یوې اسطورې او جادو ته پناه وړېده، دغه مرحله د انسان او جامعې پیژندنې د علم سره تاریخي ریښې او مناسبات لري، او په اصطلاح اساطیر الاولین ورته ویل

www.sikaram.com

کیږي په دغو اسطورو کي طبیعي پدیدې لکه تالنده بریښنا، طوفان، سپوږمۍ، لمر، آسمان، مځکي، مرګ او داسي نور د الهیه وو، پهلوانانو، پیریانو په شکل څرګندېدل، چې په اسطورو کي يې ځای نیولی، او په اصطلاح همدغه تعبیرونه د ثقافتونو او تهذیبونو مور هم ګڼله کېده دغو عناصرو د اشرافیت مطلق العنانی او استبداد سره د مبارزو په لار کي د تاریخي پېړیو را هیسي نه تسخیریدونکي کلاوي جوړي کړي وې او د انسان ټول مقدرات يې ورسپارلي وه، که تر دې لږ څه نور ځیر سو څرګنده به سي چې د جبر، ظلم، مطلقیت او بې عدالتۍ په مقابل کي د تل د پاره یو طبیعي مقاومت موجود دی چې د هغه د خپل سري او د خود خواهی مخ نیسي، د مثال په توګه ویلای سو که د دغه مترقي او آبادو هیوادونو د ژوندانه وضعه همداسي په آرامۍ او بریالیتوب تېرېدلای بیایي هم د ژوندانه حالات د تورم او اضطراب د خطر څخه په امان نه سوه پاته کیدلای او په خپله کي يې خامخا د اضدادو نطفه پېدا کېده او څو يې د دوي فعالیتونه او اجراآت د ناکامۍ او رسوایۍ کندي ته نه وای اچولي لاس يې نه ځني اخیست، د مثال په توګه همدغه شوروي روسیه او د هغه وروسته د امریکي متحده اضلاع به د خپلو داخلي تضادونو او خارجي حوادثو له اثره حتمي مضمحله کیږي او ځای به يې نوري پدیدې او تکاملي پراوونه نیسي.

د تضاد قانون د ژوندانه د وضع د متوازن کولو له پاره په ازلي او حکمتي صورت د تل له پاره موجود دی چې د مخلوقاتو په منځ کي موازنه او تعادل راوړي، چې قوي او ضعیف تر پښو لاندې نه کړي او یوه اراده په مطلق زور سره پر بلي ارادې غلبه و نه مومي که د ژوندانه سېر ته څه نور تر دې دقیق سو دا به هم راته معلومه سي چې طبیعت د هر شي له پاره یو آفت پېدا کړېدی چې څوک نه پرېږدي څه چې يې زړه وغواړي هغسي نظام وچلوي. د مثال په توګه پنبه يې پېدا کړې ده چې ورسره سم يې د هغه افت چنجی هم پېدا کړی دی چې په ریښه کي يې وچوي، که مېوه يې پېدا کړېده د ورستېدو او ناروغۍ افت يې هم ورسره پېدا کړی دی. که يې اوسپنه پېدا کړېده د هغې سره يې د زنګ وهلو آفت هم پیدا کړی دی، که يې جاګیر داري او سرمایه داري پیدا کړې ده د هغې سره سم يې د سوسیالیم آفت هم ورسره پېدا کړی دی. نو د انساني چارو د کنترولولو او تنظیمولو د پاره تل داسي طبیعي مقررات او قوانین موجود دي. دغه قانون چې د مدافعې او مناقضې اصول هم ورته ویل کیږي د فرد او جامعې، طبیعت او تاریخ ترمنځ د تل له پاره موجود

www.sikaram.com

دی، دغه قانون د هغو انسانانو د ژوندانه سره چې د مځکې پر سر اوسي اړیکي او رابطې لري، که داسې نه وي د ژوندانه وضع د تباهي او اختلال سره مخامخ کیږي. که یوه طالحه ډله د بلې صالحې ډلې په واسطه له منځه نه تللای د مځکې مخ به فساد او فتنې اخستی وای او باطل به په حق غلبه موندلای نو له همدې امله حق پایدار او باطل مضمحلېدونکی دی، پر باطل باندی د حق د غلبې له اثره دی چې په نظامونو کې تغیر راځي او د تکاملي سیر په مجرا کې د رشد، ترقی، او ارتقاء زمینې برابریږي.

www.sikaram.com

د مطلقیت او استبداد د لیری کولو له پاره دموکراسي او یا مشروطي د ګوندي اصولو سیاسي مبارزی

که په پراخي معنی سره ګوند (حزب) د سیاسي ډلي او نهضت په معنی واخستل سي حزب په ټولو طبقاتي ټولنو کي موجود وي د ټولنو تاریخ چي تر اوسه مطالعه کیږي هغه د طبقاتي مبارزې څخه عبارت دی په طبقاتي ټولنه کي دوې متخاصمي یا دښمني ډلي د تل له پاره موجودي وي چي د استثمار کونکي او استثمار کېدونکي په نامه یادیږي، نو حزب په سیاسي اصطلاح یو سیاسي سازمان دي چي په هغه کي د یو فکر طرفداران د مطلقیت د لیری کولو د ارمان د سرته رسولو د پاره راټولیږي.

د حزب یا ګوند د جوړېدو په خصوص کي بیلي نظریې سته چي مهمي یې دا دي:

۱- انتخاباتي نظریه

۲- د توسعي او انکشاف نظریه

۳- د طبقاتي تضاد نظریه

انتخاباتي نظریه:

په ډیرو لوېدیځو هیوادونو کي په زیاته بیا په هغو هیوادونو کي چي دموکراتیک اصول خوښوي او سرمایه داري (پانګوالي) ډېر ښه نظام بولي دا عقیده ټینګه ده چي د سیاسي ګوندونو پیدا کېدل او پراخېدل د انتخاباتی سیستم او پارلماني نظام سره نه شلیدونکي اړیکي لري د دغي نظریې له مخي د سیاسي حزب پیدا کېدل د دموکراتیک نظام د جوړېدو وروسته رائي او حزب په خپل وار سره د دغه نظام د دوام او پراختیا موجب ګرځي، د دغي نظریې د مشهورو پیروانو څخه (موریس دو ورژه)، (انکوارت روستا) او (رشات سایدر) او نور دي د ګوندونو پر پیدا کېدو چي انتخاباتي وجه لري ډېر تنقیدونه سته:

www.sikaram.com

لومړی دا چې په دغه مفکوره کی د پارلمانی دموکراسی (علت) او گوندونو د پیدا کیدلو (معلول) په منځ کی د علت او معلول رابطه فرض سوی ده په داسی حال کی چې اجتماعی واقعیتونه معمولاً خاص علت نه لری او په پیدا کیدلو کی یې مختلف عوامل او موجبات اثر لری، نو گوند یو اجتماعی واقعیت دی او د هغه په پیدا کیدلو کی مختلف علتونه موجود وی.

بل دا چې په دغه مفکوره کی فرض شوی دی چې علت دوام (پارلمانی دموکراسی) د معلول سره چې (سیاسی احزاب) وی مستقیمی او زیاتی اړیکی لری، دغه استدلال په منطقی لحاظ دومره د باور وړ نه دی ځکه که پارلمانی دموکراسی او انتخابات د حزب د پیدا کیدلو اصلی عامل وگڼل سی، نو جوړ سوې حزبونه به پر خپل ځای پاته سی او نوی حزبونه به یې ځای ونیسی، بل دا چې دغه مفکوره د یو لوی کل څخه یو جز بیانوی او د نړۍ د ټولو حزبونو پیدا کیدل پر هغه نه سی اطلاقیدلای.

د تاریخی مثالونو څخه څرگندیږی چې د یو شمیر زیاتو حزبونو پیدا کیدل، د دموکراسی سره اړه نه لری، او په هغو وختونو کی پیدا سوی دی چې استبداد او مطلق العنانی رژیمونه حکمفرما وو.

د توسعی او انکشاف نظریه:

د سیاست د علم یو شمیر پوهان په دی عقیده دی چې د سیاسې حزبونو پیدا کیدل د توسعې او انکشاف په عواملو اړه لری، توسعه او انکشاف دوه داسی لغتونه دی چې په اجتماعی علومو کی په مترادف ډول زیات استعمالیږی، نو د توسعی عوامل د هر اړخیزو او مرکبو عواملو په څیر پیژندل کیږی.

اقتصادی نظریه:

د طبیعی منابعو د کنترولولو د پاره کار او نوی پوهنه، د ملی خالصو تولیداتو زیاتوالی، د سړی سر مزد زیاتوالی، د کار ویش، زیات تولید او په بازار کی د عرضی وړ تولیداتو زیاتیدل او تخصص.

www.sikaram.com

اجتماعی جنبی یی:

د نوو چارو او حرفو پیدا کیدل، په ښارونو کی اوسیدل، د نور وظیفو له پاره د نوو اساساتو وضع کیدل، د زړو پرځای د تازه او نوو اجتماعی او اقتصادی سستمونو رواجیدل.

سیاسی جنبی یی:

په سیاسی مسایلو باندی د خلکو زیاته پوهنه، په سیاسی چارو کی د خلکو ګډون، د ملی هویت پیدا کیدل، د حکومت او قانون سره د خلکو د هر ډول فعالیتونو تماس، د قدرت د عنعنوی او سنتی منابعو مغلوبیدل. د توسعی او انکشاف په مفکوره کی د نوو طبقو د پیدا کیدلو او پراخیدلو د عواملو په لړ کی اقتصادي او صنعتي پراختیا، د تولید او توزیع په منابعو کی بنیادی بدلونونه، پر حاکمی طبقی فشار راوړل څو په انتخاباتی مفکوره کی دغې موضوع ته پاملرنه نه کیږی او د دغو دوو مفکورو تفاوت یو شانی دی او دواړه پر دې اساس ولاړ دی چې د نمایندګیو د مجلسونو د جوړیدو مجرد سیاسی حزبونه هم پیدا کیږی او بیا خپله دغه احزاب د پارلمانی دموکراتیک نظام د دوام باعث ګرځی. د منافعو تضاد (نه طبقاتی تضاد) په دوستانه محیط کی چې د رقابت او مبارزی سره ګډوی حل او فصل کیږی.

د طبقاتی تضاد نظریه:

دغه مفکوره د مارکس په نظریاتو استناد کوی چې وایی:

د ټولو ټولنو تاریخ چې تر اوسه سته د طبقاتو د مبارزو څخه عبارت دی څو په اخیر کی دوی متخاصمې او متضادې طبقې د (پرلتاریا) او (بورژوا) په نامه یو د بل په مقابل کی درپیږي.

www.sikaram.com

په ځینو مشهورو هیوادونو کی د مطلقیت او استبداد د لیری کولو دپاره د مشروطی د نهضت لنډیز

په طبقاتی ټولنه کی طبقاتی مبارزه زړې ریښې لری، د استعمار چیانو او استثمار سوو تر منځ هر کله مبارزه او مقاومتونه جاری وی او دغه مبارزه د مرئیتوب، جاګیرداری او سرمایه داری تر مرحلو رسیږی.

د نولسمی پیړی په شروع کیدلو سره د زیاتو اروپایی هیوادونو بورژوازی د خواریکښانو په مرسته د جاګیر داری تسلط یو په بل پسی له منځه یووړ، او د زیاتو ګټو په لاس راوړلو له پاره یې د ختیځو هیوادونو پر اقتصادی منابعو خپله واچوله، چې د هغی څخه د نن ورځې امپریالیزم پر جهان باندی د تسلط قائمولو هښمه را پیدا سوه.

دغو تیریو او اقتصادی بی عدالتیو ختیځ ملتونه را ویښ کړل او د هغو له منځه وړلو له پاره یې په ډول، ډول مخالفتونو او عکس العملونو لاس پوری کړ.

د مشروطی د نهضت اصلی تاریخچه د فرانسی د لوی انقلاب (۱۷۸۹ م) څخه د مطلق العنانه پاچاهانو او حکمرانانو د اقتدار د محدودولو او قانونی عمل کولو راهیسی شروع کیږی، په همدغه وخت کی د خلکو د آزادی غوښتلو د مبارزو او د بشر د حقوقو د اعلامیې خپریدلو په اثر د خلکو یو شمیر زیات سیاسی، اجتماعی او طبیعی حقوق په رسمیت وپیژندل سول او مطلق العنانه پاچاهان مجبور سول چې د خلکو د خوښې او اساسی حقوقو ته د احترام کولو له مخی خپل حکومت وکړی.

د (ویانا) د کنګرې او د (۱۸۱۵ م) کال د ټرون وروسته چې د اروپا متحدو دولتونو ناپلیون او د فرانسی لوی انقلاب د پښو وغورزاوه او د (بوربونانو) سلسله بیا اقتدار ته ورسیده

www.sikaram.com

او هغه هیوادونه چې د ناپلیون د سلطې څخه خلاص سوی وو بې سرپرسته پاته سول د متحدینو په منځ کی وویشل سول. متحد پاچاهان مخصوصاً روسی سزار، د اتریش امپراتور او د پروس پاچاو دوو مهمو مسئلو ته جوړیدلی وو:

لومړی د بریالیو هیوادونو په منځ کی د صلح ساتل.

دوهم د انقلابی افکارو، حریت او مساوات د احساساتو څخه مخنیوی چې د جمهوری دوری د لښکرکشیو له امله په ځینو هیوادونو کی پیدا سوی وو همدا شانی د ملتونو د آزادی غوښتلو او ملی تمایلاتو مخنیوی او په هغو هیوادونو کی چې د پاچاهانو اقتدار متزلزل سوی و د هغوی اقتدار ټینګیدل او د مقتدرو پاچاهانو د اقتدارونو پاتیدل او ټینګول هم د دوی په وظیفو کی شمیرل کیدل.

د روسي امپراتور لومړي الکزاندر د صلح د تامینولو له پاره په ۱۸۱۵ میلادی کی په پاریس کی د مقدس اتحاد جوړولو پیشنهاد وکړ او ومنل سو، په دغه اتحاد کی چې مذهبی جنبه یی درلوده د یورپ پاچاهان متعهد سول چې په خپلو منځو کی د عدالت او مروت پر اصولو چې د مسیح د دین دوه رکنونه دی ژوند وکړی.

د اتریش صدراعظم (مترنیخ) د انقلابی عقایدو د خپریدلو د مخنیوی او د سلطنت د قدرت د بیرته راژوندی کولو، د ملی نهضتونو د آرامولو په غرض یو بل اتحاد (پانتارشی) په نامه د خلکو په مخالفت د پاچاهانو په حمایی پیشنهاد کړ، مقدس اتحاد او د پاچاهانو په مقابل کی د اروپا روشنفکری طبقی راپاڅیدلی، ځینی له دی جهته چې د اروپا پاچاهانو د ۱۸۱۲ کال وعدی چې خلکو ته د آزادی ورکولو له پاره ورکړی سوی وی تر پښو لاندی کړی او ځینو له دی جهته چې پاچاهانو د شاهی حکومتونو د فسخ کولو وروسته بیا استبدادی او په خپل سر حکومتونه شروع کړی دی، لومړی ځل په المان بیا په ایتالیه او وروسته په هسپانیه کی اغتشاشونه او انقلابونه شروع سول، د دغو انقلابونو د مخنیولو له پاره د اروپا پاچاهان په څو کنګرو کی په خپل منځ کی سره متحد سول، دغه کنګری یو په بل پسی جوړیدلی د مثال په توګه د المان د انقلابونو په مناسبت په بن کی په (۱۸۱۹ - ۱۸۲۰ م) د ایتالیا د انقلابونو په مناسبت په (ترویو او لاباخ) کی او هم د هسپانیی د انقلابونو په مناسبت جوړی شوی خو د هسپانیی او د ختیځ قضایاو په

www.sikaram.com

مسئله کی د ګټو اختلاف د مقدس اتحاد هیوادونو په منځ کی اختلافونه پیدا کړل او په ۱۸۲۶ کی منحل شولی، د فرانسی حکومت پوره ۳۳ کاله (د ۱۸۱۵ څخه بیا تر ۱۸۴۸ پوری د ۱۸ لویی د سلطنت، لسم شارل او لوی فلیپ په وخت کی مشروطهؤ ، یعنی په فرانسه کی داسی پاچاهانو حکومت کاوه چې اساسی قانون د دوی اختیارات محدود کړی وو ، د اساسی فرمان په اساس د خلکو هغه برخه نمایندګانو چې په کال کی یی تاکلی اندازه مالیه ورکوله، یعنی د فرانسی د ملت اقلیت په حکومت کی ګډون کولای سو ، د همدغه کبله و چې مشروطه سلطنت ته د اقلیت حکومت ویل کیدی د هغه فرمان په اساس چې لویی خپور کړ دری ګوندونه د سلطنت طلبانو د موافق، سلطنت طلبانو د مخالف او سلطنت طلبانو په نامه جنوړ شول د غه ګوندونو د خپلو طبیعی، سیاسی او اجتماعی حقوقو په لاس راوړلو د پاره په مبارزه شروع وکړه. په ۱۸۳۰ کی چې لسم شارل د دوهم ځل له پاره مجلس منحل کړ او د مطبوعاتو آزادی یی له منځه یووړه انقلاب پیښ شو او په درو ورځو کی د (بوربن) د کورنی د سلطنت د پای ته رسیدلو اعلام وشو.

په ۱۸۴۱ کی د کارګرانو په ګټه د انتخاباتو د قانون د اړولو له پاره مبارزه شروع شوه او په ۱۸۴۸ کی بیا انقلاب پیښ شو چې د هغه په نتیجه کی لویی فلیپ انګلستان ته وتښتیدی او حکومت په جمهوری طرز واوښت. په (۱۸۷۱ م) کی د پاریس کارګرانو او خواریکښانو یو کارګری حکومت د لومړی کمون په نامه جوړ کړ خو ځینو بې پروائیو له کبله هغه د مارچ په (۲۸) له منځه ولاړ.

په انګلستان کی د مشروطی د نهضت لنډیز:

د اتلسمی پیړی راپدیخوا په انګلستان کی پارلمانی حکومت ټینګ سو او د حکومت مهمی برخی د شاه د میراثی لاړدانو د مجلس او د نمایندګانو د مجلس څخه (چې د ملت بیخی لږی برخی د اوو کلونو له پاره ټاکل) جوړی سوی وی.

پاچا سلطنت کاوه او د حکومت اختیار یې نه درلود ، او مهمی چاری د نمایندګانو د مجلس د اکثریت د رئیس په لاس کی وی چې پاچا هغه د حکومت په جوړولو مامور کاوه.

په دې ترتیب د انګلستان حکومت د دوو لویو ګوندونو په لاس کی و د حوادثو او د عامه افکارو د اوښتنې له مخی حکومت کله د (ویګانو) او کله د (توریو) په ګوندونو اړه پیدا کوله.

www.sikaram.com

دویگانو گوند چې آزادی طلبان هم ورته ویل کیدل د معتبرو تاجرانو او صنعتگرانو څخه جوړ سوی و. او سیاست یې د ملی سلطنت په گټی سره د پاچا د قدرت محدودول و چې د نمایندگانو مجلس د هغه مظهر گڼل کیدی.

د توریو گوند چې محافظه کار گڼل کیدی د لویو ملاکانو څخه جوړ سوی ؤ او په حکومت کی د سلطنت د اداری مداخلی پر خواو.

د مشروطه خواهانو د مبارزو له کبله په انگلستان کی د انتخاباتو په طریقه کی د کارگرانو په گټه ډیر اصلاحات راغلل او (رابرت اون) چې د لویو صنایعو خاوند وو په دغه لار کی یې د کارگرانو په گټه ډیری مبارزی وکړی او بریالیتوبونه یې په لاس راوړله چې د هغه مبارزی د اغیزی څخه تر اوسه د کارگرانو او استثمارکونکو په منځ کی طبقاتی مبارزی دوام لری.

په ترکیه کی د مشروطی د نهضت لندیز:

اروپایې بورژوازی په لومړی سر کی د ترکیی د حکومت د رنگولو او په خپل منځ کی د ویشلو په منظور د ترکیې ملیتونه تحریکول، د دغو مخالفتونو په اثنا کی د فیوډال پاچاهانو د اقتدار د محدودولو د پاره هم سیاسي مبارزې پیل شوی د سلطان عبدالحمید د دکتاتوری سره چې د ډیرشو کلونو په مده کی یې اتیا زره تنه آزادی غوښتونکي مړه او وشړل او خفیه پولیسو د روشنفکری او تجدد غوښتنې هر ډول فعالیتونه شنډول او له منځه یې وړل، بیاهم د اصلاحاتو گوند چې د ځوانی ترکیې (اتحاد او ترقی) په نامه بلل کیدی او د زیاتو روشنفکرانو، ښاریانو او بزگرانو له خوا څخه حمایه کیدی، په (۱۸۹٤ م) کی جوړ سو، د دغه گوند زیاتره غړي صاحب منصبان وو چې د اتحاد او ترقی د مخفي نهضت سره یې په سالونیک کی تینگ ارتباط درلود. دغه گوند د ترکیې د ملی غرور او تاریخ، آزادی او بریالیتوب ساتلو په منظور په (۱۸۰۹ م) کی اساسی قانون اعلام کړ، سلطان عبدالحمید دغه نهضت او حرکت ډیر وارخطا کړ، په ظاهره په قسطنطنیه کی تسلیم سو او د اساسی قانون د اجرا کولو وعده یې وکړه.

دغه انقلاب د باندی هم اثر وښندی، په همدغه ورځ د بلغاریه دولت د اتریش په حمایه خپل د تابعیت ارتباط د ترکیې سره وشلاوه او ترکیې د خپل ملی مصلحت په بنا د (۱۹۰۹ م) کال په

www.sikaram.com

اپریل کی د بلغاریا استقلال په رسمیت وپیژاند. د بلغاریا ټرون وروستې لاسلیک و چې سلطان عبدالحمید لاسلیک کړ.

خو د اتفاق او ترقی کومیټې په سالونیک کی بیل حکومت اعلان کړ، د مقدونیې او ادرنی قواوی په هغه پوری ومونبتی، دغه قواوی سمدستی د قسطنطنیی پر خوا رهی سوې او په ډیر قهر په (۱۹۰۹ م) کی پلازمینی ته ورننوتې، دری ورځی وروسته مجلس سلطان عبدالحمید خلع کړ او په سالونیک کی یې محبوس کړ او ورور یې سلطان محمد خامس پرځای کښینوست. د دغی واقعی وروسته ترکیې مشروط رژیم او جمهوریت اعلام کړ.

په ایران کی د مشروطی د نهضته لنديز:

د متوسطی طبقې پوهانو چې د خارجی سرمایو او تبعیضونو څخه ډیرې بدی خاطرې درلودې، د هغو د لیری کولو له پاره چې په اصل کی یې طبقاتی جنبه درلوده د ملی مبارزې په رنګولو سره د خپل جاګیردارو پاچاهانو د اختیاراتو د محدودولو په خاطر چې مطلق حکومت یې چلاوه د مشروطی په نامه خپلو سیاسی مبارزو ته دوام ورکاوه، په ایران کی ډیر لږ خلک د مشروطی په معنی پوهیدل او مشروطه خواهان پر څو ډلو ویشل سوی وه.

یوه ډله هغه کسان وه چې اروپایې لیدلی وه، د ګوندونو فعالیتونه او اساسنامې یې د حکومتونو د صلاحیت د محدودولو په خصوص کی مطالعه کړی وې، ځکه یې په ایران کی د اروپایی ډول مشروطې د جوړولو له پاره هاند کاوه.

بله ډله ملایان وه چې د دربار د عیاشی او بیباکی څخه یی ښه نه راتلل او د شوری مجلس یی د شریعت د عدم استحکام، فسق او فجور رواجولو وسیله ګڼله، او په اخیر کی یې د مشروطې نهضت ته هم (مشروعه) نهضت وایه، دوی د اروپایانو د سیاسې مبارزو او دیموکراسی د افکارو سره مخالفت کاوه او د لویدیځ سیاست، فرهنګ او موسساتو جوړولو سره یې مقابله کوله.

دغه نهضت هغه وخت ښه تود سو چې ناصر الدین شاه قاجار ځینې اقتصادې امتیازات لکه د تنباکو، اوسپنې او د تیلو کښلو امتیازات انګلیسانو ته ورکړه. د امپریالیزم په مقابل کی د

www.sikaram.com

فتح علی شاه قاجار شکستونه د مشروطه خواهی نهضت لا پیاوړی کړ او ایرانیان یې د هغه په مخالفت راوپاڅول.

د (۱۹۰۸ م) څه تر (۱۹۱٤ م) کال پوری ایران شدیدو اصلاحاتو ته اړتیا درلوده او د روسیې د انقلاب (۱۹۰۵ م) کال څخه پوره متحسس وو.

انګلیسانو هم د آزادی غوښتونکو جدی طرفداری کوله او په (۱۹۰۵ م) کی دغه بحران اخری درجی ته ورسید.

په دغه وخت کی د تهران د اوسیدونکو څخه (۵۰۰) تنو د انګلیسانو د سفارت په باغ کی ځکه ځانونه بندیان وساتل چې د پاچا قدرت محدود کړی او مشروطه اعلان کړی. روسیې دغه نهضت د انګلیس د تحریک څخه وګڼی او په (۱۹۰۸ م) کی یې د محمد علی قاجار سره مرسته وکړه چې کودتا وکړی او مشروطې ته خاتمه ورکړی. خو په (۱۹۰۹ م) کال کی د بختیار طایفو قیام وکړ، محمد علی قاجار یې خلع او سلطان احمد شاه قاجار یې د هغه پرځای کښیناوه او مشروطیې اعلام کړه.

د مشروطی د نهضت په معرفی کولو کی د هری ورځپاڼې چلونکی د خپل طرز تفکر او معلوماتو په اساس خپرونې کولی. د استنبول (اختر) د مصر د (حکمت)، د لندن د (قانون)، د کلکتې د (حبل المتین)، د تبریز د (عدالت)، د تهران د (تربیت) د خپرونو علاوه، وطن محاکمات، ترقی، جام جم، زمان، ملت، اتحاد او داسی نورو جریدو او ورځپاڼو د مشروطې د نهضت د سیاسی مبارزو په لار کی ډیر خدمتونه وکړه.

www.sikaram.com

د خارجی استعمار او بیگانه فرهنگ سره د سیمی د هیوادونو او ملتونو ملی مبارزی او په هغو کی د مطلقیت او استبداد د لیری کولو او مشروطی راوستلو نخسی او نسانی

د مطلقیت د لیری کولو او مشروطی غوښتلو د نهضت بل مهم عامل د افغانانو او هندی ملی مبارزینو هغه ګډې مجاهدې او مقابلی وی چې دوی د ډیرو کلونو راهیسی د استعمار او امپریالیزم په ضد د خپلی آزادی، ملی فرهنګ او ثقافت د ساتلو په لار کی په افغانستان او هند کی په سر رسولی وی.

زمور د سیمی هیوادونو ته د استعمار چیانو راتګ د خلکو د څو زرن ملی ژوندانه پر وضع او تفکر پر طرز ناوړه اغیزه درلوده. هغه معتقدات او تفاوتونه چې د سیمی اوسیدونکو د خپل تاریخی ژوندانه په تګ لوری کی غوره کړی وه هغه یې له منځه وړل او یا یې په یو ډول او بل ډول تحقیر او کمزورول، څرنګه چې داسی اوضاعو د قبیلو د مشرانو، اشرافو، روحانیونو په عنعنوی روابطو کې نامطلوبه اغیزه کوله نو د هغو په مقابل کې د ملیونو له خوا څخه هر کله عکس العملونه او مقاومتونه ایجادیدل چې دلته د هغو څخه شاه ولی الله محدث دهلوي او د هغه د مبارزي کورنۍ نورو غړو مولوي محمد اسماعیل دهلوي، سید احمد بریلوي او په راوروسته کې د هغو د اخلافو لکه محمد قاسم نانوتووي، مولانا محمود الحسن، ابوالکلام آزاد، علی ورونو (محمد علی جوهر، شوکت علي) خان عبدالغفار خان او نورو ملي او سیاسي مشرانو د هند او افغانانو د آزادی او ملي خپلواکۍ له پاره تر کال (۱۹۱۵ م) پورې په منظمه توګه خپلو مبارزو ته دوام ورکړ او د سرحد په تهانه کې یې یو لوي سیاسي او تبلیغاتي مرکز جوړ کړي و چې د افغانستان آزادي غوښتونکو او ملي مبارزینو مستقیم تماس ورسره درلود.

www.sikaram.com

دهلوي شاه ولي الله او د ديوبند مدرسه:

د ديوبند مدرسه د دهلوي شاه ولي الله (چې اصلي نوم يې شاه عظيم الدين دي) د افکارو د تبليغ او سياسي مجاهدې د پرمخ بيولو له پاره پرانستله سوه. د دغې مدرسې پيروانو زيار استي چې د هند څخه استعمار او پردې فرهنګ وباسي. شاه ولي الله د (تيپو سلطان) د اقتدار په وخت کې په خپلو مجاهدو پيل وکړ او دا به يې ويل: چې د خارجي استعمار او داخلي استبداد په مخالفت بايد په زغرده ودريږو. ده اعليحضرت احمد شاه بابا د هندي مسلمانانو د مرستي له پاره را دعوت کړ. همدا شاني ده تيپو سلطان وزير علي خان، د رامپور نواب غلام حيدر خان روهيله د افغانستان پاچا (زمانشاه) پر شمالي هند باندې د حملې کولو او مرستې کولو د پاره دعوت کړل، زمانشاه د داخلي مشکلاتو له مخې د خپلو پنځو حملو په ترڅ کې په دغه عزم بريالي نه سو، په همدغه وخت کې چې ده لاهور ونيوې، د دهلي پاچا شاه عالم ليک ورته را ورسيدې چې د هند پايتخت دهلي هم ونيسي خو په افغانستان کې د نا آرامۍ پيښيدلو او د محمود د ياغي کيدلو په نسبت يې مثبت ځواب نه سو ورکولای.

په دې وخت کې انګليسانو د ايران د قاجاريانو سره د زمان شاه په مخالفت ټرون وکړ. کله چې زمان شاه د هند د نيولو عزم وکړې قاجاريان به د افغانستان پر هرات حمله کوې او د دغه ټرون په بدل کې يې د انګليسانو څخه پيسې او مرستې اخستې او هم يې ميا غلام محمد د تقوا او شيخۍ په لباس کې کندهار ته وليږې چې د کندهار سرداران، خانان او روحانيون د زمانشاه د خلع کولو په دسيسه کې خپل طرفداران وګرزوی. کله څه هم تيپو سلطان د شاه ولي الله د تعليماتو او مبارزو د پياوړې کولو د پاره په ټينګه ملا وټرله، خو په دغه مبارزه کې بريالي نه سو او په شهادت ورسيد (۱۷۹۹م/۱۱۷۸ه.ش) خو پيروانو يې تر اوسه د استعمار د له منځه وړلو په مبارزو کې په سيمه کې تاريخي نوم ګټلی او په درانه نامه يادېږي.

د ديوبند د مدرسې د شاګردانو مهم مرام په هند کې د وجدان د آزادۍ پالل، د جمهوري اسلامي نظام تائيدول، د مطلقيت او خود خواهي غندل، د ديني او شرعي احکامو تائيدول، د نوي علم او عرفان سره د مسلمانانو د اړيکو ټينګول و.

د ديوبند په مدرسه کې صرف و نحو، معاني، منطق، فلسفه، فقهي اصول، حديث، تفسير، د فرايضو علم، عقايد، کلام، طب د مناظرې علم، قرائت، تجويد، رياضي او ادبيات تدريسيدل.

www.sikaram.com

شاه ولي الله دهلوی صاحب د یو شمیر معتبرو آثارو مؤلف او لیکوال و. دی د قرآن کریم حافظ او په تصوف کی د نقشبندی طریقی پیرو و.

هغه وخت چې د هند مسلمانان د مریتیانو د ظلم او استبداد څخه په تنګ سول او د هند چغتایی کورنی مخ په زوال ونیوی، دوی شاه ولی الله ودی ته وهڅاوه چې د افغانستان د پاچا اعلیحضرت احمدشاه بابا څخه مرسته وغواړی او هند ته یې د جهاد دپاره را دعوت کړی.

دعوت نامه

متن مکتوب شاه ولی الله دهلوی (رح) به نام احمد شاه ابدالی جهت دعوت جهاد به هند:

الحمد لله رب العلمین والصلاة و السلام الاتمان الاکملان علی رسوله شفیع المذنبین یوم الدین واله و اصحابه اجمعین.

اما بعد: این کلمه چند است که حمیت حامل بر عرض آنها شده، حق عزو علا آن را بر مسامع علیه برساناد وجود پادشاهان اسلام نعمتی است به غایت عظیم باید دانست که ولایت هندوستان ملکی است وسیع اوایل ملوك اسلام در مدت بسیار به مجاهده بی شمار به دفعات این ولایت را مسخر ساخته اند، سوای دهلی که جای نشست پادشاهان صاحب اقتدار بوده است. در هر ناحیه فرمانروای علیحده بوده مثل گجرات احمد آباد که تعلق به والی جدایی داشت، دسته را پادشاهی دیگر و بنگاله در تحت و تصرف حاکمی دیگر و اودھ محل سلطنت شخص دیگر که او را سلطان الشرق می گفتند. و ملك (د کهن) عبارت از پنج سلطنت ازین ها پادشاهی مستقل بوده است و در (مالوه) حاکمی جدا فرمانروا، هر یکی ازین مواضع که نام کرده شد، پادشاهی علیحده صاحب فوجی و صاحب خزانه میداشت و هر کدامی در مملکت خود مسجد ها بنا نمود، مدرسه ها ساخته و مسلمانان از طرف عرب و عجم انتقال نموده و در این مواضع مروج اسلام شدند و تا حال اولاد همان مردم بر طور اسلام قایم اند...

و ملك دیگر است که هیچگاه محل نشست پادشاهی از پادشاهان اسلام نه شده و بر کفر صرف باقی مانده الا آنکه پادشاهان از آنجه که نزدیك حدود ایشان بوده باج میگرفتند و آن ملك راجپوتانه است. طول او از حدود (تهته) گرفته تا حدود بنگاله و

www.sikaram.com

بهار قریب چهل منزل و عرض او از نزدیك دهلی و اکبر آباد تا حد گجرات واجبین بیست منزل، این همه ملکی با وسعت است که گاهی نشست گاه ملوك اسلامیه نه شد. قصه کوتاه پادشاهان تیموریه به همه این از جانب خود منسوب ساخته اند، با قوم راجپورت معاهدات و مناسبات به میان آورده اند و آن جماعه را نوکر خود نامیده از شر آن مامون شدند و دست از جهاد مطلق باز داشتند. واقفان فن تاریخ تمام این ماجرا مفصل به عرض خواهند رساند.

باالجمله مرهته نامی قومی از کفار که.. رئیسی دارند در اقصای دکن از چندگاه سر بر آوردند و جمیع ولایت هندوستان را احاطه کرده اند. متاخران ملوك تیموریه از جهت عدم دور اندیشی و کثرت غفلت و اختلاف فکر بدست خود ملك گجرات به مرهته دادند. باز به همان سست اندیشی و اسباب غفلت (مالوه) به آنها سپردند و نام صوبه داری آنجا نهادند. رفته، رفته قوم مرهته قوی تر شدند و اکثر بلاد اسلام را متصرف گشتند. از مسلمانان و هنود باج گرفتند و آنرا (چوتهه) نام نهادند یعنی ربع حاصل، الادهلی و نواحی وی. چون روسای این شهر اولاد پادشاهان قدیم اند و وزرا و امرا اولاد امرای قدیم، لابد مرهته با ایشان نوعی از مروت بکار برده عهود در میان آوردند و سلسله سلوك از طرفین جنبانیده از انواع تملق مستامن کرد، گذاشتند و الا دکن که اولاد نظام الملك مرحوم ... گاهی به انواع حیل میان قوم مرهته جنگ انداختند و گاهی فرنگیان را با خود رفیق گرفته شهر های عظیم را مثل برهان پور، اورنگ آباد و بیجاپور متصرف ماندند، اطراف و نواحی را به مرهته گذاشتند. غیر ازین دو موضوع خاص، متصرف مرهته بالجمله بر انداختن قوم مرهته آسان کارست اگر غازیان اسلام کمر همت بر بندند دو و سه صف آنها بشکنند، در اصل قوم مرهته قلیل اند و ملحق به این طایفه کثیر در برهم زدن یك صف جماعه که ملحق به ایشانند، از هم می پاشند و اصل قوم مرهته به همین شکست ضعیف میشود، چون اقویا نیستند سلیقه آنها فراهم آوردن کثرت افواج است که از مور و ملخ بیشتر توان گفت نه دلاوری و گونه براتی غرض که فتنه قوم مرهته در هندوستان اعظم فتنه ها است. حق تعالی خیر دهد کسی را که این فتنه را فرو نشاند.

قوم دیگر از کفار جت است که مسکن این جامعه در میان دهلی و اکبر آباد واقع است این هر دو شهر به منزله دو حویلی پادشاهان بوده است. تیموریه گاهی در اکبر آباد

www.sikaram.com

می ماندند تا دبدبه ایشان بر راجپوتانه افتد و گاهی در دهلی تا هیبت ایشان بر (سهرند) و نواحی آن مستولی گردد. مزارعان مواضع مابین دهلی و اکبر آباد قوم جت بودند، پس احکام برین قوم در زمان شاه جهان پادشاه آن بود که کسی ازینها بر اسپ سوار نه شود و بندوق با خود ندارد و قلعه برای خود بنا نه کنند بعد از آن رفته، رفته پادشاهان از حال آنها غفلت نمودند و آنها فرصت یافتند قلعه ها بنا ساختند و بندوق با خود گرفته قطع طریق آغاز کردند. اورنگ زیب در آن وقت در دکن مشغول قلعه بیجاپور و حیدرآباد بود. از آنجا فوجی برای تادیب جت فرستاد و نبیره خود را به سرداری فوج معین نمود. رئیسان راجپوتانه به آن شهزاده نقار ورزیدند و مخالفت پیش کردند و اختلاف در لشکر واقع شد و به اندك فروتنی آنها اکتفا نمود. فوج پادشاهی بازگشت و نیز در زمان محمد فرخ سیر شورش این جماعه به جوش آمد. قطب الملك که وزیر بود فواج قاهره فرستاد و چورامن که رئیس آن قوم بود، بعد از محاربات و مقاتلات راضی به صلح شد و او را پیش پادشاه آوردند و عفو تقصیرات نمودند و این نیز در حقیقت خلاف مصلحت اسلام به عمل آمد. باز در عهد محمد شاه طغیان و سرکشی این قوم زیاده از حد به ظهور آمد و این هم چورامن که سورج مل است رئیس این جماعه شد و راه فساد پیش گرفت چنانچه شهر بیانه را که شهر قدیم اسلام بود و علما و مشایخ از مدت هفت صد سال در آنجا اقامت داشتند قهراً و جبراً متصرف گشته همه مسلمانان را به خواری اخراج نمودند. از آن باز هر روز سرکشی ایشان زاده تر شده و به سبب اختلاف و غفلت ملوك و امرا کسی به آن نه پرداخت. اگر باالفرض یکی قصد تنبیه او بخاطر می آرد، وکلای سورج مل به امرای دیگر رجوع نموده باوی در ساخته مشوره پادشاه را بر می گردانند تا آنکه در زمان پسر محمد شاه، صفدر جنگ ایرانی خروج نمود و با سورج مل متفق شده و بر شهر دهلی کهنه تاخت آورد. جمیع اهل شهر کهنه را غارت نموده پسرمحمد شاه در شهر خزید دروازه ها محکم بسته جنگ توپخانه سر کردند. به محض فضل الهی صفدر جنگ و سورج مل بعد دو سه ماه غایب و خاسر باز گشته طرح موافقت انداختند. چون مردم پادشاه از جنگ عاجز شده بودند، موافقت آن اعدا غنیمت شمردند از آن باز شوکت سورج مل افزونی یافت و از دو کروه دهلی گرفته تا اقصی اکبرآباد طولاً و از حدود میوات تا فیروز آباد و شکوه آباد عرضاً متصرف شده و اذان وصلوة مقدور کسی نه که برپا دارد. یك سال میشود که قلعه

www.sikaram.com

الور که مشرف بر جمعیت میوات است سورج مل در تصرف خود آورده، هیچ کس از ارکان سلطنت را مقدور نه شد که ممانعت نماید.

محصولات هندوستان کم از هفت هشت کرور نیست، لیکن به شرط غلبه و شوکت و الا درمی بدست نمی آید. چنانچه الحال دیده میشود. جاییکه جت در تصرف دارد، محل وصول یك کرور است. و راجپوتانه با آن وسعت خود اگر بر هر راجه خراجی وضع کرده شود کم از دو کرور نیست. در عهد محمدشاه هر سال از بنگاله یك کرور مقرر بود و همیشه صوبدار آنجا بلا توقف می فرستاد.

با وصف ادای این مبلغ مالدار ترین امرای هندوستان صوبدار بنگاله بود، چنانچه با وجود بی نسقی درین ایام هم سفیهی کار نادیده نوجوانی که مسلط است بر بنگاله و آن نبیره ناظم قدیم آنجا است صاحب خزاین بی شمار است و سعادت خان ایرانی و بعد از وی صفدر جنگ داماد او صوبه (اودھ) را متصرف بودند. دو کرور ازین صوبه عاید داشتند یك کرور خرچ میکردند یك کرور جمع می ساختند و همین مالداری حامل شد صفدر جنگ را که بر بادشاه خروج کرده و برهم زدن شوکت جت نیز نزدیك تدبیر آسان است. ملکهای که در تصرف خود گرفته است از خودش نیست بلکه از دیگران غصب کرده است. هنوز مالکان آن مواضع موجود اند. اگر پادشاهی صاحب شوکت و عدالت دست مرحمت بر سر آنها بگذارد، با سورج مل به مخالفت برخیزند و به میان خویش در آویزند این است حال کفار هندوستان.

اما ماجرای حال مسلمانان این است نوکران پادشاه که زیاده از لکها آدم بودند، پیاده و سوار بعضی اهل نقدی و بعضی جاگیردار و از غفلت پادشاهان (نوبت) به جای رسید که جاگیرداران بر جاگیرات عمل و دخل نیابند و کسی غور نه می فرماید که باعث بی عملی است و چون خزانه پادشاه نماند نقدی هم موقوف شد، اخر حال همه از هم پاشیدند و کاسه گدایی در دست گرفته اند و از سلطنت به جز نامی باقی نماند. چون حال نوکران پادشاه به این حد کشید، تباهی حال اسیر اهل بلدان که وظیفه خوران بودند با سوداگران یا محترفه قیاس باید کرد که به چی حد رسیده به انواع ظلم و ضیق معیشت گرفتار شده اند. علاوه این همه ضیق و عسرت چون قوم سورج مل و صفدر جنگ بر شهر کهنه دهلی تاخت کرد همه بی خانمان و پریشان و بی مایه گشتند. باز قحط متواتر از آسمان نازل

www.sikaram.com

شد، بالجمله این جماعه مسلمین قابل ترحم اند، درین وقت هر عملی و دخلی که در سرکار پادشاهی جاری است بدست هنود است که متصدیان و کنارکنان غیر ازین طایفه نیست. هر دولت و ثروتیکه هست در خانه های اینها جمع شده و هر افلاس و مخمصه که هست بر مسلمانان. سخن دراز شد و از قاعده اختصار بیرون رفت. حاصل کلام آنکه در ملك هندوستان غلبهء کفار به این صورت است که در بیان آمد و ضعف مسلمانان به این صفت. درین زمانه پادشاهی که صاحب اقتدار و شوکت باشد و قادر بر شکست لشکر کفار و دور اندیش، جنگ آزما، غیر از ملا زمان آنحضرت موجود نیست. لاجرم بر آن حضرت فرض عین است قصد هندوستان کردن و تسلط کفار مرهته برهم زدن و ضعفای مسلمین را که در دست کفار اسیر اند، خلاص فرمودن. اگر غلبهء کفار معاذاله بر همین مرتبه ماند، مسلمانان اسلام فراموش کنند و اندکی از زمان نگذرد که قومی شوند که نه اسلام را دانند نه کفر را. این نیز ابتلای عظیم است که قدرت بر دفع آن به فضل ایزد منان غیر آنحضرت را میسر نیست.

ما بندگان الهی رسول خدا(ص) را شفیع میاوریم و به نام خدای عزو جل سوال مینماییم که همت با نهمت را به جانب جهاد کفار این نواحی مصروف فرمایند تا در پیش خدای عزوجل ثواب جمیل در نامهء اعمال آن حضرت ثبت شود و در دیوان مجاهدین فی سبیل الله نام نامی نوشته شود و در دنیا غنایم بی حساب بدست غازیان اسلام افتد. مسلمانان از دست کفار نجات یابند... به آنچه به طریق اعتجال به تسوید در آمد و اگر توجه خاطر عاطر باین کلمات مفهوم شد بعضی مطالب تفصیلات خواهد رسانید و الحمدالله اولاً و آخراً و ظاهراً و باطناً.

پروفیسور خلیق احمد نظامی پر هندوستان باندی د احمد شاه بابا ابدالی د حملی په خصوص کی لیکی:

(... ابدالی (۱۷۶۲) میں ساتواں حمله هندوستان پر کیا، اس حمله کا مقصد سکهوں کی هنگامه ارائی کو روکنا تها (۱۷۶۷ م) میں ابدالی نے اٹهواں بار حمله کیا، اس وقت یه مشهور هوگیا تا، که احمد شاه ابدالی کا مقصد انگریزوں کو بنگال سے نکالنا ہے، انگریزوں نے فوج کا ایك دسته اله آباد بهیجدیاتها- تا که اس کا مقابله اودھ میں کیا جاے (۱۷۶۹ م) میں ابدالی نے حمله کیا. اس موقع پر اس

www.sikaran.com

کی فوج کے بارہ ہزار سپاہیوں نے غداری کی اور ابدالی کو مجبوراً کابل واپس ہونا پڑا(۱) .

احمد شاه بابا دغه دعوت په خوښې ومانه او خپلی قواوی يې په هند کی د عدالت قائمولو او عمومی امنیت راوستلو او اسلامی نظام د تعمیلولو په عزم سوق کړی.

د احمد شاه بابا د معاصر تذکره لیکونکی عبدالله انصاری له خولی شاه ولی الله په کال (۱۱۱٤ هـ.ق- ۱۷۷٤ م) کی د چهار شنبی په ورځ زیږیدلی د ادب، شرعی علومو او عقایدو لوی ملا او ستر ملی مجاهد ؤ، دی د بابر د کورنۍ او گورگانی محمد شاه د اولادی په پلوو او احمد شاه بابا یی ودی ته وهڅاوه چې د هغه او د کورنۍ د غړو سره ښه وضع وکړی. کـه څه هم اعلیحضرت احمد شاه بابا غوښتـه دی کندهار ته له ځانه سره راولی خو په هند کی د ده د پاتـه کیدلو او د بابر د کورنۍ او تیمور شاه سره د مرستې کولو په نیت د خپل عزم څخه واوښت او د تیمورشاه سره يې د مرستی او ارشاد په غرض په دهلی کی پریښود . او په عوض کی يې د دهلی د جامع خطیب مولوی فضل احمد او مولوی محمد غوث د تاج محمد خان ترکمان زوی د دینی علومو د تدریس له پاره د ځانه سره کندهار ته راوستل او کله چې يې مولوی محمد غوث د پیښور د ښار د قاضی په حیث وتاکی هغه ته يې د علماوو د خان لقب هم ورکړ او شاولی خان بامیزي ته يې امر وکړ چې هغه د تاکلی معاش د تسلیمولو وروسته په وظیفه لگیاسی.

دهلوی شاه ولي الله صاحب دوه ځله د تیمورشاه درانې سره ولیدل او د هغه پاچا د عرفانی مشاورینو او ندیمانو څخه وگرځید ، هغه وخت چې احمد شاه بابا د پانی پت له فتح څخه وروسته د شاه ولی الله ارشاد پرځای کړ او د کندهار څخه یی په (۱۱۷٦ هـ.ق) کی د هرات په لوری لښکری و خوځولی په دی وخت کی وفات سو.

د اعلیحضرت امان الله د سلطنت او اصلاحاتو راوستلو په هلو ځلو کی د دیوبند د مدرسې ځینو طالب العلمانو فرهنگی تعلل کاوه او د هغه د داسی حرکاتو مخ نیوې يې کاوه. د همدغه کبله پاچا د هغو پر وینا وو او حرکاتو قیود وضع کړه څرنگه چې د غه قیود د عامو تشویش وړ وگرځیدل پاچا د هغو د رفع کولو له پاره په خپله یوه بیانیه کی په دی هکله داسی وویل:

1. Islamic Culture Vol # 1, Page 108

www.sikaram.com

(... د دیوبند علماوو په باب زما نظر چې افغانستان ته د هغوی په راتللو بندیز لګولې ؤ، د دی دپاره نه و چې د دیوبند مدرسی څخه خطر موجود و بلکه د نومورې دارالعلوم ځینی فارغان زمور د هیواد له حالاتو سره د نابلدۍ له امله د غرض خاوندانو د لاس اله ګرځیدلی وو او ځینې کسان د دیوبند د تعلیم یافته ګانو په نامه زمور په هیواد کی د بیلا بیلو مذهبونو او مسلکونو لکه قادیانیت او داسی نورو په خپرولو لګیا وو. د افغانستان مذهبی او ملی وحدت یې زیانمن کاوه نو ځکه یې مخنیوی سوی و. څرنګه چې دی موضوع زړه بداوی را منځ ته کړ، نومې ښه وګڼله چې تر دی وروسته د دیوبند علما هم د خپلی شهادت نامی سره لکه د نورو علماوو په شان افغانستان ته راسی...).

سید احمد بریلوی:

بریلوې د (۱۷۸۶م) کال د نومبر په (۲۹) (۱۱۵۵هـ.ش) کال په بریلی کی زیږیدلې دی. په دغه وخت کی په میسور کی حیدر علی (تیپو سلطان)، په اودهی کی شجاع الدوله، په دکن کی نظام، په بنګال، بهار او اوریسه کی د علی وردی خان ملی حکومتونه د استعمار او امپریالیزم په فشار د ضعف او یا له منځه تللو د خطر په خوا روان وو.

سید احمد بریلوی د ملې آزادۍ او فرهنګی تحریک په نیت د خپلو پنځه سوو مریدانو سره په (۱۸۲۶م) کال د جنوری په اولسمه د ماروار او د سیند حیدر آباد په لار د افغانانو د دوستی جلبولو په هیله د بولان د دری دلاری کندهار ته راغی دلته یې د ملا حبیب الله آخندزاده کاکړ (حبو آخندازده) او ځینو نورو ملایانو سره ولیدل. په کندهار کی یو زیات شمیر ملی مجاهدین ورسره ملګری سول. دوی د غزنی او کابل پر لار ځانونه د پیښور چارسدی او نوښار ته ورسول او دغه سیمه یې د خپلو ملی مجاهدو او لښکر کشیو مرکز وګرځاوه. بریلوې غوښتل چې د سرحدی قبایلو او افغانانو په مرسته هند د پردو له سلطی څخه خلاص کړی او په سیمه کی د ملی حکومتونو په جوړولو سره د مطلقیت او خود خواهی ریښی وکاږی. د همدغه کبله یې د تونګ د پښتون نواب امیر محمد سره د هغه د مطلق حکومت کولو پر سر مخالفت پیدا سو. د (۱۸۲۶م) کال د دسمبر په شلمه د اکوړې د جنګ وروسته سید صاحب ته د امیر المومنین لقب ورکړه سو او د

www.sikaram.com

ټولو بیعت یې حاصل کړ. د ملی او شرعی حکومت کولو ستړه یې کښیښوده.

ده په پیښور کی د سردار یارمحمد او سردار سلطان محمد حکمرانې په خطر کی واچوله که څه هم دوی د سید سره د ده په مجاهده کی د مرستې کولو، عدالت او ملی حکومت قائمولو وعده کړی وه او د اکوړی په مجاهده کی (۱۸۲۶م) د سید د لښکرو دری قوماندانان لعل محمد کندهاری، سردار جعفر خان کندهاری او سید قطب الدین ننګرهاری ګډون درلود، خو په پټه یی د ده د مخالفت او مقابلی څخه لاس نه اخیست. خو سردار یار محمد مخامخ ورسره وجنګیدی، تپی سو او له همدغه ټپه مړ سو.

سردار سلطان محمد چې د سید په سپارش قاضی سید مظفر علی د پیښور د قاضی په حیث مقرر کړ، ده ټولې اداری او اقتصادی چاری د سردار د لاسه کښلې وی. سردار چې دغه وضع نه سوه تحمل کولای نو ځکه یې د قبایلو په مرسته هغه قاضی وواژه او سیمه یې په (۱۸۳۱م) د جنوری په (۱۸) د سید د نفوذ څخه خلاص کړه.

د پیښور د سردارانو د سیاسې وضع څخه د سید صاحب ناراضی د هغه د دغو مکتوبونو څخه څرګندیږی چې دوی ته یې لیږلی وه:

د سردار سلطان احمد خان په نامه د سید احمد بریلوی شهید د مکتوبونو څخه:

سید احمد بریلوی سردار یار محمد خان، سردار حبیب الله، سردار سلطان محمد خان او ځینو نورو سردارانو ته د جهاد درادعوتولو او په جهاد کې د فعالې برخی نه اخستلو او فعالیت نه کولو په هکله په خپل یو مکتوب کی سردار سلطان احمد خان ته داسی کاږی:

بسم الله الرحمن الرحیم:

از امیر المومنین سید احمد به خدمت سردار عظمت شعار سلطان محمد خان زادالله اقباله مع التوفیق و الهدایته: بعد از سلام مسنون و دعای مقرون واضح آنکه: مقصود از برپا کردن تمام این معرکه پیرایی و عربده ارایی غیر از اعتلای کلمه رب العلمین و احیای سنت سید المرسلین و استیصال کفر متمردین و استخلاص بلاد مومنین از دست بغاوت مفسدین چیزی دیگر مقصود نیست. علاوه برین آنکه اینجانب از پرده غیب و ممکن لاریبه به اشارت اقامت جهاد و ازاله کفر و فساد مامور است و بشارت فتح و ظفر مبشر،

www.sikaram.com

چنانچه به کرات و مرات به کلام روحانی و الهام ربانی بر من لطف رحمانی مطلع گردیده که هرگز شبهه وسوسه شیطانی و شائبه هوای نفسانی به آن مخلوط نه شده.

روزیکه علاقه اخلاص و اتحاد و محبت و داد، فیمابین ما و شما در دارالسطنه کابل متحقق گردیده و آثار آن از جانبین به منصه ظهور رسیده و از همانروز علاقه مذکوره از طرف این ضعیف در مراتب استحکام روز افزون است و در مدارج التیام از حد افزون چنانچه این ضعیف فی الحال بر همان منوال خواهان ترقی مدارج دارین آن جناب است... اما حال که به منصب سرداری پشاور رسیدید و بر مسند ریاست و سیاست نشستید لابد به حکم آیت کریمه: (... کنتم خیرامة اخرجت للناس تامرون باالمعروف و تنهون عن المنکر و کریمه المومنون و المومنات بعضهم اولیا بعض یامرون بالمعروف و ینهون عن المنکر...).

تجدید دعوت و سیر به ملاحظه اتحاد دیرینه لازم آمد، پس ای برادر عزیز این نصیحت به گوش هوش بشنو و این مضمون به غور تمام دریاب که این دنیا و کار دنیا همه گذشتنی و گزاشتنی است و این جاه و جلال و عز و اقبال همه برباد شدنی، هوشیار تجربه کار همان است که خیال خود رستی به این متاع قلیل الانتفاع در دل او نه نشست و جان خود را به این زندگانی فانی نه بست فرد:

مجو درستی عهد زین جهان سست نهاد
که این عجوزه عروس هزار داماد است

اینکه سردار کلان را چه قدر غرور و نخوت و خیال عزت و عظمت در دل نشسته و خیالات خود پرستی دماغ ایشان را گرفته یا چندین شور و شعف به کمال وجد و تعب به مخالفت رب العالمین به محض پاسداری خاطر کافر لعین گرفته و حسادت و عداوت و عناد بربسته، بر سر چند از فقرای مهاجرین و غربای مجاهدین که محض تارك دنیا و طالب دین و خادم حکم ربّ العلمین و سنت سید المرسلین اند چه لشکر کشیها نمودند و راه عداوت و بدخواهی پیمودند. از آنجا که ایشان بر لشکر و توپخانه و شاهین خانه خود مغرور بودند و ما فقرا به تائید مالك خود مسرور، بناءً علیه غیرت ایمانی به جوش آمد و تائید مالك یزدانی در خروش به چشم انصاف بین که چسان در یك لحه شعبه تقدیر آسمانی به ظهور رسیده و روز اقبال آن مغرور پشت ادبار در ظرفت العین بدل گردیده آخر الامر به کمال ذلت و خواری و نهایت شرمساری تسلیم به حضور مالك علی الاطلاق و ملك

www.sikaram.com

با الاستحقاق به جان خود حاضر گردیده نه انجا کافر لعین بار، و نه کسی از مغبوبان منافقین غمخوار پس شما را لازم است که فی الحال هوشیار شوید و از خواب غفلت بیدار که آخر روزی پیك اجل به شما هم خواهد رسید و در محکمه حساب و کتاب به حضور رب العلمین حاضر خواهد گردید و دوستی کافر لعین و خوشامد و تملق منافقین بیدین و سخن سازی شریران بد راه و توجیهات ملایان گمراه هیچ منفعتی به شما نخواهد بخشید. هرچند اکثر عمر گرانمایه خود در مخالفت رب العلمین و تملق منافقان بیدین و دوستی کافر لعین صرف نمودید و راه نفس پرستی و دنیا طلبی شب و روز پیمودید و هر آنکه عهد و میثاق بر اطاعت مالك علی الاطلاق نه بربستید فی الحال پاس خاطر برادر خود بشکستید اما منکه نائب رسول مقبولم و بدعوت بندگان الهی به راه راست و روز مشغول به زبان حال و قال همین آیه کریمه میخوانم:

(... یا عبادی الذین اسرفو علی انفسهم لا تقنطو من رحمت الله ان الله یغفر الذنوب جمیعاً انه هو الغفور ما انزل الیکم من ربکم ان یاتیکم العذاب بغتته و انتم لا تشعرون...).

شب و روز همین است، در مخاطبه شما بر زبان میرانم. بیت:

بازآ، بازآ، از آنچه بکردی بازآ صد بار اگر توبه شکستی بازآ

بالجمله اگر ذره از ایمان در دل میدارید و باز پرس اخرت را یقین میشمارید و خدای خود را مالك خود میشناسید و خدمت دین خود را از لوازم بندگی می انگارید و از دوستی کفار دست میبردارید، پس اینك راه راست بی کم و کاست به شما نشان میدهد که باعث ترقی مناصب دنیوی باشد و هم موجب علومدارج اخروی. کمر بسته در نصرت دین رب العلمین و موافقت زمره مجاهدین و مقابله کفر بیدین چست ببندید و این بنده درگاه الهی را با یقین از هوا خواهان خود تصور کنید و اگر دست از محبت کفار نخواهید برداشت و با زمره مجاهدین که خدام دین رب العلمین اند، علم مخالفت خواهید افراخت و نرد دغا و دغل با ایشان خواهید باخت و شیادی تعدی و ظلم محکم خواهید ساخت، سپس بالیقین بدانید که هرچند ما عاجزان ناتوانیم و فقیران بی سر و سامان اما مددگار همان قادر ذوالجلال است و قدرت کامله اولم یزل و لایزال که پشه ناچیز به حکم مثل نمرود را کشته و ضعیفی بی تمیز رشته حیات عنید را به اذن او گسسته اگر با من راه دوستی

www.sikaram.com

پیمایی پس همان یار دیرینه تو ام و اگر با من مخالفت مینمایی پس از من مترس لیك از مالك من بترس که مالك من نهایت غیور است و به غایت پر زور. هرگز مقابله او نمیتوانی کرد. به جز حسرت و ندامت هیچ نخواهی برد. آخر مرد هستی و لاف مردانگی میزنی اگر این مردانگی در راه خداوند خود صرف کردی مردی و الا از همه نامردی و در حسرت و ندامت مردی. این همه قیل و قال که بار، بار با تو میکنم، خدا آگاه است که محض بنابر خیر خواهی شما است و الاپروای کسی نمیدارم و التجا پیش کسی نمی ارم که عنایت مالك خود را بس است، باقی جمله هوس است آنچه شما را در مقدمه موافقت رب العلمین و مخالفت کافر لعین باما به عکس منظور باشد آنرا در جواب این رقیمه الوداد مفصل بنگارید.

و السلام علی من التبع الهدی، این رقعه به تاریخ بیست و پنجم شهر ربیع الاول ارسال داشته شد.

سراج التواریخ د سید ملي مجاهدو ته په اشتباه گوری او داسي لیکی: (په دغه وخت کی سید نومي چې د انګلیسانو په سپرو لښکرو کی ملازم و خپل ځان د خدمت کولو څخه ګوښه کړ او کابل ته راغی سردار دوست محمد او سردار سلطان محمد یې د سیادت او فضیلت له کبله ښه احترام او عزت وکړ سید دغه دواړه سرداران ملي مجاهدی ته تشویق کړه خو په سردارانو پوری چې د جهاد توان نه و د داسی عمل څخه یې ځکه نته کوله چې بریالیتوب یې په نصیب کیدای نه سو او د بیځایه وینو تویولو پرته یې بله ګټه نه درلوده، نو سید په ناامیدي د کابل څخه پیښور ته ولاړ او سردار یارمحمد یې ملی مجاهدی ته تشویق کړ. ده په داسی حال کی چې سواتیان، یوسفزی، ختک، مهمند او نور قبایل ورسره وو او د بریالیتوب چانس یې زیات و یو دم د جنګ څخه لاس واخیست او میدان یې پریښود. د دغه ماتی په نتیجه کی ملی مجاهدینو ته ځانې او مالي زیات تاوانونه ورسیدل او سردار یار محمد هم ووژل سو...).

ارواح نیاد استاد سید قاسم رشتیا د (افغانستان در قرن ۱۹) مولف د داسی اشتباه په رفع کی لیکی: (... مورخین معاصر هند سید احمد بریلوی را یک مجاهد حقیقی میدانند و عقیده دارند او میخواست سلطه اجنبی را از پنجاب و دیگر حصص شمال غربی هند رفع نماید. اما سرداران افغان به دسایس رنجیت سنگ نمی گذاشتند که او با انگلیس مقابله کند و او را ناکام ساختند...).

www.sikaran.com

مولینا محمد قاسم نانوتوي:

مولینا محمد قاسم نانوتوي د سهارانپور د نانوتوي په کلی کی په کال (۱۸۳۳م- ۱۲۱۲هـ) کی زیږیدلی او په کال (۱۸۷۹م- ۱۲۵۸هـ.ش) کی وفات سوی دی.

ده د استعمار سره د مخالفت او ملی فرهنگ او حکومت سره د موافقت په لحاظ د دیوبند مدرسه ډیره مجهزه او پیاوړي کړه. دیوبند د هند د اوترا پردیش یو زوړ کلی دی چې دوه زره کلن زوړ تاریخ لری. د دغې مدرسې خښته په کال (۱۲۸۳ هـ.ق) کی په پخوانی مسجد کی چې (چهتا) نومیده د مشهور عالم او مجاهد مولینا محمد قاسم نانوتوي په لاس اینبودل سوی ده او لومړی مدرس یې محمود الحسن (شیخ الهند) او د مدرسینو مشران یې مولینا محمد یعقوب نانوتوي او مولینا محمد قاسم نانوتوي نومیدل چې په (۱۲۹۳هـ.ق) کال کی محدث مولینا محمد علی هغه ډیره مجهزه کړی وه. مشهور آثار یې (مصابیح التواریخ، آب حیات، تقریر دلپذیر، مباحثه، شاه جهانپور، شیعه قبله نما، قاسم العلوم) او نور دی.

مولینا پنځه ویشت کلن و چې د هند په انقلاب (۱۸۷۵م- ۱۲۳۶هـ.ش) کی یې گډون وکړ او د ماتې له کبله مخفی سو.

مولینا محمود الحسن (شیخ الهند):

شیخ الهند د دیوبند د مدرسې د لومړنیو شاگردانو څخه و چې په (۱۸۵۱م- ۱۲۶۸ ش) کال کی په بریلی کی زیږیدلی دی. د تدریس او تحصیل وروسته د دیوبند په دارالعلوم کی د شیخ الحدیث او بیا د استعمار دورکولو او ملی حکومتونو د جوړولو په مجاهده لگیا سو.

شیخ الهند په (۱۹۱۶م- ۱۲۹٤هـ) کی حجاز ته ولاړ، شریف حسن د مکې والی دی ونیوې او انگلیسانو ته یې تسلیم کړ.

شیخ د (۱۹۱۷م) کال په جنوری کی مصر ته بندی بوتلل سو او د دغه کال د جنوری په پای کی (مالتا) ته تبعید سو او دری کاله یې په بند کی تیر کړه. د (۱۹۲۰م) کال په مې کی خوشی سو او هند ته ولاړ او د دیوبند د علماو په انډین نیشنل کانگریس کی شامل سو.

شیخ الهند محمود الحسن د هند د سیمې د آزادی د تامینولو له پاره افغانان او د افغانستان خاوره د مرکز گرزولو په توگه خوښه کړه او د دی کار په سر رسولو له پاره یې مبارز او وطن دوست

www.sikaram.com

عالمان لکه مولینا عبیدالله سندهی، مولینا منصور، مولینا سیف الرحمن، مولینا فضل ربی، مولینا فضل محمود، مولینا محمد اکبر، د بابری ملا صاحب، مولینا تاج محمد، سنډوکی بابا او نور افغانستان ته ولیږل همدا شانی د ترنکزو حاجی صاحب، خان عبدالغفار خان، علی ورونه او د سرحد نور روشنفکران د ده د کړنلاری طرفدار وو.

شیخ الهند د افغانستان خاوره د جهاد له پاره ځکه ټینګ سنګر ګانه چې دلته انقلابیون په خوندی مرکز او غښتلو مجاهدینو مجهز وو. مولینا عبید الله سندهی د شیخ الهند د ارمانو د پوره کولو په هیله د افغانستان د مجاهدینو سره د مولینا حاجی عبدالرازق اندړ په واسطه ولیدل او د افغانستان د پاچا ورور نائب السلطنه سردار نصرالله خان د هغوی پیشنهادونه ومنل.

شیخ الهند مولینا محمود الحسن صاحب د ترکانو د مرستی له پاره د (۱۹۱۵م) د دسمبر په میاشت کی د حج په نامه د څو نورو مجاهدینو سره لکه مرتضی حسن، مطلوب الرحمن، مولوی عزیز ګل، حاجی جان محمد، سید هادی حسن او مولینا منصور انصاری حجاز ته وخوځید او هلته یې د ترکانو د والی غالب پاچا او د حرب وزیر انور پاچا او په شام کی د ترکانو د والی جمال پاشاه سره ولیدل او په نتیجه کی یې د غالب پاشاه په لاسلیک د لویدیځ استعمار په ضد په عربي، ترکي، فارسي ژبو د جهاد یو اعلان خپور کړ چې غالبنامه یې د غالب پاشاه په لاسلیک شهرت ومونده او د دغه اعلان یو شمیر زیاتی پاڼی یې د خپل مجاهد ملګری محمد میان (مولینا محمد منصور انصاری) په لاسلیک د افغانستان آزادو سیمو ته راولیږل.

شیخ الهند غوښته چې افغانستان ته راسی خو په ایران کی د سلطان آباد د لاری د تبدیلیدلو په نسبت یی ونسو کولای چې خپل عزم عملی کړی.

شیخ الهند د (۱۹۲۰م) کال د نومبر په دیرشمه د ربیع الاول په اتلسمه (۱٤۲۹هـ.ق) کال وفات سو او په کابل کی یې د اعلیحضرت امان الله له خوا په ډیر عزت فاتحه واخسته سوه. د فاتحی د ختم په مجلس کی پاچا وویل: هغه مجاهده چې شیخ الهند شروع کړی وه زه به یې پای ته ورسوم.

www.sikaram.com

په افغانستان کی د خلافت او پان اسلامیزم تحریکات

د ترکیې سره د انګلیسانو د جګړې او د سلطان عبدالحمید له خوا د جهاد د اعلان د خپریدو له کبله د ټول عالم اسلام مخصوص د افغانانو د همت او غیرت وینی په جوش راغلی او د افغانانو په مرسته چې په کابل کی جنود ربانیه (د مسلمانانو د ژغورلو فوج) جوړ سوی و، غوښته یې چې اسلامی هیوادونه متحد کړی او د یو مسلمان پاچا د قیادت د لاری د اسلامی بین المللی چارو د حل او فصل کولو له پاره جدی اقدام وکړی.

د جنود ربانیه پالیسی د هند د موقتی حکومت د جوړولو د هلوځلو په اثنا کی چې مشر یې راجه مهندر پرتاب، صدر اعظم یې مولوی برکت الله، داخله وزیر یې عبیدالله سندهی تاکلی سوی وو د افغانستان پاچا امیر حبیب الله ته یو پیشنهاد وراندی کړ چې د انګلیسانو سره د جنګ د اعلانولو په صورت کی به دی د ټول عالم اسلام د امیر المومنین په حیث وتاکل سی. همدا شانی د دوی دغه تصمیم د قسطنطنیی، جاپان، چین او هندوستان لبرالانو ته هم استولی سوی وو. د مولینا عبیدالله سندهی په لاسلیک یې یو خط چې وروسته دوریښمین خط په نامه مشهور سو، شیخ الهند محمود الحسن ته چې په (۱۹۱۵م) کال کی په دسمبر کی حجاز ته تللی و د هغه په مشری یې د هند او عربی هیوادونو مسلمانان د انګلیسانو په مخالفت راتحریکول غوښتل، خو دغه خط د انګلیسانو لاس ته ورغی او انګلیسانو د هندی او افغانی مجاهدینو د تحریکاتو د شنډولو له پاره په پیښور، پنجاب او د هند په نورو سیمو کی سخت اقدامات وکړل او د دغه نهضت د ناکامولو له پاره یې سرحد ته زیاتی پیسی را وبهولی او اعلانونه یې خپاره کړه چې د مجاهدینو دا هلې ځلی جهاد نه دی ځکه چې جهاد بیله پاچا له امره حرام دی. د سرحدې افغانانو پاچا خو امیر حبیب الله دی او هغه د جهاد اعلان نه دی کړی.

www.sikaram.com

د بله پلوه یې دا اعلان هم خپور کړ چې انګلیسانو ترکان جنګ ته نه دی مجبور کړی بلکه ترکان پخپله د انګلیسانو سره په جګړه کی اخته سوی دی. دا جګړه مذهبی جګړه نه ده بلکه سیاسی ده. انګلیسانو د مسلمانانو په مقدسو ځایونو لکه مکې، مدینې، بغداد او نورو بمباری نه ده کړی او نه جګړه هلته سویده. خو د جهاد د شنډولو دغو اقداماتو که څه هم لږ تاثیر وکړ خو امیر حبیب الله په پته د ترکانو سره د همدردی او عمشریکې احساس درلود او د هغو د پلانو د بریالې کیدو هیله یې درلوده چنانچه په سرحد کی یې د خپل ورور سردار نصرالله خان د تحریکاتو مخ نه نیوی او د انګلیسانو د ملامتی څخه یې په یو څه او بل څه ځان خلاصاوه او هغه هیئت چې په (۱۹۱۶م) کی د (ندیر مایر) او کاظم بیګ په مشری کابل ته راغلی و او د افغانستان پاچایې د انګلیس مخالفت کولو ته هڅاوه هغه ته یې په ځواب کی وویل: چې ترکیه دی لومړی افغانستان ته لښکر ولیږي او د زیاتو مخارجو له پاره دی پیسې ورکړی خو څرنګه چې دا کار ممکن نه و نو هیئت د دوو میاشتو تیرولو وروسته بیرته ناکام وګرځید. هغه دوه تنه مولوی عبدالقادر پنجابی او مستر اسنګهـ چې د ایران د لاری ترکیې او جرمنی ته لیږل سوی وو، په مشهد کی د انګلیسانو له خوا ونیول سوه او د مولوی عبدالقادر څخه یې هغه خط چې د ترکیې د سلطان په نامه لیکل سوی و واخیست او هغه بل ملګری یې چې اقرارونه کړ په دار وځړول سو. په کابل کی د غالب پاجا د مکتوب ځواب د مولینا منصور په قلم پریوې ژړی وریښمینی پارچی لیکل سوی و چې د راجا مهندر پرتاب سنګهـ، مولوی برکت الله او د افغانستان د نائب السلطنه اعتمادی او رئیس المجاهدین حاجی مولینا عبدالرازق صاحب اندړ په لاسلیک هند او حجاز ته لیږل کیدی، په بحری جهاز کی ونیول سو او په دې دول د وریښمین خط متن د انګلیسانو په لاس ورغی او په ورځپاڼو کی د وریښمین مکتوب په نامه خپور سو. هغه دوه تنه چې روسیې ته د مرستی غوښتلو له پاره لیږل سوی وه تاشکند ته ورسیدل او هغه مکتوب چې د سرو زرو په صفحه په سانسکریټ ژبه او لاتینې خط لیکل سوی و د تاشکند د نائب الحکومه په واسطه روسي تزار ته وسپارل سو. هغه لیکونه چې په مشهد کی د انګلیسانو په لاس ورغلل هغه یې امیر حبیب الله ته ولیږل او د وریښمین خط په باره کی یې هم اطلاع ورکړه. په اپریدو کی یې د خیری بیګ پر فعالیتونو هم امیر خبر کړ او امیر یې تهدید کړ او ورته ویې ویل: چې په پته د دوی سره د حاجی مولینا

www.sikaram.com

عبدالرازق او سردار نصر الله خان نائب السلطنه په لاربشوونه د انګلیسانو په مخالفت فعالیتونه کیږی. څرنګه چې په دغه وخت کی روسان هم له برتانیې سره د ترکیې او جرمنی په ضد په جګړه بوخت وه نو افغانستان د دوو سترو قوتونو په مخالفت په جګړه کی نه سو داخلیدلای او له بل پلوه سمدلاسه د ترکیې او جرمنی مرسته نه سوه ور رسیدلای. نو امیر حبیب الله مجبور سو چې یوه لویه جرګه په کال (۱۹۱۵م- ۱۲۹٤هـ.ش) کی چې پنځه سوه څلویښت (٥٤٠) تنه مشهور مشران، ملایان او روحانیون چې په هغو کی د اسلامپور پاچا د ملا نجم الدین اخند ماذون، د لوګر د موسهی ملا محمد جان د سوات د ملا عبدالغفور صاحب ماذون، د تګاو ملا صاحب، د هډی د ملا صاحب ماذون، د تیرګرې پاچا، د هډې د اخندزاده صاحب ماذون، د برومیا صاحب، د حصارک میا صاحب، د هډې استاد شمس الحق صاحب، حافظ جی د صوفی صاحب زوی، ملا محمد مرید، ملا عبدالغفار شیخان صاحبان د شوربازار د حضرت صاحب زامن او نور شامل وو را دعوت کړه چې د افغانستان د یې طرفی او په جنګ کی د نه شمول مصوبه اعلان کړی.

افغانستان ته د هندې مهاجرینو او د لاهور د کالجونو د محصلانو او د سرحد د مجاهدینو راتګ تر استقلال پورې دوام درلود او اعلیحضرت امان الله د دوی مجاهداتو او سرښندنو ته د قدر او اهمیت په نظر کتل او هر ډول مادي او معنوی مرستی یې ورسره کولی.

د (۱۹۲۰م) کال په مارچ کی چې د هندیانو د موقتی حکومت د غړو په منځ کی د هغه حکومت د مرام او تبلیغاتو پر سر اختلاف پیښ سو، راجا مهندر پرتاب او مولینا عبیدالله سندهی د پان اسلامیزم د تیوری او (تیرو مال اچاریا) او عبدالرب د یو ډول بلشویکی تبلیغاتو طرفداري کوله.

اعلیحضرت امان الله د راجا مهندرا پرتاب او مولینا سندهی پلوونیوله. اچاریه او عبدالرب یې د کابل ځخه وایستل او د هند د خلافت او مقدسو مقاماتو د لاسه راوستلو په هلو ځلو کی ورسره موافق دی او زیاته یې کړه چې حاضر دی چې خپل تخت او ژوند په دی لار کی قرباني کړی او په همدغی بیانیې سره د مهاجرینو سیلونه افغانستان ته جاري سول او په افغانستان کی یې زیات قدر وسو، مولینا عبید الله سندهی پخپلو یادانیتونو کی لیکي: اعلیحضرت امان الله عزم کړی دی چې د شیخ الهند وصیتونه پر ځای کړی.

www.sikaram.com

علی وړونه (مولینا محمد علی او شوکت علی)

مولینا محمد علی جوهر او شوکت علی دوه یوسفزی وړونه او ستر ملی مجاهدین افغانان وو چې د استعمار او امپریالیزم څخه یې د اسلامی مخصوص د سیمې د هیوادونو د خلاصولو، د هند په کنګره کی د فعالی برخې اخستلو، د خلافت د موسسې د پیاوړی کولو او د افغانانو د ملی مبارزینو لکه مولینا حاجی عبدالرازق صاحب اندړ او نورو سره یې د نژدی دوستانه علایقو او همکاریو پاللو سره د سیمی د ازادی، ملی او اسلامی غورځنګ ډیر فعال ساتلی وو او په دی لار کی یې ډیری خواری او جیلونه ګاللی وو. د کابل امان افغان جریده د دوی په هکله داسی لیکی:

(... مولینا محمد علی و مولینا شوکت علی که هر دو برادر یکدیگرند و از روسای درجه اول احرار مسلمانان هند به شمار میروند؛ به جرم وطن خواهی محبوس بودند، روز چهار شنبه به رهایی شان اظهار مسرتها و ترتیب احتفالات قدردانی از او نمودند و از طرف روسای قوم به صدارت (اندین نیشنل کانګرس) انتخاب شدند و هم از خلاصی مولینا محمد علی اظهار سرور قلبی نموده تبریکات نهایی به خدمت اوشان و شاګردان اوشان تقدیم مینمایم...).

مولینا محمد علی په (۱۹۳۱م- ۱۳۰۹ ش) کال په لندن کی وفات او جنازه یې د وصیت سره سم په بیت المقدس کی خاورو ته وسپارله سوه.

د استبداد او مطلقیت د لیرې کولو او ملی حکومت په راوستلو کی د سید جمال الدین افغان ملی مجاهدی:

د (۱۵۴۳ م) څخه تر (۱۶۸۸ م) او د (۹۲۳ هـ.ش) څخه تر (۱۰۶۷ هـ.ش) کال پورې د ختیځ افغانستان په غرو رغو او درو کی تر غزنی وزیر او بلوڅو پورې د بابر کورګانی د کورنۍ د اقتدار او مطلقیت د راپرزولو او ملی حکومتونو د جوړولو له پاره د نورو ملی مجاهدینو په لړ کی د بایزید روښان د آزادی غوښتلو مجاهدی زیاتې مشهورې دی.

www.sikaram.com

څرنگه چې کورگانیانو د افغانانو د آزادی غوښتلو او ملی خپلواکی ساتلو مجاهدی په زور له منځه وړای نه سوی نو د دهلی د دربار واکمن اکبر گورگاني د افغانانو د دغه نهضت د ناکامولو له پاره پر روښانیانو باندی د سید علی ترمذي څخه د کفر د فتوی په صادرولو کار واخیست او سید علی ځکه د پاسنې سند په مځکو تر سوات، بونیر او کونړ پورې زیات اقتدار وموند او اولاده یې په دغو سیمو کی تر ملوک الطوایفی ورسیده.

سید علی ترمذي (پیر بابا) په (۱۵۰۲م)= (۸۸۱هـ.ش) کال کی د افغانستان په شمال (کندل) کی زیږیدلی او په (۱۵۸۳م)= (۹۶۱ هـ.ش) کال په بونیر کی مړ دی د ده څخه څلور زامن او دوی لونې پاته سوی.

د لومړنې زوی څخه یې چې سید مصطفی نومیده او د (پشد) په (دونی) کی په کال (۱۵۷۵م)= (۹۰٤هـ.ش) کی مړ دی یو سلاله د عبدالوهاب میا عبدل په نامه رابیلیږی چې سید جمال (مسعود) بن ظهیر الدین، بن زین العابدین، بن رضی الدین، بن سید علی شاه همدانی چې د پشد په (نهی) کی په (۱۸۸۳م)= (۱۲٦۳هـ.ش) کی مړ دی، بن سید جمال الدین افغان چې په استانبول کی په (۱۸۹٦م) کی مړ دی او مړی یې د استانبول څخه کابل ته راوړل سوی او د کابل د پوهنتون له څنگه په جمال مینه کی چې دغه ناحیه د ده په نامه یادیږی خاورو ته سپارل سوی دی، د دغی کورنۍ څخه دی.

څرنگه چې د پیر بابا ماینه (مریمه) د بونیر د ملک دولت ملیزي یوسفزي خور وه نو اولاده یې توله د خپلی کورنۍ او ملي فرهنگ، ملي عنعناتو او رسوماتو پاللو ته د خدمت په څیر وقف کړه، نو افغانانو هم هغوی ته د احترام په سترگه کتل او د پاچا په کلمه چې د پادشاه مغفنه ده، د سیدانو او پیغمبر د اولاد په نامه تر اوسه یادیږي.

د سید جمال الدین اصل او نسب:

دا صحیح نه ده چې سید ایراني او یا بل څوک وگڼل سی، سید په اصل کی د افغانستان و، او تر دی بل معتبر سند پیدا کیدلای نسی چې دی د خپل کتاب (الحادی للمسائل النفایس) د بولاق چاپ (۱۲۵٤ق) په لمړی مخ کی په خپل قلم داسي لیکی:

(من سکنة کابل من اهالی افغان السید جمال الدین من سادات کنر).

www.sikaram.com

برهان الدین بلخی د سید شاگرد، د استانبول د (ملت) په جریده کی په (۱۹۲۶م) کی داسی لیکی: (چون درین روز ها میشنوم که حضرت استاد را بعضی ها ایرانی میپندارند بنابرین یک محاوره را که درین خصوص حضرت استادم با من کرده عیناً مینویسم.

من از سادات معروف کنر بوده و در سال (۱۲۵۴ق) در افغانستان تولد شدم. شیخ جمال الدین که از روسای بابی و از اهالی ایران میباشد به هر جائیکه من رفته ام و او هم محقق به انجا رفته است ازین سبب ایرانیها دانسته و یا نادانسته مرا شیخ جمال الدین ایرانی میپندارند، این ظن فاسد، مردود و سراپا خطا بوده و دروغ محض است اگر مرا خود من خوبتر میشناسم اینک خود من میگویم که من اصلاً ایرانی نیستم افغان میباشم و تمام افغانها مرا میشناسند و تصدیق میکنند...)

د سید جمال الدین افغان په هکله د شرق او غرب زیاتو پوهانو لکه فرانسوي رونان، د مصر اعظم مفتي شیخ محمد عبده، ابراهیم اللقانی عبدالله ندیم، علی مظهر، ادیب اسحق، ابراهیم، علاؤ الذین، سید حسن تقي زاده، داکتر تراچند، جرجی زیدان، پروفیسور گولډ زهیر، کاسن کاهن، د بریتانیکا انسایکلوپیډیا، امریکایی ختیځ پیژندونکی لاتراب ستووارت، انگلیسی مستشرق الفرد بلنت. لاهوري علامه محمد اقبال، پروفیسور ادورد براون او نورو د ده د شخصیت او سیاست په هکله یو شمیر د قدر ور تحقیقات کړی چې د دغی جملې څخه د سید جمال الدین په خصوص کی د ادورد براون نظر دلته راوړل کیږی: (... دغه لوی سړی داسی ماهر سیاست پوه او داسی جامع عالم و چې په نړی کی یې لږ ساری لیدل کیږی. د ده د ژبی فصاحت، پراخ علم، سیاسي پوهی او درایت بیلو معلوماتو، د اسلام سره د حقیقی عشق پرته، چې په خپل زړه کی د هغه د انحطاط څخه متاثره و د دولت او دنیا څخه بل څه نه درلوده. د دی سره بیا هم د ختیځ د آزادی غوښتونکو په لومړی لیکه کی ولاړ ؤ او د مبالغې پرته ویل کیدای سی چې د داسی قوت خاوند ؤ چې پاچاهان یې پر تخت ریږدولای سوای او د اروپائیانو پروګرامونه او نقشی که څه هم نبې ترتیب سوی وې بیا یې هم خرابولای سوی او داسی نا معلومی قوې یې په کار اچولی چې د ختیځ او لویدیځ سیاست پوهانو د هغو د اهمیت او استفادی کولو ته پام ته و.

www.sikaram.com

علامه محمد اقبال لاهوری د سید جمال الدین افغان داسی ستاینه کوي:

سید السادات مولانا جمال — زنده از گفتار او سنگ و سفال
بنده حق بی نیاز از هر مقام — نه غلام کس، نه کس او را غلام
فطرتش از مغرب و مشرق بری است — گرچه از روی نسبش خاوری است
بنده ء حق مرد آزاد است و بس — ملک و آئینش خدا داد است و بس

ایران در آستانه مشروطیت لیکی: (سید جمال الدین برای تسکین خاطر طبقه متوسط مشرق زمین و راه نمایی نهضت های ملی درگیر و دار افوال نهضت را مزه اتحاد از گلوی سید بیرون می آید، به این زمزمه در حقیقت بورژوازی کلیه ممالک شرقی را برای مبارزه با استعمار و مخصوص استعمار انگلستان به اتحاد دعوت میکند و کسان بسیاری را که گوش به زنگ هر ندای ترقیخواهانه به دور خود گرد می آورد.

د دنیا مجله د سید جمال الدین د مجاهدو په هکله لیکی: (... در صد سال اخیر نهضت ها و جنبش های متعدد و وسیعی به همت اشخاص روشن و مترقی جهت احیای جنبه های مترقی اسلام بوجود آمده است که شاید بتوان سید جمال الدین را آغاز گر آن دانست.

به گفته فقید مطهری سید جمال الدین مهمترین و مزین ترین درد جامعه اسلامی را استبداد داخلی و استعمار خارجی تشخیص داده بود و تمام کوشش خود را صرف بیداری و اتحاد مسلمین علیه تسلط خارجی کرد. سید جمال الدین با مشاهده ترقیات علمی و صنعتی اروپائیان استنباط کرده بود که عقب مانده گی علمی تکنولوژیک مسلمین سبب فقر و استعمار است لذا خصوصاً با تمثیل قرون اولیه اسلام و شگوفانی آن مسلمین را به آموختن حکمت و علوم فرا میخواند. درباره مبارزه سید با استعمار کافی است به نقش سازنده وی در جنبش تنباکو اشاره کنیم، بدون تردید میرزای شیرازی به تشویق و تحریص سید جمال الدین اقدام به تحریم تنباکو کرده بود، میدانیم که جنبش تنباکو و تحریم آن توانست نهضت عظیمی بوجود آورد تا آنجا که ده هزار نفر مردم تهران ارگ سلطنتی را محاصره کردند و عزل امین السلطان را خواستند. قزاقان با تیر اندازی خود هفت نفر را کشته و یک صد را مجروح کردند و سرانجام شاه و دولت تسلیم شده و امتیاز تنباکو را ملغی ساختند.

www.sikaram.com

د سید جمال الدین سیاسی حرکتونه:

په نولسمې پیړۍ کې په اسلامی مستقلو هیوادونو کی د اروپائیانو د استعماری یرغلونو په مقابل کې یو سیاسي او اجتماعی نهضت شروع سو. د مثال په توګه د دغی پیړۍ په لومړی برخه کې په ترکیه کن نظامي او مدني اصلاحات عملی سول که څه هم د دغو اصلاحاتو لارښوونکی رشید پاشاه او مدحت پاشاه په ناکامی له منځه ولاړل خو د سیاسی ژوندانه اصول یې چې د مطلقیت ورانول او د مشروطی راوستل وو ورځ په ورځ قوی کیدل.

سرهنری الیوټ د خپل مشهور کتاب (سم ریولوشن اینډ ادر ډپلوماټیک اکسپرینسز) (Some revolotion and other deplomatic experiences) (څه تحولات او نوری دپلوماتیکی تجربی) په (۲۳۹) مخ کې د مدحت پاشاه ډیره ستاینه کوی، دی په دغه وخت کی په استانبول کې د انګلیسانو مختار وزیر و او سلطان عبدالعزیز لااستعفی نه وه کړی (۱۸۷۵م=۱۲۵۳ - ۱۲۵٤هـ.ش).

سرهنری الیوټ وایي: مدحت پاشاه په (۱۸۷٦م) کی د ځوانانو ترکانو د ګوند مشر او صدراعظم و. ما چې د ده سره ولیدل ده د ترکیې د اوضاعو څخه تشویش ښکاره کړ او راته وی ویل: د عثمانیانو د هیواد وضع دومره خرابه سوې ده چې د اساسي اصلاحاتو راوستلو پرته بله چاره نسته او باید مشروطه راسی، د حکومت اختیارات ملي شوری ته پریښوول سی. د مسلمانانو او مسیحیانو په منځ کی د قانون له مخی توپیر نه وی. په مجلس کی باید د نژاد او مذهب پرته نمایندګان ګډون وکړی.

مدحت پاشاه غوښته چې د انګلستان د حکومت په شانی په ترکیه کې حکومت جوړ کړی خو شپږ میاشتې وروسته مدحت پاشاه د سلطان عبدالعزیز د وژلو په تور په مرګ محکوم سوم خو د انګلیسانو په وساطت (طایف) ته تبعید سو او هلته د سلطان عبدالحمید په امر ووژل سو.

د نولسمې پیړۍ په نیمایی کې په ایران کې هم د مشروطه خواهی اصلاحاتو یوه هښمه راغله خو کامیابی ته ونه رسیده او ذکر یې د مخه تیر سو. د دغو نهضتونو په اثنا کې د نولسمې پیړۍ د دوهمې برخې په نیمایې کې په افغانستان کې د اصلاحاتو لارپرانیستل سوه د دغه نهضت د پیاوړو مشرانو څخه یو سید جمال الدین افغان ؤ، ده د اتلس کالو په عمر کی شرعي او

www.sikaram.com

عقلي علوم، رياضي، طب او تشريح پای ته ورسول. د جارج کونتي په قول د زلميتوب په وخت کې يې په عسکري مسلک پوری مربوط ټول فنون زده کړل، بيا هندوستان ته ولاړ او يو کال هلته پاته سو، په دغه موده کې يې اروپايی علوم او رواجونه زده کړل، وروسته د حج د پاره حجاز ته ولاړی او يو کال د عربو په ښارونو کی وگرځېدی. په ۱۲۷۳ هـ=۱۸۷۵ ميلادي کی مکې شريفي ته ولاړ، بيا بيرته افغانستان ته راغی او د امير دوست محمد خان په خدمت کې منتظم مقرر سو. امير په ځينو مجاهدو کې سيد د ځان سره هم ملگری کاوه. هغه وخت چې امير دوست محمد خان وفات سو، دی د سردار محمد اعظم خان مشاور او وزير پاته سو ويل کيږی چې سردار محمد اعظم خان ته يې يو عرفاني او عمراني پروگرام وراندی کړ او د کابل په نامه يې يوه جريده د امير محمد افضل خان د باچاهی په وخت کی تاسيس کړه.

په (۱۸۶۷م) کی چې سردار محمد اعظم مات سو او ايران ته يې پناه يووړه امير شيرعلی خان داسی تلقين سو چې سيد ښايې د سردار محمد اعظم خان د طرفدارانو مرجع وگرځی. په داسی حال کې چې سيد د مرکزی حکومت جدا طرفدار و او د امير دوست محمد خان د مرينې په وخت کې يې امير محمد اعظم خان قانع کاوه چې خپل کشر ورور امير شير علی خان ته بيعت ورکړی. په هر صورت هغه وخت چې سيد وپوهيد چې امير شيرعلی خان غواړی چې دی د وطن څخه د باندی ووزی، سيد ومنل او د امير د خوښی سره سم ايران ته ولاړ او سردار محمد اعظم خان يې ونه ليد. هغه وخت چې د بالاحصار په ارگ کې يې د امير شيرعلی خان سره خدای په امانی کاوه په يوه ليک کې يې خپل اصلاحی پروگرام امير شيرعلی ته وراندی کړ چې امير په خوښی ومانه او په هيواد کې يې د تطبيقولو وعده ورکړه. د سيد جمال الدين افغان په اصلاحی پروگرام کې د سياسي استقلال مستردول، د کابينی جوړول، د عسکرو تنظيمول، د ښوونځيو تاسيسول، د لارو پوسته خانو، عصری ښارونو جوړول، د ورځپاڼو تاسيسول، ملی ژبې پښتو ته پاملرل وو.

سيد په افغانستان کې چې فيوډاليزم او ملوک الطوايفی ډير زيانمن کړی و، قوی مرکزي حکومت، په ايران کې چې مرکزي حکومت موجود و، مشروطه رژيم او هم يې په ترکيه کې ډيموکراتيک حکومت چې په هغه کې د بيان، مطبوعاتو، اجتماعاتو، مظاهرو د افرادو حقوق پکښې تضمين سوی وه غوښت. په هند او مصر کې چې تر اروپايي استعمار لاندې زوريدل د ملې

www.sikaram.com

او استعمار ضد مبارزې طرفداری یې کوله یعنی د سیاسی او اقتصادی آزادئ تحریک یې مخی ته بیوی او د امپریالیزم د سلطې څخه د راوتلو زیاریې ایستی، د آسیا او افریقې په اسلامی هیوادونو کې یې چې د لویدیځ استعمار څخه یې اقتصادی او فرهنگی تاوانونه لیدلی وو؛ د اسلامی اتحاد او پان اسلامیزم تحریک مخی ته بیوی.

سید جمال الدین افغان په خپل دوهم سفر کې د ایران د پاچا قاجار ناصر الدین شاه له پاره اساسې قانون ولیکې چې د هغه له مخې به د ایران حکومت مشروط کیدی. پاچا چې دغه قانون مطالعه کړ ډېر بد یې ځنی راغله او په دی وپوهید که دغه عملی کړی د سلطنت قدرت یې محدود کیږی، شوری او اعیان پیاوړې کیږی، نو د ایران پاچا سید ته مخ ور واړوه او ورته وې ویل: چې محترم بښاغلې دا څرنگه کیدلای سی چې زه د ایران پاچا اوسم خو د بزگرانو، کارگرانو او خوارانو په ډله کی وشمیرل سم؟ سید ورته وویل: ای پاچا پوه سه چې ستا د تخت او پاچاهې عظمت او د سلطنت پایې د مشروطیت د فرمان په صادرلو سره تینگی او پیاوړی کیږی. د یوه بزگر او هنرمند مقام او گټه په هیواد کې تر تا او ستا د حاکمانو څخه زیاته ده. زما دا واوره او د مخه تر هغه چې وخت ضایع سی او فرصت د لاسه ووزی، ایران باید مشروطه پیدا کړی. استبداد او په بوازی سر حکومت ړنگ کړی او زه د اخلاص او پاکی څخه دغه مشوره قاجار تولواک ته ورکوم. قاجاری پاچاهې په دغه استبدادی حکومت سره د حاکمانو د ظلم او تعدی په نسبت د ړنگیدو په خوائی. د مشروطیت په ورکولو سره ایران کیدلای سی چې د مهذبو او متمدنو هیوادونو په جمله کې وشمیرل سی. په دغه مشوره پاچا ځنی خپه سو او د دی دپاره چې سید د هغه د تعرض او زیان څخه په امان پاته سی په (ری) کی د حضرت عبدالعظیم په بست ننوت.

محمود محمود په خپل اثر (تاریخ روابط سیاسی ایران و انگلیس در قرن ۱۹، جلد پنجم، صفحه ۱۲) کی په دی هکله داسی لیکی:

(... قریب هفت ماه یا کمی بیشتر در آنجا بود تا حدود ماه جمادی الاخر یا رجب ۱۳۵۸ او را در شاه عبدالعظیم به حکم شاه گرفتار کرده و تحت الحفظ به انواع سختی ها و افتضاح تا خانقین تبعید کرد و با والی بغداد نیز مخابره و از وی تقاضا کردند تا او را بکسر تا بصره بفرستند و اجازه رفتن با مشاهیر عراق و ملاقات با علمای آنجا ندهند. مشار الیهه به بصره رسید و در آنجا

www.sikaram.com

با حاجی سید علی اکبر شیرازی که از علمای ایران بود و ظاهراً نیز تبعید شده بود، ملاقات کرد و به‌واسطه او یک نامه یی به زبان عربی به حاجی میرزا حسن شیرازی مجتهد معروف مقیم سامرا نوشته که معروف است. بعد خود او صورت این نامه را در لیدن به طبع رسانید. مشارالیهه در بصره پس از چندی اقامت برای بهبود حالش که علیل المزاج شده بود، به لندن رفت و در اوایل سنه (۱۳۵۹م) در لندن بوده است و در مسئله امتیاز انحصار دخانیات نیز برضد آن کار کرده و علاوه برین در مجالس و محافل عمومی چند نطق و خطابه را در اوضاع ایران داده و مقالات در جراید انگلیسی نوشت. در ماه رجب (۱۹۵۹م) یک روزنامه عربی و انگلیسی موسوم به (ضیاء الخافقین) در لندن بنا کرد و در مقاله شماره اول راجع به خرابی اوضاع ایران بود، و در هر شماره یک مقاله نوشت در خصوص ممالک اسلامی...)

د العروة الوثقی مجله چې په عربی ژبه په هفته کی یوځل په پاریس کې د سید د چلولو او شیخ محمد عبده په لیکوالۍ خپریده په مصر، هند او نورو اسلامی هیوادونو کی یې ډیر همکاران درلودل. سید جمال الدین افغان د دغی جریدې د مرام په باب داسی لیکی: (... څومره چې د دی جریدی د وسه کیږی، د شرقیانو له پاره به خدمت وکړی او هغه اړتیاوی به څرګندی کړی چې د نیمګړتیا له کبله یې خلک غوږ اریږی او بیوزلی کیږی او داسی لاری به خلکو ته وښودی چې پر هغو لارو د تګ په برکت به بایللی شیان بیرته په لاس راوړی او د آینده مشکلاتو څخه به ځانونه وساتلای سی...).

سید جمال الدین افغان هند ته د خپلو انقلابی سفرونو (۱۸۵۷ - ۱۸۶۹م=۱۲۴۸هـ.ش) په ترڅ کې د هند اجتماعي او سیاسي وضع د نژدی ولیده او انګلیسانو چې د ده د آزادې غوښتلو او خلکو راویښولو او یو موټی کولو تحریکونه نه سوه زغملای، ده ته یې ځواب ورکړ چې د هند څخه ووزی. هغه وخت چې دي د هند څخه وت، هندیانو ته یې داسی وویل: (ای خلکو په حق او عدالت لوړم، د دی سره چې دولت ستاسو حمایه کوی، ستاسو زامنو ته کار ورکوی، وسله یې په لاس کې ده ستاسی استقلال او ثروت له منځه وړی. د دوی تول شمیر تر لسو زرو تنو اضافه نه دی که تاسی په سلګونو میلونو غوماشي سی او د دولت په غوږ کې وبونیږی دغه آواز به د دوی لوی غوږ یعنی صدراعظم ګلادستن ته ورسیږی. د سید دغی وینا خلک وژړول. سید په قهر سو او

www.sikaram.com

ورته وې ویل: ژړا د ښځو کار دی. هغه ملت چې د خپل استقلال له پاره پر دښمن یرغل وکړی او مرګ استقبال کړی هغه ملت وینې او باقي پاته کیدلای سی.

سید جمال الدین افغان د مصر په الازهر پوهنتون کې د ابن سینا د فلسفی تدریس کاوه او مرتجعینو دغه فلسفه نه خوښوله او بدیې باندی ویل، دی د مصر د عسکرو په کودتا کې چې پر اسماعیل پاچا وسوه په لاس لرلو متهم وو او د فراماسونی نهضت چې (۳۵۰) غړی یې درلودل او د مصر خپلواکې یې غوښته بانی وو. هغه وخت چې محمد احمد سوډانی انګلستان تر فشار لاندی ونیو او انګلیسانو غوښته چې پر سوډان حمله وکړی، سید جمال الدین په عروة الوثقی کې د انګلیسانو د دغه شنیع عمل څخه ممانعت کاوه خو انګلیسانو ده ته په عوض کې د سوډان د پاچاهی دعوت ورواندی کړ. د انګلیسانو صدراعظم لارډ سالسبری سید جمال الدین افغان ته وویل: موږ عزم کړی دی چې تا د سوډان د پاچا په حیث مفتخر کړو چې د مهدی انقلاب د بیخه وکاږی او د دښمنۍ اور مړ کړی. سید جمال الدین افغان په ځواب کې ورته وویل: دا چې دغه عهده او وظیفه ماته راکوې ډیر د تعجب ځای دي. محترمه لارډه اجازه راکوې ستاسو څخه وپوښتم چې آیا تاسو د سوډان مالک یاست چې هغه ته یو پاچا و استوی؟ مصر د مصریانو او سوډان د هغه یوه برخه ده. خلیفه چې اوس حقدار ګڼل کیږی په خپل ځان کې دومره قدرت لری چې د فساد او فتنې اور مړ کړی. محترمه لارډه! کوم اصلاحات چې په سوډان کې غواړی هغه څله په ایرلینډ کې نه عملی کوی چې د خپلې آزادۍ له پاره د هیڅ ربړ، زحمت او فداکاری څخه مخ نه ګرزوی.

مصری مورخ محمود قاسم د سید جمال الدین د فلسفی نظریو څیړونکی په خپل کتاب (جمال الدین الافغانی حیاته و فلسفه) کې لیکی:

جمال الدین افغانی د (مسکوی پانه) د ناشر کانکوف په بلنه په (۱۸۸٦م) کال کې و روسیې ته وبلل سو. د روسیې د (۱۸۸۷م) کلونو په مطبوعاتو کې په روسیه کې د سید جمال الدین افغان د ژوندانه په باره کې ډیری لیکنی سته چې له دغی جملې څخه دغه مقالې د یادونی وړ دی: د روسیې سره د انګلیسانو روابط (نوی عصر ۱۸۸۷م د اګست ۱۵ ګڼه)، په افغانستان کی د روانو پیښو علتونه (مسکوی پانې د ۱۸۸۷م کال جولایی) د افغانی حالاتو په باره کې

www.sikaram.com

ورته وې ویل: ژړا د ښځو کار دی. هغه ملت چې د خپل استقلال له پاره پر دښمن یرغل وکړی او مرګ استقبال کړی هغه ملت وینې او باقي پاته کیدلای سی.

سید جمال الدین افغان د مصر په الازهر پوهنتون کې د ابن سینا د فلسفی تدریس کاوه او مرتجعینو دغه فلسفه نه خوښوله او بدیې باندی ویل، دی د مصر د عسکرو په کودتا کې چې پر اسماعیل پاچا وسوه په لاس لرلو متهم وو او د فراماسونی نهضت چې (۳۵۰) غړی یې درلودل او د مصر خپلواکې یې غوښته بانی وو. هغه وخت چې محمد احمد سوډانی انګلستان تر فشار لاندی ونیو او انګلیسانو غوښته چې پر سوډان حمله وکړی، سید جمال الدین په عروة الوثقی کې د انګلیسانو د دغه شنیع عمل څخه ممانعت کاوه خو انګلیسانو ده ته په عوض کې د سوډان د پاچاهی دعوت ورواندی کړ. د انګلیسانو صدراعظم لارډ سالسبری سید جمال الدین افغان ته وویل: مونږ عزم کړی دی چې تا د سوډان د پاچا په حیث مفتخر کړو چې د مهدی انقلاب د بیخه وکاږی او د دښمنی اور مړ کړی. سید جمال الدین افغان په ځواب کې ورته وویل: دا چې دغه عهده او وظیفه ماته راکوې ډیر د تعجب ځای دي. محترمه لارډه اجازه راکوې ستاسو څخه وپوښتم چې آیا تاسو د سوډان مالک یاست چې هغه ته یو پاچا و استوی؟ مصر د مصریانو او سوډان د هغه یوه برخه ده. خلیفه چې اوس حقدار ګڼل کیږی په خپل ځان کې دومره قدرت لری چې د فساد او فتنې اور مړ کړی. محترمه لارډه! کوم اصلاحات چې په سوډان کې غواړی هغه څله په ایرلینډ کې نه عملی کوی چې د خپلې آزادی له پاره د هیڅ ربړ، زحمت او فداکاری څخه مخ نه ګرزوی.

مصری مورخ محمود قاسم د سید جمال الدین د فلسفی نظریو څیړونکی په خپل کتاب (جمال الدین الافغانی حیاته و فلسفه) کې لیکی:

جمال الدین افغانی د (مسکوی پانې) د ناشر کانکوف په بلنه په (۱۸۸٦م) کال کې و روسیې ته وبلل سو. د روسیې د (۱۸۸۷م) کلونو په مطبوعاتو کې په روسیه کې د سید جمال الدین افغان د ژوندانه په باره کې ډیری لیکنی سته چې له دغی جملې څخه دغه مقالې د یادونی وړ دی: د روسیې سره د انګلیسانو روابط (نوی عصر ۱۸۸۷م د اګست ۱۵ ګڼه)، په افغانستان کی د روانو پیښو علتونه (مسکوی پانې د ۱۸۸۷م کال جولایی) د افغانی حالاتو په باره کې

www.sikaram.com

(مسکوی پانی د ۱۸۸۷م کال اگست). سید جمال الدین افغان په روسیه کی نژدی دری کاله هستوگنه درلوده. د یو کال تیریدو وروسته یې روسی ژبه په ښه ډول زده کړه. یو کال یې په ماسکو او اتلس میاشتی یې په پترسبورگ، کیف، قفقاز کې تیری کړی. ده د روسیې د ډیرو مشهورو خلکو سره یې ولیدل چې له دغې جملې څخه د باندنیو چارو وزیر گیرس، د اسیایې چارو د اداری رئیس زینووېف، جنرال دزیختور، جنرال چیف سره د ده کتنې د یادونې وړ دی.

هغه وخت چې د روسیې امپراتور دریم الکساندر د منځنی ختیځ د یو شمیر بین المللی سیاسي موضوعاتو په شاوخوا کې د سید جمال الدین په څرگندونو او عامو خطابو خبر سو او په دی هم وپوهیدې چې دی د روسیې د مسلمانانو تر منځ لوی اعتبار لری نو هیله یې وکړه چې له ده سره وویني نو ځکه یې دی و خپل قصر ته دعوت کړ. د انگریزي استعمار او د ایران د باچا سره یې د مخالفت علتونه ځنی وپوښتل. سید جمال الدین افغان په ختیځو اسلامي هیوادو کې د انگریزانو د استعماري سیاست د حقیقت او څرنگوالی په باره کې خپله عقیده ورته څرگنده کړه او د امپراتور څخه یې وغوښته چې د روسیې د مسلمانانو د وضعي ښه کولو ته توجه وکړي. دوی ته د دوی په ملي ژبو ښوونځي پرانیزي، کتابونه مجلې او اخبارونه ورته چاپ کړي. دریم الکساندر په خورا غور سره د سید جمال الدین افغان خبري واورېدې. سید جمال الدین افغان امپراتور ته وویل: ما ناصر الدین شاه ته پیشنهاد وکړ چې خپله باچاهي په مشروطه باچاهي واړوي خو د روسیې امپراتور پدې موضوع کې د ایران د باچا ملاتړ وکړ او وې ویل: چې هیڅ باچا په خپله خوښه دې ته غاړه نه ایږدي چې د ده حکومت دې د ملت د خوا اداره او وچلول سي. سید جمال الدین افغان په جواب کې ورته وویل اعلیحضرت امپراتوره! زه ګڼم چې د باچا تخت به خورا ټینګ سي چې په ملیونو، ملیونو تابع دوستان ولري او دا وضع تر دې دېره ښه ده که هغوی یې دښمنان وی او د مناسب فرصت او وخت په انتظار کی وی چې څو په خپلو زړونو کې یې د کسات اخیستلو ریښې ورته پیاوړي سي. نو دریم الکساندر بحث او مذاکره قطع کړه او سید جمال الدین یې وپوهاوه چې په روسیه کې د ده تردې زیاته پاته کیدنه نامناسب او نامطلوب کار دی نو ځکه سید مجبور سو چې د روسیې څخه ووزی.

د سید جمال الدین افغان مشهور پیروان په روسیه کې موسی جارالله بیکوف، عبدالرشید ابراهیموف او نور ګڼل کیږی. د المؤید د (۱۹۱۳م) کال لومړی ګڼه د موسی بیکوف له قوله د

www.sikaram.com

سید جمال الدین افغان دغه وینا زانګلوی: زه د لویدیځ هنر، تخنیک او پوهې مخصوص ریاضی او فنی چارو ته خورا احترام لرم.

د سید جمال الدین وفات:

طرزی محمود د سراج الاخبار د شپږم کال د پنځمې ګڼې (۱۲۹۵ هـ) د میزان پر ۲۱ نیټه د سید جمال الدین افغان د وفات په هکله داسې کاږي: (... مرض حضرت سید سرطان بود که در منتهای فك اسفل دهن یعنی در جاییکه حدود دندانهای زیرین در قرب بناگوش چپ تمام میشد، ظهور یافته بود. این مرض خیلی دهشت ناك بود. اگر چه در اوایل ظهور آن جناب سید درد های شدیده خود هیچ اظهار تالم نمیکردند و مخلصان و شاگردان شان نیز از آن آگاه نبودند اما رفته رفته درد و الم به درجه میرسد که هرکس به یك دیدن درد و الم را از آمدنش از جبهه شان حس میکرد. تا به آنوقت به داکتر ها هم اظهار نه کرده بودند. شدت مرض بعد از سفارتخانه رخ نمود و بعد از آن که داکتر معاینه کرده مرض را کشف نمودند به اتفاق آرا عملیات جراحی را قرار دادند. همه دوستان و مخلصان جناب علامه همین مشورت را تجویز نمودند که عملیات باید در اروپا شود. ازین بود از حضور همایونی رخصت رفتن اروپا را طلب کرد. کسانیکه عصر اعلیحضرت سلطان عبدالحمید خان را دیده و از مسلك پر اسرار بسیار عمیق آن ذات معظم شمه یی آگاهی داشته باشند، البته خواهند فهمید که این رخصت داده نخواهد شد. چون این چنین صید به دام آورده را آنچنان صیاد ما هر که بعد از هزار افسانه و افسون و صد ها حکمت و فنون از استانبول تا به پاریس دام انداخته بدست آورده باشد آیا چسان خواهد شد که به رایگانش از دست بدهد... به مجردیکه اعلیحضرت سلطان از بیماری مدحش علامه خبر میشود گویا خیلی، خیلی متاثر میشود و هماندم برای تلطیف و نوازش خاطر حضرت سید دو سه نفر مقربین بارگاه حضور برای احوال پرسی میفرستد و این احوال پرسی را با یك مبلغ گزافی از زرهای سرخ عثمانی برای مخارج مداوا و عملیات شان رنگینتر و سنگینتر نموده، اشهر مشاهیر اطبای اجنبی و بومی به پایتخت سینه استانبول را برای عملیات جراحی سید تعین میفرمایند و به هیچ صورت راضی نه بودن شاهانه را به رفتن علامه از قسطنطنیه بیان و به عملیات جراحی آغاز میشود. الحق که روز عملیات خیلی دهشتناك یك روزی بر دوستان و شاگردان مخلصان سید بود که هر کس به یك گرداب نایاب حسرت و غم ساکت نشسته

www.sikaram.com

نتیجه را انتظار داشت. عملیات دو ساعت کامل دوام نمود که به درجه انتظار دو ساله یك سوزش و سوزشی در دلها القا مینمود تا آنکه مژده به کامیابی نتیجه پذیر شدن عملیات یك نور امیدی در دلها دمید. تقریباً دوازده دندان و یك قسمت از استخوان فك اسفل را کشیدند و بریدند. مدت سه روز قطعاً از اختلاط دید و باز دید هر کس که باشد ممنوع بودند. بعد از سه روز بعضی از دوستان به دیدن سید کامیاب شدند، غیر از دو چشم شان که انوار ذکاء حکمت از آن می درخشید دیگر همه اقسام و جهیه شان با پنبه ها روبط ها مستور بود. روز به روز رو به بهبودی و دلها در خوشنودی افتاد. بعد از یك هفته جناب علامه به یك حالی دیده شد که بعد از یك هفته دیگر هیچ آثار مرض در وجود شان باقی نماند، اما هزار افسوس که این چنین نه شد. ده یازده روز بعد در حالیکه طیاره اجازه داده بودند، که به دالان رسم قبول خود فرود آیند و کم تکلم هم میتوانستند، دفعتاً باز هم همان مرض عودت نمود. موجب اضطراب و پیچ تاب خود سید و احبابش گردید. هر کس و بعضی از اطباء حیران ماندند که این چه پیش آمد. الحال بعد از دو سه روز عذاب و اضطراب باز رو به بهبودی نهادند و باز بعد از چند روز صحت باز مضطرب میشدند تا آنکه اطباء به جز اینکه این حال را از باقی ماندن بعضی از ریشه های سرطان حکم کند دیگر چاره نیافتند و با اراده سنیه دوم بار به عملیات مباشرت ورزیدند. درین عملیات جراحی دوم نصف زبان حکمت بنیان شرر افشان حضرت سید را نیز بریدند. نتیجه همین شد که تقریباً سه چهار روز بعد ازین عملیات دوم حیات سید مانند یك گنج شایگان حکمت و عرفان در خاك پنهان گردید (۱۸۹۷- ۹ مارچ)

څرنګه چې افغانان د خپلو نومیالیو پوهانو او ملي مبارزینو سره د زړه ده کومې اخلاصمندی لری نو د دغه عالی احساس او شعایرو په پیروی د سید جمال الدین افغان مړی په کال (۱۳۲۳ش) په ډېر درناوي خپلې پلرنۍ خاوري افغانستان ته راوړل سو او د کابل د پوهنتون له څنګه په شاندارو مراسمو سره خاورو ته وسپارل سو او ورځرمه سیمه ټوله د ده په نامه (جمال مېنه) ونومول سوه.

د ده د جنازی راوړلو په افتخار د وطن نومیالیو شاعرانو او ادیبانو په پښتو او دری منظوم او منثور آثار لیکلی دی چې د هغو څخه یې د نمونې په ډول څه په لاندی ډول ذکر کیږی.

www.sikaram.com

د عبدالهادی داوی مرثیه:

بوی کوی رومیان آید همی — یاد استانبولیان آید همی
بعد عمری میرسد پیغام عشق — خرمی خاوران آید همی
میرسد از شهر خاموشان صدا — قاصدی از رفتگان آید همی
سید صاحب دل صاحب زمان — پیر نسل نوجوان آید همی
آنکه روی خویش پوشید از جهان — باز بر روی جهان آید همی
کشتگان خنجر تسلیم را — هر زمان از غیب جان آید همی
گر وطن بهتر نه باشد از فلك — از چه وی پس ز آسمان آید همی
آنکه افغان میزد از هجرش وطن — جانب افغانستان آید همی
صبر از عاشق مدارید انتظار — سوی کابل پرکشان آید همی
رومی ثانی خاك پاك تان — سوی خاك پاکتان آید همی
نغمه های فیر ایوب(رض) ازو — کاروان در کاروان آید همی
سعی او را مرگ نتوانست کشت — باز بهر وصل مان آید همی
سوی خاك خویش نزدیك بهار — تا بکارد ارغوان آید همی
شیخ آبست و خراسان تشنه لب — آب سوی تشنگان آید همی
شیخ روح است و وطن مانند تن — روح سوی تن روان آید همی

دایما خورشید بنشیند به غرب
باز در مشرق عیان آید همی

استاد گل پاچا (الفت) د سید د درناوی او لویی په هکله په خپله مرثیه کی وایی:

پښتون سیده د شرق نامداره — د دین او علم د کور سردار
رهبر د علم او د معنا شوی — رندو د پاره د لاس امسا سوی
راوړه دنیا ته تا پیغامونه — نوی فکرونه ښه ښه خویونه
ستا په ښودنه وینې انسانان سول — مشهور دنیا کې ستا شاگردان سول
روښان فکرونه ستا په بیان سول — ستا له مشعله رڼا سوه زړونه
ډک د حکمت نه ستا تعلیمونه — ټول دنیا کې وگرځیدلی

www.sikaram.com

په شرق او غرب کې نه ځائیدلی — چې په منبر به ودریدلی
له هر چا پورته به ښکاره کیدلی — له تا سره وو ډیر تاثیرونه
ورته حیران وو ډیر عالمونه — دنیا رښا سوه ستاله تنویره
جهان خبر دی ستاله تاثیره — حق سر اوچت کړ ستاله تقریره
ستاله تحریره ستاله ضمیره — وښورول تا غافل فکرونه
څومره خواږه وو ستا بیانونه

د سید جمال الدین افغان د لیکونو څخه دغه لیک د آزادی نص ګڼل کیږی:

ترجمه: (... زه دغه لیک په داسی حال کې چې په محبس کې یم او د دوستانو د لیدلو څخه محرومه یم، خپل عزیز دوست ته کاږم: نه حرج ته انتظار او نه ژوند ته امیدواریم، نه د بند څخه خواشینی او نه د وژلو څخه ښږیږم. زه د قریب الوقوع مرګ د یادونې څخه خوند اخلم، دا ځکه چې زما حبس زما د نوع آزادي ده. زه د خپل ملت او خپلو خلکو د حیات دپاره وژل کښږم خو لږ څه پدې خوابدي یم چې ژوندی نه پاته کیږم هغه څه چې مې کړلي دي پخپل ژوندانه کې یې حاصل او ګټه ونه وینم...

د سلاطینو او باچاهانو د اعمالو څخه مه ښږیږئ... د افسوس ځای دی چې ناحقه تبغ ما نه پرښږدي چې نور ژوندی و اوسم او د ختیځو هېوادونو د خلکو وینې والی ووینم. د ترقی، تجدد او اتحاد سیل د ختیځ پر خوا روان دی...).

د ترنګزو حاجی صاحب:

د دیارلسمي هـ پیړی په منځنیو کلو کی یو سړی د کندهار څخه د پښتور سیمې ته ولږدېدی او د چهار سدې په ترنګزو کی مېشته سو. دغه کورنۍ په خټه تارن پښتانه وه. تارنان په پښتنو کی ستانه او بزرګوار دي، ځکه د خپلې بزرګوارۍ له کبله په سیدانو مشهور سوي دي. د دغې کورنۍ یو عارف او مجاهد غړی حاجی فضل واحد د فضل احمد زوی په قوم (تارن) ستانه وچی په کال (۱۸۵۶ - ۱۲۳۵هـ) کی زېږېدلی او څنګه چې د پیښور د چهارسدی نژدی کلی (ترنکزو) کی اوسید نو د ترنکزو په حاجی صاحب مشهور سو. حاجی صاحب خپل لومړنی

www.sikaram.com

تحصیلات د هدی ابوبکر اخندزاده او په لوړ تهکال کی پای ته رسولی، د حج فریضه یې ادا کړی وه او د ملا نجم الدین اخند انډر لاس نیوی یې کړی و.

ده په (۱۸۹۷م-۱۲۷۶هـ.ش) کی چې انګلیسانو پر ملاکنډ حمله وکړه، په دی وخت کی ځکه چې د سوات باباجی صاحب او عمرا حکومت (۱۸۹۵-۱۸۹۶م=۱۲۷۴-۱۲۷۵هـ.ش) له منځه تللی وو نو ملي مجاهدینو داسی مشر تابه ته ضرورت درلود چې د دوی د ملي او اجتماعي چارو مخصوص د مجاهدو قیادت وکړی او دا وظیفه د ترنکزو حاجی صاحب په ښه توګه سرته رسولای سوه. ده په (۱۸۹۷م=۱۲۷۶هـ.ش) کی د ملکنډ په غزا کی د لومړی ځل له پاره ګډون وکړ او په (۱۹۱۰م=۱۲۸۰هـ.ش) کی د ملا نجم الدین اخند زاده صاحب د خلف په حیث وټاکل سو. حاجی صاحب په (۱۹۰۸م) کی حج ته ولاړ او د بیرته راګرځیدلو په وخت کی یې د هند د لویو ملی مجاهدینو او آزادي غوښتونکو لکه مولینا محمود الحسن صاحب شیخ الهند سره ارتباط وموند. ده په خپله سیمه کی د افغانانو د پوهولو او د استعمار په مقابل کی د راپاروللو له پاره د پیښور په بیلو سیمو کی ۴۱ مدرسي وپرانستلی چې مشهوری یې د ګدر، حمزاخان، او اتمانزو مدرسی د یادونی وړ دی. وروسته یې په پیښور کی د صاحبزاده عبدالقیوم په سپارش اسلامی کالج وپرانست او د انګلیسانو په مخالفت یې په مجاهدو لاس پوری کړ. انګلیسانو دی ونیو او دري کاله یې په بند محکوم کړ. په (۱۹۱۴م) کی چې د یورپ عمومی جنګ شروع سو حاجی صاحب د مولینا محمود الحسن صاحب او نورو ملی مجاهدینو په مشوره د هغه کال د جون په دوهمه د بونیر علاقې ته ولاړ او هلته یې د انګلیسانو په مخالفت د ملی مجاهدي جنډه پورته کړه او د (امبیلا) دری څخه یې پر انګلیسانو یرغل وکړ او ځینې ځایونه یې ونیول. بیا له هغه ځایه د آزادو مومندو او ساپیو علاقی (سره کمر) ته ولاړ او په غازی آباد کی دیره سو.

د افغانستان د خپلواکی په معرکه کی (۱۹۱۹م=۱۲۹۸ش) حاجی صاحب د افغانستان په مرسته د ډیرو مهمندو سره پر (ډکي) حمله وکړه او د شبقدر د (۱۹۲۷-۱۹۲۸م) په ملی مجاهدو کی یې د ملی مجاهدینو د مشر تابه ویاړ درلود. په (۱۹۳۰م) کی چې د ده ملګری خان عبدالغفار خان بندی سو او انګلیسانو پر خدایي خدمتګارانو باندی فشارونه راوستل حاجی

www.sikaram.com

صاحب د دوی په مرسته پر مالاکنډ جهاد شروع کړ او انګلیسانو ته یې ډیری مالي او ځاني تاوانونه ورسول. د (دیر) د اورد جنګ وروسته چې د انګلیسانو ګایډ پلټن تولـه تباه سو نو انګلیسانو په (۱۹۳۶م) کې په سوله راضي سول او په دې توګه د حاجي صاحب ملی هوډ ترسره سو. د (۱۹۳۶م) کال په پای کې حاجي صاحب ناروغ سو او د (۱۹۳۶م) کال د دسمبر په ۱۴ د یو اتیا کالو په عمر وفات سو او ه وصیت سره سم د غازی آباد د مسجد په غولی کې خاورو ته وسپارل سو. د.ده درې زامن د فضل معبود، فضل اکبر او افضل شاه په نامه مشهور دی او فضل اکبر د پښتنو د ملی خود ارادیت په تحریک کې د ښې برخې خاوند و.

مولینا ابوالکلام آزاد:

د ده نیکونه په اصل کې د افغانستان د هرات دی. د ملیت دوستي او آزادی غوښتلو جذبې یې د پلرونو او نیکونو مورثه وه. ده د (۱۸۵۷م= ۱۲۳۶ش) کال په شاوخوا کې د هند په ډیلی کې هستوګنه غوره کړه. د مولینا آزاد د پلار مولینا خیرالدین د رامپور د نواب یوسف په مرسته ښبیی او بیا مکې مکرمې ته ولاړ. مولینا آزاد په الازهر کې تحصیل کړی او په پنځلس کلن عمر یې د لسان الصدق اخبار او بیایې (وکیل امرتسر)، په (۱۹۰۲م) کال کې یې د الهلال جریده او وروسته د البلاغ مجله چلوله د غو جریدو زمور په وطن کې زیات مطالعه کونکی درلودل او د همدغه کبله د مولینا د افکارو او سیاسي نظریاتو یو شمیر پیروان پیدا سوی وو. مولینا ابوالکلام آزاد په (۱۹۱۴م) کې د هند د کانګرس غړی او وروسته د بنګال د خلافت د کومیټی مشر سو. ده د هند د نیمې وچې د خپلواکۍ په لار کې مجاهده کړی او زیات تکلیفونه او مشقتونه یې ګالل دی. هغه وخت چې د عدم همکاری په جرم محاکمه کیدی او په (۱۹۱۵م) کې یې د الهلال جریده توقیفه سوه. ده په خپله مدافعه کې داسې وویل: (... که داسې جریان وی زه د محکمې په وړاندی په څرګند ډول وایم چې ما دغه جنایت کړی دی. که دولت نه پوهیږی همدا اوس دی پوه سی. ما د ملت له پاره په زړه کې دغه ګناه کړی ده. او ټول عمر مې د هغه وځمر رسیدلو ته وقف کړی دی. هود دغې ګناه مرتکب سوی یم او په ویاړم او افتخار کوم چې زه لومړنی مسلمان یم چې دوولس کاله دمخه مې ملت دغې ګناه ته رابللی دی. په داسې شرایطو کې اسلام د انګلیسانو سره همکاری تحریم کړی او د زابطې پریکړه یې واجبه ګڼلی ده.

www.sikaram.com

د مولینا اوبوالکلام مشهور آثار دا دی: اسلامی اتحاد، الحریت فی الاسلام، جهاد اور اسلام، تفسیر القرآن او نور.

مولینا آزاد د افغانستان د سیاسی خپلواکی گټلو، د قبایلو ملی خود ارادیت ساتلو، استعمار او مطلقیت په مقابل کی د افغانانو د ملی مجاهدو په هکله مقالې او رسالې لری. د دغی دوستی او ملگرتیا له کبله وو چې دی په (۱۹۵۸م) کی د هند او افغانستان د دوستی د ټولنې مشر وټاکل سو او په همدغه کال د فبروری په ۲۲ په ډهلی کی وفات سو او د ډهلی جامع په اړخ کی خاورو ته وسپارل سو.

سر سید احمد او د علیگړ د مدرسی د شاگردانو ملی مبارزی:

د دیوبند د مدرسې شاگردانو د انگلیسی استعمار او مطلقیت سره نه پخلا کیدونکی پیگیره مجاهده کوله او د لویدیځ تهذیب اداری او سیاست سره یې سخت حساسیت درلود او هغه یې سراسر د مسلمانانو په تاوان گنی. انگلیسانو هم د دی مدرسې لارښوونکی او شاگردان خپل اصلی دښمنان گڼل او غوښته یې په هر صورت چی وی دوي په خپلو سیاسې فعالیتونو کی ناکام، خوار او د ټولنې څخه تجرید وگرزوی. د دغه بدنیت د په سر رسولو له پاره یې خپل یو شمیر گمارلې نمایندگان په پټه په دغه مدرسه کی شاملول. چې هغوی بیځایه او د عامه افکارو مخالف د تجدد، نوی فرهنگ، صنعت او حرفت سره حساسیت او مخالفت وښودی او په ځینو اسلامې هیوادونو کی د تجدد او ترقی د کاروان مخ ونیسی. دوی په افغانستان کی د اعلیحضرت غازی امان الله خان د اصلاحې پروگرامونو او تجدد غوښتنو سره مخالفت کاوه چې په همدغه سبب په (۱۳۰۷هـ.ش= ۱۹۲۸م) کال د لویی جرگې د ۱۷ تصویب له مخی د دیوبند د مدرسې د فارغانو په هکله داسی فیصله وسوه: (... بعد ازین علمای دیوبند در افغانستان گذاشته نه شوند، و هر قدر ملاتیکه در دیوبند تعلیم و به افغانستان باشند به یک جای از علاقه افغانستان که حکومت تعین کند امرار حیات نمایند...)

نو ځکه د دیوبند د مدرسی د موسسینو او پروگرام په مخالفت یو شمیر نورو مسلمانانو د دی له پاره چې د لویدیځ فرهنگ او سیاست د هغو مثبتو ټکو سره چې د اسلامی مناشیرو سره په

www.sikaram.com

تضاد او مخالفت کی نه وی، د مسلمانانو د ژوند د بنه کولو او په عصری نړی کی د سیالانو سره د سمیدلو په لحاظ استفاده وسی او مسلمانان د هندوانو او نورو هیوادونو په رسمیاتو، سیاست او اداره کی فعاله برخه واخلی، د انګلیسانو او نورو دښمنانو د طرفداری تور پرونه لګیږی. د علیګړ د مدرسې په تاسیسولو اقدام وکړ. د علیګړ مدرسه د دیوبند د مدرسې د تاسیس څخه لس کاله وروسته په (۱۸۷۵=۱۲۹۲هـ.ش) کی د سر سید احمد له خوا جوړه سوه. سر سید احمد د (۱۸۵۷م) کال د شخړو چې د انګلیسانو او مسلمانانو په منځ کی پیښی سوې مخالف وو او ویل یې څرنګه چې انګلیسان د وسلې او تخنیک په لحاظ پر مسلمانانو باندی تفوق لری نو تر هغو چې مسلمانان ورسره یو شان نه سی باید ورسره و نه جنګیږی او داسی جنګ د مسلمانانو په زیان او ضرر تمامیږی. ملی مبارزې ته د مسلمانانو تحریکول په داسی صورت چې په خالې لاس وی د انګلیسانو په ګټه تمامیږی. سر سید احمد څکه د علیګړ د مدرسې په تدریسی پروګرام کی انګلیسې، سانسکریت، تاریخ، ریاضیات او فزیک ور اضافه کړه او د مسلمانانو د تجهیزولو او راویښولو په عزم کی سو. په اردو او انګلیسې یې یو شمیر عصری او ساینسې کتابونه خپاره کړه. د ده د تالیفاتو څخه یو د قرآن عظیم تفسیر دی چې په نوی طرز لیکل سوی او د ځینو دینی مهمو موضوعاتو لکه جنت، دوزخ، ملائکې، پیریانو په هکله یی معلومات وړاندی کړی دی چې د هغه په اثر یې د هندی ځینو مسلمانانو په عقیدو کی تشویش پیدا کړی او د شدید عکس العمل موجب وګرځید. د ده د تفسیر مخالفین وایې چې دا کارونه او تحریکات د انګلیسانو په ټونګ د مسلمانانو په منځ کی د نفاق او شقاق اچولو ملی اتحاد ورانولو، د دیوبند د مدرسې د ملی مجاهدینو او علماو د مبارزو د ناکامولو او عبثولو له پاره ترسره کیږی.

په همدغه وخت کی سید جمال الدین افغان چې په (۱۸۷۹م) کی د تبعید په حال کی و د مصر څخه هند ته راغې. ده چې د انګلیسانو او د هغوی د همفکرانو څخه بنې خاطرې نه درلودی نو د سر سید احمد د نظریاتو سره یې په مخالفت شروع وکړه او ویل یې: که خلک واقعاً د اسلامی رسوماتو او ادابو مراعات وکړی هم متمدن کیږی او هم حقیقی مسلمانان. د هند یو شمیر زیاتو مسلمانانو او عالمانو د سید جمال الدین افغان څخه د سر سید احمد د تفسیر په هکله پوښتنی کولی. ده د هغو په ځواب کی بی له دی چې د مفسر نوم واخلی په اردو ژبه د (تفسیر مفسر) تر

www.sikaram.com

عنوان لاندی د هند په مطبوعاتو کی یوه مقاله خپره کړه چې د تحلیلی، شرح او تفسیر د موجباتو د بیانولو وروسته وایي: (... د ډیرو او ډول، ډول فکرونو وروسته ماته ښه معلومه سوه چې نه دغه مفسر مصلح دی او نه یې تفسیر د مسلمانانو د اصلاحاتو او تربیې له پاره لیکل سوی دی. دغه تفسیر په اوس کی د مسلمان ملت د پاره یوه مهلکه ناروغی پیښوی چې انسان ته د زړتیا او ناتوانی په وخت کی د ایمان خطره پیدا کوی. د هغه د جرح او تعدیل څخه دا څرګندیږی چې د دغه تفسیر هدف د مسلمانانو د اعتقاد د کمزورولو، د پردو د خدمت کولو او د غیر اسلامی تهذیبونو راوستلو د پاره وقف سوی دی.) نو د همدغه کبله یې د (نیچریه) یا طبیعیونو رد هم د یوی رسالی د لیکلو او خپرولو په شکل کړی دی.

یو شمیر د نظر خاوندان بیا وایي: سر سید احمد ته د (سر) لقب چې د انګلیسانو له خوا څخه ورکړه سوی دی یو عادی کار نه دی. انګلیسان دغه لقب تر څو چې مطمئن نه وی او دوی ته یې صادقانه او په زړه پوری خدمت نه وی کړی په مفته یې چا ته نه ورکوی ځکه نو د سر سید احمد افکار او اجراات د دغی جملې څخه ګڼی.

که د سرسری او احساساتی قضاوتونو څخه تیر سو، د دریمی نړی یو زیات شمیر ملی مبارزین او آزادی غوښتونکي د لویدیځو کالجو او مدرسو فارغ التحصیلان او د لویو علمې مراتبو او ډګریو او سیاسي عهدو خاوندان دی. د دوی څخه ځینو په لومړي سر او ځینو په را وروسته کی د لویدیځ د یوې برخی د فرهنګ، سیاست او اداری سره حساسیت او مخالفت پیدا کړی او ځینی یې نه پخلا کیدونکی دښمنان ګرځیدلی دی چې د هند او پاکستان د آزادی ګټلو په مبارزو او ګوندونو په تشکیلاتو کی دا ډول ردونه او بدلونونه زیات موندل کیږی. هند ته د انګلیسانو د راتلو د مخه همدا ډول د نظر علمی اختلافونه موجود وه او د اسلامی ثقافت او فرهنګ د خپرولو او پیاوړی کولو له پاره د هغو د موثرو او ګټورو طریقو څخه کار اخستل کیدی.

خان عبدالغفار خان:

دي په (۱۸۹۰م=۱۲۶۸ش) کی د پیښور د هشنغر د اتمانزو په کلی کی د خان بهرام خان محمد زي، یوسفزي په کور کی وزیږید. د ترنکزو د حاجی صاحب (حاجی فضل واحد تارن کاکړ) په ملګرتیا یې د استعمار په ضد د افغانانو د راویښولو او ملی حکومت د جوړولو له پاره تاریخی

www.sikaram.com

کارنامی په سر رسولی دی. خان عبدالغفار خان په (۱۹۲۰م=۱۲۹۸ش) کی د خلافت د تحریک په بهیر کی له یو زیات شمیر خلکو سره کابل ته هجرت وکړ او د بیرته تلو په وخت کی یې د (انجمن اصلاح الافاغنه) تولنه جوړه کړه. دغه تولنه په (۱۹۲۹م=۱۳۰۷هـ.ش) کی د خدایی خدمتگارانو په تولنه بدله سوه، خان عبدالغفار خان په (۱۹۳۱م=۱۳۰۹هـ.ش) کال کی د کانگرس په ملگرتیا د هند د نیمی وچی د آزادولو له پاره زیاتی مبارزی وکړی و له ۱۹۳۱ را په دیخوا د استعمار سره د مخالفت په جرم په اوه کاله بند محکوم سو.

د نړی په عمومی لومړی جنگ کی د انگلیسانو سره د عدم تعاون په جرم د کانگرس د نورو مشرانو سره دوه کاله په زندان کی وو او د (۱۹۴۷م) کال را په دیخوا د پښتنو د ملی خود ارادیت د غوښتلو په جرم پاکستانی حکومتونو د استعمار د لاسه په وار، وار جیل ته لیږل سوی ؤ.

خان عبدالغفار خان (فخر افغان، پاچا خان) په خپل یوه تاریخی لیک کی د (۱۹۳۵م) د مي په پنځه ویشتمه چې د سابرمنی، سنټرل جیل احمد آباد څخه یی د حکیم عبدالخالق خلیق په نامه لیکلی دی داسی وایې:

خوږه خلیقه خوشاله اوسی

السلام علیکم و رحمته الله و برکاته:

د بمبیی نه د جدا کیدو په وخت کی ما تا سره وعده کړی وه چې زما په خیال کښی هر وقت ستاسو متعلق څه خبر راسی نو تاسو به پری خبروم، لیکن ژر تر ژره گرفتار سوم. جیل خانه کی می هم ته یادوی او خدایې خدمتگار می هم هیر نه وو لیکن داسی څه خیال می پیدا سوی نه وو چې تاسو ته می لیکلی وای تا سو به زما د قید په حقیقت رسیدلی یي، زما جرم صرف دومره وو چې ما د سرحد او د خدایې خدمتگارو متعلق خلکو ته لږ غوندی حالات څرگند کړی وو.

د هندوستان د خلکو د سرحد او خدایې خدمتگارو سره دومره مینه او محبت دی چې زه په دوره هری صوبی ته تللی یم، نو د خلکو اوله مطالبه دا وه چې مونږ ته د سرحد او خدایې خدمتگارو د تحریک حقیقت بیان کړه. خیر دې کی به خیر وی. د الله تعالی هر کار د خیر دی ولی مونږ نه پرې پوهیږو ځکه چې مونږ ظاهر بین یو. لږ غوندی ظاهری تکلیف چې راباندی راسی نو بیا مو وار خطا وی. زه په خپل قید خفه نه یم. ولی چې څه وخت زه بهر سوم نو ما ته دا خبره ښه ښکاریده چې زه خو

www.sikaram.com

دی بهر یم او زما بعضی خدایې خدمتگار وړونه دی په جیل خانه کی وی ما صرف دا خبره د خپل ځان د پاره ښه ګڼله.

خدایې خدمتگارو وړونو چې د جیل خانو بی اتفاقی، بهر ځان سره راوړی وی، هغه یې پریښودی که لا هغه شان پکښی اخته دی؟، که چیری په صداقت سره یې دا بد عادتونه پرې نه ښودل او رشتینې خدایې خدمتگار نه سوو، نو دا ټولې قربانی به په سینه لاهو سی او اوچت سوی پښتون به بیا پریوځی ولی چې زمور د کامیابی راز په رشتینې خدایې خدمتگاری کی دی.

زه چې کله دی جیل ته راغلی یم نو همیشه ناجوړه یم، ولی چې د دی ځای آب او هوا په ما صافه نه ده. بل زه یوازی یم. داسی یو سړی نسته چې تبادله خیالات ورسره وکړم. زما خیالات و که چیری زه سرحد یا پنجاب ته بدل سم نو شاید چې ښه سم. لیکن د پنجاب او سرحد حکومتو زما د اخستو نه انکار وکړ او تر اوسه پوری دی حکومت هم زه بلی جیل خانی ته بدل نه کړم.

تاسو زما څه فکر مه کوی، خپل کار کوی، که چیری الله تعالی زما د وجود نه د خپل مخلوق خدمت اخستل منظور وی نو ما له به صحت هم راکړی. دا د هغه طرف نه په ما یو بل ازمایش دی. تاسو راته دعا کوی چې ما پکښی الله تعالی کامیابی کړی او ما له صبر او استقبال راکړی.

زه قیدی یم، زه هر چاته خط لیکلی نه سم ولی چې زما خپل اختیار نه دی. دا خط زما ټولو خدایې خدمتگارو ته ښکاره کړی او زما د پیر سلامونه ورته ووایاست. زه همیشه تاسو ته دعا کوم او امید دی چې تاسو به هم هره جمع کی ماته دعا کوی چې الله تعالی ما ددی لایق کړی چې زه د هغه د مخلوق خدمت وکړی سم او ماته روغ او ښه صحت راکړی.

آمین فقط

ستا ورور عبدالغفار

خان عبدالغفار خان د ذوالفقار علی بهټو د حکومت په وخت کی د نیشنل عوامې پارټی د صوبایی حکومت په بلنه په (۱۹۷۰م) کی د کابل څخه پیښور ته ولاړ او کله چې هغه حکومت ړنګ سو بیرته افغانستان ته راغې او تر (۱۹۸۰م) کال پوری کله په کابل او کله په ننګرهار کی او سیده دی د افغانانو، د ملی آزادې غوښتونکو او وطنپالونکو لوی لارښود او (بابا) وو او حضور یې د افغانستان او سیمې د آزادیخواهانو بل مشعل وو. ده د جنرال ضیاء الحق د حکومت

www.sikaram.com

په دور کی سختی ورځی او شپی تیرولی څو نارو غه سو او د شپږو میاشتو د کوما د حالت ورپیښیدلو او د مغز فلجیدولو وروسته په کال (۱۳۶۶ش) د دلو په اوله د چهار شنبی د سهار په څلورو بجو او په پنځه څلویښت دقیقو د پیښور په لیډی ریډنګ روغتون کی وفات سو، او جنازه یې د وصیت سره سم د جمعی په ورځ د (۱۳۶۶ش) کال د دلو په دریمه (۱۹۸۹م) د جنوری په شلمه په ډیر درناوی د ننګرهار په مرکز جلال آباد کی خاورو ته وسپارله سوه.

د افغانستان د طالبانو اسلامی امارت او د ځینو ملی مجاهدینو تنظیمونه د افغانستان جهادی معرکې چې د هیواد د آزادی، خاوری د تمامیت، ننګ او ناموس ساتلو په نیت په عمل راغلی او تاریخی ویاړونه یې په برخه سوی دی، د خان عبدالغفار خان د دغه ناوړه تفسیر څخه چې هغه دروس او امریکی د سیاسی رقابتونو او دښمنیو څخه راولاړی پیښی بولې، ګډله مند دی او داسی تفسیر واقع بینانه او وطن دوستانه نه ګڼی.

مسلمانان در نهضت آزای هندوستان اثر په خپل (۱۸۲) مخ کی د خان عبدالغفار خان د ملی مبارزو په هکله لیکی: (... در همان هنگام که دولت کاملاً بر اوضاع مسلط بود و به وسیله زور و سر نیزه توانسته بود ملت را وادار به اطاعت سازد، در نواحی مرز هند و مخصوصاً در میان قبایل سلحشور و مسلمان پتانها آشوب و انقلاب عظیم برضد دولت برپا نمود. مسلمانان این ایالات مرزی به رهبری خان عبدالغفار خان جبهه نیرومند تشکیل داده و در برابر حکومت مستبدانه و رعب آمیز انگلیس استادگی و مقاومت کردند. جواهر لال نهرو در توصیف این رهبر جنگجوی پتان میگوید: از دهکده به دهکده میرفت و برای افراد آهنین جمعیت سرخ پوشان پایگاه به وجود می آورد. این شخص و پیروانش خاری در چشم دولت بودند. موقعیت و نفوذ او در ایالت مرزی کمتر از موقعیت و نفوذ گاندی در سراسر هندوستان نه بود. اتفاقاً در میان او و گاندی ارتباط برقرار شد و جمعیت سرخ پیراهنان به حزب کانگرس پیوست. چنانچه از سخن نهرو بر می آید قیام خان عبدالغفار خان در آغاز ارتباطی با گاندی و حزب کانگره نداشته و خود او با انگیزه گسیختن زنجیر استعمار برتانیه و بدست آوردن استقلال نهضت بزرگ و خونین شروع کرده است و بعد ها وقتیکه کارگردانان حزب کانگره استقلال را در برنامه یی خود قرار داده و نیرو های خود را در این راه بکار انداختند، با آنها همگام شده و به عضویت کانگره در آمده است.» و

www.sikaram.com

در جای دیگر میگوید: جمعیت سرخ پوشان و رهبر شان خان عبدالغفار خان حقی عظیمی بر جنبش ملی هند دارند...).

خان عبدالغفار خان په هغه لیک کی چې د (عبدالغفار خان فیټ از ای بیټل) د (ډی، جی تنډر اثر)، (Abdul ghafar Khan fait is a battle D.G. Tender) د کتاب له پاره لیږلی او هغه د غه لیک د خپل کتاب په څلورم مخ کی کلیشه کړی دی، د خپل ژوندانه او عقیدې په هکله داسی لیکی: (... زه چې د اتو نهو کالو وم او په پیښور کی مې به سکول کی سبق وایه نو اکثر به مې لوبې د بنګیانو د بچو سره کولی. زه به هغه خپلو ملګرو منع کولم چې دا خو چوړیان دی؟ د دوی سره ولی لوبې کوی. ولی زه به د هغوی په دی خبرو نه منع کیدم او نه به زما په زړه د دی خبرو اثر کیدو. چې زه زلمی سوم نو زما تعلقات به اکثر د باکسبه خلکو سره وو، زما دوستان اکثره لوواران، جولاګان، ترکانان، شاخیلان وو، حالانکه زه د خان زوی وم. زه چې هلک وم نو د قصو اوریدلو سره مې ډیر شوق وو او د اقصې به مې زیاتی د خولو او یا کتابو کی اوریدې او ډیری به مې خوښی وی. بیا مې ژر په طبیعت کی تبدیلی راتله او داسی کتابونه مې خوښ وه چې په هغو کی د داسی خلکو حالات چې چا به د انسانیت او د خدای د مخلوق له پاره ډیر تکلیفونه او مصیبتونه تیر کړی وو راغلی وو).

علامه ډاکټر محمد اقبال:

حکیم الامت علامه ډاکټر محمد اقبال نه یوازی د هند د نیمی وچی د مشهورو آزادیخواهانو او د اسلامی نړی د فلسفی او عرفان د لویو نوابغو څخه ګڼل کیږی، بلکه په خپل فارسی، اردو اشعارو انګلیسي او عربی آثارو کی یې د افغانانو په زیاته بیا د پښتنو د کلتور، ثقافت او ملی سجایاو د پیژندلو سره د زړه له کومی مینه او علاقمندی ښکاره کوی، د افغان او خوشحال ختک شناسانو د لومړی درجی په محققینو کی شمیرل کیږی.

ده د خوشحال خان ختک د دیوان ځینی مهمی برخی او اجتماعی نظریات چې تر ده پخوا (کپتان را ورټی) او نورو مستشرقینو د خپلی څیړنو د بشپړولو د پاره په انګلیسی ترجمه کړی وه ټول لوستی او د هغو نتیجه یې په یوی علمی او تحقیقی مقاله کی د (خوشحال ختک دی افغان واریر پویټ) (خوشحال خان د افغان جنګیالی شاعر په نامه) چې په کال (۱۹۲۸ م) د جولایې په

www.sikaram.com

میاشت کی د دکن حیدر آباد اسلامیک کلچر نومی مجلی کی خپره سوی ده. د دغی مقالی په یوه برخه کی داسی لیکلی سوی دی: (د افغان ملت د اتحاد او یووالی سلسله چې نن هم زمور د ستر گو د وړاندی روانه ده د منځنی ایشیا په تاریخ کی یو دلچسپ او خوندور باب دی.

بهلول لودی، سوری شیرشاه په هندوستان کی، ختک شاعران یعنی خوشحال او د هغه کورنی، پیر روښان د سرحد په قبیلو کی او امیر عبدالرحمن خان او د هغه لمسی اعلیحضرت امان الله خاص په افغانستان کی د دی خوندور او د لچسپ تحریک په تاریخ کی خورا لوی شخصیتونه دی او هغه ورځ لیری نه ده چې یو پښتون مورخ به د خپل قام د اتحاد قصه په هم هغه شان بیان او ولیکی څنګه چې یو لتین کنګ د ایتالیا د اتحاد قصه بیان کړی ده. زه غواړم چې د اسلامیک کلچر لوستونکو ته د خوشحال ختک د شاعری څه داسې نمونی وړاندی کړم چې د هغه په اهمیت باندی پښتانه لا تر ننه نه دی خبر).

علامه اقبال د دغی لیکنی په لړ کی د خوشحال خان ختک ملی مبارزی، د قومولی او آزادیخواهی احساسات ستایي او د افغانستان د پوهنی وزیر دی ته دعوتوی چې د ملی او قومی خدمتونو په ننګه د خوشحال خان دیوان او د ده نور آثار په بیړه په چاپ ورسوی.

علامه اقبال د الهی عشق او جذباتو د راپارولو، اسلامی وحدت د مزو قائمولو او استعمار سره د مخالفت کولو په لاره کی اسلامی او انسانی عالم ته د قدر ور خدمتونه کړی او تاریخی نوم یي پریښی دی.

دی د شیخ نورمحمد زوی وو چې په کال (١٢٩٤ق= ١٢٥٤ش= ١٨٧٥م) کی د لاهور د ښار د سیالکوټ د همالیي په لمن کی چې د پنجاب په شمال لویدیځ کی واقع دی زیږیدلی و، اسلاف یي د کشمیر د برهمنانو څخه وو چې په اسلام مشرفه سوی وو.

دی د خپل نسب په هکله داسی وایي:

مرا گرچه بـه بتخانه پـرورش دادند چکیده از لب من آنچه در دل حرم است

هغه وخت چې د ده استاد (سید میرحسین) د اقبال په خدای ورکړه استعداد پوه سو، د اقبال پلار یي تشویق کړ چې د خپل زوی د عصری علومو د زده کړی دپاره توجه وکړی او د زیاتو تحصیلاتو دپاره لاره ورته هواره کړی.

www.sikaram.com

اقبال خپل لومړني تحصیلات د لاهور په مشن سکول (Misson school) کی پای ته ورسول او بیا د لاهور پۀ گورنمنټ کالج کی داخل سو. د عصری علومو علاوه يي انګلیسی، فارسی او عربی ژبه ښه زده کړه او په فارسی ژبه کی يي دومره لیاقت او مهارت موندلی وو چې پکښی د ښی شعری طبع خاوند ګرځیدلی وو.

اقبال د گورنمنټ کالج څخه د ام، ای (M.A) د علمی درجی اخستلو وروسته په اورینټل کالج او گورنمنټ کالج کی د فلسفی د استادی په وظیفه وګمارل سو. بیا د خپلو تعلیماتو د پرمخ بیولو دپاره په کال (۱۹۰۵م) کی لندن ته ولاړ او د کیمبرج په پوهنتون کی شامل سو. د څه وخت وروسته يي د اروپا ځینی لوي ښارونه ولیدل او د خپلی علمی رسالی (دیویلپ منټ اف میتافزیک ان پرشیا) (The development of Methaphysic in persia) د لیکلو له کبله يي د میونیخ د پوهنتون څخه د پی. ایچ. ډی (P.H.D) علمی ډګری واخسته او بیرته لندن ته ولاړ او د بیرسټری (عدلی څارنوالی) د موفقی ازموینی وروسته هند ته ولاړ او د لاهور په گورنمنټ کالج کی د استادی په وظیفه وګمارل سو. په عین وخت کی په عدلی محکمه کی د دعوا د وکالت چاری يي مخی ته بیولی خو د داسی چارو سره د نه علاقمندی لرلو په نسبت يي استعفی وکړه.

اقبال د هندي مسلمانانو ناوړي سیاسي، فرهنګي او اقتصادي وضعي ډیر زوروونکی او ناقراره کړی وو او د هغوی د کړاوونو د رفع کولو دپاره يې د پخوا په شان د هند د نورو مسلمانانو په څیر لکه ټیپو سلطان، شیخ الهند، مولینا عبیدالله سندهی د سیاسي، کلتوري او ثقافتي مرستو هیله درلوده او د همدغي مرستي په هیله وو چې علامه اقبال، سید سلیمان ندوي سرراس مسعود د (۱۳۱۲ش) کال = (۱۹۹۳م) د اکتوبر پر دوویشتمه بیا د نوامبر تر دوهمی پوری افغانستان ته راغلل. د افغانی مشرانو او ثقافیانو سره يې ولیدل. علامه اقبال د (مسافر) په اثر کی د افغانستان د تاریخي ځایونو د لېدلو او د هغو څخه د ښې خاطرې لرلو په مقدمه کی په دې هکله داسی کاږي:

در سال (۱۹۲۹ ع) مطابق (۱۳۰۸ هـ.ش) افغانستان مواجه شد با یك شورش بزرگ داخلی... این وضعیت پر آشوب و وخیم افغانستان موجبات نگرانی و تشویش مسلمانان شبهه قاره را نیز فراهم آورده و از روی مناسبات هم کیشی و همجواری که با

www.sikaram.com

برادران افغانی داشته و دارند وسایل مادی و جانی و روحانی خویش را به سپه سالار محمد نادر تقدیم نمودند طوریکه میگویند وقتی که سردار سپه سالار به عزم نجات وطن از فرانسه به هند وارد و ترین شان در استگاه لاهور رسید، خود علامه اقبال برای پذیرایی شان حاضر و کل دارائی خویش را به آن جناب پیش کش نموده فرمودند: (بینوایم همین دارم در راه استقلال و نجات افغانستان پذیرفته شود) این جذبه ایثار و عشق مفرطی که حکیم مشرق برای ملت ابراز نمود، سردار موصوف را خیلی متاثر کرد و حق این است که علامه اقبال برای افغانها از احمد شاه ابدالی تا اعلیحضرت امان الله حسیات محبت و اخوت بفراوانی داشت و به دل خویش انتظاری داشت، از روزیکه افغانها به حیث یك کتله آزاد و سلحشور ملت اسلامیه برای استقلال مسلمانان شبهه قاره نیز سهیم شوند و نیز پیغام عشق نسبی را در قهستان تازه کنند چنانچه در پیام مشرق (۱۹۲۳ م) در خطاب به اعلیحضرت امان الله فرمودند:

دیده ای خسرو کیوان جناب — افتا با در توارث بالحجاب
تازه کن ائین صدیق و عمر — چون صبا بر لاله صحرا گذر
تا ز صدیقان این امت شوی — بهترین سرمایه قوت شوی

علامه اقبال افغانستان او د هغه غیور ملت د اسیا د تاریخی او باشهامته ملتونو څخه گنی او هغه یي د آسیا د بدن زړه د ترقی آبادی او نېکمرغی مایه گڼله لکه چې وایي:

آسیا یك پیکر آب و گل است — ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا — در کشاد او کشاد آسیا
اندرون تست سیل بی پناه — پیش او کوه گران مانند کاه

همداشانی علامه اقبال د سرحد او خیبر د افغانانو د راوینبولو او ملی یووالی په قائمولو کی وایي:

ای ز خود پوشیده خود را باز یاب — در مسلمانی حرام است این حجاب
رمز دین مصطفی دانی که چیست — فاش دیدن خویش را شاهنشهی است
در جهان آواره بیچاره — وحدتی گم کرده حد پاره
بند غیر الله اندر پای تست — داغم از داغی که در سیمای تست

* * *

www.sikaram.com

مـیر خـیل از مـکر پنـهانی بترس　　از ضـیاع روح افـغـانی بـترس
رزق از حق جـو، مجو از زید و عمر　　مستی از حق جَو مجو از بنگ و خمر
بـنده بـاش و بر زمین رو چون سمند　　چـون جـنازه نـی کـه بـر گردن برند

علامه اقبال د هندیانو د بی اتفاقی او روحی غلام مشربی طبیعت غندی او د استعمارچیانو څخه د آزادی او ملی خود ارادیت د حاصلولو له پاره دوی په دغـو مهـیـجو او انقلابی اشعارو تحریکوی:

ای هـمـاله ای اتـك ای رود گنگ　　زیستن تا کی چنان بی آب و رنگ
پـیـر مـردان از فراست بی نصیب　　نـوجـوانـان از محبت بی نصیب
شرق و غرب آزاد و مانخچیر غیر　　خشت مـا سـرمـایـه تعمیر غیر
زنـدگـانـی بـر مـراد دیـگران　　جاودان مرگ است نی خواب گران
هنـدیان بـا یـکدیگر آویختند　　فـتنه هـای کـهنه بـاز انـگیختند

دی د پیام مشرق په بل شعر کی هندیان د حقیر او خوار ژوندانه څخه د خلاصولو، کار او زحمت گاللو ته داسی هڅوی:

قـبای زنـدگـانی چاك تا کی　　چو موران آشیان در خاك تا کی
بـه پـرواز آ و شـاهـینی بیاموز　　تـلاش دانـه در خـاشاك تا کی

علامه اقبال افغانان خپل تاریخی عظمت او ملی قوت ته داسی متوجه کوی:

زندگی جهد است و استحقاق نیست　　جـز بـه عـلم انـفس و آفـاق نیست
دشـنه زن در پیـکر ایـن کـائـنات　　در شـکم دارد گهـر چـون سومنات
لعـل نـاب انـدر بـدخشان تو است　　بـرق سـینا در قهـستان تـو است

عـلامـه اقبـال د ارمغـان حجاز په (٩٤) مخ کی د ملی خود ارادیت کار او زحمت کښلو په مورد کی وایي:

خـدا آن ملـتی را سـروری داد　　که تقدیرش بدست خویشتن بنوشت
بـه آن ملت سـر و کـاری ندارد　　کـه دهقانش بـرای دیگران کشت

علامه اقبال د پاکستان د اسلامی ملت معمار دی او د ده د مفکوری او سیاسی هلوڅلو له مخی دغه هیواد په وجود راغلی دی، خو یو شمیر مبصرین د ده افکار، سیاسی هلی څلی او ادبی

www.sikaram.com

فنون د اطمینان وړ نه بولی او وایي چې دی د ملیت او کلتور اصالت د اجتماعی ټولنو او هیوادونو جوړیدلو څخه د باندی ساتی او په اسلامی هیوادونو کی د وحدت او مرکزیت د فکر طرفداری کوی لکه چې وایي:

مسلم استی دل به اقلیمی مبند　　گم مشو اندر جهان چون وچند
می نه گنجد مسلم اندر مرز و بوم　　در دل او یاوه گردد شام و روم

* * *

زمز سوز آموز از پروانه ای　　در شرر تعمیر کن کاشانه ای
طرح عشق انداز اندر جان خویش　　تازه کن با مصطفی پیمان خویش

د علامه اقبال دبیلو آثارو او خطابو د څیړنی څخه داسی څرګندیږی چې دی ملیت او وطن دوستي ته هیڅکله په بده ستر ګه نه ګوری خو هغه څه چې نه خوښوی هغه افراطی نشنلیزم او وطن پرستی ده چې د انسانانو مخصوص مسلمانانو په منځ کی د تعصب، امتیاز او تبعیض ریښی پیاوړی کوی، په بی ځایه مخالفتونو او بد بختیو یي اخته کوی. دی په خپل یو مکتوب کی د مشهور مستشرق نکلسن په ځواب کی وایي: د اجتماعی ژوندانه د تحولاتو او تکاملاتو په بهیر کی په جغرافیاوی برخو کی د ډلو، ملیتونو، نژادونو، لسانونو په اساس ملتونه او یا هیوادونه جوړول. یوه موقتی مرحله ده او د دی مرحلی سره مخالفت نه لرم، خو دغه نظر د هغو تیریو او سیاسی عقایدو څخه مخالفت دی چې د بشری ټولنو یا افرادو د یووالی او همکاری په منظور تاسیس سوی دی نو ځکه د وطن دوستی مرحله یي جایزه او د ملیت پرستی یي خطرناکه او ناروا ګڼل کیږی او دا به ډیره ښه او معتبره وی چې د وطن او ملت پرځای د انسانانو د نیکمرغی او ترقی په هیله د انسان زادګی او انسان پالی د شعار د تطبیقیدلو د پاره په کار لاس پوری سی نو د همدغه اصل له مخی وایي:

نه افغانیم و نی ترک و تتاریم　　چمن زاریم و از یك شاخساریم
تمیز رنگ و بو برما حرام است　　که ما پرورده یك نوبهاریم

علامه اقبال په خپل اثر (رموز بیخودی) کی په ډیر شدت د وطن مسئله طرح کوی او وایي چې د وطن کلمه په جغرافیایي محدوده کی د لویدیځو افکارو څخه تفسیر سوی ده. حضرت

www.sikaram.com

محمد (ص) د وطن څخه هجرت کړی وو او د وطن مسئله یې په جغرافیایي توګه حل کړېده او دا د یو لوی پراخ سیند او سپوږمۍ په شاني ده چې د هغې ټول وطن سیند دی او سیند د پاک خدای په ملکیت کی دی. ځینی وایي چې علامه اقبال د دې سره چې فیلسوف، د قرآن عظیم مفسر، متصوف، قانون پوه، سیاست مدار او نومیالی شاعر وو او عامه مقبولیت یې درلودی خو د اسرار خودي د مثنوي په مختصر او شعری قریحې کی یې د قافیې لږ مراعت کړی او د تصوف سپکاوی یکښی سویدی. خو د اقبال په نظر تصوف یوه معنوي رابطه ده چې د نفس د مضمحلیدلو د لاري انسان تر فنا او خدای پوري رسیږي او د داسی ایراد په جواب کی وایي:

(... من طبیعتاً به تصوف تمایل قوی دارم و صوفی وار پرورش یافتم و پس از مطالعاتی در فلسفه اروپا علاقه بیشتری به تصوف پیدا کردم زیرا که فلسفه اروپایان به سوی وحدت الوجود میرود. ولی پس ازینکه به خواندن قرآن مجید پرداختم و به تاریخ اسلام نگاه عمیقی داشتم، به اشتباه خود واقف شدم و برای من معلوم شد که راه فلسفه و تصوف پر غلط است و از اسلام فرد مسلمان را منحرف میسازد. لهذا رفته، رفته از افکار صوفیانه سابق خود برگشتم ۱۸۰ درجه راه خود تغیر مسیر دادم و از عقاید نیاکان من در پیرامون تصوف راه خود عوض کردم. معمولاً رهبانیت که در هر ملتی پیدا شد کوشش کرد تا شرع و قانون را باطل سازد و اگر به اسلام و قرآن خوب بنگریم می بینیم که اسلام بر رهبانیت خط بطلان کشیده و مسلمانان را به طرف پشتکاری تشویق میکند...).

خود دې سره بیا هم اقبال د مولانا جلال الدین بلخی د سلوک او شعري قریحې څخه برخورداره و او د ژوندانه په وروستۍ مرحله کی به یې تل د قرآن عظیم او مثنوي شریف تلاوت کاوه او روحي فیض به یې ځنی اخیستی. د ده زیات آثار لکه اسرار خودي، رموز بیخودي، بندګي نامه، جاویدنامه، مسافر، پس چه باید کرد، ای اقوام شرق د مخدوف مسدس رمل په بحر کی چې مولانا خوښاوه ویل سوي دي. حتی په عشقي جذبو او روحي حالاتو کی به د مولانا د عشق او شعر تر اثر لاندي راتلی او د قافیو مراعت ته به ډېر لږ متوجه کېدی لکه چې د خپل ملګري او دوست سید سلیمان ندوي د اعتراض په جواب کی وایي (درباره قوافی شما هرچه نوشته اید کاملاً درست است ولی چون شاعري از این مثنوی مقصود نه بود لذا در بعضی موارد

www.sikaram.com

من عمداً تساهل به کار بردم و در مثنوي مولانا تقريباً در هر صفحه چنين امثال قوافی به چشم ميخورد...)

اقبال که څه هم په خراساني، عراقي او هندي سبک اشعار ويلي دي خو په لفظ او په معنی کی د هيچا مقلد نه ګڼل کيږي. د ده په اشعارو کی د خراساني سبک جزالت او انسجام، د عراقي سبک رنګيني او صلابت او د هندي سبک مضمون افرينی، نازک خيالي او نکته سنجي ليدل کيږي. ده د شعر په مهمو فنونو لکه غزل، قصيده، قطعه، دوبيتي، ترکيب بند، ترجيع بند، مستزاد، طبع ازمايي کړېده او په ښه توګه يې تر عهدې وتلی دی، خو بيا هم دی د شاعر د خطاب څخه بدوري او د خپلو اشعارو په مقطع کی تخلص او نوم لږ راوړي.

ځينی متفکرين د علامه اقبال شخصيت او د غرب دښمني احساس ته په دې نسبت چې ده ته د انګريزانو له خوا څخه د (سر) لقب ورکړه سوی دی په اشتباه او ترديد ګوري او عقيده لري چې انګريزان دغه ډول افتخاري القاب بهله خوش خدمتی او اعتماد څخه په وړيا چاته نه ورکوي او څوک بايد په هغه ونه غولیږي. خو علامه اقبال خپل يو دوست ته د هغوي د داسی بې سندو اشتباهاتو د ترديد په هکله ليکي:

(... و ديگر آن خطری است که دلهای شما از آن هراسان است سوگند به خدای ذوالجلال که جان و ابروی من همه در تصوف اوست، سوگند به پيغمبر خدا که در سايه رحمت او به خدا ايمان دارم و خود را مسلمان ميخوانم هيچ نيروی نمی تواند قدرت حقيقت گوی مرا سلب نمايد).

ځينی مفکرين علامه اقبال په دی ملامتوی چې د لوی هند پر دوو توتو ويشلو، د هندوانو او مسلمانانو د تاريخی دښمنی په تازه کولو او مخالفولو کی يې فعاله برخه اخستی او د بشری احساس او انسانی سازش د باطلولو په لار کی يې ناوړه رول لوبولی دی. خو دغه اعتراض ته ده لاپخوا د الله آباد د مسلم ليګ په کنفرانس کی د اسنادو او شواهدو په ښکاره کولو سره قانع کونکی ځواب ورکړی دی: (... په هندوستان کی د طبقاتی، مذهبی اختلافونو او د بيلو عقايدو درواجيدلو له مخی اوس د دی امکانات نسته چې هندوان او مسلمانان دی تر يوه بيرغ لاندی ژوند وکړی. د هند د نيکمرغی او ترقی يوازی لار دا ده چې مسلمانانو ته په هغو سيمو کی چې شمير يې زيات دی د ملی خود ارادیت د حقوقو له مخی آزادی ورکړه سی.

www.sikaram.com

علامه ډاکټر محمد اقبال که څه هم په الهی عشق او محمدی (ص) محبت خپل روحیات پیاوړی ساتلی وه په فقیری او درویش صفتی کی یې پاچاهی غنا او حیثیت درلود خو د مسلمانانو بدحالی او بیروزګاری د ده جسمی توان ورغ په ورغ ورضعیفاوه څو په کال (۱۳۵۷ق= ۱۳۱۷ش) کی د ثور په دوهمه، د (۱۹۳۸م) میلادی کال د اپریل په یو ویشتمه د سهار په پنځو بجو په شاوخوا کی د نفس تنګی په ناروغی د ۶۲ کالو په عمر وفات سو او په لاهور کی خاورو ته وسپارل سو.

د وفات څو دقیقی د مخه یې د الله د نامه په یادولو سره دسینی د درد څخه نا آرامی کوله، خو ورور او خدمتګار ده ته تسلی ورکوله، ده په ځواب کی ورته ویله زه مسلمان یم او له مرګه هیڅ نه ډاریږم او دغه بیت یې وایه:

نشان مرد مومن با تو گویم چو مرگ آید تبسم بر لب اوست

علامه اقبال دوی ماینی او دری اولادونه درلودل، چې دوه یې زامن او یوه یې لور وه. زامن یې آفتاب اقبال جاوید اقبال او لور یې منیره نومیده.

د علامه اقبال مشهور آثار دا دی: مثنوی اسرار رموز (فارسی)، پیام مشرق (فارسی)، ارمغان حجاز (فارسی) زبور عجم (فارسی)، جاوید نامه چې د خپل زوی په نامه یې لیکلی ده، پس چی باید کرد مسافر (فارسی)، بال جبرئیل (فارسی)، ضرب کلیم (اردو)، حرف اقبال (اردو)، بانګ درا (اردو)، فلسفه ماوراء الطبیعه (فارسی)، تجدید فکر مذهبی در اسلام (فارسی) او نور.

www.sikaram.com

په افغانستان کی د مطلقیت او استبداد ضد نهضت لند تاریخی سیر

په افغانستان کی د لومړی میلادي پیړۍ د شروع څخه بیا تر څلورمی میلادی پیړۍ یعنی د کوشانیانو د سلطنت تر رنګیدو پوری چې د مرئیتوب نظام له مینځه ځی لومړنیو فیوډالی روابطو وجود درلود.

د اسلام مبارک دین د نفوذ په وخت کې زمور د خلکو د مادي او معنوي ژوندانه وضع د اسلامي اقتصاد او ثقافت تر اغیزی لاندی وه، او هغه مناسبات چې په عربستان کی د مخکو د مالکانو او بزګرانو په مینځ کی موجود وو کرار، کرار مروجیدل.

په عربو کی د څلپر ویشتمی هجری وروسته د فیوډالیزم او ثروت موندلو له پاره زمینه مساعده سوه، هغه مخکی او مالونه چې د غنیمت د لاری د دوی په لاس ورتلل، دوی کولای سول چې د خپلو هستوګنی ځایونو ته یې منتقل کړی. د نظامی کسانو پر ته چا حق نه درلود چې په نیولو سیمو کی و اوسی، د دغه مشکل د رفع کولو له پاره وروسته فیصله وسوه چې عرب کولای سی په حجاز کی خپل ملکیتونه پر نورو وپلوري او په عوض کی یې په نورو نیولو سیمو کی مځکه واخلي. دغه فیصله که څه هم لومړی د حجاز د عربو له پاره سوې وه خو وروسته یې عمومیت پیدا کړ. په دغی فیصلی سره په مرکز او ورځرمه سیمو کی د نفوسو ډیروالی لږ سو د عربو او کوچی قبایلو د هجرت څخه مخنیوی په عمل راغې. هغو کسانو چې په حجاز کی مځکی برابري کړی وی، د هغو د کرلو او استثمارولو دپاره د کارګرانو ضرورت پیدا سو چې دغه ضرورت بیا د مریانو درلودلو او راغونډولو عملیه چټکه کړه. حجازیانو د حجاز مځکی د عراق د مځکو په نسبت او یمنیانو د یمن مځکی د شام او مصر د مځکو په نسبت ځکه خوښولی چې دغه مځکی د دوی تر نظر لاندی وی او هغوی یې ښه مراقبت کولای سو او د پخوا په شانی یې د هغوی

www.sikaram.com

د پالنی له پاره د خپلی پلارنی مینې څخه لیری سفرونه کول، له بله پلوه ځینو عربو چې په حجاز کی منقول او غیر منقول مالونه دولوده، د زیاتې ګټې د په لاس راوړلو له پاره یې خپل دغه مالونه خرڅوله او په عوض کی یې د حجاز څخه د باندی د نیولو سوو او مفتوحه آبادو مځکو لوی ټوکران رانیول چې په نتیجه کی یې د حاصلاتو څخه کرار کرار د ملاکی او جاګیرداری سیستم رواج وموند.

په همدغه وخت کی یې د بیع او شرا، استقراض او استبدال او مضاربت معاملو تجارت ته رونق ورکړی و. د ملاکی او سرمایه داری لمنه پراخیده او پر شاوخوا باندی یې جنګی بندیان، مریان، کارګران راټولیده او یو ډول پلوټو کراسی (Plutocracy) په وجود راغله چې د سرمایې او مریانو درلودلو له کبله یې ارستو کراسی یا اشرافیت دوه چنده سو. د عیاشی او بیکارې له پاره ښه زمینه مساعده سوه، د کارګرانو او مریانو ژوند مخ پر خرابیدو ونیوی د ملاکانو او خواریکښانو په منځ کی تضاد شدید سو او هغه تدبیرونه چې حضرت عمر فاروق (رض) د مځکو او مالونو د راغونډولو د مخنیوې د پاره نیولی وو د ضعف په خوا ولاړل چې د اثر څخه یې د دو دیرشم هجری کال شر او فتنې راولاړی سوې.

حضرت عمر فاروق (رض) د خپل ژوندانه په اخیر کی داسی فرمایلی و: په هغه څه چې زه وروسته پوه سوم که یخوا له دې پوه سوې وای د پانګه والو ټول اضافی مالونه به مې ځنی ضبط کړې وای او پر خوارانو او نورو مستحقو کسانو باندی به مې ویشلی وای.

د عربو د فتوحاتو په وخت کی هغه مځکی چې اوسیدونکی یې وژل سوی وو د غنائمو او هغه چې د صلح او سلم او یا ټرون له مخی په مسلمانانو اړه پیدا کوله، د خراج اخستلو په څیر اداره کیدې. دغه ملکیتونه په عمومې صورت د دولتی، خالصه، خصوصی ملکیت، اقطاع، وقفې او بزګرانو په نامه یادیدل چې د یو ډول مالیاتو په عوض کی به محلی فیوډالانو طایفوی ملکانو ته ورکول کیدی او په دی صورت فیوډالیزم او جاګیرداری تکامل کاوه.

www.sikaram.com

د چنګیزیانو تر یرغل پورې زمونږ په هیواد کې درې طبقې خلکو وجود درلود:

۱ - جاګیر داره یا فیوډاله طبقه چې په هغو کې اشراف، ملکان، لوی روحانیون چې مالي او معنوي امتیازونه یې درلودل.

۲ - تاجران، مامورین او کسبکاران چې د پاچاهانو او فیوډالانو سره په یوه لاس کیدلو زیاتې پیسې او ثروتونه ټول کړي و.و

۳ - چوپانان او خواریکښان چې د ټولنې جسمي او مالي چوپړ ورپه غاړه و.

په اروپا کې څرنګه چې یوازې مځکه د تولید منبع نه وه او کرهنه میکانیزه سوې وه نو هلته د فیوډالی نظامونو اساسونه هر کله په بورژوازۍ اوښتل. په آسیا کې چې مځکه یوازې د تولید منبع وه نو فیوډالی روابطو د شاهي استبداد او مطلق حکومتونو په شکل تر ډیرو پیړیو پورې دوام وکړ او ځکه چې پر مځکې باندې دولت سلطه درلوده نو ټولې معاملې هم د دولت له خوا اجرا کیدې او د اقطاعاتو تنظیم هم په دولت اړه درلوده نو خواریکښانو په هیڅ ډول د دوی د سلطې څخه سر نه سو غړولای د دولت او فیوډالانو ګټو مشترک وجوهات درلودل او یو د بل د ګټو متمم وو. سیاسي قدرت په لویو ملاکانو اړه درلوده چې په خپلو مالکانه ګټو سره به یې د مزارعې له مخې خپل (سرفان) یا رعیت په بیلو طرزونو استثمارول او ثقافتي تفکراتو هم دغه نظام پیاوړی کاوه. دغه دوره په اروپا کې د پنځمې پیړۍ، په آسیا کې د دریمې پیړۍ، په هند کې د څلورمې پیړۍ او په عربستان کې د اومې پیړۍ پورې دوام درلود.

افغانان د خپل تاریخي ژوندانه په مسیر کې د بیلو اقتصادي موقفو او تولیدي مناسباتو درلودلو له کبله د اجتماعي ژوندانه او فیوډالیزم په بیلو مرحلو کې داخل سوي دي. د تاریخ نامه هرات د قوله څخه چې سیفي هروي لیکلي دي، دا څرګندیږي چې په د یارلسمه میلادي پیړۍ کې د مستقل افغانستان دولت موجود وو او د افغانانو یوه برخه ډیره پخوا په طبقاتي ویش یو له بله بیله سوې وه چې د نتیجې څخه یې فیوډالي نظام موندلی و.

یوری کانګو فیسکي د خپل اثر (د درانیانو امپراطوری) په مقدمه کې لیکي: (افغانانو د هندوستان، ایران او منځنۍ آسیا د دولتونو سره ګاونډیتوب درلود، په کومو کې چې فیوډالي روابطو د ډیري پخوا څخه وجود درلود. دا یو له هغو علتونو څخه و چې افغاني ټولنه بې له دې چې د مرییتوب دوره تیره کړي فیوډالي دورې ته مخامخ راتیره سوه...)

www.sikaram.com

د افغانانو د ژوندانه د تاریخ یو شمیر څیړونکي دغه نظر تائیدوي خو واقعیت دا دی چې په افغانانو کې د مریانو څخه چې هغه د جنګي بندیانو، د طایفوي جنګونو د مغلوبینو او بې وسه ګاونډیانو څخه عبارت وو، کار اخستٌ کیدی. مریان درلودل او خرڅول رواج پکښې درلود چې تاریخ (مرصع) او ځیني نور آثار د هغو یادونه کوي.

نامتو افغانستان پیژندونکی (اسلانوف) د خپل پلټنو په نتیجه کي چې د افغانانو د تاریخي ژوندانه په هکله یې په سر رسولي په خپل یو اثر کي چې د (روښانیانو ملي نهضت) په نامه یادیږي وایي: (... یوازي په یوولسمه پیړۍ کي افغانان په کلو کي اوسیدنه پیل کړه، د کورونو بدلول او د مځکو ویشل دا هغه عادت دی چې د هماغي انتقالي دورې د سو او کلیوالي ژوندانه څخه را پیل سوی دی.

دغه نظریه لږ څه نوره څیړنه غواړي. لکه چې د مخه ذکر سوه د افغانانو د اوسیدلو سیمي یو له بله طبیعي او اقتصادي توپیرونه لري او دغو توپیرونو د دوی په اقتصادي او اجتماعي ژوندانه کي تاثیر کړي، ځینې قبیلې یې په جنوب او جنوب ختیځو سیمو کي د ژوندانه په لومړنیو شرایطو کي تر زیاتي مودې پاته سوي او ځینې یې لکه لودیان، سوریان، غوریان، ابدالیان او داسي نور د هغوي د سلطانانو او ټولو اکانو په وختونو کي د آبادو مځکو او څړځایونو اجتماعي او نظامي ګټو د په لاس راوړلو او د بورژوازي ژوند د رفاهیتونو څخه د ګټې اخستلو له پاره د هند او نورو ور څرمه سیمو ته کوچیدلي دي. دوی د خپل ملي او سیاسي موجودیت له پاره اتحادیې جوړې کړې سلطانانو مخصوص سلطان بهلول لودي د دغو اتحادیو مشرانو ته خپل مقبوضه ولایتونه د امیر او والي په حیث ویشلي دي.

دغو قبایلو د کورګانیانو او صفوی حکومتونو د یرغلونو په وخت کی د خپلو سیاسی او اقتصادی ګټو څخه دفاع کوله، د دوی درقابتونو او اقتصادی فشارونو له کبله یې د خپل ملي او سیاسي اقتدار د ساتلو له پاره هرکله اقدام کاوه چې په نتیجه کي میرویس نیکه او احمد شاه بابا د ملي حکومتونو په جوړولو بریالي سول. دغو حکومتونو که څه هم فیوډالي بڼه درلوده خو په واقعیت کی د اشرافو، روحانیونو او قبایلي مشرانو یوه ګډه اداره وه چې د جرګې او مشورې په صورت اداره کیده.

www.sikaram.com

په اوسني افغانستان کي د سليمان دغره اوسيدونکي تر نورو افغاني قبايلو د مخه څرنگه چې هلته څرګندونه او د کرهنيې وړ مځکه پراخه وه خارجي ګاونډيانو اجتماعي او سياسي اړيکي زياتې ورسره دولودې؛ د تجارت د لاري څخه د بنارې ژوند کولو په مزيت او رفاهيت پوهيدلي وو د کوچياني ژوندانه څخه د نيم کوچياني کليوالي او بنارې ژوندانه مرحلو ته ژر راورسيدل. دوی د مرکزي حکومت سره د اقتدار او ګټو او طايفوي اړيکو درلودلو او د هغه د تشويق له کبله د غه ډول ژوندانه ته انکشاف او ترقي ورکړه.

د مثال په توګه هغه وخت چې احمد شاه بابا په (شير سرخ) کي پاچا سو وېې غوښتنه چې د هغې سيمې د افغانانو له پاره د مرکز په حيث يو داسي ټوکر مځکه وټاکي چې بنه آب او هوا او آبادی مځکي ولري او نادر آباد يې ځکه نه خوښاوه چې په هغه کي د يو آبرومند او موقر بنار جوړولو شرايط برابر نه وه، زيمناک او مرطوب ؤ، اوسيدونکي يې د ملیريا او روماتيزم څخه په عذاب وو نو احمد شاه بابا وروسته تر هغې چې د کندهار د بيلو بريالیو قومونو په منځ کي د نسبي ويش له مخي د خولی ويش او ملاتړ ويش مغاير مځکي وويشلې، د بنار جوړولو په غرض د هغه ځاي د بيلو قومونو سره په تماس کي سو او په دغه منظور يې د ارغنداو په لويديځه غاړه کی په دښت کی يوه اوږده وياله وکښله، څرنگه چه دغه وياله د الکوزو په مځکه کي راتيريده نو هغوی هم هلته د بنار په جوړولو راضي نه سول بيايې وغوښتل چې د مرد کلاد کلي په لويديځه برخه کي بنار جوړ کړي خو دغه مځکه چې د بارکزو په تيراړه درلوده هغوي نه ورکوله څو په اخير کي يې خپلو عزيزانو او هم قومانوته مراجعه وکړه او هغوي راضي سول چې د بنار جوړولو له پاره دوولس قلبې مځکه ورکړي. احمد شاه بابا د کندهار د اوسني بنار لومړۍ خښته په (۱۱۷٤ هـ.ق) کي په خپل لاس کښيښوده او ټولو قومو ته يې ځايونه او کوڅې ورکړي.

د احمد شاه بابا د حکومت طرز فيوډالي او طايفوي و خو بيا يې هم د شرقي استبداد د خوي او خاصيت څخه بنه نه راتلل او د شرايطو له مخي يې د حکومت چاري د طايفوي خانانو او روحانيونو په مرسته مخې ته بيولې.

د يوولسمي پيړۍ څخه بيا تر نولسمي پيړۍ پوري د فيوډالي پاچاهانو او ټولواکانو له خوا څخه د افغانانو ځينو کورنيو او ملاکانو ته د هغو د خدمت او مکافاتو په بدله کي د جاګير داريو

www.sikaram.com

او قطاع د مځکو په ورکولو سره د افغانی قبایلو او طوایفو په منځ کې طبقاتي تضادونه را پاریدل. د طایفوی جرګو له مخی چې وروسته یې قومي او اشرافي رنګ واخست طایفوي مځکې د هغو جرګو د فیصلو په اساس د فیودالانو، خانانو او روحانیونو په ملکیت کې راتلې، بزګران او خواریکښان تر هر ډول مالي او ځاني فشارونو لاندې ونیول سول چې د دغو تضادونو او جنګونو په نتیجه کې زمور د خاوري پر زیاتي برخې باندې امپریالزم مسلط سو، د قبیلوي جرګو د واک څخه چې مرکزي حکومت نسبتاً جوړسوی و هره برخه یې د یو فیودال حکمران تر سلطې لاندې راغله.

د اتلسمي پیړۍ په پای کې د اروپا یې بورژوازۍ څخه د ګټې اخستلو، د خواریکښانو د عکس العملونو څخه د ځان ژغورلو او د یو مرکزي او مستحکم دولت د جوړولو په منظور افغاني ټولواکانو غوښته چې د دربار په وضع کې د خلکو په نفع څه تغیر راسي خو د خارجي فشارونو او په خپله د درباریانو په منځ کې د نظر د اختلاف د پیدا کولو، د خانانو او ملکانو سره په جنګ اخته کیدلو په نسبت د دوی دا هڅې په سر نه سوای رسیدلای. خانانو د خپلو امتیازاتو د ساتلو له پاره د هغو مقرراتو څخه چې د دوي په ګټه نه تمامیدل غاړه غړول او په ځینو مواقعو کې امپرالستانو هم یو شمیر خانان او سرداران د حکومت په مقابل کې ځکه تقویه کول چې د مرکزي حکومت څخه په خپله ګټه څه امتیازات په لاس راوړي، د دغو تضادونو څخه چې مرکزي حکومت ضعیفیدي، د اخندانو او روحانیونو له پاره چې د پخوا څخه یې یو ډول معنوي حیثیت درلود، د مادي قدرت په لاس راوړلو او د حکومت په دستګاه کې د ځای موندلو په غرض هم ښه زمینه مساعده سوه حیثیت او قدرت یې دو چنده سو، ملکیتونه یې پیدا کړه او د اجتماعی مکلفیتونو لکه مالیې، عسکری، بیګار او داسي نورو څخه یې ځانونه کښل او په نتیجه کې د اجتماعي چارو په سر رسولو دروند بار او بوج ټول پر بیوزلو او خواریکښانو لویدی. د دربار او اشرافو وضع د بورژوازي او د هغې د ایډیالوژي د راتلو له کبله هم متزلزله کیده. بورژوازي د خپلو مالونو د عرضې او اقتصادي امتیازاتو حاصلولو له پاره امنیت او اجتماعي نظم غوښت. داخلي بورژوازي هم د هغوي طرفداري کوله، دغو غوښتنو زمور په هیواد کې د فیودالیزم او ملوک الطوایفي ریښې کرار، کرار کمزورولې.

www.sikaram.com

د بله پلوه د مرکزي حکومت او خانانو جنګونو هم ملوک الطوایفی ریږدوله، طایفوي جاګیردارانو ته چې د ټولواکانو له خوا مځکي د ځینو امتیازاتو په بدله کي ورکړه سوي وي، هغه وخت چې به د جنګونو په نتیجه کي د حکومت له خوا مغلوبیدل مځکي به یې مصادره کیدې او پر متوسطو طبقو باندي به پلورلې کیدې او یا د خدمت په عوض کي به پر دولتي مامورینو ویشلی کیدې. مستبد دربار چې له یوې خوا څخه د جنګونو او بلې خوا څخه د داخلی تضادونو له کبله کمزوریدي هر کله یې اصلاحاتو ته غاړه ایښوده. اخندان او روحانیون هم چې یوه متحده طبقه نه شمیرله کیده، هغه طبقه چې درباري وه او مادي امتیازات یې په لاس راوړی وه د اساسي اصلاحاتو څخه یې ښه نه راتلل او بله طبقه چې محرومه او په خوارو حجرو کي د خانانو او ملکانو په مرحمت او لاس نیوي ژوند کاوه. د دوې د فشار څخه د ځان خلاصولو د پاره هر کله د تحول او نوې تنظیم په خوا وو. د خواریکښانو پر اوږو چې د ټولو حاکمو طبقو بارونه اچول سوي وه او د اوسیدونکو اکثریت یې جوړاوه، دوي د روشنفکره طبقې د خواهشاتو څخه چې اجتماعي عدالت او استبداد رفع کیدل یې غوښتل طرفداري کوله. دغه عوامل وو چې د مطلقیت د تعدیلولو او د مشروطې د نهضت په راوستلو کي یې مهمه برخه درلوده او هغه یې تکاملي پړاو ته رسوله.

که څه هم په افغانستان کي د مشروطې غوښتلو نهضت په هغه معنی چې د لویدیځي ډیموکراسۍ یو مهم اصل جوړوي او په هغه کي د دولت د ټولو قواؤ لکه اجرائیې، تقنینې، قضائیه د آزادیو تفکیک او تضمین سوي دي موجود نه و او په دغه وخت کي د افغانستان خارجي پالیسي د انګلیس د استعمار تر سلطې لاندي وه، خو بیا هم زمونږ ځینې لیکوال دغه اصل ته لږ ملتفت سوي او غوښتي یې دی په هر صورت چې وي د افراطي اوسنی نشنلیزم د احساس په سایقې د مشروطې خواهۍ د نهضت سیاسي فعالیتونه د افغانستان د خلکو په سیاسي چارو کي ولټوي او هغو ته د خارجي تقلید په ښه یو ډول قانوني او مشروع رنګ ورکړي په داسي حال کي چې په دغه وخت کي افغانانو مذهبي او قومي تفکر درلود او د ټولو چارو سمون او اصلاحات یې د خلیفه یا پاچا تر قیادت لاندي د شریعت او ملي مشرانو د لارښودلو د لاري غوښتل. د دغو ملي شعایرو د پیروي له مخې و چې د انګلیس او روس استعمار ته یې څو ځله خوله ماتونکي ځوابونه ورکړه.

www.sikaram.com

یو شمیر تاریخ پوهان لکه میر غلام محمد غبار، میر محمد صدیق فرهنگ، احمد علي کهزاد او عبدالحی حبیبي د افغانستان د مشروطی تاریخ پر پنځو مرحلو ویشي.

۱ - د سید جمال الدین افغان فکري او سیاسي نهضت چې د امیر دوست محمد په مرګ او د افغانستان څخه د سید په وتلو پای ته رسیږی.

۲ - د امیر شیرعلیخان د سلطنت په دوهمه دوره کي فکري او سیاسي نهضت د شمس النهار د جریدې په خپرولو سره چې د انګلیس او افغان د دوهم جنګ په اثر پای ته رسیږي.

۳ - د سراج الاخبار د ټولني فکري او سیاسي نهضت (۱۳۲۳ هـ.ق).

٤ - د لومړي مشروطې غوښتونکو فکري او سیاسي نهضت چې د سراج الاخبار د ټولني په دوام (۱۳۲۳ - ۱۳۲۷ ق) د مولوي محمد سرور واصف په سرپرستی شروع سو.

٥ - د دوهم مشروطیت فکري او سیاسي نهضت چې د سراج الاخبار افغانیه په تاسیس (۱۳۲۹ - ۱۳۳۷ ق) کی د طرزی محمود په مشری شروع او د اعلیحضرت امان الله په جلوس پای ته رسیږی او سیاسی قدرت د مشروطی غوښتونکو (جوانان افغان) په لاس لویږی. د اعلیحضرت امان الله د پاچاهی د ړنګیدو وروسته د مشروطی نهضت په پټه او ښکاره په یو شکل او بل شکل د استبداد ضد حرکتونو په ډول د اعلیحضرت محمد نادر شاه، اعلیحضرت محمد ظاهر شاه، سردار محمد داود جمهور رئیس، نور محمد تره کی، حفیظ الله امین، ببرک کارمل، ډاکټر نجیب الله د توپکیانو او طالبانو تر راتلو پوری دوام مومی.

دغه نهضتونه څرنګه چې لومړي ځل د تبعیضونو دورکولو، د مطلقیت د رفع کولو، د خواریکښانو د نمایندګانو او روشنفکرانو د عکس العملونو څخه راشروع سوی وو اقتصادی او اجتماعی جنبی یي قوی وی خو څرنګه چې د خارجی سلطو له منځه وړلو هدف یي مهم و نو سیاسی جنبی یي هم درلودی. په داسی حال کی چې په ملی او مذهبی ټولنی کی پیدا سوی وه نو مذهبی او ملی رنګ یي تر ټولو زیات ښکاره کیدی.

دغه نهضت څرنګه چې د عوامو او خواریکښانو منځ ته نه و داخل سوی او یوازی پر روشنفکره درباریانو او د هغوی پر ګماشته ګانو ولاړ و او هغوی غوښتل چې د پوهنی او ملی

www.sikaram.com

مترقی هیلو د څرګندولو د لارې دموکراتیک حقوق په لاس راوړی ځکه یې د بریالیتوب چانس لږ و د یوه یا څو تنو د استبداد ضد کسانو او د مشروط غوښتونکو په له منځه وړلو سره د جوش او ملی مبارزی د توان څخه ولویدل. د دی سره بیا هم د غه نهضت د مطلقیت او استبداد سره خپل مخالفت ته په یو شکل د شکلو دوام ورکړ او د ملی آزادی غوښتونکو نهضتونو په تل کی یې مجاهدی د اهمیت او قدر وړ دی.

د مطلقیت او استبداد ضد نهضتونو په پیاوړی کولو کی د راکړی ورکړی معاملاتو اغیزی:

زمونږ په هیواد کی یو شمیر قبایلی مشرانو، جنګی قوماندانانو او ځینو ثقافیانو د خپلو اجتماعی او اقتصادی موقفو او خاصو وظیفو لرلو لکه امنیت ساتلو، نوبتی مځکو د ویشلو، او بولګولو د څارویو ساتلو او داسې نورو چارو باندی د نظارت کولو له کبله زیات اهمیت، قدرت او ثروت وموند او د لومړنی طایفوی ټولنی د ننه قشر بندی د دوی او د یو شمیر خوارو دهقانانو په منځ کی په وجود راغله. د دغه حالت په نتیجه کی قبایلی اتحادیه، ټولواکمنی، د اشرافو دولتی قدرت پیدا سو او په خپل استبدادی او استثماری حکومت کولو یې د یوی فیوډالی سلطی په شکل ډیری پیړی دوام وکړ.

د یو شمیر پلټنو له مخی چې د اسیایي پروسی، مخصوص افغانی طرز تولید په تحلیل کی نوی په عمل راغلی، ویل کیږی په افغانستان کی هغه ډول فیوډالیزم چې په اروپا کی د ارباب رعیتی په شکل موجود و منځ ته نه دی راغلی. په اروپا کی د اقلیمی شرایطو د مساعدت له کبله د کرهنی مځکه زیاته وه، ویالو کښلو او بیګارونو کولو ته زیات ضرورت نه و، د طبقاتی سستم د پیدا کیدو آثار په ترتیب سره مخ ته کیده، چې د لومړی کمون، مرئیتوب، فیوډالی او بورژوازی دورو په منځ کی یې د کلونو تفاوت لکه په اسیایي ټولنو کی دومره زیات نه و موجود او یو په بل پسې په تکاملی شکل مخی ته راتلل په داسی حال کی چې په اسیایي ټولنو کی د دغو شرایطو د عدم موجودیت په نسبت په اقتصادی امورو او د هغو په تنظیم کی د حکومت مداخلی او فرمانروائیګانو ته سخت ضرورت و، د همدغه کبله په اسیا کی د استبدادی او فیوډالی حکومتونو عمر زیات و.

www.sikaram.com

په دغه وخت کی طبیعی اقتصاد موجود و، تولید د مصرف د پاره کیدی نه د مبادلی له پاره، فیوډالانو د هغو عوایدو څخه چې د بزګرانو د استثمارولو د لاری یې په لاس راوړه مرفه ژوند درلود. بزګران د ځان او بادار د اړتیاو د رفع کولو له پاره په ځینو لاسی صنایعو اخته وه. وروسته چې په اتلسمه پیړی کی زمور د هیواد اقتصادی وضع د اروپایي صنعت تر اغیزی لاندی راغله، د ژوندانه وضع په بورژوازی اوښتل، او بنارونه کرار، کرار جوړیدل او لوئېدل، صنعت او د کار تقسیم پیدا کیدی، د بنار او کلیو په منځ کی یې مبادلی په عمل راوستلی فیوډالی مناسباتو چې د مولده قواوو د تکامل مخ نیوی نو له هغو څخه په غیر شعوری ډول بزګری قیامونه پیدا سوه چې د فیوډالی تولنی اساسونه یې لرزول او بورژوازی ځنی پیدا کیده.

هغه وخت چې د ختیځ هند کمپنی پر تول هندوستان باندی مسلطه سوه نو د غې کمپنی د خپلو مالونو د خرڅلاو او اومو موادو په لاس راوړلو له پاره د نورو آسیایي هیوادونو په زیاته بیا د افغانستان په سیاسي، اقتصادی او تجارتی چارو کی مستقیمه مداخله شروع کړه او امیر دوست محمد مجبور سو چې په (۱۸۳۶م= ۱۲۵۲ق) کی د سرالکزاندر برنس په مشری د انګلیسانو یو تجارتی هیئت په خپل حضور ومنی. د بلی خوا د آمو سیند د پوری غاړی او پارس سره هم یې د راکړی ورکړی مناسبات ساتلی وه سر الګزاندر برنس د افغانستان د تجارت او کاروانی لارو د اهمیت په هکله زیاتی لیکنی لری.

د غو روابطو زمور د فیوډالی تولنی شرایط تبدیل کړه. په بنارونو کی د نفوسو د تمرکز، صنعت او حرفت د پیدا کیدلو د لویو لارو جوړولو، د کرهنی او صنعت د بیلیدلو، د لویدیځ مدنیت د آرامی، هوسایي د وسایلو د راتلو باعث وګرځیدل او د بورژوازی د نطفی په تړلو پیل وسو.

د دې تر وفات وروسته امیر شیرعلی خان د سید جمال الدین افغان د اصلاحی پروګرام د عملی کولو د پاره خپل دوهم لس کلن دور سلطنت (۱۸۶۸م= ۱۲۸۵ق) په عهد کی د منحط فیوډالزم څخه د نجات په منظور مرکزی دولت قوی کاوه. د داخلی او سیاسی لانجو د حل او فصل کولو له پاره یې زیار ویوست. اقتصادی، فرهنګی او صنعتی فعالیتونو ته یې ملا وتړله، د کرهنی د تولیداتو د زیاتولو د پاره یې هغه بارونه سپک کړه چې د حکومت او فیوډالانو له خوا څخه د بزګرانو پر اوږو اچول سوی وو.

www.sikaram.com

پادشاهان متاخر افغانستان په دی هکله داسی لیکی:

(... امیر شیرعلی خان مناشیری صادر و دساتیری وضع نمود که عوارض مالیات زمین تا رسیدن محصولات زمین پیشکی گرفته نه شود، وقتیکه محصول فرا رسید خود مالیه دهنده مالیات را تحویل کرده، رسید حاصل نماید، ولی محصل و تحصیلدار بالای مالیه دهندگان نه رود. معاشات افسر و عسکر و مامور دولت بالای مالیه دهندگان حواله نه شود. این معاشات نقد از خزانه دولت پرداخته شود. همچنان بعد ازین سپاه دولت نمیتواند در داخل شهر های کشور اقامت کنند...).

امیر شیرعلی خان خپله کابینه بی له تبغیضه او کورنی خپلوی او رابطی د سید نورمحمد شاه کندهاری پشینگی په مشری جوړه کړی او د افغانستان زیاتو قومونو او د سیمو خلکو په هغی کی گډون وکړ. د مثال په توگه عصمت الله خان جبار خیل یي د داخله وزیر، محمد حسن یي د سرمنشي، ارسلا یي د خارجه وزیر، حبیب الله ورد ک یي د مالیي وزیر، حسین علی یي د سپاه سالار، احمد علی یي د خزانو د وزیر په حیث وټاکل. امیر شیرعلی خان د پوهنی په برخه کي دوه ښوونځی په نوی طرز یو ملکی او بل نظامی تاسیس کړه. د لیتوگرافی (ډیرینه مطبعه) یي د کابل په بالاحصار کی د میرزا عبدالعلی په اهتمام وپرانستله. په همغه وخت کی د افغانستان لومړی جریده د شمس النهار په نامه په ۱۹ مخونو کی په میاشت کی دوه یا دری ځله خپریده. د شمس النهار جریدی د خلکو د راوینبولو، سیاسی شعور د روزلو، د ملت او حکومت په منځ کی د ښو روابطو او اعتماد د حس د پیدا کولو، د حق، عدالت او مساوات د تامینولو په لار کی په زړه پوری خپرونی کولی. لکه دغه جریده چې د (سیاست مدنی) تر عنوان لاندی د پاچاهی د چارو د تنظیم د خلکو د حقوقو د ساتلو، ظلم او ناروا د مخنیولو په هکله داسی لیکی:

(... فرمان روای مملکت را ضروری است به قسمی که آرام عیش را بر خود روا میدارد، به همان قسم هم بر رعایا اسایش پسند نماید، بلکه به قسمی آسایش را به رعایا برساند که رعایا به حدی دوست و وفادار گرداند که جان و مال را نثار آن فرمانروا کنند.

و فرمانروایان مملکت به خوبی ذهن نشین نمایند که هر پادشاهی که تن پروری خود را بر خبرگیری رعایا مقدم داشت و اوقات خود را در لغویات عیاشی و صدد بیکاری صرف و در عرصه اندك دولت و سلطنت آن فرمانروا برباد خواهد شد و مددگار وی کسی نخواهد

www.sikaram.com

بود و نیز اهل کار و وزرا و اراکین و مشیر هر پادشاه که خائنین و غرضمند نفس خود باشند و ان پادشاه در قبضه اختیار آن خائنین باشد و عاقبت الامر آن پادشاه سلطنت خود را برباد خواهد نمود و خود وی در پنجه مفت خوران و خوشامند کنندگان اسیر خواهد گردید و فرمانروای مملکت را ضرور بل واجبست که عمده اراکین سلطنت و اهل کاران را به جهت خود تجویز نماید و نیز ضروری است که به کدام خود غرضان و مطلبیان التفات نکنند و نیز به همراه دول غیره رابطه اتحاد قایم نماید که تا هر وقت ضرورت مدد و معاون باشد. لیکن از نظم و نسق مملکت خود غافل نه باشد و در باب آراستگی فوج تساهل نفرماید و در تربیت و تعلیم فوج حتی الواسع سعی بلیغ به کار برود و احوال مملکت خود را از هر کس بشنود لیکن در عمل تامل بسیار به کار برد که خود غرضان به هزار حیله مطلب خود پوره کنند...).

امیر شیرعلی خان غوښته چې د آزاد او هر پلوه پر ځان متکی کیدلو سیاست په پیروی د خپل ګاونډیانو سره مناسبات قایم کړی خو دغی پالیسی چې د انګلیسانو د امپریالزم سره سر نه خوږ نو (لارډلټن) د هغی په مخالفت د اګست په ۲۷ مه لندن ته داسی لیک و استاوه: (... که شیرعلی ثابته نه کړی چې دی زمور دوست دی مور مجبور یو هغه خپل دښمن وګڼو او له هغه سره بالمثله معامله وکړو. که دی انګلیسی اجنټانو ته په خپل ملک کی د اوسیدلو ځای ورنکړی، د بریتانیه دولت به دی لکه نل داسی مات کړی، دا ځکه چې د ده دولت د ختو یو غونډاری دی چې د اوسپنو د دوو لویو دیګونو په منځ کی پروت دی، هیڅ شی د دی نه سی مانع کیدلای چې انګلستان او روسیی په خپل منځ کی یو سی او افغانستان د منځکی د سر څخه واخلی...).

امیر شیرعلی خان د انګلیسانو دغه تهدید او حیلو نه سو ډارولای نو ده د خپل صدراعظم سید نورمحمد شاه په واسطه انګلیسانو ته داسی څرګنده کړه: (... برتانیه لوی او قوی دولت دی او زمور خلک د هغه په مقابل کی مقاومت نه سی کولای خو زمور خلک با عزمه او آزادی مشربه دی، خپل شرافت تر بې حیثیته او بی اهمیته ژوند کولو ښه ګڼی او دا ښه بولی چې ټول ووژل سی نه غیر عادلانه مطالبی ته سر کښته کول او تسلیمیدل...).

خو انګلیسانو پر افغانستان باندی د دوهم پرځل کولو په اثنا کی (۱۸۷۸م= ۱۲۶۹ ش) د ده حکومت له منځه یووړ او پاچاهی امیر عبدالرحمن ته ورسیده.

www.sikaram.com

د امیر عبدالرحمن د پاچاهی په دور کی حکومت ټینګ سو. هغه فیوډالان چې د مرکزی حکومت د اوامرو څخه یې سرغړاوه په سختی وځپل سوه. د خواریکښانو ښورښونه او تمردونه چې د مالیاتو، بیګار، اقتدار پسندیو او نورو جسمی فشارونو څخه پیدا سوی وه په بیرحمی له منځه یووړل سوه. د خپلی کورنی، قبیلی او خپلوانو له پاره په زیاتو امتیازاتو قایل سو او قبیلوی تضادونه یې حادی درجی ته ورسول. ده د سرکښو او متمردو فیوډالانو افراطی وطندوستانو او خواریکښانو د ویرولو او روحیاتو د کمزورولو د پاره هر ډول غیر انسانی جزاګانی لکه سترګی ړندول، خوله ماتول، نس څیرل، غوږونه، پزی، لاسونه او پښی پریکول، تاوده لمر ته درول، دوربینټانو او نوکانو کښل، په جوشو اوبو او تیلو کی سوځول، د فیلانو پښتو ته غورځول رواګڼل. په دغه دوره او د دی دمخه کی د افغانستان خلکو هیڅ ډول طبیعی او سیاسی حقوق نه درلودل. پاچاهان د خدای سایه ګڼل کیده، د دوی هر امر د قانون او شرع په شان منل کیدی، جاسوسانو او د امیر ګماشتګانو د خلکو ژوند ډیر تریخ کړی و، امیر د دی د پاره چې په آرامی او یکه تازی حکومت وکړی، افغانستان یې د ټولو بین المللی جریانونو، روسیې او انګلیس د رقابتونو څخه تجرید کړی و. د استخباراتو او ضبط احوالاتو دستګاوی یې ډیری قوی ساتلی وی حتی په خارج کی یې خپل مخالفین ځپلای سول. یو شمیر مجاهدین او روشنفکران یې تبعید بندیان او یا ووژل. د ګندمک تړون یې ومانه (۱۷۸۹م=۱۱۶۸ش) او د ډیورنډ معاهده یې لاسلیک کړه (۱۳۱۱ق=۱۸۹۳م) چې د هغی په اثر سوات، باجوړ، چترال، وزیر، دوړ، چاغی، چمن د افغانستان د اصلی خاوری څخه بیل سول خو د دی سره یې بیا هم د افغانستان سیاسی حدود او داخلی خپلواکی تر یوه حده تثبیت کړه. د فیوډالانو او بین المللی امپریالیزم د مستقیمی مداخلی لاره یې بنده کړه په ډیر احتیاط او مال اندیشی یې د ځانی حکومت د قانونی کولو او عنعنوی معارف د پلوشو خپرولو له پاره هڅه کوله او یو شمیر رسالی او کتابونه یې په دغه منظور چاپ او خپاره کړه چې مشهوریې دا دی:

تاج التواریخ د چاپ کال (۱۹۰٤م=۱۳۰۳ق)، مراة العقول (۱۳۱۱ق)، نصایح روزنامچه (د امیر عبدالرحمن پیشګویانی او یادابنټونه) (۱۳۰۳ق) د انوار سهیلی څخه انتخاب سوی توټی (۱۳۱۷ق)، کتابچه دستور العمل کلانتریها ګذر های دارالسلطنه کابل

www.sikaram.com

(۱۳۳۱ق)، تحفه امیری یا علم بارود سازی (۱۳۱۵ق)، تزک ناپلیون (۱۳۱۸ق)، اساس القضات (۱۳۱۱ق)، کلمات امیر بلاد فی ترغیب الجهاد (۱۳۵٤ق)، شهاب الحساب (۱۳۰۲ق) او نور، دغه آثار د ده او د ده د درباریانو په واسطه لیکل سوی وو.

سر والتین چیرول په خپل اثر (منځنی ختیځ او ځینی نور مسائل د هند د ساتنی له پاره) د امیر عبدالرحمن او امیر حبیب الله د پاچاهیو د مقایسی په هکله لیکی: (... نه سی ویل کیدلای چې امیر حبیب الله به د پلار سیاست تعقیب کړی سی آیا دی به د هغو خطراتو څخه نجات وموندی چې په افغانستان کی د هر نوی امیر له پاره پیدا کیږی؟ دغه ځوان امیر باید خپل استعداد او لیاقت ښکاره کړی چې څه کولای سی. د امیر عبدالرحمن د مرګ دوه کاله تیر سوی نه دی، د هغه قوی لاس و چې افغانستان ته یې سر او صورت ورکړ، فیودالان او روحانیون یې د ځان تابع کړه. کوم کارونه چې امیر عبدالرحمن خان کړی دی، د څه وخت له پاره به پاته سی، مګر دا چې امیر حبیب الله یې په خپلو اشتباهاتو وران کړی...) چیرول د امیر عبدالرحمن د شلو کالو کارونو ذکر کوی او وایي: د مخه افغانستان امیر نه درلود، قبایلی مشرانو هر ځای حکومت کاوه، امیر عبدالرحمن خان مرکزی حکومت قایم کړ او منظم لښکر یې جوړ کړ. امیر عبدالرحمن خان خپل ځان رسماً او حقیقتاً د افغانستان امیر کړ. تر ده مخه د افغانستان امیر یوازی د کابل امیر ؤ. وضع او حال یې د افغانستان د نورو امیرانو سره لکه د انګلستان د پاچا وضع د بریتانیا د بارونانو سره داشانی وه. امیر عبدالرحمن خان د قبایلو مشران او متمردین په ډیره بیرحمی ټکول او سختی سزاګانی یې ورکولی. د ده څخه فقط دوه تنه خلاص سوه: یو سردار محمد ایوب خان او بل سردار محمد اسحق خان. یو په هند او بل په روسیه کی اوسید. که د دی سره د ده په مخالفت راپورته کیدلای یو د انګلیس او بل د روس د جاسوسانو په حیث معرفی کیدل او د افغانستان د ملت د قهر موجب ګرزیدل. چیرول وایي: امیر عبدالرحمن خان که څه هم ذاتاً یو مستبد پاچا ؤ خو بیاهم یو حساس، وطندوست افغان ؤ ده د قبایلو سلحشورو او مرتجعینو ته سختی سزاګانی ورکولی چې ویل به یې: نور افغانستان د داخلی انقلاب چې د امیر دوست محمد خان د وفات وروسته یو په بل پسی جریان درلود (۱۸٦۳م) د تحمل توان نه لری. امیر عبدالرحمن خان د داخلی امنیت د تینګولو له پاره مقتدر لښکر پرابر کړ او د هغو تنخواه برابرولو ته یې زیاته توجه

www.sikaram.com

وکړه. امیر عبدالرحمن خان تجارتی انحصارات قایم کړه او غوښته یې چې د دغه ممر څخه د لښکرو د مصارفو د زیاتولو له پاره استفاده وکړی. هغه پیسی چې د ډیورنډ د ترون له کبله ده ته د هند حکومت ورکولی په (۱۸۹۲م) کال کی ۱۲ لکه کلداری په (۱۸۹۳م) کی ۱۸ لکه کلداری هغه یې تولی په عسکری تجهیزاتو مصرفولی خو هغه نقص چې د امیر عبدالرحمن خان په کار کی موجود ؤ هغه دا دی چې د ده وروسته لایق او مستعد خلف نسته چې افغانستان اداره کړی. امیر عبدالرحمن د افغانستان د داسی پاچاهانو څخه ګڼل کیږی چې خپله یې جوړ کړی او اداره کړی ؤ. خو خلف یې دی کارته په مشکل دوام ورکولای سي او داسي نښانی نسته چې دی د پلار په شانی اداره وکړی. تر اوسه دا څرګنده نه ده چې د ډیرو ماینو د جنجال څخه ځان خلاص کړی دی او که یا ؟ که دی همداشانی خپلی عیاشی او غیر جدیت ته دوام ورکړی او د سلحشورو خانانو او قبایلو سره نرمی را واخلی، فشارونه او بی نظمی به بیرته تازه سی. که څه هم د شر او فساد پینبیدلو آوازی راځی خو تر اوسه دغه ټول کورنی حیثیت لری او قبایلی نه دی.

د امیر حبیب الله ورور سردار نصر الله خان جاه طلب او جدی سړی دی. کشر ورور یې محمد عمر پر ده باندی ځکه تفوق ښکاره کوی چې د مور او پلار له خوا امیر زاده دی. یوه پیړی کیږی چې په افغانستان کی یو امیر په آرامی او امنیت پر تخت نه دی کښینستلی. مور انګلیسانو یو وار نه بلکه څو ځله د افغانستان څخه مهم درسونه اخستی دی. له دی سره چې مور ته د افغانانو په مقابله کی ډیر ځانی او مالی تاوانونه رسیدلی دی خو دا وایو چې دغه یو دلاور جنګجویه، وطندوست، آزادی ساتونکی ملت دی چې په خپلو غرونو او دښتو کی د خپل موروثی هیواد د ساتلو پر سر په څه فداکاری او میرانی زمور (انګلیسانو) سره جنګیدلی دی او د خپل هیواد او ملی نوامیسو دفاع یې کړی ده. افغانانو په (۱۸۴۲، ۱۸۷۸، ۱۸۸۰م) کی زمور د مجهزو او ډیرو لښکرو مقابله کړی ده. تر دی وروسته د افغانانو سره باید په احتیاط روابط قایم سی. د هندیانو او ځینو نورو کمزورو ملتونو په څیر ورته و نه کتل سی. په نیمه وچه کی د افغانانو څخه باید د هند د دفاع او وهلی کلا په شانی کار واخستل سی. د دوی په طبیعی، سیاسی او کلتوری مناسباتو کی باید څوک لاس و نه وهی. د هر جارحانه او مخالف قوت په مقابل کی باید د دوی دوستی او مرسته جلب سی.

www.sikaram.com

امیر حبیب الله د پلار مخالف یو استراحت طلبه او عیاش پاچا ؤ خو د مدنیت او نوی تهذیب په خوند پوه ؤ. داخلی آرامی خارجی روابطو او په گاونډیو هیوادونو کی آزادی بخښونکو نهضتونو دا ایجابوله چې د پلار د اداری مخالف دی یوه نرمه او نسبتاً د وطنوالو په گټه اداره تاسیس کړی نو ځکه ده د خپل تخت کښینستلو په اثنا کی ملت ته داسی وعده ورکړه:

(د ملی وحدت د تامینولو، د خارجی تجاوزاتو سره د مقابلی کولو او داخلی اصلاحاتو د راوستلو له پاره به زیار وباسم.)

ده په لومړی سر کی د افغانستان د سیاسی خپلواکی د مستردولو په هکله د انگلیسانو سره څو ځله مفاهمی وکړی، په تقوی او مردم داری به یې تظاهر کاوه. د شهزادگی په وخت کی یې چې اوه نکاحی ښځی د علیاجاه، علیاحضرتی، علیارتبې، علیا جنابی، علیاقدری، وزیر بیگمی، او زیاتی مینځیانی او سورتیانی درلودی، د شرعی نصاب څخه اضافه یې تولی پرینبودلی. د حجاب طرفداری یې کوله. د پلار د وخت د مینځیانو او مریانو خرڅولو معمول یې بند او منع کړ. ده د پلار د وخت د ناراضه خلکو حیثیت بیرته اعاده کړ او د عمومی بخښنی اعلان یې وکړ. د تجارت، صنعت او حرفت پراختیا ته یې توجه وکړه. هند ته یې سفر وکړ او د خپل سفر په هکله یې داسی اعلامیه خپره کړه: **(بر ضمایر اخلاص مظاهر معتبرین و منصبداران و صاحبمنصبان نظامی و ملکی و خوانین و جمیع رعایای دولت خدا داد افغانستان پوشیده و مخفی نماند، چون سرکار والا ما و شما مردم افغانستان را غم شریك و دین شریك دانسته و میدانیم و نمیخواهم در هیچ امور ملکی و ملتی شمایان ناواقف بوده باشید، چنانچه در سنه گذشته نیلان ئیل (۱۳۲۳ق) که دوست محبت نشان (سرلویس دین) با جماعتی از طرف دولت هم عهد شما برای استحکام عهد نامه سابقه به خصوص انور والای ما حاضر شده و استحکام مذکور را به عنوان سابق از طرفین محکم نمودیم و از برای استحکام خاطر شمایان به طریق اختصار اطلاع داده بودیم که جمیع شما اقوام از فقره مذکور آگاه خواهید بود، حال چون از راه اتحاد و دوستی دولتی همعهد از طرف دولت همعهد شما که دولت بهیه بریتانیه باشد خط و مراسله دعوت دوستانه، و شکار علاقه هند به دین مضمون رسید که چون عهد نامه طرفین از سال گذشته تمام شد و استحکام پذیرفته، هرگاه از راه دوستی و اتحاد دولتی و همجواری تشویق آمیز بیانی علاقه شده بعد از ملاقات دوستانه و**

www.sikaram.com

سیاحت هندوستان و شکار بازگشته و مراجعت در علاقه خود ها خواهد نمودید، لهذا چون قبول چنین دعوت و ادای آن از طرف دولت و ملیت ضرور میباشد.)

تحریر یوم سه شنبه سلخ ماه جمادی الثانی ۱۳۲٤.

نو امیر حبیب الله چې د هند د سفر څخه (۱۹۰۳م) بیرته کابل ته راغی هلته یې اسلامی مدرسې او د لویدیځ تمدن او ترقی آثار ولیدل او د هغو تر اغیزی لاندی راغی، په کابل کی یې د حبیبی مکتب یا ښوونځی تاسیس کړ او یو شمیر داخلی روشنفکران او هندی معلمان یې د تدریس او تبلیغ د چارو د پرمخ بیولو دپاره استخدام کړه. دغه دوی وه چې په هیواد کی یې د شرعی حکومت، ملی حکومت یا په اصطلاح مشروطی غوښتلو او قانون حاکمولو تاداٰونه کښیښوول. په دغه مشروطی غوښتونکو کی خپله د پاچا د کورنی ځینی غړی، درباری لبرالان، غلام بچه گان، لوی سرداران، درباری ملایان، حاکمان، لیکوال، کسبگران، تجاران او نسبتاً د هری طبقی روشنفکره او ناراضه عناصر شامل وو.

یو لوی متفکر د دغه نهضت په هکله وایي: (که د ملی غورځنگ یا اجتماعی نهضت معنی د یوی طبقی څخه وبلی طبقی ته د قدرت انتقالول وی نو د افغانستان د مشروطی نهضت چې د متوسطو، ښاری بورژوا خلکو د مبارزو څخه عبارت ؤ د فیوډالزم څخه د خلاصون له پاره چې په راس کی یې مطلق العنان او مستبد تولواکان واقع سوی وو، آزادی او پارلمانی حکومت یې غوښت همداشانی په ملی جنبش د خارجی استعمار د ورکولو له پاره یو قیام و.)

په دغه وخت کی تجارت نسبتاً رونق موندلی ؤ، ځینو خلکو د خارجی مالونو د پلورلو او د لالانو په حیثیت کار کاوه، دوی به اومه مواد خارج ته لېږل او په عوض کی به یې توکران، چای، چینی لوښی د خارج څخه راوړل او په دغو اقتصادی تشبثونو د ثروت او پانگی خاوندان گرځیدل. د دی دپاره چې د فیوډالانو د ضرورت څخه ځانونه په امان وساتی دوی به کله، کله هغوی ته تحفی ورکولی، د احتیاج او یا مالکیت د ذوق له کبله به یې د هغوی څخه په گرانه بیه مځکی را نیولی او په نتیجه کی به یې د فیوډال بورژوا حیثیت پیدا کاوه. څرنگه چې منحط فیوډالزم د دوی د سرشارو گټو مانع وگرځیدی او انحصاری پانگه والی رقابتونو دوی په تجارت کی لاس خلاصی آزادی ته نه پریښودل نو دوی د فیوډالزم او خارجی استعمار په مقابل کی سخت

www.sikaram.com

حساسیت ښودی. د پاچاهانو د ملت گرایي او عدالت شعاری مناشیر یي تائیدول او د مشروطیت په قائمولو کی یی د دوی سره د مطلق العنانی د محدودولو له پاره سیاسی مبارزې کولی.

لومړی ډله مشروطه غوښتونکی څرنگه پیدا شول:

که څه هم د ټولو تحولونو او انقلابی حرکتونو له پاره د تولیدی مناسباتو تغیر زیر بنا گڼله کیږی خو د دی سره بیا هم ذهنی روشونه او فکری طرزالعملونه د یوی ټولنی په کیفی او بنیادی تحولونو کی بی اغیزی نه وی او د ځینو ټولنو د تاریخ په مسیر کی یو شمیر تحولونه او انقلابی حرکتونه د دغی ناحیي څخه راپاڅیږی او روبنا زیربنا تر تاثیر لاندی راولی.

دا تنیکی یا لومړنیو ټولنو په جوړولو کی چې مهمی څانگی یي کورنی، قبیله، قوم او بیا ملت دی، د وینی او اصلیت د رابطی څخه علاوه ځینی نور مشترک وجوهات لکه ژبه، د اوسیدلو ټاټوبی، یو ډول روحیات او د تفکر طرز مهم اصل جوړوی. دغه عوامل که څه هم د داسی ټولنو د قشرونو په منځ کی اساسی تضادونه منځ ته نه راوړی خو د ټولنو په تحولاتو او بدلونو، د روبنا په څیر لږ اثر ښندی او په دی ډول اتنیکی وده، د یوی ټولنی د اجتماعی او اقتصادی ودی مهم عامل گرځیدلای سی د مثال په توگه په هره دوره کی هره طبقه د حاکمیت، استثمار او لوبي په باره کی له ځانه سره خاص تصورونه لری. د زاړه یونان ځینو فیلسوفانو د ټولنی طبقی د فلزاتو سره تشبیه کولی. واکمنان او ټولواکان د سروزرو، اشراف او اعیان یي د سپینو زرو او عادی خلک یي د اپرو (بی مځکو) او اوسپنی په شان ګڼل. د فیودالزم په دوره کی داسی فکر کیده چې د ټولواکانو، امپراتورانو او اشرافو وینه اصیله ده، دوی له نورو څخه په نظری ډول توپیر لری، له همدی کبله دوی اجازه نه درلوده چې د غریبو او بیوزلو خلکو سره واده وکړی او وینه یي (کچه) لړلی یا کم اصله سی. له همدی امله په فیودالی نظام کی د اصیل خانزاده، کم اصل او بی وفا مفکوری رواج وموند او په سرمایه داری نظام کی بدایي، ثروتمندی د شخصیت او حیثیت د لوړوالی او زور معیار وگرځیدل. دغه نظام د خواریکښانو او مسکینانو پر ذهنو باندی داسی ناوړه اثر ښندلی ؤ چې د دی څخه پرته یي بل نظام او سلطه معقوله او پایداره نه سوه ګڼلای. د همدغه کبله زموږ په هیواد کی دغه ناوړه د تفکر طرزونو تر ډیری مدی دوام درلود. د اساسی او

www.sikaram.com

رشتنیو اصلاحاتو په مخ کی خنډ گرځیدلی وو ، که به تحولونه او انقلابونه پیښیدل په راس کی به یې دغو عواملو مهم اثر دولود او د اصلی مجرا څخه به یې چې د استثمار لغو کیدلو ؤ مخ راگرځاوه. زمور په هیواد کی یو شمیر روشنفکرانو او ثقافیانو په تهذیبی او طبقاتی گرایشونو ، د عدالت او انصاف د موازینو د تینگولو ظلم او استبداد د ورکولو د پاره مبارزه کوله. د شرعی دساتیرو او قانون حاکمیت یې غوښت. د دی د پاره چې دولت د دوی د فشار او غوښتنو څخه ځان په امان کړی او په سیاسی چارو کی د دوی مداخله شنده سی د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهی په دوره کی د هیواد د بیلو سیمو ملایان کابل ته را وغوښتل سوه چې امیر ته په شرعی او ولسی چارو کی مشوره ورکړی او د ضرورت په وخت کی کتابونه او رسالی ولیکی چې د هغو څخه د دغو کسانو نومونه په خوله یادیدل: ملا ابوبکر اسحق زی ، ملا غلام محمد ، ملا عبدالخالق اندړ ، قاضی میر رحمان ، مولوی عبدالروف کاکړ ، ملا رمضان هوتک ، ملا سید احمد ، ملا سعد الدین بارگزیي ، ملا داد محمد ، ملا عبدالله ، ملا سیف الله ، ملا حبیب الله او نور.

افغانستان در مسیر تاریخ په خپل ۶۵۰ صفحه کی په دی هکله لیکی:

(... امیر عبدالرحمن خان یوه مدرسه د شاهی مسجد وځنگ ته چې د چوب فروشی په بازار کی وه جوړه کړه. په دغه مدرسه کی یې د ننگرهار او کندهار ځینو ملایانو لکه د لغمان د چهارباغ ملا غلام محمد ، ملا ابوبکر اسحق زی کندهاری ، ملا عبدالخالق د غزنی د اندړو د پای لوچ د کلی ، ته د فقی د تدریس شرعی او قضایي امورو د تدریسولو وظیفه ورکړه چې وروسته د دغو ملایانو څخه ځینی معزول او په عوض کی یې د زابل ملا احمد جان توخی ، ملا گل احمد زیي او نور وتاکل سول. د امیر حبیب الله په دور کی په کابل کی یو جمعیت العلماء موجود ؤ چې د سراج الاحکام د تولنی تالیف او فتاوا په نامه یادیده. په دغه جمعیت کی پنځوسو تنو عالمانو چې بیلی علمی درجی یې درلودی ، د شرعی احکامو د استخراجولو ، تدقیق او ترجمی کولو وظیفه یې درلوده. د دغه جمعیت العلماء چاری بیا د لسو تنو نومیالیو عالمانو لکه ملا گل اخندزاده احمدزی ، مولوی عبدالرؤف کاکړ ، سید غلام محمد ، مولوی عبدالرازق اندړ ، مولوی احمد جان اخندزاده ، ملا لالگل ارغندیوال او نورو تر نظارت لاندی په سر رسیدلې په دغه تولنه کی ځینو ملایانو لکه مولوی محمد سرور واصف الکوزی ، مولوی قیام الدین نیازی هم شمولیت درلود چې

www.sikaram.com

هلته یې په کښته رتبه د افتا وظیفه درلوده او تر دوی نسبتاً ځوانو ملایانو لکه د لغمان د چهارباغ میر سید قاسم او نورو محترمینو وظیفه اجرا کوله.

د لومړی ډلی عالمانو وظیفه د احکامو استخراجول، د دوهمی ډلی وظیفه د هغو ترجمه او کتابت و، د دوی سره بیا د کار د اسانتیا د پاره سردار محمد عثمان خان، سردار نور علی کندهاری، کنړی سید احمد شاه، هندي مولوی نجف علی، هندي ډاکتر عبدالغني هم مرسته کوله. د دغو ملایانو او روشنفکرانو لاسونو ته چې د هند، ترکیي، ایران او عربي هیوادونو د ملیت غوښتونکو او مشروطي ځینی آثار لکه حبل المتین، عدالت، صور اسرافیل او داسی نوری جریدې رسېدلې او د امیر حبیب الله کتابخانې او د ځینو مشهورو سردارانو لکه سردار عبدالقدوس اعتمادالدوله، جمعه خان اعتمادي او نورو په نامه راتلې د کتابخانې مدیر محمد ولي بدخشانی او د ده خوریانو میرزمان الدین، میریار بیګ او د اعتماد الدوله د زامنو جمعه خان او پاینده محمد فرحت په لاس پر دوستانو او روشنفکرانو توزیع کېدې او په مطالعه سره یې دغه کسان کرار کرار د مشروطیت او قانوني حکومت د چلولو په ښیګڼو پوهول. د همدغو سیاسي فعالیتونو د کبله وچې د مشروطي غوښتلو ټولنه جوړه سوه او د حبیبي مکتب یې د یوازینې تاتوبي په څېر وګرځېدی.

دغه ډله چې د داخلي روشنفکرانو، درباري ملایانو، هندي او ترکي معلمانو او صلاحکارانو څخه جوړه سوې وه د پروفیسر غلام محمد میمنګي په لاس یې د (اخوان افغان) او د هندیانو په قول (جان نثاران ملت) په نامه د ګوند د جوړولو عریضه په جلال آباد کی په کال (۱۹۰۵م=۱۲۸۶هـ.ش) کی په دغه عبارت د امیر حضور ته وړاندي کړه: (در بعضی کشور ها مردم به جبر و قوت حکومت را مینمایند تا نظام اداری را تابع آرزوی ملت ساخته شکل مشروطیت و قانونی بدهد، در برخی پادشاه روشنفکر به ابتکار خود و نیت خیرخواهانه قوانین و اصول مشروطیت در مملکت نافذ میسازد چون سراج الملة و الدین پادشاه عالم و ترقیخواه است چنانچه مکتب حربي و نشر سراج الاخبار افغانستان، طبع کتب و آوردن مطبعه و احداث شوارع و عمارات و غیره از مظاهر لطف و توجه شاهانه در جهت مجدد اعتلای وطن است لذا توقع میرود که مجاری حکومت را نیز بر اساس قوانین

www.sikaram.com

مشروط استوار سازند تا از احکام خود سرانه جلوگیری به عمل آمده و مردم در تحت تسلط قانون و نظام مشروطیت به حیات مرفه قرین گردند...).

د دغې ډلې د مرام مهم ټکي دا وه:

د مشروطي راوستل، د سیاسی خپلواکی مستردول، د علم او مطبوعاتو، د اجتماعي عدالت تامینول، د ملي شورا تاسیسول، د ملي وحدت تامینول، صنعت او حرفت ته مخ اړول.

د ګوند هره حلقه پر لسو تنو ویشل سوې وه، چې د ګوند د موسسینو دیوه تر مشرۍ لاندی یی کار کاوه. د حلقو غړو به زیاتره نه سره پېژندل، ګوندي مجلسونه به د شپې پټ د مبلمستیاو او دوستانه لیدلو کتلو په نامه د کابل په پس کوچو او د نظره وتلو ځایونو کی جوړېدل. د مخه تر هغه چې مجلس دایر سي دوی به په قرآن شریف او تورو لوړل، ترهغو به چې مجلس جریان درلود دغه قرآن او توره به د دوی په مینځ کی د قضاوت او ویسا په څېر پرته وه. ګوندي جلسې به په ټاکلي وخت او کله به د ضرورت د مخې هر کله جوړېدې، تصویبونه کېدل، د ګوندي چارو د تنظیم او پر مخبیولو د پاره به کله کله دوو تنو ترکانو فضلي بیګ او رضا بیګ هم مرسته کوله. د ګوند د مدیره هیئت د حلقو د رئیسانو او کله د ګوند د مهمو غړو څخه جوړېدی، د ګوند په یوه مهمه غونډه کی دا هم تصویب سوې وه چې امیر حبیب الله باید د ګوند د غړو څخه چې دی یی ونه پېژني د خپل مشاور او دستیار به حیث وټاکی. وروسته په یوې ګوندي جلسه کی دا هم تصویب سوې وه د دې دپاره چې د ګوند غړي د احتمالي خطر څخه په امان وساتل سي یا د ناوړي واقعې لکه ترور، تعرض او داسی نورو سره مقابله وکړای سي، باید د ګوند غړی توپنچي د ځان سره وګرځوي. د دې سره چې د مشروطي غوښتلو په نهضت کی د امیر حبیب الله اراده شامله وه او دغه نهضت لومړی وار د دربار د عمالو څخه را شروع سوی وو خو څه وخت وروسته د ګوندریږیکلانو او افراطیونو د سیاسي فعالیت مزی په لاس راوړی او د هغه په مخالفت یې په جدي اقداماتو لاس پوری کړي. هغه وخت چې امیر حبیب الله د (۱۹۰۹م) کال په ژمي کی د جلال آباد په شاهي باغ کی قدم واهه، د ګوند دوو تنو غړو چې د امیر جاسوسان او ګماشته ګان وه د ټولو غړو مخصوص د هغو غړو چې امیر یې واژه مفصل راپور ورکړ او هم یې ورته څرګنده کړه چې د دغه ګوند اصلي مقصد د امیر وژل او مشروطیت راوستل دی.

www.sikaram.com

امیر چې د پلار او نیکه څخه د مطلق العنانی او فیوډالیزم په خوند پوه و هیڅکله و دې ته غاړه نه ایښوده چې پر اختیاراتو او صلاحیتو باندی یو څوک محدودیت ولګوي، ده داسی حکومت او باچاهی د ځان عار او بې حیثیتي بلله. امیر غوښتل چې په ظاهري او تشریفاتي توګه مشروطه غوښتونکی او عدالت خوښوونکی وی نه په یقیني او عقیدوي توګه. نو کله چې ده د خپل قتل راپور مطالعه کړ، نو د تحقیق وروسته یې پر دغو کسانو باندی د اعدام او حبس حکم صادر کی: سید جوهر شاه غوربندی د امیر غلام بچه د امیر د خوا په توپنچه ووژل سو او څنګه چې هغه پر امیر ډېر ګران و نو د هغه په وژلو زیات متاثر سو. لعل محمد د جان محمد زوی د امیر خاص غلام بچه په توپنچه ووژل سو. محمد عثمان پروانی د محمد سرور زوی، محمد ایوب پوپلزی دوی دواړه د تیښتې په حال کی د ډکي د سرحد څخه راوګرځول سول او اعدام سول.

هغه کسان چې د امیر په امر د سردار نصر الله خان نائب السلطنه له خوا په کابل کی په توپ والوزول سول: مولوی محمد سرور واصف، سعدالله د مولوی محمد سرور واصف ورور، عبدالقیوم د واصف د اکا زوی او اکایې عبدالرحمن.

د ګوند هغه غړي چې په حبس محکوم سول:

کاکا سید احمد لودین، مولوی غلام محي الدین، عبدالجلال کندهاری، محمد انور بسمل، پروفیسر غلام محمد میمنګی، محمد ولي بدخشانی او د ده خوریان میر یار بیګ او میر زمان الدین، ډاکتر عبدالغني هندی او وړونه یې مولوی نجف علی، مولوی محمد چراغ، مولوی محمد حسین پنجاپی، سردار عبدالحبیب د سردار عبدالوهاب زوی، سردار فتح محمد د سردار ذکریا زوی، سردار عبدالرحمن، محمد ابراهیم ساعت ساز چنداولی، عبدالمجید ساعت ساز، تاج محمد پغمانی، میرزا محمد حسن راقم، احمد علی قزلباش چنداولی، میرزا عبدالرزاق کابلی، قاضی عبدالاحد سلیمانخیل، قاضی عبدالحق ارغندیوال، میر سید قاسم لغمانی د چهار باغ، میرزا غیاث الدین د کابلی مستان شاه زوی چې لوی متصوف او شاعر و، حافظ عبدالقیوم د حافظ نور محمد مجذوب شاعر زوی، شیر علی بارکزی د فراه د چخانسور، ملا محمد اکبر اخوندزاده اسحاقزی، محمد رسول محمد زی اجیدان، امر الدین، په راوروسته کی د رفقای افغان د شرکت رئیس، مولوی محمد ظفر خوتی هندی، عبدالرزاق ارغندیوال، بابا مرګان، فیض محمد هزاره

www.sikaram.com

کاتب، مولان خان د فرقه مشر محمد اکلیل ورور د حبیبی مکتب فارغ التحصیل، عبدالحق د نور الحق پلار چې زوی یې په ظاهر شاهي دوره کی په پېښور کی وکیل تجار، د تجارت د وزارت عالي رتبه مامور او د وطن د ګوند د مشهورو مشرانو څخه و چې د خلقي انقلاب په اوایلو کی ووژل سو.

هغه کسان چې د علم او لوړ ملي حیثیت درلودلو له کبله د حبس څخه ژر وژغورل سوه: مولوی غلام محی الدین افغان پروفیسر غلام محمد میمنګی، د لغمان میرسید قاسم، سردار حبیب الله طرزی، حاجی میرزا محمد اکبر یوسفی د تحویلخانی میرزا په امانی دوره کی په بمبئ کی جنرال کونسل چې په (۱۳٤٥) په کابل کی وفات سو. عبدالعزیز لنګر زمین، د امیر حبیب الله میر شکار محمد اسلم سیغانی، صاحبزاده عبدالله جان مجددی، حافظ عبدالقیوم او نور. وایي چې امیر حبیب الله ویل: ما دغه راپور په اور کی واچاوه، که نه د خدای مخلوق به مي وژلی وای.

امیر حبیب الله ته د راپور ورکولو په اتهام د ځینو داخلي او خارجي کسانو نومونه په خوله اخستل کیږي خو واقعیت دا دی چې د څه عمر وروسته د ګوند یوه غړي امیر ته د راپور ورکولو په نسبت د غلام محی الدین افغان او نورو ملګرو څخه د عفو غوښتنه وکړه او هغوی د خپلي لویي او عالي جنابۍ له مخي هغه معاف کړ او د نامه د افشا کولو څخه یې ډډه وکړه.

په کابل کی به ځینو بدبینانو ویل: چې د دغي افشاګرۍ او امیر حبیب الله ته د راپور ورکولو عاملین په ګوند کی داخل هندوستانیان وه چې په یوه غشي یې دوې مرغۍ ویشتلې. یو دا چې د افغانستان د استقلال طلبۍ او مشروط خواهۍ نهضت داسی ناکام کړي چې د انګلیسانو په ګټه تمام سی بل دا چې په وطن کی معارف بدنام کړی او د معارفو د تعمیم مخ ونیول سی. د دوی د اعتراض مهم ټکی داوه:

که ډاکتر عبدالغنی او د هغه هندی ملګرو د آزادی او ترقی سره مینه درلودلای د آزادی فعالیت به یې په خپل وطن کی شروع کړی وای ځکه هند د افغانستان په نسبت پر دوی باندی زیات حق درلود او دایي هم ویل چې هندی معلمانو د حبیبی لیسی په تدریسی پروګرام کی د نوو علومو لکه ساینس، سیاست د تدریس سره حساسیت ښودی د انګلستان د مستعمراتو تدریسی پروګرام یې په افغانستان کی تطبیقاوه.

www.sikaram.com

که داسی اعتراضونو ته په دقیق نظر وکتل سی زیاته برخه یې د داخلی افکارو او ملی ادابو څخه سرچینه نه ده اخستی بلکه د هغو استعماری توطئو او تنګ نظریو له کبله دی چې غواړی په سیمه کی هر ځای وطن دوست او آزادیخواه عناصر بدنام کړی. د استعمار او مطلق العنانی سره مبارزی یې د خلکو په نظر کی سپکی ورولی او د اسلامی اتحاد د ورور ګلوی په روابطو کی د بیځایه غرور کولو په نسبت خندا واچوی.

د دی څخه انکار نه سی کیدلای چې په ګوند کی به په مطلق ډول د استعمار او یا امیر نمایندګان نه وه موجود حتی امیر د دوی په ځینو فعالیتونو لا پخوا خبر ؤ، چنانچه خپل یو غلام بچه ته یې داسی ویلی وه:

زه خپله دغه شیان چې ستاسی ځینی ملګری یې په فشار او دهشت اچولو غواړی، په کرار کرار عملی کوم، پتو دسیسو او افکارو مغشوشولو ته څه حاجت. د ګوند هغه غړی چې هندیان بلل کیدل یو زیات شمیر یې افغانی هویت او اصلیت درلود. د افغانی کلتور او ملی جذباتو خاوندان وو او د هغی علاقمندی له کبله چې دوی د خپل وطن او ملیت سره درلوده. د انګلیس متابعت او اطاعت یې د ځانو دپاره عار او شرم ګانه او د افغانستان او افغانانو خدمت یې خپله ملی او وجدانی وظیفه ګڼله او په هغه یې ویاړل، ډاکټر عبدالغنی او وړونو یې د افغانستان څخه د هند د آزادولو او په افغانستان کی د مطلقیت د تعدیلولو له پاره ځکه مجاهده کوله چې هند د انګلیس د مطلق فشار او استعماری دباو لاندی ؤ. او دوی ته د دی مجال لږ پیدا کیدی چې د انګلیس د امپریالزم په مقابل کی مقاومت وکړی. هندی مجاهدینو ته دا په وار، وار په ثبوت رسیدلی وه چې افغانستان د منځنی آسیا د آزادی غوښتونکو نهضتونو تاریخی زانګووه او د افغانانو په مرسته د دغی سیمی څخه ډیری جهانکشایی او تهذیبونه خپاره شوی دی، نو د استعمار او امپریالزم سره د مخالفت کولو او د مطلق العنانی د افکارو د شنډولو له پاره افغانستان یوه په زړه پوری تاتوبی ګڼل کیدی.

اعلیحضرت امان الله چې د استعمار او امپریالزم سره نه پخلا کیدونکی مخالفت درلود او د ده د سلطنت په دوره کی چې انګلیسی استعمار او د هغه ګوداګیان په سختی وترتیل سول، نو د هغو مشهورو هندیانو د احوالاتو څخه چې د افغانستان په اصلاحی پروګرامونو کی په صداقت او

www.sikaram.com

افغانی مینی کار کاؤ هر کله د نژدی خبر اخستی او د هغوی خدمتونو ته یی د قدر او اهمیت په ستر گه کتلی او د خپل سلطنت په لومړی مرحله کی یی هغه یو شمیر هندیان چې د مشروطی او تجدد په گناه بندیان سوی وه ژر خوشی کړل او پر خپلو وظیفوی بیرته مقرر کړل. ډاکټر عبدالغنی په راولپنډی کی د افغانستان د صلح او استقلال د بیرته اخستلو د هیئت غړی ؤ او وړونو بی هم په داخل او خارج کی د افغانستان د استقلال د داعیه په حقانیت کی تاریخی کنفرانسونه ورکول. دوی د پاچا د خلع کیدو وروسته بیرته هند ته ولاړل او د انگریز د حکومت له خوا څخه دومره عذابونه او شکنجی ورکړه سوی څو توبه گاریی کړل.

د لومړی دلی مشهورو مشروطه غوښتونکو لنډه سوانح

کاکا سید احمد لودین:

کاکا سید احمد لودین زمور د هیواد دوطندوستو مشهورو ملی او سیاسی مبارزینو څخه گڼل کیږی چې د امیر شیرعلیخان، امیر عبدالرحمن خان د دورو څخه بیا د اعلیحضرت امان الله تر پاچاهی پوری یی د هیواد د بیلو فرهنگی موسسو، اداری او سیاسی چارو د اصلاح کولو په هلو ځلو کی د یو آزادی غوښتونکی، استعمار او مطلقیت سره د مخالف افغان په څیر فعاله برخه اخستی او څرنگه چې یی ملی وجاهت او عرفانی لوړ منزلت درلود نو هر چا ور ته د خپل کاکا او مشر خطاب کاؤ او په دغه لقب زیات نومورې ؤ.

کاکا سید احمد لودین د فیض محمد زوی ؤ چې د ۱۲۷۱ کال د ذیقعدی په پای کی د کندهار د بردرانو په کوڅه کی زیږیدلی ؤ، پلار یی د کندهار د مشهورو ملی مشرانو څخه و چې د امیر شیرعلی خان د لوی سرلښکر سردار محمد رفیق لودین اکاکیدی. ده مروجه علوم د کندهار د علماؤ څخه لوستی او څلور کاله یی په بالا حصار کی د امیر شیرعلی خان خصوصی شاهی مدرسه لوستی د حافظ احمد الدین هندی او سید جمال الدین افغان شاگرد ؤ د سید جمال الدین په آثارو او افکارو کی یی پراخه مطالعه درلوده دی د امیر شیرعلیخان د اصلاحی پروگرام طرفدار او د امیر عبدالرحمن خان په وخت کی په فشار او تجرد اوسیدی او د خپلو اصلاحی او انقلابی افکارو او حرکتونو له مخی څو ځله بندی او خوشی شوی، دارایی مصادره او ضبط شوی ده.

www.sikaram.com

کاکاسید احمد د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین د سلطنت په لومړی مرحله کی د حبس څخه خلاص سو او په کال ۱۲۸۲ کی چې د حبیبی مکتب و پرانستل شو دی د هغه مکتب د ریاضی د معلم په حیث مقرر سو او یو شمیر داسی روشنفکره او انقلابی شاگردان یی وروزل چې د وطن اجتماعی او سیاسی چاری یی د خپل اصلاح طلب نهضت تر پروگرام لاندی راوستلی وو. ده د بیسوادی سره د مبارزی له پاره د (طرز کاکا) په نامه د لیک د زده کړی یو لارښود تالیف کړی ؤ چې خپله ده او د ده ملگرو حتی په محبس کی تدریساوه او محمد حسین په خپل کتاب (انقلاب افغانستان) کی د کاکا پوهه او ملی شهامت یادوی. علامه طرزی محمود د افغانستان د ژورنالزم پلار د سراج الاخبار د اوم کال ۱٦ گنی په ۱۲۹۷ کی د ده په پوهی ویاړی[۱].

کاکا سید احمد لودین په ۱۲۸۵ کی یوځل بیا د مشروطی غوښتلو په گناه بندی شو. هغه وخت چې اعلیحضرت امان الله په (۱۹۱۹) کی پر تخت کښینوست او د افغانستان سیاسی خپلواکی یی حاصله کړه کاکا یی د حبس څخه را خوشی کړ او دوه سوه پونډه یی وروبخښل او ورته دوی ویل: چې تا! څو دی وسه وه د وطن او وطنوالو خدمتونه کړی او زه یی قدر کوم، اوس هم وطن په دی نوی پراو کی ستا اصلاحی او تعلیمی مرستو ته اړتیا لری او د شلو ورځو استراحت ورکولو وروسته یی کاکا د اداری چارو د ناظم د ښوونځیو د کتابونو، رسالو، قرطاسیو د برابرولو په عهده وټاکی. کاکا په دغه اثنا کی د مستوراتو د مکتب او اکابرو د کورسو د معلمی وظیفه هم اجرا کوله او د حربیی په وزارت کی یی د سواد آموزی کورسونه و پرانستل په څلویښتو ورځو کی په هره ورځ کی د څلورو ساعتو د تدریس په واسطه د کاکا د طرز تطبیق عملی کیدی. د ده یوه بله رساله د (رفتار قلم) په نامه مشهوره ده چې په ۱۳۰۵ ش کی د کابل د ماشینخانی په مطبعه کی چاپ شوی ده او د هغو خدمتونو له مخی چې د هیواد معارفو او مطبوعاتو ته یی وکړه، د اعلیحضرت امان الله له خوا څخه په ۱۳۰۳ کال کی د پوهنی لومړی نوښان ورکړه سو. کاکا سید احمد لودین د ۱۳۰٦ ش کال د روژی د میاشتی په یوولسمه ۱۳٤٦ ق کال کی د اسپکی گادی د چپه کیدلو په حادثه کی د عمر په ۷۵ کال وفات شو او په شهدای صالحینو کی خاورو ته وسپارل شو.

۱- سراج الاخبار سال هفتم، شماره ۱۹، ۷ حمل ۱۲۹۷ مضامین قانون اساسی افغانستان و موانع آن.

www.sikaram.com

مرحوم (شایق) د کاکا د وفات په غمجنه پیښه کی دغه مرثیه ویلی ده چې دلته یی د نمونی په ډول څو بیتونه راوړه کیږی:

داد از دست سپهر کینه جو — وای ز جور ستمهای زمان
موسفیدی رفته زین دار فنا — صاحب اخلاق و ظریف نکته دان
داشت صحبت های رنگین با همه — لیك با مادون خود بس مهربان
سید احمد خان افغان آنکه بود — در میان قوم با نام و نشان
غمخور اولاد های این وطن — آن یگانه موجد طرز امان
سر رسیدی بیسوادی پیش او — در چهل روز نمودی نامه خوان
در معارف سالها خدمت نمود — رفت صد افسوس مفت از دست مان
خیر خواه ملت خود بوده است — باد شایق جای او باغ جنان
سال فوتش از خرد کردم سوال — داد پاسخ آن حریف نکته دان
خدمت عرفان چو بودی شغل او — «شغل» وی را پس تو هم تاریخ دان
نا قریب الفهم باشد نکته ام — می نویسم فارسی بیتی روان

در هزار و سیصد و شش برج حوت
رفت کاکا سید احمد از جهان

د کاکا سید احمد سیاسی نظریات:

کاکا سید احمد لودین په لومړی سر کی مشروط شاهی غوښته خو د عمر په اخیر کی چې د مشروطی راوستلو مبارزی وزوراوه، او په افغانستان کی یی تطبیق ورته مشکل ...، نو د جمهوریت طرفداری یی کوله او د هغه د پاره یی تبلیغات او فعالیتونه کول. د کاکا د اصلاحی نهضت د پیروانو او عقیدتمندانو څخه عبدلاحد پغمانی، حافظ عبدالرشید، عبدالروف للندری او عبدالسلام زیات مشهور وو.

په کاکا کی د حمیت، ثبات، قاطعیت زیات خاصیتونه لیدل کیده وایی چې د ۱۳۲٤ ق په ژمی کی په کابل کی کاکا سید احمد د نورو مشروطه خواهانو سره د مولوی محمد سرور واصف په کور کی چې په شور بازار کی ؤ غونډه درلوده. محمد ایوب پوپلزی چې خپله د مشروطه خواهانو یو مهم غړی و یو لیک محمد سرور واصف ته وسپارده چې پکښی لیکل شوی وه: فکر مو

www.sikaram.com

وی چې امیر حبیب الله تاسی نیسی او وژنی مو، زما او د لعل محمد پیش خدمت باشی سره یی هم وضع بدله سوی ده او د اعتماد په سترګه نه راته ګوری، دغه لیک مجلس څه مضطرب او فکر جن کړ، خو په پای کی کاکا ملګروته مخ واړاوه او ورته وی ویل: اختر پټ میږه نه دی د وطن او قوم خدمت د فداکاری او جانبازی پرته په بل څه نه شی کیدلای، حقوق اخستلی کیږی، ورکول کیږی نه، مور د مرګ او درد څخه باید ونه ډارسو مجلس ته باید همدغسی جدی دوام ورکړو او پرخپلو فیصلو ټینګ ودریږو (و اذا عزمت فتوکل علی الله).

هغه وخت چې په شوربازار کی د ده غیور او وطندوست زوی عبدالرحمن لودین پر امیر حبیب الله قاتلانه د تمانچی ډزی وکړی او د مخه تر هغه چې عبدالرحمن د خپل پلار (کاکا) سره په زندان کی یوځای سی د امیر حبیب الله جاسوسانو او پټو پولیسو د کاکا څخه د ده د زوی د دغه عمل په هکله پوښتنه وکړه؟ کاکا ورته وویل: زما د لاسو او پښو څخه یوځل زولنی اواتکړی وباسی کله چې د کاکا دغه خواهش ومنل شو، کاکا دوی ته وویل: زما زوی چې کوم عمل اجرا کړی دی کړی به یی وی، خو ستاسی دسیسی او شواهد دیر نامردانه او شرمونکی دی ولی چې تاسی وایاست چې د شوربازار د یو بام څخه هغه پر امیر ډزی کړی دی او د بازار دواړو خواؤ دکاندارانو هغه لیدلی او شاهدی یی باندی ادا کړی ده. په داسی حال کی چې هغه د شوربازار د یوی خوا د بام څخه فیر کړی دی، امیر حبیب الله ته چې دغه اعتراض ورسید په قانع سو او عبدالرحمن لودین یی سمدلاسه ونه واژه.

د (ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان) په ۱۰۵ مخ کی د کاکا سید احمد لودین د ملی شهامت او ترت ګویی په هکله داسی لیکی: **(... روزی زندانیان اطاقی را باز کرد، صدا زد که محبوسین فقره داکتر عبدالغنی بیرون بیایند، چند نفر بیرون رفتند کاکا سید احمد خان لودین قندهاری مشهور به کاکا نیز در آن اطاق بود، از او پرسیده شد که تو هم در فقره داکتر غنی بندی هستی؟ کاکای موصوف در حالی که داکتر غنی هم در آن اطاق نشسته بود، به دشنام رکیکی به زبان پشتو داد:** چې زه د داکتر غنی ښځه داسی او داسی کوم، زه په خپله فقری بندی یم... **در ماه حمل ۱۳۱۹ (۱۹۳۰) وقتیکه میر صاحب سید قاسم بعد از هفت سال از محبس ارګ رها شد، دوستان به دیدن او به خانه می**

www.sikaram.com

آمدند، یك روز محمد قدیر تره کی نویسنده زمانی رئیس مستقل مطبوعات به دیدن میر صاحب آمد. در ضمن مصاحبه پرسید که آیا چنان سوال و جواب حقیقتاً بین کاکا سید احمد و بندیوان محبس در حالیکه داکتر غنی هم نشسته بود صورت گرفته بود میر صاحب تائید نمود که آن گفت و شنود به همان ترتیب راست است.

د کاکا سید احمد لودین مشهور آثار دا دی: ضیاء الحساب، شرح صرف و نحو عربی، کلید خزاین قرآنی، مجموعه اصول متداوله، لومړی او دوهمه مقاله، په پښتو او فارسی منتخبات کاکا، د کاکا د اشعارو مجموعه، صرف و نحو افغانی، د کاکا د ژوندانه سوانح د ده په خپل قلم، د سواد د زده کړی د نوی طرز کتاب، کاکا په ریاضیاتو، فزیک، هندسه، فلسفی کی لوی لاس درلود، تحریر اقلیدس یی په پښتو اړولی ؤ، د کاکا د عرفانی خدمتونو په درناوی اوس په کندهار کی یو بنوونځی د کاکا سید احمد په نامه مشهور دی(۱).

مولوی محمد سرور واصف:

د ده پلرګنی د کندهار د ارغستان د بالا ژړی د آزاد خان د بهدین خان الکوزی د زوی د کورنی څخه را شروع کیږی. خپله مولوی محمد سرور واصف د مولوی احمد جان الکوزی زوی ؤ چې پلار یی د امیر عبدالرحمن خان د دربار د مقربینو او د هغه دربار د مشهورو ادیبانو او شاعرانو څخه ګڼل کیدی، مولی احمد جان د قضا په چارو کی ماهر او په ۱۳۱۱ کال کی یی اساس القضات ولیکی چې د قاضیانو له پاره یی د یوی نظامنامی حیثیت درلود مولوی محمد سرور واصف د حبیبی په مکتب کی د ادبیاتو معلم او د ۱۳۲۳ کال څخه د سراج الاخبار د محررینو څخه ګڼل کیدی. مولوی صاحب د پاچاهی د مقام موئید او د پاچا ترقیادت او لارښوونی لاندی یی د دین او دولت ترقی او بریالیتوب غوښت دی د مشروطی غوښتلو د نهضت د اعتدالی غړو څخه ګڼل کیږی. د ده د تفکر طرز او سیاسی عقیده د هغی مدحیی او ستاینی څخه چې د سراج الاخبار په لومړی ګڼه د ذیقعدة الحرام په ۱۵ - ۱۳۲۳ کی د (قصیده مدحیه و عظیمه

۱- مجادله با بیسوادی (رساله) د پوهنی وزارت چاپ.

۲- آزاد افغانستان (جریده)، ۶۲ ګڼه ۱۳۲۳ - ۷ جون ۱۹۵۲ دریم مخ.

۳- اوسنی لیکوال لومړی ټوک ۱۳٤۰ کال.

www.sikaram.com

طیغرا و فصاحت و بلاغت نشان محمد سرور خان ابن مولوی احمد جانخان مرحوم قندهاری المتخلص به (واصف) تر عنوان لاندی خپره شوی بنه څرګندیدلای شی:

الحمدلله که از آثار و رحمت یزدانی
خد بوداد گر شد بر بنای عدل ربانی
لوای دین به عهدش آسمان سا گشت در عالم
که از رفعت زند صد طعنه را بر چرخ کیوانی
رواج حکمت ایمانیان آمد که از رشکش
به خاك تیره یکسان گشت حکمت های یونانی
فروغ جوهر دانش فروبگرفت عالم را
سوار جمل شد از لوحهء جان جهان فانی
فزود از پرتو دین لمعهء انوار دانش را
زدود از چهرهء مرآت دهر آثار ظلمانی
مدارس را که بر پیرایه دولت مشید شد
مساجد را که بر زیب طراز دین شدش بانی
معارف را رواج داده در اسلام نیکوتر
حقایق را اساسی ماند محکم در جهان باقی
خصوص اخبار کزوی مایه عبرت شود پیدا
ز اخلاق حسن جان را دهد تادیب روحانی
به نور آن جریده کز سراج الاخبار نام آمد
همبدون دیده جان جهانی گردید نورانی
منافع را بود مظهر نتایج پرورد، در سر
درخت فیضش آرد بر همه پند و زبان دانی
همه حالات عالم اندران پیدا چو جام جم
و یا آئینه اسکندر و از فرو درخشانی
کسی که این گلستان بخردان را کرد گل چینی
اگر خود طفل باشد سیر کند مشق سخندانی

www.sikaram.com

بشارت باد اهل فضل و دانش را ازین مژده
که باغ بخردی را آمد اکنون وقت ربانی
یکی ایعالم ایمان نگاهی کن به کیهان بر
روان بیدار دار از نشهء خواب گرنجانی
بنال از پستی سستی به اوج پایه دانش
گران شو، سوی جمعیت از ملك پریشانی
ببین اصناف عالم را ترقیهای پی در پی
چی تمسا و فرنسا وچه جرمانی چه جاپانی
کسی کز دوحهء تهذیب بار کام دل چیند
به گینی فایق آمد از همه اقران انسانی
نگر اقلیم جاپان را که با آن فترت فطرت
چنان بر اوج رفعت کرد بنیاد پر افشانی
اروپا فخر کردی بر جهان در سبقت و اکنون
ز رسم ایشیا افتاد در گرداب حیرانی
قدم در عرصهء جهد و مروت بان و جهدی کن
که از قید دسایس رخش همت را بیرون رانی
نهال دین و دولت را به همت آبیاری ده
که آرد میوه افضال و رحمت های یزدانی
به جوش غیرت دین پختگی می بایدت حاصل
که تازین عالم خامی کمیت عزم بجهانی
به صدق خاطر امدادی بده (اخوان) دینی را.
بشوی از لوح دل زنگار تسویلات نفسانی
هدایت بخشد ایزد هر کرا در راه دین کوشد
ثبوتی دارد این معنی به استدلال قرآنی
خوشا حال کسی کاندر غریبی بار دین باشد
کند صرف مروت در ترقیهای ایمانی
تکلف بر طرف نی در پی تزئین الفاظم
چو معنی راستان گویم چی عبرانی چه سریانی

www.sikaram.com

نه گـویم اینکه سـحـبـانم و لیکن اینقـدر دانم
که همـچون شاعـران دون نیم در خال و خطغانی
سخن از بهـر دین گـویم ز حق اعـلای دین جـویم
ره توبه همی پویم بسـر زالوده دامـانی
خـداوندا به ذات پاك اوصـاف جـمـیل خـود
به قـرب حـضـرت شـاه وسل آن شـمع ایمانی
بکن بر حال این پژمردگان از فـیض خود رحمی
کـه بس درمـانده ایم از سورت اغـوای نفسـانی
نظامی بخش سلك رشـتـه دین پیـمـبـر را
قـوای ملت مـا را ز حـمـیت دار ارزانی
عطا کن دولت اسـلام را از فـضل خـود رونق
نبـود مـعـرفت شـمع دیانت سـاز نورانی
شـهـان ملت اسـلام کـه اکنون اند در گـیـتی
بده توفـیق شـان در قـوت دین مـسلمـانی
سـخن کـوتاه باید (واصـفـا) در رسم دانایان
کـه تطویل کـلام آرد مـلال طبع انسـانی

مولوی محمد سرور واصف په خبرو کی فصیح او قاطع ؤ دی د امیر حبیب الله د وژلو په اتهام او مشروطی غوښتلو په تور د مخالفینو په سعایت او شکایت په ۱۲۸۵ کال په کابل کی په توپ والوزول شو.

وایی چې ده تر مرینی د مخه په خپل دغه شعر کی خپل حالت داسی بیان کړی ؤ:

ای فلـکه جـفـا کـاره کـار دی نـشته بی آزاره
گـل لا نـه وی خـندیدلـی چې یی پریکړی له شاخساره

مولوی واصف هغه وخت چې وژل کیدی خپل تریور یار محمد ته یې یو لیک ورکړي ؤ چې څو کاله د مرګه وروسته یې ولوستل سو او دا یې مطلب ؤ: (... آزادی، مشروعیت، ملی حاکمیت زمور مسلمانانو فطری حق دی، د ملی جهاد او اسلام په نامه می مبارزه وکړه، په داسی حال کی

www.sikaram.com

چې پر خدای ایمان لرم او مسلمان یم او کلمه طیبه لا اله الا الله محمد رسول الله می پر خوله ده، پر امنت بالله و ملائکه تر آخره ایمان لرم، پاچا او اسلام منم خو د خواشینی ځای دی چې د هغه په مخالفت قربانی کیږم.

ترک مال و ترک جان و ترک سر در ره مشروط اول منزل است

وایي چې مولوی محمد سرور واصف ته وویله سوه د دی دپاره چې د حتمی مرګ څخه خلاص سی ووایه چې د مشروطه خواهانو څخه نه یم، ماته څو تنو د وطن او دین دښمنانو او خارجیانو فریب او دوکه راکړی وه. ده په زهر لړلی تبسم او مسلو ځواب ورکړ: **خود من به اراده خود اینکار کرده ام و احدی به من تلقین نه کرده و نه از کسی فریب خورده ام، بر راهیکه رفته ام، حق است و در راه حق مرگ را افتخار میشمارم، اخوان افغان که در راه آزادی و مشروطیت زحمات متحمل شده اند، برای سعادت ملت افغانستان است هیچ کسی از اجانب درین تحریك مقدس دستی ندارد...).**

د مولوی محمد سرور واصف یو مشهور اثر د (تاریخ ادریسیان و حمودیان و موحدین افریقایی شمالی) په نامه یادیږی چې د عربی څخه یی په فارسی ترجمه کړی او خطی نسخه یي په ملی آرشیف کی ساتل سوی ده.

د دغی کورنی نور غړی چې د مشروطی غوښتلو په ګناه وژل سوی او یا بندیان سوی دی نومونه یي دا دی:

سعد الله خان د مولوی احمد جان تاجر زوی، د مولوی واصف ورور چې په کال (۱۳۲۷ ق) کی په توپ کی والوزول سو، عبدالقیوم خان د نور محمد زوی د محمد عظیم لمسی، د احمد جان تاجر اکا چې په کابل کی د ګمرک مامور و په توپ کی والوزول سو. عبدالرحمن خان د مولوی محمد سرور اکا چې په شیرپور کی بندی او همهلته مړ سو.

وایي مولوی واصف هغه وخت چې یي د توپ خولی ته دروی دا رباعی یي ویله:

روزیکه شود اذالسماء انفطرت واندم که بود اذالنجوم انکدرت
من دامن تو بگیرم اندر عرصات گویم صنما بای ذنب قتلت

www.sikaram.com

مولوی غلام محی الدین افغان:

دی د عبدالرشید زوی او د هغو وطنپالو، آزادی غوښتونکو او پر ترقی مینو افغانانو څخه و چې د (۱۲۷۹ ق) په شاوخوا کی په کندهار کی زیږیدلی و. مولوی صاحب په خپله حسین خیل جمریانی و چې د پلار څخه په وړوکوالی پاته سوی ؤ. تربیه او روزنه یې اکا چې په (بادار) مشهور ؤ کوله. ده په اتلس کلن سن د کندهار په دارالعلوم او جامعگانو کی مروجه کتابونه ولوستل او په (۱۲۹۸ ق) کی د خپل اکا سره چې د سردار محمد ایوب خان د طرفدارانو په ټل کی ؤ مشهد او بیا هند ته فرار سو ده د لاهور راولپنډی او پیښور په بیلو سیمو کی تعلیم بشپړ کړ، په فارسی، اردو، انگلیسی، عربی او سانسکریټ ژبو پوهیدی لکه چې وایی:

بیا راته گویان سو هغه ځوان په دی مضمون

ستا خو هم څه زده دی یا نه هسی یې پښتون

ما ویل چې پښتانه خو دی په علم کی جیحون

زه یم له هغو نه یو ادنی سړی کړمون

په اتو ژبو پوهیږم درته وایم مختصر

یعنی په پښتو او په هندی کی یم ماهر

عربی او انگلیسی خو هم پوهیږم په ظاهر

گور مکهی او شاستری ته په ښه شان یمه حاضر

په اردو او فارسی کې یاره زه یم محرر

نور علوم هم را معلوم دی برادره ماش قدر

مولوی صاحب د منشی فاضل علمی رتبی ته رسیدلی ؤ، څرنگه چې یې په ایران کی د سید جمال الدین افغان د مشروطی غوښتلو او د ناصر الدین شاه قاجار په مقابل کی د آزادی غوښتونکو مبارزی د نژدی لیدلی وی، حساس او دردمند زړه یې درلود. د استعمار او امپریالزم د سیسو، د ډیوایډ اینډرول پالیسي (وی ویشه او حکومت پر وکړه) چې د افغانانو د ژوندانه د چارو د گډولو او ورانولو له پاره عملی کیده ډیر څو راوه، د دغو جذباتو او ملی احساساتو په پیروی دی د (۲۵) کالو تبعید او جلا وطنی وروسته هغه وخت چې امیر حبیب الله تولو فراریانو

www.sikaram.com

ته وطن ته د راتلو اجازه وکړه، په (۱۳۲٤ ق) وطن ته راغی. لومړی ځل د کابل د ښار د مکتبونو د ممتحن او په (۱۳۳۳ ق) کی د حبیبی د بیت العلوم د مفتش او په (۱۳۳٤ق) کی د دارالمعلمین د مدیر په حیث مقرر سو.

مولوی صاحب د افغانستان او افغانیت، سیاسی آزادی ګټلو، حق، عدالت، مساوات د راوستلو علم او معارف د خپرولو او مشروطی راوستلو په لار کی نه هیریدونکی خدمتونه کړی او د سراج الاخبار د پښتو د لومړنیو او ملت پالونکو لیکوالو څخه ګڼل کیږی افغان د وطن د علمی، اجتماعی سیاسی حالاتو د خپریدلو او تبصری کولو او روشنفکرانو ترمنځ د زیاتو تماسونو حاصلیدلو په منظور یو کلوب د اجتماعی افکارو او تبادلی په نامه جوړ کړی ؤ چې مهم غړی یې میر سید قاسم لغمانی، مولوی فتح محمد ارسلا جبار خیل، ګل احمد، عبدالجبار جبارخیل، عبدالهادی داوی، شیر احمد، سید محمد هاشم لغمانی، محمد ابراهیم چنداولی او نور وو. دکلوب منتظم فتح محمد جبار خیل ؤ. د کلوب غړو به کله کله سیاحتونه کول او د سیاحتونو چارو تنظیم یې د مولوی عبدالجبار ارسلا د پوهنی وزارت د دوهم معین په غاړه ؤ او خپله عبدالجبار هم د اخوان افغان د سیاسی لاری مل ؤ او په هند کی یې تحصیلات بشپړ کړی وه، په انګلیسی او اردو ژبو ښه پوهیده او په امان افغان کی یې ډیری ترجمی او مضامین خپاره سوی دی.

مولوی غلام محی الدین افغان د (جان نثاران ملت) د ګوند د موسیسنو څخه ګڼل کیږی، او په دغه جرم په (۱۳۲۷ق) کی د خپلو نورو ملګرو سره د کابل د بوستان سرای په بندیخانه کی محبوس ؤ، دی امیر حبیب الله خان څکه ونه وژلې چې ملی محبوبیت او د اتحاد کل منزلت یې درلود.

افغان په ګوند کی د امیر د وژلو د افراطی عمل سره څکه مخالفت ښکاره کاوه چې روشنفکران لږ دی، فیوډالی روابط د پخوا په شان محکم دی، د قومونو په منځ کی واحد نصب العین او اتفاق نسته، که پاچا ووژل سی هرج و مرج پیښیږی داخلی او خارجی ناوړه لاسونه راغځیږی، د وطن او وطنوالو منافع په خطر کی لویږی. ده په خپلو وروستیو وصیتونو کی شاګردانو ته دا ویله: د افغان او افغانیت په شعایرو ژوند وکړی. او یو شمیر شاګردانو یې هم په

www.sikaram.com

تینگه دغه وصیت پر ځای کاوه. د دی سره چې په فارسی، انگلیسی، اردو او عربی ښه پوهیده خو بیا یې هم د پښتو سره د مینې په نسبت خپل ټول لیکونه په پښتو لیکل. افغان د پښتو سره د مینې له کبله په (۱۳۳۰ق) کال کی د فوټبال د لوبی د پاره پښتو اصطلاحات لکه تیر (گول) وروال (گولکیپر) مخکښ (فارورډ) او داسی نور وضع کړه او دا د ده یوه نظریه وه چې پخوا تر دی چې پردی نومونه او اصطلاحات په هیواد کی رواج و مومی باید د هغو مخ ونیول سی او پښتو نومونه او اصطلاحات ورته وټاکل سی ځکه د پردیو معمولو لغاتو اخستل بیا له ژبی څخه څه آسان کار نه دی. مولوی صاحب خپله د هاکی او فوټبال یو بریالی لوبغاړی ؤ.

لکه چې د مخه ذکر سوه افغان د (جان نثاران ملت) د گوند د موسسینو څخه گڼل کیږی (۱۳۲٦ق) چې په ابجد حساب هم د غه نیټه ځنی څرگندیږی:

ج=۳، ا=۱، ن=۵۰، ن=۵۰، ث=۵۰۰، ر=۲۰۰، ا=۱، ن=۵۰، م=٤۰، ل=۳۰، ت=٤۰۰ چې د ټولو مجموعه (۱۳۲٦) کیږی.

د افغان په کوټه کی چې د شوربازار د پراچه ؤ په سرای کی وه په ټاکلو وختونو کی به هر کله د (جان نثاران ملت) چې ځینو به (جان نثاران اسلام) او یا (اخوان افغان) هم بلل ټولنه کیده او د مجلس تر شروع د مخه به یې په قرآنکریم او توری قسم کاوه او تر څو چې به مجلس دوام درلود، د غه شیان به د دوی په منځ کی پراته وو، د گوند راز داسی ؤ انما المومنین اخوة ځواب یی: من یتوکل علی الله فهو حسبه.

افغان اسلامی او وطنی خدمت ته د افغانیت او ملیت د لاری ترجیح ورکاوه او ویل به یې: تر څو افغان یو، مسلمان یو. د ده د فکر طرز اسلام او وطن دوستی د دغه شعر څخه ښه څرگندیدلای سی:

زما زړه د وینو ډک دی بیقرار ... نن ستم د کافرانو سو بسیار

د رسول د رویه فضل وکړی ربه ... په امت د خپل حبیب بزرگوار

ستمونه د کفارو چې حساب کړم ... دوی تیر سوی دی د حد او له شمار

دوی په زړه کی رحم نسته د اسلام ... جوریې ډیر لکه جوریه اهل النار

طاقت نلرم چې لږ بیان یې وکړم ... دوی جفا له ستمونو څخه اخبار

دعاد (افغان) دا دی څه القصه ... چې دی تا وی ټول د ښمن ذلیل هم خوار

www.sikaram.com

مولوی غلام محی الدین افغان خپله وطنی مینه او د ملیت احساس په خپل یو شعر کی داسی بیانوی:

زړه زما ډک دی له مینی د وطن — خپل وطن ماته عزیز دی تر خپل تن
هر یو گل می د وطن پر ما ډیر گران دی — تر کشمیره، تر پاریسه، تر لندن
شیرین ځان می په شیرین وطن فدا دی — زه خو دارنگه فرهاد یمه کوهکن
گلستان می د وطن لا در کنار وی — خارستان دی د وطن راته گلشن
د وطن په حمایت کی ځان مباح دی — په دامینی کی لازم دی سر باختن
چې د چا په سر سودا د وطن نه وی — سر د ده دی مستحق د بریدن
چا په زړه کی چه جنون د وطن نه وی — د هغه زړه خدای همیش لری غمجن
که څه ډیر دی په جهان کی عزتونه — ډیر عزت دی په خدمت کی د وطن

افغان په عمومی جهانی شخړی (۱۳۳۲ - ۱۳۳۶ق) کی د ترکانو په طرفداری او د انگلیسانو په مخالفت یوه قطعنامه په خپلو وینو چې ملگرو یې هم امضا کړی وه د هند وایسرا ته د لیږلو له پاره تسلیم کړه، د ده دی اقدام د انگلیسانو مخالفت ته د مسلمانانو احساسات راوپارول او په ضد یې هر ځای د ترک موالات او دښمنی پرغونه راپورته سول. افغان د هیواد د ترقی او وطن د نیکمرغی له پاره د علم او کمال زده کړه ضروری بلله او داسی یې ویلی دی:

بی کمال و با کمال کله همسر دی — هم قیمت کله گوهر سره حجر دی
باکمال سړی په مثل د پاچا دی — په ظاهره که مفلس او قلندر دی
که لباس د بی کمال وی د زربفتو — دایې ځل وی د حریرو هغه خر دی
که لباس د باکمال وی د کرباسو — کمال ده لره خلعت دی هم زیور دی
څوک چې نه لری کمال واوره افغانه — که غنی وی لاخو تانه مفلس تر دی

مولوی غلام محی الدین په (۱۳۰۰ش) کی د هیضی په ناروغی وفات سو.

پر قبر باندی یې د څلی د علامی په شکل سنگی لوحه چې پنځه متره لوړوالی لری د خپلو ملگرو له خوا جوړه سوه او داسې باندی لیکلی سوی دی:

یا ایها النفس المطمئنه ارجعی الی ربک راضیة مرضیه فادخلی فی عبادی و دخلی جنتی.

www.sikaram.com

مولوی غلام محی الدین افغان په کندهار کی متولد سو او هلته یې د دینیات معلومات حاصل کړه، پس په معیت د سردار محمد ایوب خان په راولپنډی او لاهور کی د فرار په حالت کی د انګریزی مکتبو څخه یې جدید تعلیم واخست چې بیرته کابل ته راغی د امیر حبیب الله خان په عهد د مکاتب ابتدائیه وو ممتحن مقرر سو. پس له خدمت د ۱٤ کالو د معارف د امیر امان الله خان په روښان دوران کی د دارلمعلمینو مدیر مقرر سو او هغه خیالات او ارادی یې د اصلاح او ترقی د ملت چې د وولس کالو پخوا په مجلس کی د (جان نثاران ملت) معاقد کړی وی د ظل الهی تر سیوری لاندی پخپله ثمر ته ورسیدلی په دا کیف مطمئن او عبادالله په خدمت کی داخل و، چې په اجل دوبای هیضه و خپل پروردګار ته راجع سو او د تولو څښتن تعالی دی یې په جنت کی داخل کړی دا دعا د (اخوان افغان) په یاد، د هغه د وطن دوستی او وفا د زړه څخه خیژی:

چې په یار پسی تر ځان او جهان تیر وی　　څوک کولای سی دا هسی مشقت

د شپیتو کالو د اصلاح تجرد او ځوانی په ژوند کی ملګری د ځوان مردانوو، اهل او صالح د هر مشرب تول یې امرزش غواړی:

بروز مرګ که یوم وصال یاران است　　کسیکه دست من آندم گرفت یار آن است

تاریخ وفات چهارشنبه ۱۱/ اسد/ ۱۳۰۰ مطابق ۲۸/ ذیقعده/ ۱۳۳۹ ده د عمر تر پایه ماینه ونه کړه، پرنګی توپی یې پر سر نه کړه او په کراهیی کوته کی اوسیدی چې د مرینی وروسته د اطاق د څوکالو پاته کراهیه یی ملګرو تادیه کړه).

ضیاع افسوسناك:

(جناب مولوی غلام محی الدین افغان مدیر دارالمعلمین که خود رایگانه فدایی ملت افغان قرار داده همیشه فداکار راه ترقی ملت سعادت ابدی میدانستند و خدمات نمایان و شایانی در معارف ابراز نمود چی همین قدر معلمین که در مکاتب ابتدائیه خطه مقدسه وطن شرف ملازمت دارند، اکثر آنها تربیت یافته دست اخلاص اساس شان است که از دارالمعلمین به مفاخرت تعلیمیه اولاد وطن ممتاز گردیده اند. جناب موصوف زبان افغانی، عربی، فارسی، اردو، پنجابی، انګریزی، کور مکهی، شاستری و غیره را به درجه کمال دارا بود، چند کتاب مفید را جهت یادګار تالیف و ترجمه کرده اند. علاوه بر همه اوصاف و کمالاتیکه داشتند مدت سه سال رئیس مجلس افغانی (افغانی کلب) را در هند و غیره

www.sikaram.com

ریاست کردند. به تاریخ یوم چهارشنبه ۱۲ برج اسد (۱۳۰۰ش) به ده بجه یوم مذکور به اجل (ولکل اجل کتاب) روزنامه حیات شان به انجام رسانید و از دست ساقی (قل یتوفی کم ملك الموت الذی و کل بکم) به مرض هیضه شربت ممات چشید. دار محنت آباد دنیای غدار را ترك و به عشرت سرای دارالقرار رحل اقامت نمودند، دنیا به بهشت رحمت پروردگار یافت، با ساکنان عالم علوی اقرار یافت (انا لله و انا الیه راجعون).

فردای آنروز پنجشنبه جناب جلالت ماب وزیر صاحب معارف در شیوه الطاف خاصیکه درباره مخلص دولت و ملت دارند و یگانه خیال نیکو فال شان افزای است جهت تسلیت به خاطر معلمین و طلبه مدیر مرده تشریف آورده بر تسلی بخشی نفر حفاظ جید را به وجوهات نقد خورسند ساخته جهت ختم کلام مجید و فرقان حمید به ارواح مرحومی گماشته، دو وخته طعام و ناشتای صبح و غیره مصارف و آسایش لازمه به بسیار خوبی و درستی مقرر داشته که عرصه سه روز بالای مقبره مصروف ختم کلام و طالب مغفرت باشد از درگاه خداوند بیزوال بقای عمر اعلیحضرت امان الله را طلب گارم و از فرط رحمدلی و رعیت پروری بنابر متابعت و خوشدلی رعایای شاهانه خود چنین سرپرستان خلیق و شفیق مامور و مقرر فزوده اند که بعد از مرگ نیز در آرامی و خوشحالی شان صرف مساعی مینمایند، ثانیاً از بارگاه رحمانی برای مرحومی طلب بخشش و غفران میکنم.

فقط مورخه شنبه ۱۵ برج اسد سنه (۱۳۰۰ش) محمد جعفر سرکاتب دارالمعلمین.

د افغان په مرثیه کی (کوثری) هندو یو شعر ویلی دی چې څو بیتونه یې دلته را نقل کیږی:

لك یا منازل کابل لمنازل	بقلوبنا ادخل فیك حلاحل
علامة العلماء بالعلم الذی	لاینتهی و لکل علم فاضل
غلبت محاسنه خصایل کلهم	فکنا فیهم هزیر باسل
مضت الدهور فما وجدن مثله	بسخاوة و بشجاعة هو وابل
یا دهر ویلك قد نهیت کریم هم	فی ذی حب انت حب قاتل
فی السبع و العشرین من ذیقعده	من ربه جاء الیه النائل

د افغان تر وفات وروسته د ده ملګرو د ده په یاد او درناوی یو شرکت د (رفقای افغان) په نامه جوړ کړ که څه هم په ظاهره یې تجارتی بڼه درلوده خو په حقیقت کی د افغان د افکارو د وړاندی بیولو او د ملګرو د نظریاتو د تبادلی کولو یو مهم تاتوبی و.

www.sikaram.com

د لغمان د چهارباغ میر صاحب سید قاسم:

د هیواد د علمی او سیاسی لوړو شخصیتونو څخه شمیرل کیدی. د علم او معرفت علاوه یې د اجتماعی او سیاسی چارو د اصلاح کولو، د مزخرفاتو او واهی رواجونو او عاداتو د له منځه وړلو، د حق، عدالت، مساوات د موازینو د پیاوړی کولو، د پاچاهانو د مطلق العنانی او عیاشی د راګرځولو په لار کی یې نه ستړي کیدونکی مبارزی کړی او د مشروطی غوښتونکو د هغی جملی څخه ګڼل کیږی چې د وخت د حکومتونو څخه یې ډول، ډول فشارونه او تکلیفونه لیدلی او په وار، وار جیل ته لیږل سوی و.

میر صاحب په اصل کی د لغمان د چهارباغ و. درباروته د ده د کورنی د هسک او روحانی منزلت او علمی رسوخ څخه د استفادی په منظور دی او د ده پلار د دولت په ځینو چارو کی خپل همکار ګرزولی وو او پلار یې ملا غلام جان (سید غلام محمد چهارباغی) د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین او د هغه د کورنی د ځینو غړو استاد او مرشدو. د میر صاحب افکار د حبل المتین، صور اسرافیل او داسی نورو هندی، عربی او ترکی جریدو په لوستلو سره د آزادی او مطلقیت د رفع کیدلو په خوا خوځیدلی وه.

میر صاحب د حبیبی د مکتب د لومړنیو بنوونکو څخه و چې د تاریخ او فلسفی د تدریسولو په اثنا کی یې شاګردان د خپل هیواد فرهنګی او تاریخی اصالتونو ته ملتفتول. د استعمار، استبداد او جهالت و تر تلو ته یې هر کله تحریکول او ځان ته یې خاص شاګردان او پیروان درلودل. میر صاحب د مشروطی غوښتلو په تور په (۱۳۲۷ق) کی بندی سو. خو د کورنی د منزلت او علمی تبحر له کبله ژر خوشی سو. اروابناد عبدالله پوپلیار (دی د عطا محمد پوپلزی خولی ګډونګی زوی و چې د نادرشاه د قاتل عبدالخالق همصنفی او دوست و او په دغه جرم تر زیاتی مدی پوری د کابل په دهمزنګ کی بندی و) په خپل یو یاداشت کی چې د میر صاحب د زوی سید مسعود پوهنیار د اثر په مستندولو کی یې وړاندی کړی په بند کی د میر صاحب د ثبات او شهامت په هکله لیکی: **(به یاد دارم که در یکی از سالهای که زندانی شدم همچو یك عریضه طویل، طور مار شکل به تقریب روز ۲۷ رمضان مملو از سپاس و مدحت و با فروتنی های اغراق آمیز نگارش یافته بود که هرگاه حضور پرنور عصیان بخش معظم شان از روی**

www.Sikaram.com

مراحم بیکران تقصیرات گذشته ما را به نظر اغماض دیده نسبت به رهایی این توبه گاران بذل اشفاق فرمایند شب و روز را تا دم حیات در کنج کلبه های حقیرانه خویش عزلت گزین شده چون تائبان اخلاص کیش به دعای سلامتی حضور معظم و مبارك به سر خواهیم برد. مرحوم عبدالهادی داوی عریضه را پس از تسوید و امضا به برادر و خواهر زاده خود که یك جا محبوس بودند سپس تا آنرا به امضای خود و دیگر محبوسین برساند. چون عریضه نزد میر صاحب آوردند، میرصاحب از امضای آن امتناع ورزید. همچنان یکتعداد شاگردان او با فرقه مشر فتح محمد هزاره سید غلام حیدرپاچا، احمد جان رحمانی و چند نفر دیگر نیز از امضا خود داری نمودند. لذا کسانیکه عریضه را امضا کرده بودند، بر میر صاحب افروخته شده اعتراض نمود که عدم امضای شما در عریضه باعث شد که چند نفر دیگر را نیز جدی ساخته از امضا خود داری کنند. میر صاحب گفت امضا کردن و نه کردن عریضه یك مسئله شخصی است. هرکس هرچه میکند اختیار دارد. اما عقیده من این است که هر قدر از این عرایض و تضرع نمائیم در نزد مقامات بالا اثر نمی بخشد. زیرا مجرم نیستم بلکه ما با استبداد و مطلقیت مخالف میباشیم. مقامات میداند که این مفکوره از ما زائل شدنی نیست پس چرا ما خود را با این چنین عرایض حقیر و ذلیل نمائیم).

میرصاحب د نړی په لومړی عمومی جنگ کی د نورو ملی مجاهدینو د لیډرانو په څیر د ترکانو په طرفداری په جنگ کی د افغانستان د ورګډیدلو په خوا و او د افغانستان د سیاسی خپلواکی د ګټلو لاره یې هم په دغه حرکت کی لټوله. د میرصاحب د فکر طرز او سیاسی روش د (امان افغان) د (۱۳۰۲ش) د حوت د ۲۸ او د (۱۳۰٤ش) چهارشنبی د جدی د ۸ ګنی څخه چې دی یې خپله چلوونکی و، ښه څرګندیدلای سی:

(افغانستان و همسایه های جنوبی آن: ... قریب از دو قرن باینطرف که مبداء مناقشات استعماری است سیل مدهش جهانگیری از لندن به جانب آسیا سرازیر گشته، قطعات شمالی و جنوبی این قاره بزرگ دنیا یادگار قرون اولی، مهد نوع بشر، بعثت انبیاء، مقام نزول احکام آسمانی، جای ظهور بزرگترین رجال نامدار، آرامگاه مصلحین مشهور، مسکن اقوام تاریخی، منبع تهذیب و تمدن و مصدر فضل کمالی را زیر و بر ساختند. دولی را که وارث و مالك حقیقی این بلاد بودند چه به قوه آلات قتاله ضعیف کش و چه به حیله های سالوسی و انتریکه های ابلیسی به انواع فجایع تاریخ را تباه کرده

www.sikaram.com

مغلوب کردند و یوغ آهنین عبودیت برگردن و زنجیر های کلفت اسارت بر دست و پای شان گذارد. حاکمیت، استقلال، جاه و جلال، ازادی و راحت، شرف و سعادت و بالجمله تمام هستی و دارایی معنوی و مادی آنها را سلب و نیست نمودند...).

همداشانی د (امان افغان) اخبار د (۱۳۰٤ش) کال د جدی د ۸ گنی سرمقاله د میر صاحب په قلم (مجمع اتفاق ملل) تر عنوان لاندی د هغی مجمع طرز العمل داسی تکوی: (**... ضعف و کم قوتی را هر ادیبی، هر حکیمی سبب مصیبت گفته بود. عموم گویندگان درین باب میگفتند که دنیا بر علیه ضعیف است و لی بعضی خوش اعتقاد ها هنوز این حیله را که اتفاق و اتحاد از دنیا برخاسته است باور میکردند. حالا اگر مجمع اتفاق ملل ثابت کرد که دنیا بر علیه ضعیف است... چنانچه معلوم است مجمع اتفاق ملل یك آله است در دست معدود (اقویا) مسایلیکه واقعه میشوند، لابد به دو صورت دارند، یا اینکه علاقه موثری با منافع یکی از اقویا دارد یا اینکه علاقه دور و غیر مهمی به مصالح مذکور دارد... بد بخت مملکتی است که به حالت یونان در آید، یونان دو دفعه بازی خورد. اول در موقع تشدد موسولونی و تصرف کورخو به خیال آنکه مجمع اتفاق ملل او را خواهد رسانید، دست و پای زد. اما به یك تهدید موسولونی که گفت ایتالیه مجمع ملل را ترك خواهد کرد، دیگر مجمع دم نزد و همین رسوایی را کافی دانسته و مسئله به کنفرانس (امبه سه دور ها) محول و یونان خسارت کشید...).**

میرصاحب د (امان افغان) په اخبار کی د خپل نامه سره د رئیس مطبوعات جمله هم لیکله چې سری ویلای سی چې دی به د افغانستان د مطبوعاتو لومړنی رئیس وی.

میر صاحب په کابل کی د هند د موقتی حکومت د مشرانو او جنود ربانیه سره نژدی علایق او همکاری درلوده او په زیاترو فعالیتونو کی به ورسره شریک و.

تحریک شیخ الهند په خپل ۲۷٤ مخ کی د (منصبداران جنود ربانیه) تر عنوان لاندی داسی لیکی:

الف: مربی

۱- سالار معظم خلیفة المسلمین، ۲- سلطان احمد شاه قاجار (ایران)، ۳- امیر حبیب الله خان (کابل).

www.sikaram.com

ب- مردان:

۱- انور پاشا، ۲- ولیعهد دولت عثمانیه، ۳- وزیر اعظم دولت عثمانیه، ٤- عباس حلمی پاشا، ٥- شریف مکه معظمه، ٦- نائب السلطنه کابل سردار نصرالله خان، ۷- معین السلطنه کابل سردار عنایت الله خان، ۸- نظام حیدر آباد، ۹- والی بهوپال، ۱۰- نواب رامپور، ۱۱- نظام بهاولپور، ۱۲- رئیس المجاهدین

ج- جنرال (سالار):

۱- سلطان المعظم حضرت مولینا محدث دیوبندی مدظله، ۲- قایم مقام سالار کابل مولینا عبیدالله صاحب

د- نائب سالار (لفتننټ جنرال):

۱- مولانا محی الدین صاحب، ۲- مولینا عبدالرحیم صاحب، ۳- مولینا غلام محمد صاحب بهاولپوری، ٤- مولینا تاج محمد سندهی، ٥- مولوی حسین احمد صاحب مدنی، ٦- مولوی حمدالله صاحب، ۷- حاجی صاحب ترنگزایی، ۸- ډاکټر انصاری، ۹- حاجی مولینا عبدالرازق صاحب اندری، ۱۰- ملا صاحب بابره، ۱۱- کوهستانی، ۱۲- جانصاحب باجوړی، ۱۳- مولوی محمد ابراهیم کاموی، ١٤- مولوی میا صاحب، ١٥- حاجی سید احمد بنینتهوی، ١٦- شیخ عبدالعزیز شادیش، ۱۷- عبدالرحیم عظیم آبادی، ۱۸- مولوی عبدالکریم صاحب نائب رئیس المجاهدین، ۱۹- مولوی عبدالعزیز رحیم آبادی، ۲۰- مولوی عبدالله غازی پور، ۲۱- نواب ضمیر الدین، ۲۲- مولوی عبدالباری صاحب، ۲۳- مولینا ابوالکلام آزاد، ٢٤- محمد علی، ٢٥- شوکت علی، ٢٦- ظفر علی، ۲۷- مولینا حسرت موهانی، ۲۸- مولوی عبدالقادر قصوری، ۲۹- مولوی برکت الله بهوپالی، ۳۰- پیر اسدالله شاه سندهی

هـ- معین سالار (میجر جنرال):

۱- مولوی سیف الرحمن صاحب، ۲- مولوی محمد حسن مراد آبادی، ۳- مولوی عبدالله انصاری، ٤- میر سراج الدین بهاولپوری پاشا، ٥- ملا عبدالخالق، ٦- مولوی بشیر احمد رئیس المجاهدین، ۷- شیخ ابراهیم سندهی، ۸- محمد علی قصوری، ۹- سید سلیمان ندوی، ۱۰- عمادی غلام حسین، ۱۱- آزاد سبحانی، ۱۲- کاظم بی، ۱۳- خوشی محمد، ١٤- مولانا ثناء الله، ١٥- مولوی عبدالباری مهاجر وکیل حکومت موقت هند

www.sikaram.com

و- ضابط (کرنل):

۱- شیخ عبدالقادر مهاجر، ۲- شجاع الله مهاجر نائب وکیل دولت موقت هند، ۳- مولوی عبدالعزیز وکیل وفد حزب الله یاغستان، ٤- مولوی فضل ربی، ٥- مولوی عبدالحق لاهوری، ٦- میا فضل الله، ۷- صدرالدین، ۸- مولوی عبیدالله سندهی، ۹- مولوی ابو محمد احمد لاهوری، ۱۰- مولوی احمد علی نائب نظارت معارف، ۱۱- شیخ عبدالرحیم سندهی، ۱۲- مولوی محمد صادق سندهی، ۱۳- مولوی ولی محمد، ۱٤- مولوی عزیزگل، ۱٥- خواجه عبدالحی، ۱٦- قاضی ضیاء الدین، ۱۷- مولوی محمد ابراهیم سیالکوتی، ۱۸- عبدالرشید بی، پی، ۱۹- مولوی ظهور احمد، ۲۰- مولوی محمد مبین، ۲۱- مولوی محمد یوسف کنگوهی، ۲۲- مولوی رشید احمد انصاری، ۲۳- مولوی سید عبدالسلام فاروقی، ۲٤- حاجی احمد جان سهارنپوری

ز- ضابط (لفتننټ کرنل):

۱- ظفر حسن بی. ای مهاجر، ۲- الله نواز بی. ای مهاجر، ۳- عبدالحمید بی. ای مهاجر، ٤- حاجی شاه بخش سندهی، ٥- مولوی عبدالقادر دبن پوری، ٦- مولوی غلام نبی، ۷- محمد علی سندهی، ۸- حبیب الله

ح- میجر:

۱- شاه نواز، ۲- عبدالرحمن، ۳- عبدالحق

ط- کپتان:

۱- محمد سلیم، ۲- کریم بخش

ی- لفتننټ:

۱- نادر شاه

میر صاحب د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروګرامونو او انقلابی غورځنګونو معقول او معتدل طرفدار و او د مسلمانانو د ژوندانه د بنه کولو، پوهولو او مخ بیولو کار یې ثواب او د دارینو خیر ګانه او دفاع یې ځنی کوله. د دی دپاره چې اعلیحضرت امان الله د ده علمی منزلت، فکری فطانت او مفیدو مشورو څخه تل مستفید وی هغه یې د څه وخت دپاره د خپل حضور سکرتر او سلاکار په حیث تاکلی و. د کرسی نشینان کابل اثر د ده په هکله داسی لیکی: (... در

www.sikaram.com

سیاست خارجی طرفدار آلمانها است. از پارتی غلام صدیق خان چرخی است و به همین جهت نسبت به ایران و ایرانیها بدبین و این شخص را باید مراقب بود، زیرا مجری افکار و عقاید سوء غلام صدیق خان است...).

میرصاحب د اعلیحضرت محمد نادر شاه په عهد په (۱۳۰۸ش) کی د پوهنی وزارت د معین په حیث کار کاوه او په (۱۳۱۲ش) د قوس په ۲۶ د هغه پاچا د قاتل عبدالخالق سره د نژدی پیژندګلوی په تور په اعدام محکوم سو او دار ته د رسیدو د مخه د فیض محمد ذکریا خارجه وزیر په شفاعت او سفارش او د سردار محمد هاشم صدراعظم د خوښی سره سم د پاچا له حضوره د اعدام څخه وبخښل سو او تر (۱۳۲۸ش) کال پوری د کابل په دهمزنګ کی محبوس وساتل سو.

د سردار شاه محمود صدراعظم د عمومی بخښنی په فرمان کی میر صاحب هم د بند څخه را خلاص سو او د څه وخت له پاره د عدلیه وزارت د معین او د (۱۳۲۹ - ۱۳۳۲ش) پوری یې د شاه محمود خان سپه سالار په کابینه کی د عدلیې د وزیر په حیث کار کاوه او په (۱۹۵۵م) یې تقاعد وکړ او تر مړینی پوری په مزار شریف کی د خپل تقاعد د مځکو په سرپرستی لګیا و.

میر صاحب په کال (۱۳۵۷ش) د حوت په ۲۲ په لمانځه کی د پښی د ماتیدلو د عارضی وروسته، د زړه په ناروغی د کابل په څلورمه کارته کی د ۹۰ کالو په عمر وفات سو او فاتحه یې په کابل کی د زوی سید مسعود پوهنیار له خوا چې په روم کی د افغانستان د لوی سفیر په حیث کار کاوه واخستله سوه.

د میر صاحب کشر ورور سید محمد هاشم نومیده چې د حبیبی د لیسی د لایقو شاګردانو څخه ګڼل کیدی، په انګلیسي، عربی، ترکی او اردو ښه پوهیدو او د څه وخت له پاره یې د کابل په دارالمعلمین کی درس ورکاوه، ده د امانی مکتب او نورو ښوونځیو د تدریسی لوازمو د برابرولو او معلمانو موندلو له پاره ځینو اروپایي هیوادونو ته هم سفر کړی و، او په ځینو سفارتونو او کونسلګریو کی یې د ترجمان او سکرتر په حیث کار کاوه. د اعلیحضرت نادرشاه د حکومت په لومړنیو ورځو کی په تاشکند کی د افغاني کونسل په حیث مقرر و، مشهد او کابل ته د سیاسی پوستی رسولو په اثنا کی د عشق آباد په دښته کی د خپل ډریور له خوا څخه ووژل سو جنازه یې کابل ته راوړل سوه او د مرنجان تپی ته ورځرمه په (۱۹۳۱م) خاوروته وسپارله سوه. افکارو او خیالاتو یې ملی او وطنی رنګ درلود. د معارفو او تجدد پر خوا و خو د شیوعیت سره یې حساسیت درلود او ځینی کسان یې مرګ هم د دغه علت څه ګڼی.

www.sikaram.com

ډاکتر عبدالغنی:

ډاکتر عبدالغنی د روشندل زوی د هند د ګجرات د جاتان د جلال پور اوسیدونکی ؤ چې په ختیه نیازی افغان ؤ او نیکونه یی دلودی واکمنانو د سلطنت په وخت کی د غزنی د سیمی څخه هند ته تللی وو. د بابا جان (عبدالعزیز کندهاری الکوزی) د خولی روایت دی چې دی د اخوان افغان یا جان نثاران ملت د مهمو موسسو غړو څخه شمیرل کیدی هغه وخت چې زمور په مجلسونو کی د افغان او افغانیت بحثونه کیدل ډاکتر عبدالغنی به ویل زه هم نیازی افغان یم او زما عشیره وی علایق تر اوسه د غزنی د کوچیانو سره د تربور ګلوی په روابطو بنا دی او افغانستان ته یی د خپل د راتګ یوه وجه همداسی بیانوله چې دی د خیل اصلی وطن او وطنوالو په خدمت ویاړی او د غه خپله اسلامی او افغانی مقدسه وظیفه ګڼی.

انګریزانو د خپلو تعلیمی مقرراتو له مخی په هند کی یو شمیر بی بضاعته او د لوړ استعداد لرونکی شاګردان د عالی تحصیلاتو د پاره په خپلو پیسو لندن ته لیږل او ډاکتر عبدالغنی د هند د علیګړ د مدرسی د هغو مستعدو شاګردانو د جملی څخه و چې د غه امتیازیی په نصیب شوی ؤ. هغه وخت چې شهزاده نصرالله د خپل پلار امیر عبدالرحمن خان په عوض د برتانیه د ویکتوریا ملکی په دعوت لندن ته ولاړ ډاکتر عبدالغنی د دغه شهزاده سره په لندن کی ولیدل او ده چې په دغه وخت کی هلته خپل تحصیلات پای ته رسولی وه افغانستان ته یی د معارفو د خدمت د پاره راوبولی، څو کاله وروسته هغه وخت چې امیر حبیب الله د حبیبی مکتب تاسیس« کړ، دی افغانستان ته راغی لومړی د انګلیسی او هندی ژبو ژبو د استاد او بیا د حبیبی مکتب د عمومی آمر په حیث وټاکل شو، د ده مخه د حبیبی مکتب عمومی آمر حافظ احمد الدین هندی ؤ.

ډاکتر عبدالغنی په سیاسی علومو مخصوص په اسلامی تاریخ کی پراخ معلومات درلودل د منځنی آسیا د مسلمانانو ملتونو د مداو جزر په کیفیتو ښه پوه ؤ.

ده خپل شاګردان او یو شمیر روشنفکران د هیواد د سیاسی آزادی ګټلو علم او عرفان زده کولو خواته متوجه کول او په هغو کی یی د اسلامی مدنیت افغان او افغانیت مزی پیاوړی کول د همدغو ملی جذباتو او تبلیغاتو له اغیزی څخه په ۱۹۰۹ = ۱۳۲۷ کی د مشروطی غوښتلو او خلکو د احساساتو د پارولو په ګناه بندی شو.

www.sikaram.com

ده په ۱۳۲۹= ۱۹۱۱ کی د بندیخانی څخه د یو لیک په واسطه چې د هند په یوی ورځپانه کی خپور سوی ؤ، امیر ته یی د (منگلو) د اغتشاش پیښیدلو په هکله داسی لیکلی وه. که امیر د جان نثاران ملت د ټولنی غړو ته د فعالیت اجازه ورکړی وای داسی واقعه به اډو هیڅکله نه پیښیده.

د اعلیحضرت غازی امان الله د تخت کښینستلو مجرد چې ټول سیاسی بندیان خوشی سول او حقوق یی اعاده شول، ډاکټر هم د بنده خوشی شو او د هغی خوشبینی او اعتماد څخه چې پاچا پر ده باندی درلود دی یی د ایشک آقاسی (شاه غاسی) علی احمد سره راولپندی ته د افغانستان د استقلال او صلح د هیئت په غړیتوب واستاوه. هغه وخت چې دی د رخصتی په ډول هند ته تلی په سرحد کی د مخالفینو په دسیسه د قاچاق کولو په تور ډیر وزورول شو دغی وضع دی زیات متاثر کړ او افغانستان ته یی د بیرته راتلو اراده فسخ کړه، خو پاچا چې د وطن د صادقو او لایقو خدمتګارانو قدر کاوه په خپل یو لیک سره یې په سرحد کې د دغې ناوړې وضع په ورپیښیدلو تاثر ښکاره کړ او دې یې بیرته افغانستان ته راد عوت کړ.

ډاکټر عبدالغني کې څه هم په هند او یورپ کې خپل سیستماتیک تعلیمات د طبو په برخه کې بشپړ کړي وه او د لویدیځو هیوادونو په اداري سیاست پوه ؤ خو تر تاثیر لاندې یې نه ؤ راغلی. په عمل کې یو نشنلست مسلمان افغان ؤ. ځرنګه چې په لویدیځ او ختیځ افغانستان کې دې د استعمار په توطئو او ناوړو حرکتونو پوه ؤ نو د خپلې سیاسي تجربې او علمي تبحر په واسطه یې په افغانستان کې د معارفو تدریسي نصاب داسي عیار کړ چې د ارتجاع او امپریالزم لپ عکس العمل وګرځي او د معارفو برخلاف د خلکو عمومي افکار راونه پاروي. د مثال په توګه په هغه وخت کې د خلکو په خولو کې دا زمزمه او پروپاګنده وه چې مکتب د دین او پاچا مخالفین روزي، په نظم او نثر مذمتونه باندې ویل کیده.

ډاکټر عبدالغنی د امیر حبیب الله او د ده د کورنی د ځینو مهمو غړو استاد او اعتمادی ؤ تر داسی اندازی پوری چې امیر به خپل ځینی خصوصی مکتوبونه په ده لیکله، د ډاکټر عبدالغنی اخلاص او خدمت ګزاری د امیر عبدالرحمن خان د خانمی بی بی حلیمی او د دی د زوی سردار محمد عمر جان په نسبت زیاته مشهوره ده ده د سردار محمد عمر جان د زامنو حسن جان او حسین

www.sikaram.com

جان سره هم د آشنایی او دوستی علاقې درلودل او د سردار حسن جان سره د دوستی په نسبت پر اعلیحضرت امان الله ډیر ګران ؤ.

ډاکټر عبدالغني د افغانستان پر یو شمیر روشنفکرانو او د پوهني پر شاګردانو د استادي او قیادت حق لري. ده د اروپا څخه د اعلیحضرت امان الله د بیرته راګرځیدلو او په وطن کې د استعمار او امپریالزم د مستقیمو مداخلو په نسبت ځان د معارفو د خدمت څخه ګوښه کړ او هند ته ولاړ او د خپلو یادښتونو او خاطراتو په لیکلو او خپرولو سره یې په افغانستان او منځني آسیا کې د استعماري مداخلو تاریخچه او لنډ ګذارشات ولیکل.

ډاکټر عبدالغني د فارسي شعر طبع هم درلوده او په شعر کې یې مینا تخلص کاوه. دي د مشروطي غوښتلو د چارو او طریقو په هکله داسي وایي:

مجالس ساخته زین راه پنهان	به تنظیمش شب و روز است کوشان
نهاد نام مجلس (جان نثاران)	به حلقه سخت باهم بسته پیمان
به سوگند وفا و راز داری	به اقبال شاه از فضل باری
به (مینا) خویش را پیوند کردیم	رضاء خود به امرش بند کردیم

مولوي نجف علی:

مولوي نجف علي د ډاکټر عبدالغني مشر ورور ؤ چې د حبیبي د مکتب د اجتماعي علومو استاد او د مشروطي غوښتونکو د نهضت د ټینګو او وفادارو غړو څخه ګڼل کیدي. د ده علمي منزلت ملیت خواهي او د وطنوالي احساساتو او جذباتو ته امیر حبیب الله په درنه سترګه کتل او کله یې د استاد په نامه یاداوه. مولوي نجف علي د اعلیحضرت امان الله استاد او علمي مشاور ؤ او د افغانستان د معارفو له پاره یې ګټور کتابونه لیکلي او ترجمه کړي وه. دي د مشروطي غوښتلو په ګناه په (۱۳۲۶ق) کې بندي سو او د اعلیحضرت امان الله د تخت کښینستلو سره دي او ملګري یې د بنده خوشي سول او لویې رسمي او علمي رتبې ورکړه سوې.

مولوي صاحب په هغه اتهام چې د اعلیحضرت امان الله سره یې د نژدي علایق درلوده، د دي د پاره چې حیات یې په سقوي دوره کې د جدي خطر څخه وژغورل سي قبایلي سیمو او د هغه ځاي څخه هند ته ولاړ او هلته انګلیسانو او مرتجعینو دي تر سخت فشار لاندي ونیوي، په الحاد

www.sikaram.com

او قتل یې تهدید کړ څو چې مجبور سو د اعلیحضرت امان الله پر اصلاحي پروګرامونو باندي تنقید ونیسي او د هغو په غندلو ځان د مرګ د تهلکي څخه خلاص کړي. مولوي صاحب په انګلیسي، عربي، اردو، فارسي او هندي ژبو ښه پوهید او د فارسي ژبي فصیح الزبانه شاعر ؤ. ده د اعلیحضرت امان الله د تخت کښینستلو په مناسبت دغه استقبالیه ویلي ده:

آیا فرزند شاه — که با داجنت الماواش ماوا
سراج ملت و دین یگانه — که شد تیر شهادت را نشانه
جوار لطف حق بادا مقامش — به نیکی زنده باد نیك نامش
زهی بخت همایون خراسان — که دادش بادشاهی چون تو یزدان
رعیت پروری لشکر نوازی — ز بس بیچاره گان را چاره سازی
همیگشتی تو اندر کوی و بازار — به تبدیل لباس اندر شب تار
تو شکر نعمت باری ادا کن — اسیران را به لطف خود رها کن
خصوص از بندیان کهنه و زار — حق همسایگان اول نگهدار
میان ما و تو بعد عجیب است — ز قصر کلیه احزان قریب است
اگر ملت بود با علم و دانش — نه باشد باك و بیم از دشمنانش

خو د اعلیحضرت امان الله د خلع کیدو او له وطن څخه د لیري کیدو وروسته، ده دغه نامردانه اشعار باندي جوړ کړي دي:

در حضور قلب دارم احترام مادرش
حضرت علیا خواتین را سراج نور دار
گر شنیدی پند او را همچو فرزند رشید
با همه عز و شرف گشتی به عالم کامگار
آتش بغی و فساد شاه نوازی گل شدی
گر به امر مادر مشفق شدی پابند کار
جنت الفردوس آمد زیر پای مادران
عاق مادر با مصایب دائماً گردد دچار
بود وقتی آن جوان دارای یك عزم بلند
از تفریح و ز تعیش رفت آن جمله وقار

www.sikaram.com

صحبت (سامی) و (طرزی) آخرش از راه کشید
راه گم کرد و به سوی راه کج شد رهسپار
از سیاحت در اروپا اکتساب عیش کرد
عزم افغانی و غیرت جمله شد کافور دار
یك رخ تصویر یورپ دیده شد شیدای آن
ورنه شد چشمش بر آن دیگر رخ تاریك دار

د ځینو محققینو په نظر دغه مذمتیه اشعار د اعلیحضرت محمد نادرشاه د حکومت په تحریک شاعر د طمع په هیله د اعلیحضرت امان الله په غندنه کي ویلي دي. مولوي نجف علي د محمد نادرشاه د حکومت په ستاینه کي داسي وایي:

ای شه عالی نسب وی خسرو والاتبار
زبده کیهان و از شاهان عادل یادگار
شد به جور و چیره دستی نادر ایران شهیر
نادر افغان به لطف و مرحمت شد نامدار
یادگارش قتل عام و غارت سفاکی است
از تو ماند تا ابد لطف و ترحم یادگار
در گروه پادشاهان مادر گیتی نزاد
چون تو فرزند حلیم برد و بار و خاکسار

ده یو شمیر علمي او ادبی آثار لیکلي او ترجمه کړي دي چې مشهور یي د شبلي نعماني د الفاروق ترجمه ده او نور.

مولوي محمد حسین:

دي که څه هم په پنجابي مشهور دي خو په اصل کي د لوګر د برکي راجان د اورمړو افغانانو څخه و چې نیکه ګان یي د ځینو سیاسي عواملو له کبله د ختیځ پنجاب د جلندر ضلع ته مهاجرت کړي او وروسته یي په لاهور کي سکونت اختیار کړي و. مولوي صاحب د پخواني هند په بیلو کالجونو او مدرسو کي درس لوستي، په انګلیسي اردو او د هند په ځینو ژبو ښه پوهید. دري یي ډیره سلیسه او روانه لیکله او شعري قریحه یي هم درلوده. هغه وخت چې د امیر حبیب الله د

www.sikaram.com

سلطنت په دوره کي معارفو ته توجه وسوه او د معارفو نظارت معین السلطنه شهزاده عنایت الله ته وسپارل سو نو د حبیبي مکتب د معلمانو د برابرولو له پاره د افغانستان او هند په ځینو اخبارونو کي اعلانونه خپاره سوه د دغو اعلانو په نتیجه کي یو شمیر هندي معلمانو ځانونه د دي وظیفي له پاره کاندید کړه. په دغه جمله کي مولوي محمد حسین هم د حبیبي د مکتب د معلمي دپاره استخدام سو. ده دخپلي معلمي په دوره کي په افغانستان کي د انګلیسانو د سیاسي نفوذ دپاي ته رسولو او پوره خپلواکي حاصلولو او ملي مبارزو په پیاوړي کولو کي فعاله برخه واخسته چې د همدغه کبله د مشروطي غوښتلو د نومیالیو غړو د جملي څخه ګڼل کیدي. مولوي صاحب په (۱۳۲۷ق) کي د مشروطي غوښتلو په ګناه چې امیر صاحب یي وژي بندي سو. د بنده څخه د خوشي کیدلو وروسته بیا د معلمي په وظیفه او د سردار محمد سلیمان خان د معارفو د وزیر په وخت کي د حبیبي د مکتب د مدیر په حیث وتاکل سو تر دغي وظیفي وروسته د تدریساتو د رئیس په حیث تبدیل سو. مولوي صاحب د سقوي اغتشاش تر وخته په کابل کي ؤ، بیا هند ته ولاړ. ده د افغانستان د انقلاب د اماني حکومت د وضع او ځینو داخلي چارو په هکله په اردو ژبه یو کتاب په لاهور کي طبع کړ. د دي څخه پرته یي د سعدي د ګلستان او بوستان څخه انتخابات د (ګل بو) په نامه خپاره کړه. ګل یي د ګلستان او بو یي د بوستان څخه اخستي دي. د دغه کتاب څه نسخي د اعلیحضرت نادرشاه د سلطنت په وخت کي په کابل کي توزیع سوي. نور آثار یي چې په کابل کي لیکلي او خپاوه سوي مشهور یي دا دي: امان المدرسین، مسایل هر روز تدریس، جغرافیای مفصل افغانستان، جغرافیای مختصر افغانستان، معرف معارف، فوق العاده جشن دارالامان او نور. ځیني قلمي رسالي یي د معارفو د وزارت په کتابخانه کي سته. مولوي صاحب د خپل کتاب انقلاب په اخیر کي ادعا کوي چې آثار او ترجمي یي تر اویا توکو رسیږي. دي تر (۱۳۳۰ش) کال پوري ژوندي ؤ او په لاهور کي اوسیدي.

د ده د شعر یو بیت د مشروطي خواهي د سوال او ځواب په وخت کي دا دي:

حین پرسش شد صداي توپها — از هلاك سه نفر احباب ما

غیر شورا شور شیرین بشر — کرد امر سلطنت زیر و زبر

انګلیسانو د دي دپاره چې د هندي او افغاني ملي مبارزینو او مجاهدینو مشروط غوښتونکو زحمتونه او فداکاري ورعبث کړي اعمال او اقوال یي د خپلو وطنوالو په نظر سپک

www.sikaram.com

وروڼي نو په هند او افغانستان کي يي پر دوي د هيڅ ډول فشارونو څخه ډډه نه کوله. ځيني يي مړه، ځيني يي بنديان او په ځينو يي د خپلي خوښي پرته داسي اعترافات وکړه چې د هغوي د تيرو اعمالو او نظرياتو سره يي هيڅ سر نه خوړ. د خواشيني ځاي دا دي چې په مولوي محمد حسين يي همدا کانه وکړه او داسي رساله يي په خپره کړه چې د اعليحضرت امان الله پر اصلاحي پروګرامونو باندي يي ښه نه ويل. په داسي حال کي چې دي خپله د هغو پلانو موئيد او مشهور تطبيقونکي ؤ د دغو نظريو ژوندي ثبوت د ده هغه کتاب دي چې د (افغان پادشاه اعليحضرت امان الله خان خلد الله ملکه و حکمه عظيم الشان چشم ديد داستان) په نامه يي د محمد حسين خان (B.A) عليګر رئيس تدريسات عمومي افغانستان په قلم خپور کړ. ده په دغه کتاب کي د اعليحضرت امان الله د سياست، اخلاقو او عرفان پروريو په هکله ستاينه کړي او هغه يي د ختيځ د نوابغو څخه بللي دي. همداشاني سردار عبدالحبيب مشهور ملي مبارز او مشروطه خواه د معارفو وزير او د افغانستان د دولت د عالي شورا رکن د مولوي محمد حسين د (افغان بادشاه) پر اثر په ۳۲۷ مخ کي تقريظ ليکلي او د مولوي صاحب افکار او شخصيت يي زيات ستايلي دي.

پروفيسر غلام محمد ميمنګي:

پروفيسر غلام محمد ميمنګي د عبدالباقی ازبک زوي و چې په کال (۱۲۵۲ ق) کي په ميمنه کي زيږيدلي څرنګه چې يي کورني په خپل ولس کي د خدمت ګذاري له کبله ښه حيثيت او پوره رسوخ درلود او د ولس د مشرتابه وظيفه يي په غاړه وه نو د امير عبدالرحمن خان په امر د ده کورني او دي چې ۱٤ کلن ؤ کابل را وغوښتل سو او د پلار د شهادت وروسته يي تولې کورني د حکومت تر نظارت لاندي ونيوله سوه.

پروفيسر څرنګه چې هنرمند او کمال دار سړي او په رسامي او مينا توري کي يي ښه استعداد او مهارت درلود نو د امير حبيب الله په عهد کي د حربي فابريکي د نقاشي د څانګی د آمر په حيث مقرر سو. دي د وينې مغز، حساس زړه او د وطنوالي د سرشارو جذبو درلودلو په نسبت د مشروطي غوښتونکو په ډله کي شامل سو او په جلال آباد کي يي د امير حبيب الله په حضور د مشروطي غوښتلو معروضه امير ته وړاندي کړه او په کال (۱۳۲۷ق) کي په دغه تور بندي سو. د

www.sikaram.com

اعلیحضرت امان الله د تخت کښینستلو په وخت په (۱۳۰۰ش) کي د عمومي بخښني له کبله دي هم له بنده خوشي سو او د هغه اعلیحضرت د ارادی سره سم د ارټ او هنر د فن د بشپړولو د عالي شهادتنامي اخستلو د پاره جرمني ته ولیږل سو او د برلین د نفیسه صنایعو داکاډمي څخه د دوو کالو تحصیل وروسته د بیلو هیوادونو د څلور سوو شاګردانو له منځه په لومړي درجه بریالي سو او د لاجورد کپ د جایزي، یو طلایي نوښان د پروفیسري د دپلوم سره یوځاي ورکړه سو.

پروفیسر غلام محمد میمنګي په کال (۱۳۰۲ش) بیرته وطن ته راستون او د نفیسه صنایعو د مکتب اساس یي کښینبود. د امان افغان جریده د پروفیسر غلام محمد میمنګي د لیاقت او مهارت په باره کي په خپله ۱۱ صفحه کي د (ذکاوت ذهني افغان) تر عنوان لاندي د (سوسیال غرته فورودت) د جریدي د یو خبر په ترجمي سره د ده په هکله داسي لیکي:

(... امان افغان این وطنخواه با همت و صاحب حمیت را که نام افغان و افغانان را روشن ساخت و در ممالك خارجه به سایه کوشش و جدیت خویش اسباب افتخار وطن و باعث رو سفیدی اهالی آن گردید به این موفقیت عالی و نائل گشتن به خطاب پروفیسری که در تاریخ وطن به یادگار خواهد ماند تبریك و تهانی میگویم...).

د اطلاعاتو او کلتور وزارت د ده د وفات څو کلو نه وروسته په ظاهر شاهي دوره کي یوه هنري موسسه د غلام محمد میمنګي په نامه وپرانستل چې تر اوسه چلیږي.

پروفیسر غلام محمد میمنګي په (۱۳۱٤ش) د قوس په ۱٤ وفات سو او په شهداي صالحینو کي خاوروته وسپارل سو. د ده د قبر پر لوحه داسي لیکل سوي دي:

گر بپرسی زمن این مدفن کیست — قبر دانشور نیکو سیریست
اینکه در زیر لحد پنهان است — در هنر نابغه دوران است
عالم و فاضل و نیکو سیری — ملکی بود به حلیه بشری
کرده تحصیل علوم دینی — یك سر مو نبودش خود بینی
بربسته علم که عارف بوده — این ز خدام معارف بوده
گشته از رحمت این پاك نهاد — به وطن مکتب ضعف آباد
از همه با هنرمندان بر تر بود — در فن رسم پروفیسر بود
سوخت از رشك روان بهزاد — قلم از دست (را فایل) افتاد

www.sikaram.com

وصف این فاضل و رسام شهیر کی تواند قلم من تحریر
ای دریغا که چنین ناموری زنده دهر سراپا هنری
گرچه خوابیده کنون زیر لحد نام او زنده باد تا باید

د ده د پاتو کسانو څخه یو غلام علي امید نومید چې خور یې کیدي. امید د وطن مشهور رسام، خواننده او شاعر و چې په کال (۱۳۵٤ش) کې په کابل کې وفات سو. د ده هنري آثار او اشعار د ژوندون په مجله، اصلاح انیس او نورو جریدو کې خپاره سوي دي.

محمد ولی بدخشانی دروازی:

دي د ابوالفضل (شاه آغا) زوي د محمود خان وراره د ترک خان لمسي د امیر حبیب الله خان سراج الملة و الدین د غلام بچه گانو سر جماعه و.

محمد ولي دروازي د هغه مهم سیاسي موقعیت له کبله چې د افغانستان په دربار کې یې درلود لږ زیاته پیژنده غواړي چې دلته درواز او د هغه د نسب شجره په لنډ ډول وړاندي کیږي.

درواز د افغانستان د شمالي سیمي یو وړوکي ښار و چې د امیر عبدالرحمن خان د پاچاهي د مخه یې د آمو په دواړو خواوو کې موقعیت درلود او د محلي شاهانو تر نفوذ لاندي و. د (شهه ترک) خان د وفات وروسته زامنو یې شهه محمود خان، شهه حامد خان، شهه حکیم خان، شهه سراج الدین خان، شهه ابوالفضل خان، د بدخشان څخه تر کابله خپل علایق پراخ کړه. د شهه ابوالفضل خان دوه زامن د محمد عمر خان او محمد ولی خان په نامه پاته سول. هغه وخت چې امیر عبدالرحمن خان د کولاب د لاري تر آمو سیند را تیر سو او د بدخشان د ځینو امیرانو په طرفداري پاچاهي ته ورسید، ده د بدخشان د یو شمیر مشهورو امیرانو زامن را وغوښتل او هغه یې د غلام بچه گانو په څیر په خپل دربار کې له ځانه سره و اوسول. په دغه جمله کې محمد ولي خان دروازي چې ۱۳ کلن و هم شامل و. څرنګه چې یې د مطالعې او تحصیل سره زیاته علاقمندي درلوده نو د امیر د خصوصي کتابخاني کتابدار هم وټاکل سو او هلته د الوا، ابدالمنار، حبل المتین او داسي نورو جریدو او رسالو د لوستلو په واسطه د دموکراسي او اجتماعي عدالت په مهمو پرنسیپونو پوه سو او د مشروطي غوښتونکو مجلسونو ته یې لار ومونده. ده د دربار د هغو غړو سره د نژدي علایق درلودل چې د اعلیحضرت امان الله مورسره و سلطانې حمایه کول. د همدغې وفا او

www.sikaram.com

اخلاصمندي له کبله و چې سراج الخواتین سرور سلطاني خپل د خاله لور د (فقیر محمد خان شاه غاسي لور) ده ته په نکاح کړه او په دي توګه يي په اعتماد او وفا کي ورځ په ورځ زیاتوب راتلي. د سرور سلطاني او شاه غاسیانو دوستان لکه غلام نبي څرخي او د ده وړونه خپل دوستان او ملګري ګڼل او د دوي مخالفینو ته يي ځان نه نژدي کاوه.

محمد ولي بدخشاني د هیواد د یو شمیر روشنفکرانو او وطندوستانو سره خپل علایق ساتل او دوي يي د دربار په رمزونو او طرزالعملونو پوه کول. ده د امیر حبیب الله د کتابخاني ممنوعه او یا مصادره سوي آثار او اخبارونه آزادي غوښتونکو ته ورکول او د همغې ډلي څخه و چې د سردار نصرالله خان نایب السلطنه په قیادت يي د انګلیس په مخالفت ډیر پلاتونه مطرح کول.

دي د افغانستان د سیاسي آزادي د بیرته اخستلو په معرکه کي په عمومي جنګ کي د افغانستان د ورګډولو طرفدار و. د عبدالقدوس خان اعتماد الدوله او محمد نادر شاه سپهسالار د غرب دوستي څخه يي ښه نه راتلل.

دي د (۱۹۱۹م) کال د اپریل په میاشت کي د اعلیحضرت امان الله د خوا څخه په بخارا کي د افغانستان د سفیر په حیث وټاکل سو. خارجي هیوادونو ته يي د افغانستان د صلح د هیئت د مشر تابه حیثیت درلود. د شوروي اتحاد او ایټالیه سره يي د دوستي ټرونونه لاس لیک کړه.

د (لینن درباره افغانستان) درسالي په ۸ مخ کي چې په مسکو کي په دري ژبه خپره سوي ده، د محمد ولي بدخشاني او ولاد یمیر ایلویچ لینن د مذاکراتو په هکله داسي لیکلي: (... در قصر کریملین در اطاق کار لینن، با لینن ملاقات نمود...)، کلمات لینن در موقع ملاقات (... من بسیار خوش هستم که در پایتخت سرخ حکومت کارگران و دهاقین نماینده خلق دوست افغانستان را می بینم که رنج میبرد، در مقابل یوغ امپریالیستی پیکار مینماید...).

محمد ولی خان در جواب گفت: (... من دست دوستی را به شما دراز میکنم و امیدوارم که شما به تمام شرق در امر آزادی از یوغ استعمار اروپایی کمك خواهید کرد...)، ضمن صحبتیکه بعداً شروع شد لینن گفت که حکومت شوروی حکومت زحمت کشان و ستمدیده گان است آنچه ضرورت است عبارت از آن است شرق اسلامی این چیز را درك کرده و آن ساعت نزدیك است که تمام جهانیان خواهد دید که امپریالزم اروپایی در شرق

www.sikaram.com

دیگر جا ندارد و بعد او از جای برخاست و چنین گفت: افتخار دارم به رهبر حکومت آزاد روسی مکتوب فرمانروای خود را تقدیم کنم و امیدوارم که بیانات حکومت افغانستان توجه حکومت شوروی را به خود جلب کند.

او مکتوب پادشاه افغانستان به لینن پیش نمود و با رضائیت عمیقانه مکتوب را پذیرفت و وعده داد که در آینده نزدیك به تمام سوالات مورد علاقه افغانستان جواب خواهد داد.

روزنامه پراودا، شماره ۲٤۲

روزنامه ایزویستیا، شماره ۲۳۳، ۷ اکتوبر ۱۹۱۹

محمد ولي بدخشانی په (۱۳۰۱ش) کي د خارجه وزیر او په (۱۳۰۳ش) کي د حربیي وزیر په حیث مقرر سو.

اروپا ته د اعلیحضرت امان الله د سفر (۱۹۲۷ - ۱۹۲۸م) په اثنا کي د پاچا په غیاب کي د نائب السلطنه او د سلطنت د وکیل په حیث وټاکل سو. په (۱۳۰۹ش) کي د هغه پخواني مخالفت له مخي چې د ده او محمد نادر شاه تر منځ موجود و او محمد نادرشاه د خپلی وعدی خلاف د یو شمیر دوستانو او ګماشتګانو په صوابدید د تشریفاتي لویي جرګي په تصویب د افغانستان پر تخت کښینوست محمد ولی بدخشانی، عبدالرحمن لودین، میر سید قاسم لغمانی د هغو کسانو په جمله کی وو چې د یو ډول اعتراض په شکل د دغي لویي جرګي څخه وتلي وو.

محمد ولی بدخشانی د سقاو د زوي د اغتشاش سره د همکاري په تور په ۱۸ کاله بند محکوم سو او وروسته د کوهدامن د دوهم ځل د یاغي کیدلو د تحریک په ګناه په اعدام محکوم سو. اعلیحضرت امان الله د ده د صداقت، وطندوستي او خدمت ګذاري په هکله محمد نادرشاه او دیوان عالي ته چې دي یې محاکمه کاوه د بیلو مکتوبونو او مراسلو لیږلو په واسطه د ده د بي ګناهي او صداقت په نسبت اعتراف کاوه خو د دغو تولو تصدیقونو او سفارشونو سره سره هم د حکومت له خوا د (۱۳۱۲ش) کال د سنبلي په ۱٤ د کابل په دهمزنګ کي په دار وځړول سو. هغه وخت چې د کابل امنیتي قوماندان (طره باز) د ده څخه وصیت وغوښت ده په ځواب کي ورته وویل: پیغامی دارم اگر بتوانید به نادرشاه برسانید ممنون میشوم. به نادر شاه بگویید اگر چه از اول تا اخیر برمن ظلم و جفا بود. و اکنون مدت حبس ناحق خود را با شکیبایی تام

www.sikaram.com

میگذرانم و بی گناه و خلاف قانون شرع و آئین افغانیت و بشریت مانند اشخاص جانی به دار می کشد لاکن من او را به منتقم حقیقی حواله میکنم. اکنون مرگ مرا از عذاب طاقت فرسای نجات می بخشد که از ناحیه درد پای، بی دوا، بی طبیب شب و روز به آن گرفتار بودم. فقط یك خواهش دارم و آن این است که فرزندانم از نعمت تعلیم و تربیه بی بهره ننمایند. اگر همین خواهش را شاه بپذیرد، منت بزرگی برمن میگذارد.) دغه وصیت او پیغام هم ونه منل سو.

اعلیحضرت امان الله غازي د ده د وژلو د خبر په اوریدلو زیات خواشینی سو. د محمد ولي خان د وفا شعاري او وطندوستي د تقدیرولو له مخي یې خپله یوه لور د ده زوي ته چې محمد علي (ولي) نومید په نکاح ورکړه.

میر ضمان الدین او میریار بیګ دروازي:

دوي دواړه سره وړونه او د امیر حبیب الله غلام بچه ګان وو چې د محمد ولي بدخشاني خوریان ګڼل کیدل. دوي د شهزاد ګانو سره لیک او لوست زده کاو. په محلی او خارجی ژبو مخصوص انګلیسی ښه پوهیدل او کله، کله به یی په (امان افغان) او نورو جریدو کی ترجمی او مضامین خپرول، څرنګه چې خوش اخلاقه او اهل کار کسان او د دربار اعتمادیان وو نو پر مهمو چارو مقرریدل د میر ضمان الدین وروستی ماموریت د هرات نائب الحکومګی وه. دی د ۱۳۰۳ ش کال د قوس په ۱۹ د دودی خوړلو روسته د زړه د سکتی په ناروغی وفات سو او وروریي د مخه چې په اروپا کی د افغانستان د صلح د هیئت غړی و په سکته وفات سوی ؤ.

میر ضمان الدین او میر یار بیګ د افغانستان د تجدد او مشروطی غوښتلو په مبارزو کی مهمه برخه درلوده او په دی لار کی یی ډیر مشکلات او ربړونه ګاللی وه.

د (امان افغان) جریده د میر ضمان الدین د وفات په نسبت داسی خواشینی ښکاره کوی:

(... هرات شب ۱۹ قوس ۱۳۰۳ پس از صرف طعام مفاجات وفات کرد، و مشارالیهه یك شخص دانسته و خدمتگار صادق دولت بوده و عمر خود را از صباوت تا اینوقت به خدمت حکومت گذرانید از اوضاع حاضره دنیا معلومات و واقفیت داشت، و زبان انګلیسی را هم تا یك اندازه میدانست خاطرش به ترقی و عمران وطن مایل بود. گویا با مرگ مفاجات در

www.sikaram.com

خاندان شان یکنوع توارث دارد، چنانچه برادر دیگر شان آقای میریار بیگ خان که یك آدم خیلی دانسته و یك شخص فاضل و صاحب اخلاق ستوده بود در موقع حرکت با حضرت عالی آقای محمد ولیخان در زمره هیئت سفارت فوق العاده افغانی به اروپا ... ترك حیات گفتند. از وفات همچو یك خدمتگار صادق وطن (امان افغان) اظهار تاسف نموده و برای شان مغفرت و برای بازماندگان او اجر و صبر نیاز مینماید.

شجاع الدوله:

شجاع الدوله د شاه دوله زوی د کابل د شمالی د غوربند د بابکرخیل تبر د شاخه دی چې په ۱۸۹۶ کی نسبتاً په یوی مستعدی کورنی کی زیږیدلی او پلار یی د پروانه خان سپاه سالار د زوی د (لاله گی، سرپرستاری) وظیفه درلوده. دی د دغه سپاه سالار په سفارش په ۱۹۱۶ کی د امیر په غلام بچه گانو کی شامل سو او د فراشی باشی د وظیفی لرلو علاوه د پاچا په سفر کی د هغه د خیمی او ناستی ځای د ساتلو وظیفه هم درلوده، د وطن او دربار جریاناتو د هغه څخه روښانفکره او د استبداد مخالف شخصیت جوړ کړی ؤ او د شاهزادگانو سره د ناستی او ولاړی او خارجی اخبارونو په مطالعی سره د لویدیځ فرهنگ، تمدن او سیاست تر اغیزی لاندی راغلی و د همدغه کبله د مشروطی غوښتونکی د گوند د مخفی مبارزو غړو څخه ګڼل کیدی هغه وخت چې د جرمنی هیئت د هرات د لاری کابل ته راتلی، ده یی د مهمانداری وظیفه اجرا کوله. دی د امیر حبیب الله په قتل متهم ؤ، دا ځکه چې امیر په ۱۳۳۷ ق کی د لغمان په کله گوش کی د هوسیو د شکار په وخت کی چې د خیمی تیر یی کور نصب کړی ؤ پرده باندی په قهر سو او ډیر یی وواهه او د مخ غاښونه یی ورمات کړه د دغه مخالفت له کبله ؤ چې دی د سرور سلطانی یعنی شهزاده امان الله د مور په دله کی شامل سو او د امیر د بدناموليو په غرض د امیر د عیاشی او بوالهوسی په مجلسو پسی څارو وڅویی سرور سلطانه په چهلستون کی د امیر د عیاشی او رقص بزم ته برابره کړه او د دغه حرکت په نتیجه کی امیر د سرورسلطانی څخه زیات خفه سو حتی د طلاق ورکولو په صدد کی سو. پوهاند عبدالحی حبیبی په خپله رساله کی د محمد اکرم پرونتاله خولی په دی هکله داسی لیکی: (... من در ایام تحصیل در برلین ۱۳۲۹ به دیدن شجاع الدوله رفتم بر میز اطاق عکس جوانی دیده می شد پرسیدم این کیست گفت جوهر شاه کاکایت که شهید شده ولی من انتقام خون او را از امیر گرفتم...)

www.sikaram.com

خو د کابل د (هفتی اخبار) د محمد یار خراسانی په قلم د شجاع الدوله د پیژندگلوی په هکله داسی لیکی: (... معلوم نیست که نام شجاع الدوله نام اصلی اوست یا نام اکتسابی، زیرا در میان افغانها چنین اسمی به ندرت دیده میشود، و آنهم در بین مردم اطراف کابل، او مکتب نه خوانده بود، و زبان خارجی نمیدانست، اما او دارای ذکاوت فطری و هوش سرشار بود. بعد از عزل امان الله خان او که در لندن به حیث سفیر مانده بود میخواست از فروش چند صندوق لاجورد که در سفارت بود با امان الله کمك مالی نماید ولی در اثر مخالفت ترجمان سفارت به این عزم ناکام شد، و از همین جهت از وظیفه سبکدوش گردید... شاغلی عبدالرحیم الدوله پسر او در امریکا در یك محفل فامیلی از قول پدر خود چنین گفت: پدرش در روز های اخیر حیات خود در حالیکه یك دختر امیر حبیب الله خان هم حضور داشت به نام خانم کبیر سراج همسر سردار حسن خان ولد سردار محمد عمر خان در شفاخانه آلمان اقرار کرده که درینوقت که من میمیرم و بطرف خداوند میروم و از هیچ کس ترس ندارم روی خود را طرف حاضرین به شمول خانم کبیر سراج نموده و آنها در روز حشر در نزد خداوند شاهد قرار داد. که او یعنی شجاع الدوله امیر حبیب الله را به قتل نه رسانده ولی در جمع یك تعداد زیاد مردمانی بود که پلان قتل امیر را طرح کرده بودند...)(۱)

د اعلیحضرت امان الله په دوره کی شجاع الدوله د کابل امین العسس (امنیه قوماندان) او بیا د هرات د نائب الحکومه په حیث مقرر سو. دی په ۱۹۲٤ کی کابل ته راغی او د منگلو د اغتشاش په آوارولو کی یی فعاله برخه واخسته، چې په همدغه کال کی په لندن کی د افغانی سفیر په حیث وټاکل سو او انگلیسی خانمه یی وکړه. شجاع الدوله په کال ۱۹۲۱ کی بیرته کابل ته راغی او بیا د هرات تنظیمه رئیس وټاکل سو دی د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروگرام جدی طرفدار و او د (استقلال او ترقی) د گوند فعال غړی ؤ. د خادم دین رسول الله امیر حبیب الله د پاچاهی او عبدالرحیم خان د نایب سالاری په وخت کی د هرات څخه مشهد ته ولاړ او په ۱۹۲۹ کی د تاشکند او ماسکو د لاری لندن ته ورسید او په را وروسته وختونو کی په ماسکو او برلین کی اوسید. شجاع الدوله د دوهمی عمومی جگړی په وخت کی په جرمنی کی ؤ او په کال ۱۹٤٥ کی همهلته وفات سو.

۱- اخبار هفته، صفحه اول، ۲ سنبله ۱۳۲۷

www.sikaram.com

سید جوهر شاه غوربندی:

دی د انقلابی او مبارزو مشروطی غوښتونکو څخه ؤ هغه وخت چې د سراج الملة و الدین د وژلو په تور ونیول شو او امیر ده ته د نمک حرامی او سپکاوی خطاب وکړ ده په ځواب کی ورته وویل: ما د افغانستان د بیوزلو او مظلومو خلکو نمک خوړلی دی، د هغو سره د وفاداری او خدمت په لوړه کی یم، څوک چې د افغانستان خلک زوروی او حقوق یی تر پښو لاندی کوی د هغو سره وفاداری سخته گناه بولم د دغه سوال او ځواب په نتیجه کی د امیر په امر د غلام بچگانو له خوا څخه په قتل ورسید.

لعل محمد کابلی:

دی د جان محمد خزانه دار زوی او د امیر د خاصو غلام بچگانو څخه ؤ، د محمد سرور نورستانی چې د امیر د نژدو اعتمادیانو څخه ؤ داسی روایت کړی:

هغه وخت چې امیر ته د مشروطی غوښتونکو لست وسپارل سو هغه د تحقیق له پاره دغه لست عنایت الله خان معین السلطنه ته ورکړ او بیا د معین السلطنه د ناظر عبدالعلی نورستانی په لاس بیرته جلال آباد ته ولیږل سو او سمدستی د امیر په امر کریم خان بلوڅ مصرانی جارچی باشی د جلال آباد په بنار کی جار وواهه چې سبا ټوله شاهی عمله او فعله د جلال آباد د کوکب په باغ کی حاضر شی، امیر حبیب الله شاهی باغ ته راغی په داسی حال کی چې دوی ټول د عسکرو له خوا څخه احاطه سوی وو، امیر وویل: اوس مو ماته توطئه جوړه کړه او ووژنی، ولی؟ د څه له پاره؟ زما څخه مو څه بدلیدلی دی؟ ټول چوپه خوله او خاموش ولاړ وه، په دی وخت کی علی احمد لودین (د اردو رئیس) وویل د غو څلورو هلکانو چې نومونه یی ذکر سول حرام زادگی او کم اصلی کړی د دغو هلکوانو څخه پاچا میر او نظام الدین وویل: مور کوچنیان ؤ او په موضوع باندی نه پوهیدلو، مور یی خطا استلو څرنگه چې دوی تر نورو واقعاً کوچنیان وو نو امیر حبیب الله وویل ځکه چې په مطلب او دسیسه کی شامل نه دی، نو بندیان دی شی، خو جوهر شاه غوربندی او لعل محمد یی ریگ شاه مردان ته بوتلل او د غرمی په مهال یی په تمانچه ووژل پر لعل محمد چې دوی مرمی لگیدلی وی ژوندی پاته سو وروریی عطا محمد ورنژدی سو یو بل فیر یی باندی وکړ او پر تندی یی وویشت او بیا یی وویل: مړسو نوری ډزی مه باندی کوی، دغو دوو غلام بچه گانو امیر حبیب الله بدستایه په مطلقیت او عیاشی یی متهماوه.

www.sikaram.com

تاج محمد بلوچ پغمانی:

تاج محمد د علی محمد زوی د ناظر عبدالوهاب لمسی د پغمان د ده اربابانو اوسیدونکی ؤ پلار یی د امیر عبدالرحمن سره په بخارا کی اوسیدی، دی هم په هغه ښار کی وزیږیدی او د امیر سره بیرته کابل ته راغی. تاج محمد د قاضی سعدالدین خان علوم څخه درس لوستی د مشروطی غوښتونکو د ګوند د جوړولو په وخت کی د کابل د بالاحصار په داغمه خانه کی د تحویلدار په حیث کار کاؤ، دی د ګوند د فعالو غړو د یوی څانګی مشر ؤ چې د ګوند د انحلال وروسته بندی سو، د یو نیم کال کوټه قلفی وروسته حبس یی څه آسانه سو او د ۱۸ میاشتو له پاره د کاکاسید احمد لودین، کرنیل محمد اعظم بارکزی، داکتر عبدالغنی سره په یوه کوټه کی بندی ؤ، او دوه کاله وروسته د سردار نصرالله خان نایب السلطنه د ماینی په سفارش خوشی سو او د اندوخوی د ګمرک د مدیر په حیث مقرر سو.

یوه ورځ یو متحد المال لیک د څلورو کربلایانو په نامه چې په هغه کی امیر ته ښکنځل او تهدید شوی ؤ، امیر ته ورسید، دغه لیک یو د نایب الحکومه، بل د معین السلطنه، دریم د مستوفی الممالک محمد حسین، څلورم د حضور دایشک آقاسی په نامه ؤ.

لیک چې امیر ولوست مستوفی الممالک ته یی امر وکړ چې لیکوال یی پیدا کړی، د ډیرو پوښتنو او ګروپرونو وروسته د هغه سوال او ځواب د را رسیدلو او رسم الخط د څرګندیدلو له کبله چې د تاج محمد سره سوی ؤ، دا معلومه سوه چې خط د تاج محمد پغمانی دی، امیر په دغه وخت کی د لغمان په کله ګوش کی ؤ چې اطلاع ور ورسیده نو وی ویل: چې سبا به تاج محمد، عبدالرحمن لودین، شمس الدین او فیض محمد د څو نورو متعلمینو سره اعدامو ی خو امیر پخپله د شپی ووژل سو.

د اعلیحضرت امان الله د پاچاهی په دوره کی تاج محمد د بنده خلاص سو، د قطغن او بدخشان د خارجه مدیر، د دولت آباد په حکومت، د هرات د خارجه مدیریت، او په آخر کی د چخانسور په حکومت مقرر سو، دی څرنګه چې په قوم بلوچ ؤ د اعلیحضرت امان الله له خوا د بلوچانو د نماینده په حیث د بلوچانو د ملی ارمانو د پسر رسولو او تمثیلونو د پاره د جنرالی په رتبه د زروتنو سپرو په مشری مقرر سو.

www.sikaram.com

د اعلیحضرت نادرشاه د پاچاهی په وخت کی تاج محمد د کندهار د ګرش او چخانسور د منورینو په ډله کی کابل ته را وغوښت سو او نادرشاه د دوست او ورور خطاب ورته کاؤ، هر کله یی خپل حضور ته غوښت، خو دی د نادرشاه په طبیعت او کرکټر پوه وو او دغه یی د ځان له منځه وړلو د پاره یوه دسیسه او توطئه ګڼله.

یوه ورځ د سیاسی دوستانه خبرو اترو په وخت کی تاج محمد نادرشاه ته وویل تا وعده کړی وه چې پاچاهی به نه کوه مه او کله چې په هند کی دی ویلی وه چې د افغانستان پاچاهی به زما په کورنی تعلق و نه لری، خو نن دی د خپلی وعدی مخالف د هیواد پاچاهی واخسته او مهمی چاری دی په خپلی کورنی او خپلو خپلوانو وویشلی، او په دی هم یوه سه چې د افغانستان وطندوست او حق پیژندونکی خلک ستا په دغه عمل خفه او خوابدی دی. د خلکو د موافقی او رضائیت پرته حکومت کول آسان کار نه دی، خدعه او خطا استل بقا نه لری، او د سړی اعتبار خرابوی نادرشاه که څه هم په ظاهره څه نه ورته وویله او د دغه سوال ځواب یی د وخت د ضرورت او ملی مصلحت څخه مغایر ګانه، خو سخت ده ته بدبین سو او د ده کړه وړه یی تر نظارت لاندی ونیول، د کابل او پغمان د ساحی څخه یی د باندی نه پریښود څو د ۱۳۰۹ کال د اسد په ۱۹ د کابل امنیه قوماندان خواجه عبدالجمیل لوګری پغمان ته د تاج محمد د احضار یدلو د پاره ولاړ او د تاج محمد کورنی ته یی وویل چې دی د کوره را وباسی او دیوه مهم کار له پاره په نظر کی نیول سوی دی. هغه وخت چې دی له کوره را ووت سمدستی یی ونیوی او په موټر کی یی واچاوه او د کور ټول اثاثیه او بیت المال یی ورضبط کړه او د ارګ په شمالی برخه کی یی بندی کړ وروسته یی د شمالی سمت د اغتشاش په تور په هغه ځای کی چې عبدالرحمن لودین یی وژلی ؤ، دی یی هم وواژه.

سردار عبدالرحمن:

دی د سردار عبدالوهاب زوی او د سردار امیر افضل د لمسیانو څخه ؤ چې په کندهار کی د ده کورنی په کندهاری سردارانو مشهوره وه. دی په ۱۹۴۹ ش کی په فراه کی زیږیدلی او د هغه سیاسی اختلاف له مخی چې د هیواد پر اداری چارو باندی د سردارانو په منځ کی موجود ؤ د څه وخته له پاره په تهران، هند، سند او کراچی کی فرار ؤ د امیر حبیب الله د پاچاهی په دوهم کال

www.sikaram.com

سردار عبدالوهاب د خپلی تولی کورنی د غړو سره وطن ته راغی. د دی کورنی زیاتره غړی وطنخواه د استعمار مخالف او د یو دول اسلامی لویدیځی دموکراسی د اداری د طرز سره موافق وه، دوی د پاچا د مطلق العنانی د مهارولو طرفدار وو، دوی په انګلیسی، اردو، دری، عربی او پښتو پوهیدل، د هندیانو او ترکانو او نورو آزادی غوښتونکو ملتونو مبارزی یی د خپلو حقوقو د حاصلولو له پاره په ورځپاڼو، رسالو او مجلو کی تعقیبولی، حساس فکر او روښان دماغونه یی درلودل سردار عبدالوهاب د میر افضل خان زوی د سردار پردل خان لمسی په ۱۲۹۸ هـ.ق کی زیږیدلی او د ۱۲۹۹ هـ.ش کال د سرطان په ۲۶ د شنبی په ورځ د زړه د ضعف په ناروغی د ۷۳ کالو په عمر وفات سو.

هغه وخت چې سردار عبدالرحمن کابل ته راغی یونیم کال بیکاره پاته سو، او وروسته د کابل د امنیی په قوماندانی وټاکل سو، ده په دی وخت کی د مشروطی غوښتونکو سره اړیکی پیدا کړی، په پټه او بیکاره یی مرسته ورسره کوله، چې د دغې تولنی د فعالو او وفادارو غړو څخه وګرزید، د مرحوم استاد میر غلام محمد غبار په قول، هغه وخت چې مشروطی غوښتونکو فیصله وکړه چې مسلح به ګرزی او تروری فعالیتونو ته په آماده کیږی د دغه تصویب لوی موئید او طرفدار سردار عبدالرحمن و چې ویل به یی که لازم وی امیر حبیب الله نه بلکه عبدالحبیب د دولت رئیس ګیدلای سی.

سردار عبدالرحمن به کله مزار شریف ته د خپل پلار سردار عبدالوهاب نائب الحکومه د لیدلو له پاره تلی. د اعلیحضرت امان الله په وخت کی په ۱۲۹۸ کی د څه مودی له پاره د معارفو د ناظر او وروسته په هند کی د سفیر او بیا د خارجه وزارت د مستشار معین په حیث مقرر سو. د افغانستان د خپلواکی د مستر دولود معرکی په اثنا کی انګلیسانو سردار عبدالرحمن (په دهلی کی افغانی لوی سفیر) د خپلی عایلی او کورنی سره د دکی په اشغالی سیمه کی تر نظارت لاندی ونیوی، د سفارت تول اوراق او اسنادیی ورضبط کړه، او هغه وخت چې انګلیسان د صلح د ټرون له پاره حاضر سول سردار عبدالرحمن خان یی د مذاکرو له پاره کابل ته راولیږی، ده د اعلیحضرت امان الله سره ولیدل د سیاسی استقلال د منلو په صورت یی د انګلیسانو د صلح پیشنهاد ومنی او بیرته دکی ته ستون سو، او په ډکه کی تر اوو ورځو اوسیدلو د کابل او ډکی په منځ کی د تلو او

www.sikaram.com

راتلو وروسته بیرته کابل ته راغی.

سردار عبدالرحمن په ۱۳۰۲ هـ.ش کی د فراه د تنظیمه رئیس په حیث مقرر سو بیا یی د ماموریت څخه استعفی وکړه، د سقوی اغتشاش په وخت کی بندی سو او تول مال او منال یی ضبط سول. دی په کال ۱۳۱۳ هـ.ش د ۶۲ کالو په عمر په فراه کی وفات شو. دی د پښتو او دری حساس او خوږ ژبی شاعر ؤ د غه رباعی ده ته منسوبه ده:

یـك چـند كـه زیر خاك شد منزل ما　　بیـنی كـه كـوزه ها كنند از گل ما
چون بر لب هر دلبری رسد آن كوزه　　بـیرون شـود آرزو هـمه از دل مـا

* * *

نسـریـن كـه از و هـر بستان است　　از عـارض خـوب مـهرویـان اسـت
در كار جهان مه پیچ چون دانی هیچ است　　جـز ذات خـدا چـی پیـچی هیچ است

سردار عبدالحبیب:

دی د سردار عبدالوهاب زوی او د سردار عبدالرحمن مشرو زوی و چې د تبعید په وخت کي يي په هند کي خپل تحصیلات او مطالعات بشپړ کړه او د سردار عبدالرحمن په شائي یو آزادیخواه، وطندوست د ظلم او ناروا څخه بیزار افغان ؤ. ده د هیواد دروشنفکرانو او مشروطي غوښتونکو سره پوره علاقمندي درلوده او کله، کله يي مجلسونه او مفاهمي هم ورسره درلودي. دي په (۱۳۰۵ش) کال کي په ۶۳ کلن عمر وفات سو.

سردار عبدالحبیب د آزادي غوښتلو، مشروطي راوستلو او دموکراسي پاللو په جرم څو ځله بندي او خوشي سوي دي. دي یو عالم، اخلاقي او سنجیده شخصیت و. په پښتو، دري، عربي، اردو او انګلیسي ښه پوهیدی. شاعر رسام او هنرمند و.

د شعر نمونه يي:

شكر خدا كه نخل مـرادم ثمر گرفت　　باغ امید خلق عجیب بار و برگرفت
آخر دعـاي خسته دلان بین اثرگرفت　　ساقی بیا كه یار ز زخ پرده برگرفت
كـار چـرخ خـلوتـیان بـاز برگرفت

www.sikaram.com

سردار عبدالحسین عزیز:

دی د سردار عبدالعزیز زوی و چې په کال (۱۲۶۶ش) کې په تهران کې زیږیدلی و لومړنی تحصیلات یې د خپلې کورنۍ د غړو او محلي استادانو او عالي تحصیلات یې د حبیبي په مکتب کې پای ته رسولي او د امیر حبیب الله او اعلیحضرت امان الله د عصر د مشهورو روشنفکرانو او مشروطي غوښتونکو څخه ګټل کیدي. د مشروطي په مجلسونو کې یې د میر سید قاسم خان لغماني د افکارو سره هماهنګي ښکاره کوله، څرنګه چې دي ملي شخصیت او د دولت او ملت واړه خیر خواه ؤ نو له منطق او فعالیتونو څخه یې د چا ډیر بدنه راتله او د حاکمي طبقې د جدي عکس العمل څخه په امان پاته کیدي. دي په انګلیسي، عربي او دري ښه پوهید او په دري کې یې شعري قریحه هم درلوده. د ده د آزادي غوښتلو ملیت پاللو د احساساتو څخه د ده مشر زوی عبدالحي عزیز چې د وطن ګوند د موسسینو څخه ګټل کیدی زیات متاثر و. سردار عزیز په رسمي ډول دغه وظیفې اجرا کړې: په (۱۹۲۰م) کې د پلار سره تهران ته ولاړ، په (۱۹۲٤م) کې په خارجه وزارت کې د معاهداتو او کونسلګر یو سکرتر، په ۱۹۲۵ کې د دغې عهدې څخه برطرف سو، په (۱۹۲٦م) کې د افغان ترانسپورت کمپنۍ مدیر، په کال (۱۹۲۷م) په ډهلي کې افغاني جنرال کونسل، په هم دغه کال کې په ماسکو کې افغاني لوی سفیر وټاکل سو. ده د سردار محمد عزیز جنازه (د سردار محمد داود شهید پلار) کابل ته راوړه او په ماسکو کې تر (۱۹۳۷م) پورې سفیر پاته سو، په (۱۹۳۸م) کې د فواید عامي وزیر، په (۱۹٤۳م) کې په واشنګټن کې افغاني لوی سفیر، په (۱۹٤٦م) کې د ملګرو ملتو په ټولنه کې لومړنی افغاني نماینده او بیا د پوهنې وزیر، په (۱۹٦۰م) کې د مزاج د عدالت له مخې د کاره ګوښه سو او په کابل کې وفات سو.

عبدالجلال کندهاري:

دی د غلام محي الدین افغان د اکا چې په (بادار) مشهور و زوی او د غلام محي الدین سره یې یو ځای ښوونه او روزنه موندلې وه. هغه وخت چې د امیر شیرعلیخان په دوهمه دوره پاچاهي کې سردار محمد یعقوب خان د ده د نائب په حیث په هرات کې کار کاوه بادار د هغه په پیښ خدمتانو کې شامل ؤ. وروسته چې سردار محمد یعقوب خان د پلار په امر کابل ته راوغوښتل سو د مخه تر هغه چې دي کابل ته ولاړ سي خپل ملګري او مخلصان یې ټول خپل ورور سردار محمد

www.sikaram.com

ایوب خان ته وروپیژندل چې په دغه جمله کې بادار کندهاري هم د سردار محمد ایوب خان په خدمت وگمارل سو. بادار د سردار محمد ایوب خان په ټولو ملي مجاهدو او سیاسي فعالیتو کې شریک و او هغه وخت چې سردار محمد ایوب خان د انگلیس او امیر عبدالرحمن خان د قواو څخه ماته وخوړه او د ایران مشهد ته فرار سو، بادار او کورنۍ یې هم د دغه سردار ملگري وه چې دغه ټول لسو فامیلو ته رسیدل. بادار د افغاني اوملي کرکټر خاوند و، د انگلیسي استعمار او مطلقیت سره یې سخت حساسیت درلود.

د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین په دور کې چې فراریانو ته بیرته د وطن د راتلو اجازه ورکړه سوه، عبدالجلال هم کابل ته راغې او د مشروطي غوښتونکو د فعالو مبارزینو څخه وگرځید. دي د مشروطي غوښتلو په تور لس کاله د کابل د شیر پور په جیل کې پاته سو. د اعلیحضرت امان الله د پاچاهي په دور کې د بند خوشي سو. کله به په کابل او کله به په کندهار کې اوسید. د عمر په وروستي مرحله کې یې په کندهار کې د بزازي دکان درلود او د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د پاچاهي په منځنیو کلونو کې په کندهار کې وفات سو.

محمد عثمان پرواني:

دي د محمد سرور پرواني زوي او د امیر د خاصو غلام بچه گانو څخه ؤ چې کورنۍ یې د دولتي مشرتابه استعمار او مطلقیت سره د مخالفت درلود لو او آزادي غوښتلو له کبله په پروان مخصوص خپل تبر ساپیانو کې زیات شهرت درلود. د امیر حبیب الله د پاچاهی په وخت کې د (سالنگ) د لارې د امنیت ساتلو عهده هر کله ورسپارله کیده. ده په پښتو، دري او انگلیسي لیک لوست کولای سو چې د پخواني هند او صوبه سرحد په مدرسو او دارالعلومو کې یې درس لوستي ؤ. دي په صوبه سرحد او هند کې د آزادي غوښتلو او د استعمار سره مبارزو تر تاثیر لاندي راغلي ؤ او د یو ریډیکالستي نشنلستي په حیث پیژندل کیدي. محمد عثمان پرواني د مشروطي غوښتلو په تحریک هغه وخت چې په ننگرهار کې د افغاني حدودو څخه د باندي په دي نیت چې د امیر حبیب الله د مطلق العناني او ناوړه اجراآتو څخه څه مضامین د هند په اخبارو کې نشر کړي تیریدي ونیول سو او د امیر حضور ته راوستل سو. امیر په خیانت او بي وفایي متهم کړ

www.sikaram.com

او په مرګ يې محکوم کړ. ده په ځواب کې ورته وويل: ما هيڅ کله دا نه غوښتل چې ستا سره خيانت او بې وفايی وکړم. ما غوښتل چې ستا د خوښې او ارادې سره سم تا د وطن په احوالاتو او کوايفو خبر کړم او ستا امر ما پرځای کاوه. د پاچا اطاعت د هر افغان اسلامي او ملي وظيفه ده او دغه يو تور دي چې پر ما ټرل سوي دي. خو امير چې دي بالفعله نيولې ؤ په مرګ يې محکوم کړ ده بيا په عرض ورسول زما د مرګ زحمت تر څو دقيقو زيات نه دی، خو ته د خدای له باز خواسته څرنګه خلاصيدلای سي، محمد عثمان پرواني په جلال آباد کې د امير حبيب الله په امر په توپ کې والوزول سو.

محمد ايوب پوپلزي:

محمد ايوب د تاج محمد زوی د يحيی خان کړوسي ؤ چې پلار يې د سردار محمد ايوب خان د طرفدارانو په جمله کې د امير عبدالرحمن خان په مقابله کې د کندهار د جنوبي سيمي يعني ذاکر شاو خوا کليو مدافع ؤ. هغه وخت چې سردار محمد ايوب خان ماته وکړه، دي د خپل فاميل سره چې دري زامن محمد رفيق اته کلن، محمد عيسی پنځه کلن، محمد ايوب دري کلن ؤ د سردار محمد ايوب خان سره يوځای هند ته فرار سول او هلته به يې کله په راولپنډي او کله په لاهور او کوټه کې ژوند کاوه.

امير عبدالرحمن خان چې نه غوښتل خپل مخالفين د انګليسانو او روسانو په لمنه کې پريږدي او د دغې ناحيې څخه يې د خپل او يازوي امارت ته تاوان ورسيږي نو په هر صورت چې کيدله دوي يې بيرته له ځانه څخه خوښ ساتل او وطن ته د راتلو دعوت يې ورکاوه. چنانچه تاج التواريخ په دې هکله داسی ليکي: (... در باب فراری های مهاجرين افغان يك فقره ديگری هم هست که در زمان حيات خودم خيلی معتنابهه ميدانم و دور نيست بعد از وفات من برای استحکام حقوق پسر به جهت سلطنت افغانستان خيلی اهميت داشته باشد و آن اين است که به هر وسيله ممکن بوده است سعی کرده ام تعداد حکام و روسای ممالك افغانستان را در دربار خود زياد نمايم و نيز همراهان خيلی با نفوذ رقبای خود را چه از هندوستان و چه از روسيه در کابل جمعه نمايم. اکثر اين اشخاص حسب حکم من نوکر های مقرب پسرم ميباشد...).

www.sikaram.com

د سردار محمد ایوب خان د ملگرو په هکله چې په هند او ایران کي اوسید ل د ذکر سوي کتاب په ۳۹۹ مخ کي داسي راوړه سوي دی: (... **قسم دویمی اشخاص هستند که حامی و بستگان محمد ایوب خان که از تمام رقبای من تعداد همراهان او بیشتر بوده است میباشد، لزومی ندارد که اسامی آنها را یك به یك بنمایم ولی همه آنها غیر از چند نفری او را واگذاشتند و در میان آنها کمتر اشخاص هستند که از من مواجب نمیگیرند و از مشارالیه ناراضی نیستند...**).

نو امیر د دغي پالیسي په پیروي محمد ایوب پوپلزي او محمد عیسي پوپلزي په داسي حال کي چې سفر خرڅ يي هم ورواستاوه وطن ته بیرته د راتلو دعوت کړل. محمد ایوب پوپلزي يي د چخانسور د حاکم او بیا سرحد دار او محمد عیسي يي په شمالي ولایاتو کي د حاکم په حیث مقرر کړل.

د محمد ایوب افکار په هند کي د هندي آزادي غوښتونکو او ملی مبارزینو د فعالیتونو څخه متحسس وو. د انگلیسي، اردو او نورو وطن پالونکو اخبارونو د محتویاتو څخه يي استفاده کولاي سوه. د مطلق العناني او استبداد ٌسره يي جوړه نه وه نو هغه وخت چې افغانستان ته راغي د څه وخت وروسته د دربار په نژدي عمله کي شامل سو او د مولوي غلام محي الدین افغان او مولوي محمد سرور واصف سره د نژدي ناستي او ولاړي له تاثیر څخه د مشروطي غوښتونکو په ډله کي شامل سو. دي د مشروطي غوښتلو په جرم په کال (۱۲۵۸ش) د حوت په میاشت کي هغه وخت چې غوښته يي د محمد عثمان پرواني په ملگرتیا هند ته فرار سي په سرحد کي ونیول سول او د امیر حبیب اللّه په امر په توپ کي والوزول سول.

د محمد ایوب پوپلزي یو نومیالی زوی محمد سرور ایوبی نومید چې په کال ۱۹۵۲ کی بی په دهلی کی د (تاجر) جریده خپروله هغه د افغانستان او هند د دوستی د ټولنی او د هند د پښتون جرگی غړی ؤ محمد سرور ایوبی په زاړه دهلی کی (پهاتک جش خان) د تعمیر د نړیدلو په حادثه کی د مولینا محمد اکبر د هند پښتون جرگی د رئیس او مولوی عبدالعلیم آزاد د هند د جمعیت العلما د مشر او محمد اسلم بهی بتی سره یو ځای د ۱۹۶۳ کال د دسمبر په ۲۸ په شهادت ورسیدی[۱].

۱- تاجر هفته وار جریده، ۳۳- ۳٤، مخ چاپ ۱۹٦۳ دهلی.

www.sikaram.com

د محمد سرور ایوبی یو دین دوست او وطنپال زوی محمد نادر ایوبی نومیږی (تولد ۱۳۰۹ هـ.ش) چې په کال ۱۳۳۷ هـ.ش کی د کابل د حقوقو او سیاسی علومو د فاکولتی څخه فارغ التحصیل سوی او د خارجه وزارت په دننه او د باندنیو څانګو کی یی د سکرتر او کونسل په حیث کار کړی او د خلقی انقلاب وروسته اوس د مهاجر په څیر د امریکا په متحده ایالاتو کی اوسی. مشهور آثار یی سیاسی نظریات دوه توکه، اقتصادی نظریات دری توکه اسلام (حقوق، سیاست، اقتصاد او تصوف) دوی.

محمد ابراهیم چنداولی:

دی په ۱۲۹۹ هـ.ق کی د کابل په چندولو کی زیږیدلی او د امیر عبدالرحمن خان د سلطنت په لومړیو ورځو کی ځکه چې د سپاه سالار حسین علیخان (تولی مشر) سره یی قرابت او خپلوی درلوده او سپاه سالار یی ماما کیدی د خپلی کورنی د اوو غړو سره هند ته فرار سو او ۱٤ کاله یی په راولپنډی او اته کاله یی په لاهور کی چې تول (۲۲) کاله کیدل تیر کړل.

دی د سردار محمد ایوب خان د تینګو او وفادارو ملګرو څخه شمیرل کیدی، هغه وخت چې د امیر محمد یعقوب خان حکومت سقوط وکړ او سپاه سالار حسین علیخان د چندولو په بازار کی د انګلیسانو په لاس کنبیونی د مخه تر هغه چې وپیژندل سی د حبیب الله خان شیرین د زوی په واسطه خوشی سو او وروسته د انګلیسانو په حفاظت لاهور ته فرار سو او د دغه ښار څخه بیا د ایران د لاری د سردار محمد ایوب خان سره یوځای سو او د سردار به تولو ملی مجاهدو کی ورسره ملګری ؤ. هغه وخت چې سردار شکست وخوړ د هغه سره بیا ایران او هند ته فرار سو او هلته وفات سو.

د ده د مهر په سجع کی داسی لیکلی سوی ؤ:

قضا به لوح قدر زد رقم به خط جلی که تولشر بهادر بود حسین علی

محمد ابراهیم چندولی د خپل ماما سپاه سالار حسین علیخان، سردار محمد ایوب خان او مولوی غلام محی الدین افغان د تربیی او افکارو تر تاثیر لاندی دومره راغلی ؤ چې پښتویی ویل او لیکل، هغه وخت چې امیر حبیب الله د انګلیسانو د دعوت له مخی په کال (۱۹۱٦) د دسمبر په ٦ هند ته ولاړ محمد ابراهیم چندولی د هغه سره ولیدل او د هغه په اجازه بیرته وطن ته راغی او

www.sikaram.com

څو کاله په کابل کی په زمینداری لګیا ؤ ده ساعت جوړونه په راولپنډی کی زده کړی وه د ده دکان د ارګ په بازار کی ؤ دکان یی د معاصر و روشنفکرانو او آزادیخواهانو د ناستی او ولاړی مرکز ګعل کیدی او کله چې غلام محی الدین خان وفات سو (۱۳۰۰)هـ.ش ده د افغانی کلب او افغان جمعیت ته همهغسی دوام ورکړ.

محمد ابراهیم چندولی د امیر حبیب الله په امر د ۱۲۸۵ هـ.ش کال د حوت په میاشتی کی د مشروطی غوښتلو په ګناه د خپلو ځینو ملګرو سره بندی شو.

د اعلیحضرت امان الله په تخت کښینستلو سره چې سیاسی بندیان خوشی شول په دغه لړ کی دی هم د حبس څخه خلاص سو او په ۱۳۰۲ کال کی چې د کابل د ښاروالی حوزه د لومړی ځل له پاره پر څلورو ناحیو وویشله سوه د لومړی ناحیی د مامور او په ۱۳۰۶ کال کی چې پر دوو ناحیو وویشله شوه ترفیعا د کابل د جنوب د سیمی د محلی مامور په حیث وټاکل سو. د ۱۳۰۸ کال د اغتشاش وروسته ده ته د (جمعیت امداد ملی) په ۱۳۲۰ کال کی د کابل د ښاروالی د دارالمساکین چاری وسپارلی سوی. په ۱۳۲۵ کال کی چې دارالمساکین په مرستون واوښت بیا هم دی د دارالمساکین د چارو متکفل ؤ.

محمد ابراهیم چندولی د ۱۳۳۲ (۱۳۷۳) کال د قوس په اوله د ۷۲ کالو په عمر د ناسور په ناروغی وفات سو او د کابل د شیردروازی د غره په لمنه کی خاوروته وسپارل سو د ده د قبر په شنخته داسی لیکلی سوی دی:

گذشت آن حاجی پاکیزه طینت — که او بودی پدر هر بینوا را
دعای بینوایان بود دایم — نصیبش خیر کن پروردگارا
زشمسی گشت بهر سال فوتش — نصیبش خیر من تاریخ پیدا
۱۳۳۳

میرزا محمد حسین راقم:

دی په کال ۱۲۹۰ هـ.ق کی زیږیدلی، تحصیلات یی په ۱۲۹۹ کی د کورنی د غړو او متبحرو استادانو څخه په سر رسولی، وروسته یی په امنیی قوماندانی کی د محرر په توګه په کار لاس پوری کړی او په ځوانی کی یی د سیاست او ملی اداری سره علاقمندی پیدا سوی وه او د

www.sikaram.com

مشروطی غوښتلو په نهضت کی شامل ؤ. څرنګه چې ښه شاعر ؤ نو په خپلو شعرونو کی یی د آزادی، عدالت او وطندوستی دیری ښیګڼی بیانولی او په همدغه نسبت یی د وخت د حاکمانو او زمامدارانو څخه زیات تکلیفونه ولیدل. راقم د مشروطی غوښتلو په ګناه په ۱۳۲۷ کال کی بندی شو ده د خپل بنده په مده کی د خپل شعر دیوان او ځینی نور آثار بشپړ کړه خو د زمانی ناوړو حوادثو هغه ټول له منځه یووړل.

میرزا محمد حسین راقم په قوم اڅکزی په (۱۳۲۵) هـ.ق= ۱۹۱۶ کال د نقرس یا پښی د درد او فالج په ناروغی په محبس کی وفات سو د افکارو طرز یی د دغه شعر څخه څرګندیدلای شی.

ای مسلمانان کنون وقت تن آسایی گذشت
زود بشتابید کایام گرانجانی گذشت
عالمی در هر طوف مصروف علم اند و هنر
حیف عمری کو به بی علمی و نادانی گذشت
اختراعاتیکه اکنون در جهان دارد رواج
از هزاران یك درین نظمیکه میخواهی گذشت
در جراید خوانده باشید اینکه چندی پیش ازین
تا چه حد ظلم و عدو بر ترکه عثمانی گذشت
ای برادر چند باید بی حمیت زیستن
فکر کاری کن که از وی هیچ نتوانی گذشت
مرگرفتاران عالم را ازین ره چاره نیست
غیر از این کو در حیات از عالم فانی گذشت
شکرالله راقمی دل خسته را از کلك شوق
از بیان در ذکر مصنوعات ربانی گذشت[۱]

۱- یادی از رفتگان، مولینا خال محمد خسته، صفحه ۳۶.

www.sikaram.com

محمد انور بسمل:

د ناظر صفر امین الاطلاعات چترالی زوی ؤ چې په کال ۱۲٦٦ = ۱۸۸۸ د محرمی په میاشت کی په کابل کی زیږیدلی مروجه علوم یی د خپل شاؤ خوا پوهانو څخه حاصل کړی او د حبیبی مکتب د عالی فارغ التحصیلانو څخه ګعل کیده. بسمل طبیعتاً صوفی مشرب، د بدوبیزار او اخلاقی شاعر ؤ. د خپل ماموریت په دورو کی چې د پلار محمد صفر سره یی د قطغن په ولایت کی د مرستیال او حاکم په حیث کار کاؤ، د خدای عبادت او د خلکو خدمت یی هیڅکله هیر کړی نه ؤ، د غریبانو او بیوزلانو به یی لاس نیوی کاؤ د جبارانو او مطلق العنانو څخه یی ښه نه راتلل، د همدغه کرکتر له مخی دی د مشروطه خواهانو طرفدار او پیروګرزیدلی ؤ، خو د خپل ورور محمد ابراهیم (صفا) او زامنو محمد اسلم، محمد طاهر، محمد نعیم سره یوځای د اعلیحضرت محمد نادرشاه د پاچاهی په وخت کی د څه مودی دپاره د هغه په وژلو کی د لاس لرلو په تور تر ۱۳۲۵ کال پوری په بند کی پاته سو. د بند څخه د راخلاصیدلو وروسته په کابل کی د مرستون، د مالیی وزارت د اداری ریاست، د اعیانو د مجلس د غړیتوب به پای ته رسولو سره متقاعد سو او د ۱۳٤۰ ش کال = ۱۹٦۲ د جدی د میاشتی په دریمه د دوشنبی په ورځ وفات سو د شعریی کلام نمونه یی دا ده:

ای ز رویت محفل دلهای محزون را چراغ
تازه از بوی خوشست طبع پریشانی را دماغ
عاقلان در حلقهء از زلف پرچینت اسیر
بیخود آنرا از دو عالم داده سودایت فراغ
زاهد آنرا در خم محراب ابرویت سجود
میګساران را به کف از ګردش چشمت ایاغ
ز خمی تیر ترا بالین راحت خواب ناز
کشتهء تیغ ترا در خون نشستن سپر باغ
گوش گوار آمد به ذوق داغداران تو درد
دلفشین افتاده پیش دردمندان تو داغ
خود سری بسمل دلیل بی تمیزیها بس است
گوش گزنشناسد از آواز بلبل بانگ زاغ[۱]

۱- معاصر بن سخنور، مولوی خال محمد خسته، ص ۳۲، کابل ۱۳۳۹

www.sikaram.com

مولان خان:

د محمد اکلیل بدخشانی فرقه مشر ورور ؤ چې د خپل وخت د مشهورو وطنپالانو او مشروطه غوښتونکو څخه ګڼل کیدی. دی د اعلیحضرت امان الله د تخت کښینستلو مجرد د بنده خوشی سو او ډیرو نازول سو د ده ورور محمد اکلیل د مزارشریف فرقه مشر د سقویانو سره د مقاومت په اثنا کی ووژل سو.

نظام الدین ارغندیوال:

د امرالدین سلیمانخیل ستانیزي زوي او پلار یي د خپل مشر ورور فضل الدین په ملګرتیا د امیر عبدالرحمن خان سره یوځاي په بخارا کي د فراریانو په څیر ژوند کاوه، هغه وخت چې امیر د افغانستان پر تخت کښینوست دي یي د غلام بچه ګانو په ډله کي شامل کړ او د شهزاده ګانو سره یي یوځاي لیک او لوست زده کاوه او پر شهزاده حبیب الله ډیر ګران ؤ ده وروسته د مشروطه غوښتونکو سره علایق ومونډل او د امیر د کتابخاني څخه یي په پټه آثار توزیع کول. دي د مشروطه غوښتلو په تور بندي سو او د اعلیحضرت امان الله د پاچاهي په دوره کي د استقلال او ترقي د ګوند د فعالو غړو څخه ګڼل کیدي او د څه وخت د پاره یي د امنیي وزارت د یوي حساسي څانګي د مدیر او بیا په آلمان کي د افغاني سفارت د مستشار په حیث کار کاوه.

مولوي محمد ظفر مروت:

دي د مروتو افغانانو څخه ؤ چې نیکونه یي د اسماعیل خان د ډهري څخه هند ته مهاجرت کړي و او همهلته یي خپل تحصیلات بشپړ کړي وه. ده د انګلیسي استعمار او غربي فرهنګ سره سخت حساسیت پیدا کړي و. هغه وخت چې د حبیبي ښوونځي د پاره ښوونکي په کار سول او په خارج کي د هغو د استخدامولو له پاره اعلانونه خپاره سول، دي هم د نورو هندي ښوونکو سره د داؤطلب په څیر افغانستان ته راغي او د حبیبي په مکتب کي یي د ریاضي او جغرافیي تر معلمي علاوه شاګردان د آزادي، عدالت او استعمار سره د مبارزي په خوند پوهول او د مطلق العناني په مخالفت یي راپاروول څو په هم دغه جرم بندي سو او همهلته په بندي خانه کي وفات سو.

www.sikaram.com

احمد علي قزلباش:

د ده کورني د دولت د مشهورو محاسبینو څخه ګڼله کیده او خپله ده هم په مالي او مخابراتي چارو کي لوي لاس درلود او د امیر حبیب الله د دربار د مصارفو د کنترولولو مهمه عهده ورسپارلي سوي وه. ده د مشروط خواهانو سره علایق پالل او په همدغه تور بندي سو څو د اعلیحضرت امان الله د تخت کښینستلو مجرد خوشي سو او پخواني عهده يي احیا سوه.

حافظ عبدالقیوم:

د حافظ نور محمد مجذوب شاعر زوي او د ملا جانداد توخي لمسي و. دي د قرآن شریف حافظ و او د سردار نصر الله د نژدي دوستانو او مجلسیانو څخه ګڼل کیدی. حافظ صاحب هم د مشروطه غوښتلو په اتهام بندي سو خو د پلار د احترام او لوړ معنوي منزلت له مخي د دوو کالو بند څخه وروسته خوشي سو.

ملا عبدالحق ارغندیوال:

دي د عبدالعزیز سلیمانخیل زوي او د کابل د کښتي ارغندي اوسیدونکي و چې په (۱۲۸۹ق) کي زیږیدلي، تحصیلات يي د لوګر، غزني او شاوخوا سیمو د جیدو عالمانو څخه په سر رسولي، په صرف و نحو منطقو او ادبیاتو کي يي لوي لاس درلود او د ځینو مهمو آثارو او ترجمو خاوند و.

دي د سراجیي او حربي ښوونځي د دینیاتو او اخلاقو معلم و. څرنګه چې يي د مطلقیت او عیاشي څخه ښه نه وړل نو د رفع کولو د پاره يي د مشروطي غوښتلو د پروګرام سره همنوایي ښکاره کوله او د دغه فعالیت له مخي په (۱۳۲۷ق) کي بندي سو او د اعلیحضرت امان الله د تخت کښینستلو مجرد ژر خوشي سو او په حربي ښوونځي کي په پخواني وظیفه بیرته وټاکل سو او د فقي یو شمیر ضروري کتابونه يي تالیف او ترجمه کړه. ده واقدي او فتوح هم توجمه کړي دي.

شیر علي خان بارکزي:

دي د فراه او سیستان د هغو خانانو او حکمرانانو څخه و چې د مرکزي حکومت د هغو لوایحو سره يي مخالفت درلود چې د شریعت سره يي هم آهنګي نه درلوده او د مشروطي

www.sikaram.com

غوښتونکو د بنې جنبې څخه شمیرل کیدي چې په همدغه تور بندي هم سو او زیات کړاونه یې ولیدل.

ملا فیض محمد کاتب:

دي د هیواد د مشهورو فرهنګیانو او تاریخ پوهانو څخه و چې په کال (۱۲۸۹ق) کې د محمد سعید په فامیل کې زیږیدلي او د محمد خواجه هزاره ګانو د څانګې څخه شمیرل کیدي. ملا صاحب د ملا محمد سرور اسحق زي په معرفي د امیر حبیب الله او سردار نصرالله نائب السلطنه د پاره د افغانستان معاصر تاریخ د تحفة الحبیب په نامه په دوه ټوکه کې ولیکي. ده دغه اثر خپله او د میرزا غلام قادر کاکړ په نستعلیق خط خوش نویس کړ. څرنګه چې ځینې حقایق یې د امیر خوښ نه سول نو هغه یې مصادره کړ او د سراج التواریخ په دوو ټوکونو لیکلو یې مامور کړ. ده به د سراج التواریخ هره صفحه لیکله او امیر ته به یې ویله او هغه به لازم تعدیلات او تزئیدات پکښې راوستل. د دغه خدمت په مقابل کې امیر ده ته په کال کې دوه سوه روپې تنخواه یا معاش مقرر کړي و. په (۱۳۱۵ق) کې چې د ده د ملازمت پنځم کال و د ده پر اصل معاش باندي یو سل شل روپې نوري اضافه سوي او تر (۱۳۲۵ق) پورې یې چې دوولس کاله کیږي په دغه معاش سره کار کاوه په (۱۳۲۵ق) کال کې سردار نصرالله د سراج التواریخ د لومړي ټوک د بشپړولو له کبله په کال کې ده ته زر (۱۰۰۰) روپې معاش وټاکي.

په کال (۱۳۳۱ق) کې امیر حبیب الله دي د سراج التواریخ د دوهم ټوک په لیکلو مامور کړ او پنځه سوه روپې یې د بخشش په ډول ورکړي او کله چې یې دوهم ټوک بشپړ کړ زر روپې یې د بخشش په توګه نوري ورکړي او په میاشت کې یې پنځه سوه روپې معاش نور ورته وټاکي.

ملا فیض محمد د اعلیحضرت امان الله په عصر کې د څه مودې د پاره د پوهنې د وزارت په دارالتالیف کې کار کاوه او بیا د حبیبې مکتب د معلم په حیث مقرر سو او تر (۱۳۰۷ش) پورې چې سقوي راتله هم هلته مصروف و.

سقاویانو چې د هزاره ګانو بیعت د چندولیانو په واسطه په لاس راوړي نو ملا فیض محمد هزاره یې د کوهدامنې عبدالرحمن، میر آقا، نور الدین او خلیفه غلام حسین چندولي سره د کابل

www.sikaram.com

څخه د هزاره ګانو سرچشمي ته و استول. هغه وخت چې دوي سرچشمي ته ورسیدل کوهدامنی عبدالرحمن سمدستی ووژل سو او د ده څلورنور ملګری په تیښته کابل ته راغلل حمید الله د سقاو ورور چې معین السلطنه یی باله په دی وپوهید چې دوی په خپل ماموریت کی صادقانه عمل نه ؤ کړی او هزارګان یی د حکومت په مخالفت تحریک کړی وو چې کوهدامنی عبدالرحمن ووژنی او بیعت ورنه کړی، نو همهغه ؤ چه هزارګانو په سرچشمه کی د سقاو لښکر مات کړ، د سقاو حکومت دوی په یوی بهانه د باقر خان کلا ته چې اوس د میوند د جادی په لومړی برخه کی ده را وغوښتل او ډیری وخپل غلام حسن معلم خان په ګوتو ورنه کړ او په وزیر آباد کی پټ سو. ملا فیض محمد چې ډنګر او کمزوری سړی ؤ د دغه وهلو د لاسه د ۱۳٤۹ ق کال چهارشنبی د رمضان المبارک په ۱٦ په کابل کی وفات سو.

د فیض محمد مشهور آثار دا دی: سراج التواریخ، تاریخ حکمای متقدمین، از هبوط آدم تا بعثت حضرت عیسی، فیضی از فیوضات، تذکرة الانقلاب او نور.

امرالدین خان:

دی په غوامو کی د امرالدین خان هندی پولیس او په دربار کی د امیر الدین خان اداره چې په نامه یادیده چې د یو شمیر اسرار آمیزو چارو په سر رسولو کی یی شهرت موندلی ؤ او ځان یی د جنوبی ولایت د اعلی حکومت تر چوکی رسولی ؤ. پر ده باندی به زیاتره بی جلوه او اوباش کسان را تولیدل د لومړی درجی امانستانو او اصلاح طلبانو څخه ګڼلی کیدي. ده د افغانانو د ملی اعتقاداتو او قومی رسوماتو خیال نه ساته، او قانونی مطلق حکومت یی تطبیقاوه، د همدغه کرکتر له مخی د خلکو د تنفر او ارتجاع د سخت عکس العمل مورد وګرزید او د پکتیا د اغتشاش د عواملو څخه یو د ده تند خویی او لا پروایی ګڼله کیده. دی د عمومی عکس العمل څخه د ځان خلاصولو له پاره د سقاو د زوی ملګرتیا ته مجبور سو او د ۱۳۰۸ هـ.ش کال د نجات په شخړه کی د خپلو ناورو اعمالو په جرم اعدام سو.

حاجی محمد اکبر یوسفی:

دی د نومیالیو مشروط خواهانو څخه ګڼل کیده چې د دولت په اداری او محاسباتی چارو کی ئی لوی لاس درلود، څرنګ چې د ماشینخانی د چارو او د دربار د یو شمیر نفوذ لرونکو عناصرو

www.sikaram.com

سره یی د نژدی مناسبات ساتل نو د اعلیحضرت امان الله خان د مور سرور سلطانی دیر معتمد گرزیدلی ؤ او د هغی په سفارش د هند د بمبئ په بنار کی د جنرال کونسل وکیل التجار او بیا د سرحدونو د چارو د متکفل په حیث مقرر سوی ؤ.

حاجی محمد اکبر یوسفی په پکتیا کی د څه وخت له پاره د اعلیحضرت نادرشاه د قیادت له پاره تبلیغات کول او د اصلاح د جزیدی په توزیع کولو کی یی فعالیت درلود، د همدغو خدمتونو له کبله هغه وخت چې نادر شاه سلطنت ته ورسید دی یی په خپله لومړی کابینه کی د تجارت د وزیر په حیث وټاکه څرنگه چې رموز فهمی یی لږه وه د څو میاشتو وزارت کولو وروسته گوښه کړه سو او په ۱۳۲۰ د اعیانو د مجلس په عضویت ومنل سو د ده یو اثر د تطبیق سنوات او تصفیه حسابات په نامه د ۱۳٤۲ کال د قوس په میاشت کی د کابل مطبعي چاپ کړي دي. حاجی محمد اکبر په کال (۱۳٤٥ش) کي وفات سو.

بابا عبدالعزید (بابا جان):

دي د لومړي او دوهمي دوري د مشهورو ملي مبارزینو، وطندوستانو او مشروطي غوښتونکو څخه و چې د مطلقیت او استبداد د لیري کولو په لار کي يي زياتي خواري او زحمتونه گاللي او د ځواني ښې شپې او ورځي يي په بندیخانو او محرومیتو تیري کړي او ملي محبوبیت يي حاصل کړي و چې هر چا د خپل مشر او پلار په حیث گانه او په (بابا) مشهور و.

بابا جان د میرزا عطا محمد الکوزي زوي و چې د (۱۲٥٥ش) کال په شاوخوا کي په غزني کي چې هلته يي پلار سرشته دار (مستوفي) ؤ زوکړي او د مور له خوا په ورد ک تېر گډیږي. ده د مشهورو وطني استادانو څخه خطاطي، رقم، جغرافیا، ادبیات او نور متداوله علوم زده کړي او د حبیبي ښوونځي د استادانو په لاربنودنه سره يي د سراج الاخبار او ملي مسایلو سره پوره علاقمندي موندلي وه. بابا جان د امیر حبیب الله سراج المله و الدین په عصر کي په کابل کي د ماشینخاني په مطبعه کي خطاط او مصحح و او په (۱۳۰۰ش) کي یی په کندهار کي د طلوع افغان د خطاط او کاپي نویس په توگه کار کاوه. په کال (۱۳۰۱ش) کي د دغي جریدي د مدیر او چلوونکي په حیث وټاکل سو. باباجان د جوانان افغان د انقلابي ملگرو څخه گڼل کیدي. د

www.sikaram.com

اعلیحضرت محمد نادرشاه په دور کي (۱۳۰۹ش) د کندهار د روشنفکرانو له خوا د ملي شورا په غړیتوب وټاکل سو. ده په هغه شورا کي د شورا بر طرزالعملونو او د اعلیحضرت محمد نادرشاه د خارجي پورونو پر تادیه کولو او عوض ورکولو باندي څه اعتراضونه او تنقیدونه درلودل چې د هغو په نسبت د حکومت نظر ځني واوښت او ډول ډول فشارونه يي ورته متوجه کړه چې د هغو څخه د ځان خلاصولو له کبله استعفي ته مجبور سو. څه موده وروسته يي په خارجه وزارت کي د مطبوعاتو د مدیر په حیث کار وکړ او په (۱۳۱۲ش) کي د انګلیس پر سفارت باندي د حملي کولو د دسیسي ملګري وشمیرل سو او بندي خاني ته ولیږل سو. دي تر (۱۳۲۵ش) کال پوري د عمومي بخښني او د سردار محمد هاشم خان د حکومت تر رنګیدو پوري بندي پاته و.

د بنده څخه د ایله کیدلو څو میاشتي وروسته د عبدالمجید زابلي په خوښه د کابل د دارالمساکین د معاون په حیث وټاکل سو او د کال په اخیر کي د کندهار د بناروالي د انتخاباتو په نتیجه کي د کندهار د بناروال او د دغي دوري په پاي ته رسولو سره د هلمند او ارغنداو د زراعتي پروژي د اداري رئیس په حیث وټاکل سو. بیا يي تقاعد وکړ او د اجیر په توګه د هغي پروژي د املاکو د تصفیي د رئیس په حیث مقرر سو څو په کال (۱۳٤٦ش) کي د کبرسن او اعصابو د رخاوت په ناروغي د ۷۵ کالو په عمر وفات سو.

څرنګه چې نژدي خپلوان او زوي يي نه درلود نو په کابل کي د پوهاند عبدالحي حبیبي او نورو کندهاریانو او روښنفکرانو له خوا څخه يي په شاه دوشمشیره کي فاتحه واخستله سوه. بابا جان دوي لونې درلودي چې یوه يي په کابل کي د ډاکتر محمد ایوب هوتک ورور پاینده محمدته چې د ده ډیر مخلص او وفادار ؤ، په نکاح ورکړي وه. د ده څخه په میراث هیڅ شی پاته نه سو. د وفات څو کاله د مخه يي زه محمد ولي (ځلمي) د هغه وخت د طلوع افغان د ورځپاڼي مدیر د شاه قبر په قلعه فیصل کي خپل عاریتي کورته وروغوښتم، په کور کي يي د یوي محقري خوني، زړو توشکونو، زړي کمبلي او څه د نظر وتلي لوښي بل څه نه لیدل کیده، یوي دوړي وهلي تاخچي ته يي لاس کړ او څه د طلوع افغان داولي دوري زاړه کلکسیونونه او یوه د خاطراتو کتابچه يي را وبخښله چې د تبرک په صورت مې تر اوسه ساتلې دي.

www.sikaram.com

دغه شعر پوهاند عبدالحي حبيبي هغه وخت ويلي دي چې د اختر په ورځ د ده مبارکي ته د ده مزنګ بنديخاني ته ورغلي و:

به زندان کابل در ایام عید — رسیدم به دیدار مرد سعید
سیه موی او گشته چون پر قاز — ز جور زمان رنج حبس دراز
چو مردان برحق پسندد شمیر — بدون قفس همچو فرزند شیر
بدو گفتم ای پیرمردان راه — چه دیدی درین حبس و حال تباه
به قید اسارت شما را درون — فگندند حکام ظالم نگون

د عبدالعزيز (بابا جان) د افکارو او ليکنې طرز د دغې فاتحه نامې څخه چې په خپل قلم يې د مولوي غلام محي الدين افغان د مرګ د خواشيني په نسبت د هغه يوه وفادار او مخلص ملګري محمد ابراهيم چنداولي ساعت ساز ته چې د لومړي دوري د مشهورو مشروطي غوښتونکو څخه ؤ ليږلي ښه څرګنديدلاي سي.

نگه گرنه شد قابل روی دوست — فغان میرسانم بجاییکه اوست

آقای غمدیده، الم رسیده من محمد ابراهیم خان را حضرت خداوند شکور در مجاری امور قضا صبور دارد.

مکتوب حسرت اسلوب الم اندوز شغله افروز شما را که از تاریخ ۲۱ اسد متضمن کیفیت وفات جناب غفران مآب خان صاحب (مولوی غلام محی الدین افغان) که به نام نامی آقای عزیز محمد ابراهیم خان (کاتب در مستوفیت قندهار) فرستاده بودید، به مطالعه این تیره بخت سیه روز پیوست. از مطالعه اش جگرم خون شد و دیده در رود جیحون از فراق نور صدمه محبت و اتحاد وجدای آن نور حدیقه مودت و داد این محرومان دیدار جامعه برین خاك کردند و همه محبان و دوستان چهره جان مادی پر از خاك کردند اما از آنجا که بنده عاجز را در مجاری امور قضا بغیر رضا چاره نیست پس ما و شما باید (انا لله و انا الیه راجعون) گفته مغفرت آن مغفور را از درگاه خداوند غفور مسئلت نماییم و دلهای خون شده فراق دیده و هجران کشیده را به تمنای دیدار اخرت تسلیت بخشائیم. وفات حسرت ایات مرحومی را از حیات بیزارم ساخته و از حد زیاد پریشان روزگارم ساخته، علی ای حال از بارگاه حضرت رب الجلیل صبر جمیل برای خود و برای همه بازماندگان علیین مکان خواستارم و برای آن برادر عزیز الوجود اجر جزیل میخواهم و

www.sikaram.com

میگویم خداوند با عزت و احترامات بدارد و در حفظ حراست حیثیت نگهدارد و صد افرین بر شما و هزار رحمت بر آبای شما الحق که در راه خدمت و وفا مروتانه رفتار مینمایید و حقوق مودت جناب غفران ماب مبرور را ادامه نمودید. اینهمه نیست مگر جوهر دانی خویش ابراز دادن و در بین امثال و اقران خود را ممتاز ساختن است ورنه جناب مرحومی با همه دوستان خویش طریقه محبت یکرنگی نموده اند. از یکی از آن ناجوانمردان بی همت اینقدر همت ظاهر نه شد که به یاداوری این دور افتادگان پردازند و از وفات مرحومی ما مهجوران را مطلع سازند. بهر تقدیر همه جنابان و محبان را با خود به خداوند کریم سپرده خدمت همگی عرض سلام نموده ادای فاتحه مینمایم. فقط رجامندم که کاغذ مرا به همه دوستان خصوصاً جناب عبدالهادی خان داوی و عبدالجبار ارسلا و باقی دوستان نشان دهید.

با احترام

عبدالعزیز الکوزی ۲۱ اسد (۱۳۰۰ش)

بابا جان یو پاک او د تعصبه خالي افغان و که څه هم د خپل نامه سره يي کله د الکوزي کلمه هم لیکله خو دایي د امتیاز او تفریق او پر نورو د لویي او تفوق په معني نه اخسته او زیاتره به يي ویل: یو انسان باید ځان دومره کوچني او بي همت نه کړي چې د انسانیت او افغانیت د لوي چوکاټ او ملي شرافت څخه ځان یوي کوچني او بي اهمیت قبیلي ته منسوب کړي او د بشریت د فیاض څخه د خپلي تندي د رفع کولو له پاره یو غړپ اوبه ونه چښي. د همدغه کبله د ده خولي څخه په تواتر د ازیات اوریدل سوي دي چې ویلي دي: زه تر درانو پرغلجو، او د هغو څخه پر فارسیوانانو او هندوانو ډیر گران یم.

سردار عبدالعزیز:

سردار عبدالعزیز د سردار عبدالله خان زوي او د سردار سلطان احمد خان لمسي و چې سردار سلطان احمد خان د هرات حکمران او والي و.

ده څلیرویشت کاله په ایران کي د پناه گزین او مهاجر په څیر ژوند تیر کړ. پلار يي د گرش په جهاد کي د سردار محمد ایوب خان په طرفداري شهید سو او دي د خپل اکا په سرپرستي چې سکندر خان نومید ایران ته ولاړ او د ایران په قزاق خانه کي د څه عمر د پاره په خدمت اخته و. د

www.sikaram.com

ایران حکومت څه پیسي د ده د اعاشي او اباتي دپاره ورکولي. ده دوي لونې درلودي چې د هغو په باره کي يې امير عبدالرحمن خان ته داسي وليکل:

زه يو افغان يم او ايرانيانو ته خپلي لونې ورکول بي ننګي او ملي عار ګڼم. په خپل وطن کي چې هر افغان يې په نکاح کوي په کمال خوښي راضي يم او په دي وسيله زما له خوا وکالت تا ته سپارل کيږي. نو امير عبدالرحمن خان ځکه د ده يو لور سردار امين الله خان او يوه يې د يو بل سردار په نکاح کړه.

د کرسی نشينان کابل اثر د ده د شخصيت په هکله داسي ليکي:

(... آقای عبدالعزیز در بدو امر به معاونت فتح محمد خان امین العسس پدر شیر احمد خان رئیس شورا تعین و بعد به سمت نمایندگی افغانستان به کلکته مامور گردید. در عهد سلطنت امان الله خان به واسطه سوابق اقامت در ایران به سمت وزیر مختاری تهران منصوب شد و پس از مراجعت از تهران به معاونت دوم و بعد به معاونت اول وزارت خارجه تعین و بعد به حیث وزیر مختار در روم و از آنجا به تهران منتخب گردید. عبدالعزیز خان نسبت به تمام سفیران افغانستان از عموم با اطلاعتر و فهمیده تر بود. آقای عبدالعزیز خان و پسرش عبدالحسین و عبدالحمید خان از وطن پرستان و آزادیخواهان درجه اول افغانستان است. از فرزندان عبدالحسین خان عزیز یکی عبدالحی عزیز شهرت دارد که در زمره آزادی خواهان وطن شمرده میشود.

قاري نيک محمد:

دي د حاجي محمد زوي و چې په کال (۱۲۷۹ق) کي د چاريکار د دولانه په کلي کي زيږيدلي و. تحصيلات يي په مکه، مدينه، سوريه، مصر، ترکيه او هند کي په سر رسولي، د تفسير، احاديثو، صرف و نحو، منطق، ادب، حکمت، فلسفي، رياضي تر تحصيل علاوه يي د مکي د (صولتيه مدرسي) څخه اوه ډوله قرائت زده کړي و او په دغه هکله يي يو اثر د (قرائت آلماني) په نامه چې (شاطبيه) هم ورته ويل کيده وليکي (۱۳۰۹ق) هغه وخت چې کابل ته راغي د ميزان التحقيقات شرعيه و علميه په غږيتوب وټاکل سو. ده د کابل په توپچي باغ کي د دارالعلوم او دار الحفاظ مدرسي جوړي کړي چې يو شمير لايق شاګردان يي وروزل چې د هغو څخه

www.sikaram.com

یو حافظ محمد علي و. نور آثار یی د زبده التجوید، تحفة الاطفال، عمدة الفرایض، صرف و نحو، تاریخ رقم او نورو په نامه مشهور دي. هغه وخت چې د امیر حبیب الله په دور کي عرفاني او مطبوعاتي نهضت شروع سو قاري صاحب د حبیبي او دارالمعلمینو د ښوونځیو د عقایدو، صرف او نحو استاد په حیث وټاکل سو. د دي څخه علاوه د سراج الاخبار د تصحیح او اهتمام د چارو هم متکفل و.

قاري صاحب د ننه په هیواد او د باندي هیوادونو کي د سید جمال الدین افغان سره څو ځلي لیدلي وه او د هغه د فکر د طرز او سیاسي روش تر تاثیر لاندي راغلي و. قاري صاحب د لومړي مشروطي غوښتونکو د فعالو غړو څخه ګڼل کیدي او په دغه اتهام هم بندي سو.

قاري نیک محمد د یو لړ علمي او عرفاني خدمتونو وروسته د جمعې په شپه د ربیع الاول په اوله کال (۱۳٤۲ ق) کي په کابل کي وفات سو او د خواجه صفا د بالاجوي په لمنه کي خاورو ته وسپارل سو.

پاچا میر خان:

دي د لوګر د وزیر تیږ د خانانو څخه و چې د حضور د غلام بچه ګي وظیفه یي درلوده او د شهزاده امان الله د معتمدو او وفادارو مخلصانو څخه ګڼل کیدی. دي چې د مشروطي غوښتلو په تور بندي سو د شهزاده امان الله د مور سرور سلطاني په توجه او سفارش ژر د بنده خلاص سو او د لوګر د حاکم په حیث وټاکل سو. دي بیرته کابل ته راوغوښتل سو او سرور سلطاني خپل یاور او معتمد وګرځاوه. د پاچا میر خان د خپلواکي د ګټلو په معرکي کي د سپاه سالار محمد نادر خان په محاذ کي د توجه وړ بریالیتوبونه په نصیب سوه چې اعلیحضرت امان الله ډیر ونازاوه.

www.sikaram.com

د لومړي دوري مشروطي غوستلو د ناکامي عوامل

د سیاسي بصیرت خاوندانو ته به تر یوي اندازي پوري څرګنده وي چې د افغانستان د مطلقیت د لیرې کولو او مشروطي راوستلو مبارزه یوه بورژوا دموکراتیکه مبارزه ګڼل کیږي. دغه مبارزه د پاچا د مطلق العناني د محدودولو او د ملوک الطوایفي او جاګیرداري د ناوړي سیاسي، اجتماعي او اقتصادي سلطي څخه د وطن او وطنوالو د خلاصولو په منظور شروع سوي وه. څرنګه چې داسي مبارزي د روشنفکري او بورژوازي د ملي خیالاتو او افکارو څخه سرچینه اخلي نو بنیادي تکیه ځاي او عامه مقبولیت نه سي پیدا کولاي او که احیاناً په سر ورسیږي په دننه کي د بل تضاد او مترقي غورځنګ د مقاومت سره مخامخ کیږي چې د استعمار او استثمار له منځه وړلو د مبارزي تر مرحلي رسیږي.

یو مستشرق او په سیاسي علومو پوه عالم وایي: (... د افغانستان د مشروطي غوښتلو د عواملو څخه داسي څرګندیږي چې په هغي کي د جاګیرداري ملوک الطوایفي او مطلقیت سره مبارزه مهم اصل جوړوي او هغه وخت چې د مراد مرحلي ته ورسیږي، د هري طبقي روشنفکران د خپل طبقاتي خاصیت له مخي د مبارزي مخ ځان ته ګرزوي. د همدغه اصل له مخي په لومړي دوري مشروطي غوښتلو کي د بیلو قشرو نمایندګان موجود وو او هر یوه د بیلو طبقو د خیالاتو او ګټو نمایندګی کوله. د ختیځ مطلقیت استعمار او فیوډالزم په مقابل کي یې ثبات نه سو ښکاره کولاي او له همدغه کبله ژر له منځه ولاو...).

دغه ملي مبارزه بیا هم بې تاثیره نه وه که څه هم د ځینو پیروانو په وژلو جیل ته لیږلو او ټکولو یې تمامه سوه خو بیا یې هم زمور د ځینو سیاسي او اجتماعي چارو د سمولو او اصلاح کولو له پاره په زړه پوري اغیزه وکړه او هغو ته یې د ترقي او تکامل زمینه مساعده کړه. د مثال په توګه

www.sikaram.com

د منځنیو پیړیو د ظلم او شکنجي طرزونه يي محکوم کړه، د مریانو او مینځو خرڅولو او پلورلو رواج يي سست کړ، د صنعت او حرفت له پاره يي اسانتیاوي برابري کړي، لويي لاري او ترانسپورتي ابتدايي وسيلي يي په نوو وسيلو بدلي سوي. د کرني او اومو موادو د زياتولو له پاره يي په کندهار، ننګرهار او نورو سيمو کي د بندونو او ويالو جوړولو فکر په کار واچاوه. ابتدايي صنايع يي تقويه کړه، د مطبوعاتو او معارفو د تهداب ايښودلو د پاره انکشافي ګامونه واخستل سوه. د دي د پاره چې د عمومي او تهذيبي جذباتو مخ نيوي وسي، امير حبيب الله د سياسي آزادي په لاس راوړلو د پاره د انګليسانو سره په تماس کي سو. د (۱۹۱۶م) په لومړي عمومي شخړه کي د محور د هيوادونو په ګټه د ګډون په هڅه د دي سره چې امير حبيب الله د افغانستان د بيطرفي سياست د لويي جرګي په جوړولو تائيد کړ خو د آلماني او ترکي هيئت سره د مرستي کولو په منظور يي په داسي توګه موافقه ښکاره کړه چې دوي به زيات شمير عسکر د اعاشي او تسليحاتو سره د افغانستان پولو ته رارسوي چې دا کار د هغوي د وسه پوره نه و او په دي بهانه يي د جنګ د شمول څخه ځان خلاص کړ. امير حبيب الله د مشروطي غوښتونکو د فشار په اثر د سراج الاخبار د خپرونو (چې مطالب يي د استعمار پر ضدوو، افغانان او د سيمي اوسيدونکي يي د هغه په مخالفت را پاروي) زمينه برابره کړه. دغي جريدي هغه خپروني چاپولي چې د افغانانو د ملي خود ارادیت، د خاوري د تماميت، استقلال، ترقي او نيک مرغي په ګټه تامېدل.

د علامه طرزي محمود پر ژوند يو لند نظر:

طرزي محمود د سردار غلام محمد طرزي زوي ؤ چې د (۱۸۶۵م) کال د اګست په ۲۳ چې پلار يي د امير شيرعليخان سره د سردار محمد امين د مقابلي د پاره د کابل څخه کندهار ته ولاړ او خپله کورني يي هم وروغوښته، د کابل څخه کندهار ته د ده د مور د تګ په اثنا کي په غزني کي وزيږيدي.

طرزي محمود د خپلي ښوونې او روزني په هکله د پلار د توجه او تعليم وروسته د ملا محمد اکرم هوتک د ښوونې او روزني مرهون دي. څرنګه چې د محمود پلار سردار غلام محمد طرزي د هيواد يو مشهور ادیب، شاعر او عارف ؤ نو محمود هم کله، کله د خپل پلار په مجلسونو او ادبي

www.sikaram.com

مصاحبو کي د سامع په ډول شمولیته کاوه او د خپل پلار علمي او ادبي کتابخانه يي هرکله په دسترس کي وه.

طرزي محمود د امیر شیرعلي خان د حکومت تر پرنګیدو پوري (۱۷۷۹م) د عربي صرف و نحو، مثنوي مولوي او د خپل پلار دیوان لوستي ؤ. هغه وخت چې امیر شیرعلي خان د (انبالي) د سفر څخه وطن ته راغي د طرزي محمود پلار سردار غلام محمد طرزي يي د بنده خوشي کړ (۱۸۶۹م) او د امیر شیرعلي خان په دوره کي يي پلار بیکاره پاته سو. هغه وخت چې امیر عبدالرحمن چهاریکارو ته را ورسید، طرزي محمود د خپل پلار له طرفه د بنه راغلي دپاره چهاریکارو ته ولاړ او امیر عبدالرحمن خان چې پر تخت کښیناست سردار غلام محمد طرزي يي د درباریانو او ملګرو څخه وګرزاوه. طرزي محمود په دغه وخت کي ۱۶ کلن ؤ. کله به د امیر عبدالرحمن خان دربار ته ورتلي او امیر به مهرباني او شفقت باندي کاوه او د يوي ټولي عسکرو مشري يي هم ورکړي وه. هغه وخت چې امیر عبدالرحمن خان د سردار محمد ایوب خان سره په مخالفت او جنګ کښیوتي په دي وخت کي محمود هم د يو اس سپور او د لاور ځلمي په حیث د امیر عبدالرحمن خان توجه ځان ته را جلب کړه او ورته ويي ويل: آفرین محمود جان، خو وروسته چې امیر عبدالرحمن خان پر سردار غلام محمد طرزي بدګمان سو چې ويل يي دي زما د دښمنانو سره مکاتبه لري، سردار غلام محمد طرزي په (۱۸۸۱م) کي د امیر په امر بندي او وروسته د افغانستان څخه تبعید سو او په (۱۸۸۲م) کي د خپلي کورني سره کراچي ته ورسید، سردار غلام محمد طرزي دري نیم کاله په کراچي کي پاته سو. په دغه وخت کي طرزي محمود شل کلن او همدلته يي يوه پښتنه خوګیانې پښغله په نکاح کړه، خو هغه په ځواني کي په (۱۸۹۰م) کي مړه سوه.

طرزي محمود د خپل ادبي قدرت او رشادت له مخي د سندهـ په ادبي محافلو کي محشور او مشهور ؤ. څرنګه چې د سردار غلام محمد طرزي پر صوفیانه او عارفانه طبیعت باندي د انګلیس څخه معاش اخستل ګران کار تامیدي نو د (۱۸۸۵م) کال په دوبي کي يي د کښتي په واسطه کراچي پرینبود او د عثماني ترکانو په مځکه کي د اوسیدلو او حج کولو په لټه کي سو. سردار

www.sikaram.com

غلام محمد طرزي لومړي ځل په بغداد کي اوسيدي او د توپچي کرنيل محمد افندي څخه يي ترکي ژبه زده کړه. بيا دغه کورني شام ته ولاړه او هلته يي عربي زده کړه او وروسته يي فرانسوي هم تحصيل کړه. طرزي محمود چې د شعر او ادب علاوه يو خوش خط او تذهيب کاره ليکوال ؤ، په دغه موقع کي يي د پلار ديوان هم ډير ښکلي وليکي. ده په (۱۸۹۱م) کي په شام کي د شيخ محمد صالح لور (اسما) په نکاح کړه. په همدغه کال چې سن يي ۲٦ کالو ته رسيدي د پلار سره استانبول ته ولاړ. او هلته يي د وطندوستي په احساس افغانستان د يو مستقل او پر خپلو پښو ولاړ هيواد په څير معرفي کاوه او د انګليسانو ادعايي د افغانستان په خارجي سياست باندي د کنرولولو په هکله تر ديدوله. طرزي محمود د دغه ځاي څخه د پلار سره مصر ته ولاړ او پلار يي د حج په نيت حرمينو شريفينو ته رهي سو او محمود بيرته دمشق ته راغي. طرزي محمود چې د پلار او ملا محمد اکرم هوتک د خولي د سيد جمال الدين افغان مناقبت او صفتونه ډير اوريدلي ؤ، په دغه وخت کي يي واوريدل چې سيد استانبول ته راغلي دي. پلار دي د سيد جمال الدين افغان سره د ليدلو او مصاحبي کولو له پاره د يو ليک سره چې د سيد په عنوان يي ليکلي ؤ استانبول ته وليږي. دغه د سيد جمال الدين افغان د ژوندانه وروستي ورځي وي چې ده ورسره وکتل.

محمود طرزي په (۱۸۹۷م) کي يوه رساله د بين الدول د حقوق په نامه ترجمه کړه او د پوستي په واسطه يي د شام څخه امير عبدالرحمن خان ته وليږله. امير عبدالرحمن خان په (۱۸۸۹م) کال کي د سردار غلام محمد طرزي کورني وطن ته د بيرته راتلو اجازه ورکړه او په کال کي يي شل زره روپي معاش ورته وټاکي. خود پلار سترګي يي پر وطن رونيي نه سوي او وفات سو لکه چې دي په دي هکله وايي:

بعد از حمد و ثنای خداوند لايزال
گويم ترا از قصه احوال پر ملال
چرخ فلك بما سر نيرنگ کرد باز
محروم ساخت ديده ز ديدار دلنواز

www.sikaram.com

یعنی کـــه بود مـــرا پدر مـــهـــر پروری
مـشـفق پدر رحـیم بود و لطف گـسـتـری
هم شـــاعـــر و ادیب و حکیم و دبیـــر بود
اندر وطن وزیر بود و با امـــیـــر بود
آخـــر ز بازی یی فلك چرخ کـــجـــمـــدار
آواره وطـن شـــــــده از راه کـنـدهـار
سـه سال بعـد از آنکه به هندوسـتـان نشـست
برخـاست با عـیـال و به هجـرت کـمـر ببـست
عـبـدالحـمـیـد خـان به تلطف قـبـول کـرد
او را و هر مـــرام و را هم شـــمـــول کـــرد
تنخـــواه مـــاهوار و احـــســـان شـــاه وار
الطاف کـــرد بهـــر وی آن شـــاه با وقـــار
فـــرمـــود تا به شـــام نشـیـند از آن سـبب
آمـــد به شـــام و رفت از و مـــحنت و تعب
شـد سـالهـا کـه بود مـقـیم دمـشق و شـام
مـشـغـول با عـبـادت و مـقـبـول خـاص و عـام
ســـال گـــذشـــتـــه رفت بـرای ادای حج
فـــرض خـــدا بجـــای نمود از ادای حج
آمـد چو سـوي خـانه سـه مـه بعـد از قـضـا
افـــتـــاد او به یك مـــرض صـــعب بی دوا
عـاجـز شـد از عـلاج حکیـمـان با کـمـال
هیچ فـایده نه کـــرد تداوی و صـــرف مـــال
در لیـل برات و شب جـــمـــعـــه از سنین
بود یکهـزار و سه صـد و هجـده کـه شـد قـرین
با رحـــمت الله رحـــیم و کـــریم خـــویش
رفت از جـهـان به سـوی جنان نعـیم خـویش
صـــــد هزار رحـــــمت حق بـر روان او
باز از فـــیض رحـــمت حق تازه جـــان او

www.sikaram.com

بعد از وفات آن پدر مهربان خویش
کردم سفر ز شام به غمهای جان خویش
با راه آهنی که کشیده شده ز شام
. اندر جبال عالی که لبنان و راست نام
تا بندریکه اسم علم گشته بهر آن
بیروت در لسان همه مردم جهان
زانجا به بحر گشت سفر چون نصیب من
واپور شد نشیمن من با حبیب من
واپور ما که نام او را هست (قونغو)
مال فرانسه است و بسی هست تیزپو

طرزي محمود د پلار د وفات وروسته (۱۹۰۰م) چې ۳۵ کلن ؤ کورنۍ چاري يې په غاړه ولويدي. په دغه وخت کې ده دري لونې د خيريه ۸ کلنې حوريه ۶ کلنې، ثريا ۲ کلنې په نامه درلودې ده په (۱۹۰۱م) کې چې ضياء الله والدين امير عبدالرحمن خان د وفات کال ؤ په استانبول کې يوه منظمه سفرنامه وليکله د عثمانيانو د حکومت څخه يې کابل ته د بيرته تللو اجازه حاصله کړه او د خپل وراره حبيب الله سره د بمبئ، دهلي او لاهور د لارې د (۱۹۰۲م) کال په فبروري او مارچ کې د ژمي په اخير کې کابل ته راغې په دغه موقع کې امير حبيب الله په ۲۹ کلن سن يو کال د مخه د کابل پر تخت کښېنستلي ؤ. خلکو طرزي محمود ته محمود بيګ وايه. دي د پاچا حضور ته ورغې او د هغه څخه يې د ترکيې مستخدمينو اجازه حاصله کړه. دي د خپلې کورنۍ او ترکې مستخدمينو راوستلو د پاره استانبول ته ولاړ د اوو مياشتو تيرولو او د ترکانو څخه د اجازې اخستلو وروسته د دمشق څخه د خپلې عايلې او کورنۍ سره د بيروت، پورت سعيد، کراچي څخه د ۲۳ کالو مسافرت وروسته د جلال آباد د لارې کابل ته راغې او حکومت د کابل په چهاردهي کې د چهلستون په هندکيو کې د پروانه خان نائب سالار په باغ کې ځای ورکړ. عليا حضرته ملکه د عين الدوله شهزاده امان الله مور به کله کله د دوي پوښتنې ته ورته. دي د طرزي محمود د ماينې او لونو د پيش آمد او کرکټر څخه پوره رضائيت ښکاره کاوه. د طرزي محمود ماينه په فارسي ژبه ښه پوهيده، څرنګه چې په اندکيو کې د يخ ؤ نو حکومت د هغه د

www.sikaram.com

مشکلاتو د رفع کولو د پاره د ده افغانانو په ده (غـچک) کي د ملا محمد توخي کور چې ضبط سوي ؤ د استراحت د پاره وروسپاره.

طرزي محمود په دي ډول خپلو ملي او سیاسي هیلو ته کرار کرار رسیدي او د ترکي نظامنامو په ترجمه کولو او خپرولو يې شروع وکړه. د دغو آثارو د چاپولو سره نائب السلطنه په امر یی د ځینو نومیالیو هنرمندو ترکانو لکه ډاکټر عزت منیر بیګ، علي رضا بیګ، رسام محمد فضل بیګ، علي فهمي بیګ او نورو سره مکاتبه شروع کړه او کابل ته يې را وغوښتل. په دي وخت کي خیریه یوه پوهه او په لیک او لوست تکړه پیغله وه د خپلي مور سره به په جشنو او اخترو ارګ ته د عوتیدل. ترکي کالي او خواړه به يې شاهي کورني ته تهیه کول. خیریه چې په حسن او کمال نومورې وه امیر هغه خپل مشر زوي معین السلطنه عنایت الله ته چې ۲۱ کلن ؤ وروغوښته. طرزي محمود په دي توګه دربار ته نژدي سو. د دوبي او ژمي په وختونو کي به يې د خپلي کورني سره د دربار په صیفیه او شتائیه کي شرکت کاوه. د خیریې د واده څلور کاله وروسته د دي کشري خور (ثریا) چې ۱۲ کلنه وه د عین الدوله شهزاده امان الله سره واده وکړ. د طرزي محمود بلي لور د سید قاسم کنړي سره واده وکړ چې هغه د کنړي سید محمود آغا د کورني څخه ؤ. دي د حبیبي مکتب د فارغ التحصیلانو څخه ؤ چې د مشروطي د دوهمي ډلي د هوا خواهانو څخه شمیرل کیدي چې په خارجه وزارت کي يې د طرزي محمود تر لاس لاندي کار کاوه.

د اعلیحضرت امان الله د پاچاهي په شروع کیدلو سره طرزي محمود د خارجه چارو د وزیر، د افغانستان او هند د صلح د هیئت په دوهمه مرحله کي په میسوري کي د افغاني هیئت مشر، په (۱۳۰۱ش) کي په پاریس کي د مختار وزیر او په فرانسي کي د افغاني محصلینو د سرپرست او په (۱۳۰۳ش) کال کي بیرته د خارجه وزیر په حیث کار کاوه. په ۱۳۰٤ش) کي د ځینو حادو، سیاسي او ملي مسئلو د پیښیدلو له کبله چې په هغه کي د یو ایتالوي مرګ (پیرنو) هم شامل ؤ د پاچا او د ده په منځ کي څه د نظر اختلاف پیښ سو چې په هغه نسبت طرزي محمود استعفي کولو ته مجبور سو.

طرزي محمود د (۱۹۲۷م) کال د جنوري په میاشت کي د خپلي میرمني سره د تداوي له پاره سویس ته ولاړ. د اعلیحضرت امان الله سفر هم په دغه وخت کي اروپا ته شروع سو، طرزي

www.sikaram.com

محمود د (۱۹۲۷م) کال په جولایي کي د یورپ د سفر څخه د ترکیي او ایران په لار د معالجي وروسته کابل ته راغي. دغه وخت د داخلي اغتشاش پیښیدلو څو هفتي د مخه ؤ (۱۹۲۷م= ۱۳۰۷ش) د اشرارو په تقاضا ؤ کي یو هم داؤ چې طرزي محمود دي د روشنفکري او تجدد خواهي په جرم د دوي په لاس ورکړه سي او یا دي یي بندي او له وطنه فرار کړي. دي د خپلي کورني سره د اعلیحضرت امان الله په ملګرتیا د کابل څخه کندهار ته ولاړ او په عادي پاسپورت د هرات څخه د یوي الوتکي په واسطه تهران ته ورسید، د دغه ځاي څخه استانبول ته ولاړ (۱۹۲۹م) د اکتوبر په ۲۶ استانبول ته د رسیدلو په وخت کي ٤٦ کلن ؤ.

طرزي محمود په دغه وخت کي د خپلو خاطراتو په لیکلو لګیا سو او صحت یي نسبتاً ښه ؤ خو د (۱۹۳۳م) کال د نومبر په ۲۲ د ځګر د سرطان په ناروغي وفات سو او د ایوب انصاري په مزار کي خاورو ته وسپارل سو.

د طرزي صاحب مشهور آثار:

مجموعه صنایع، منتخبات غلام محمد طرزي د طرزي محمود په خپل خط، مجموعه اخلاق، دیباجه دیوان سردار غلام محمد طرزي، سیاحت نامه در سقاذه، سیاحت سه قطعه روي زمین، از هر دهن سخني و از هر چمن سمني، روضه حکم، تلخیص حقوق بین الدول، مطالعاته صحیه، سوانح زندګی، رساله اغذیه و طبخ، رساله نقط ګذاری، مختصر جغرافیایی عمومی، معلم حکمت، ترجمه رومانهای علمی، سیاحت به دور ادور زمین به هشتاد روز، سیاحت در جوهوا، بست هزار فرسخ، سیاحت در زیر بحر، جزیره پنهان، ترجمه تاریخ حرب، سراج الاطفال، نامه محمود طرزی به عنوان اعلیحضرت امان الله، سیاحت نامه استانبول، دیدنیها و شنیدنیها، سیاحت نامه منظوم افغانستان، جغرافیای منظوم توحید، ادب در فن، پراګنده او نور.

د استبداد او مطلقیت په مقابل کی د سراج الاخبار خپرونی:

د سراج الاخبار افغانیه موسس او مدیر طرزی محمود طبیعتاً آزادی غوښتونکی، وطندوست، د بیځایه ارتجاع او استبداد مخالف افغان ؤ. د ده دغه ملی کرکتر په ترکیی او عربی هیوادونو کی د استعمار او مطلقیت مخالفو مبارزو تقویه او تحریک کړ او ودی ته یی وهڅاوه چې

www.sikaram.com

د خپلو وطنوالو د آزادی غوښتلو احساسات دیوی ملی او مترقی ورځپانی (سراج الاخبار) په خپرولو سره د خپلو طبیعی او سیاسی حقوقو د په لاس راوړلو له پاره وپاروی. د همدغی هیلی د په سر رسولو د پاره په ۱۹۱۱ (۱۲۹۰) ش کال کی د شاهی ارګ په یو دالان کی د دوبی په شپه د روژی په مبارکه میاشت کی د سراج الاخبار د خپرولو او امتیاز د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین څخه واخست.

طرزی محمود د سراج الاخبار د لومړی ګڼی ۱۲۹۰ کال د میزان د ۱۶ سرمقاله کی د افتتاح کلام تر عنوان لاندی په دی هکله داسی لیکلی:

(... بعد از ادای سپاس حضرت عزیز الملك اسلام و درود بر روان حضرت سید خیرالانام و مناقبث آل و اصحاب کرام به عرض مرام بدینگونه افتتاح کلام میشود: این یك ظاهر و آشکاراست که (اخبار ها) درین عصر حاضر به جز اقوام و حشیه و بدویه هیچ یك دولت و قومي از هیئت های اجتماعیه موجود نیست که مالك اخبار نه باشد. اخبار جمع خبر است که ضد آن بی خبری است. پس بنابر مفاد این قضیت حکمیه که هرچند به ضد آن شناخته میشود به خوبی معلوم میګردد که از باخبری تا بیخبری چقدر فرق است، سراج الملة و الدین چنانچه بس نقصانهای مملکت را به مراحم سنیه شاهانه شان کامل فرموده اند این نقصان بی خبری اهالی را نیز به اجازه فرمودن نشر شدن سراج الاخبار رفع و زایل فرموده، این است که به انوار هدایت نثار آن اهالی ملت را از حوادث داخلیه ملك و خبر های خارجه اطراف و بسی معلومات فنی و ادبی و اخلاقی با خبر و آګاه میفرمایند اګر چه طبع و نشر شدن اخبار، را در پایتخت سنیه از اوایل جلوس شاهانه آرزو بود ولی چون هرچند به وقت و زمان آن موقوف و مرهون است از آنرو تا به اینوقت در تعویق افتاده بود پس به درګاه خلاق عظیم الشان کون و مکان جبین نیاز عبودیت مینمایم و توفیق الهی را درباره خود میخواهم که از عهدهء این وظیفه مقدس که بنابر باخبری های مدت خود در عهده ګرفتیم بدر آئیم. و من الله توفیق).

که څه هم طرزی محمود پوهیدی چې د داسی جریدی په خپرولو سره فسادیان او بدکاران بین المللی استعمار او امپریالزم د ده د لاری خنډ ګرزی، خو بیا هم ده خپل مرام او نصب العین په ډیره ملی او درایت په داسی توګه چې د پاچا سره یی د دوستی او خپلوی مناسبات خراب نه سی او

www.sikaram.com

مخالفینو ته د تحریک او فتنې اچولو زمینه مساعده نه سی خپراوه، او د پاچا د مدح او ستاینی په ضمن کی به یی پر ځینو داخلی او خارجی مهمو مسایلو اعتراض او تنقید کاؤ او کله به یی د خپلو تندو او موثرو خپرونو د ځواب ویلو له پاره د باچا حضور ته تلی او د مخالفینو اعتراضونه به یی ردول.

چنانچه د سراج الاخبار افغانیه د شپږم کال په ختامیه کی د (مدافعات) تر عنوان لاندی په دی هکله داسی لیکی: (... **اول به اول در میان کلمه های که در افراط و تفریط تهمت های بر من بیان نموده اند به کلمه خیانت را بیرون کشیده و مانند یك پومبه گلوله کرده به شدت تمام بر روی گوینده و تصور کننده آن پرتاب میکنم و بعد از آن میگویم که شیطان نیستم زیرا چنانچه همه کسان میدانند که شیطان از جنس بنی بشر نیست... علی الخصوص فتنه انگیز، فساد پیشه قطعاً نیست گفتارم را اگر بر فساد حمل کند... من نیت خیر و صلاح و نجاح و فلاح گفته ام ... جنگ پسندی، امن ناپسندی یك تهمتی است که وقوعات دهر بصورت طبیعی و ضروری او را به آن متهم و دچار آورده است...**).

مرا به نظرم معظم، محتشم، شریف النفس، جاهد، مجاهد، فاتح، منجی، محی نشان، میدهد، هم این از آن ریشه های نیست که به سبب لغو بودنش خود را کلان غیر طبیعی نشان بدهد... وجود جنگ پسندان به قدر وجود امن پسندان لازم است... تهمت غیر حاضری ناموجودی ظلم صریح است که در هر وقت حاضر و موجودم... به مدافعه نقش خود پرداخته به دیگر جواب لزوم نمی بینم، باقی عرض موجودیت خود را که اهم وظایف خدمت است از درگاه خداوند عظیم الشان به سایه عرفان پیرایه سراج الملة و الدین نیاز استدعا مینمائیم. و من الله التوفیق.

طرزی محمود د خپل اخبار (سراج الاخبار) په واسطه په خلکو کی د ملی غرور قومی شهامت د وطنولی او آزادی احساس د پاچا په دغی وینا.

(... د هر چا په دوستی کی چې ملت دوستی نه وی، هغه هیڅ د اعتبار او اهمیت ور نه ده، د دوستی او دښمنی معیار باید د افغان ملت د ګټو او مصالحو له مخی وی نه د شخصی او نفسی علایقو څخه.

طرزی محمود د (افغانستان و اهمیت و موقعیت سیاسی آن) تر عنوان لاندی په دی هکله داسی لیکی: (... **هنوز اوایل استقلال سلطنت افغانیه بود که به وجود مسعود ضیاء الملة و**

www.sikaram.com

الدین تشکیل یافته بود، بنابر دعوتیکه از طرف لارد دوفرین) ویسرای هند در ۱۳۲٤ هـ.ق بوقوع آمده خاقان مغفور به هندوستان تشریف برده بودند، که درینجا بعضی فقرات مذاکراتی که در مابین اعلیحضرت مغفور و لارد مذکور جریان یافته است مثلاً درج مینمائیم.

وایسرا: مثل خود شما امروز مرد شجاع و دانا کمتر خواهد بود، مثل ملت قوی و دلیر شما در عالم کم است.

اعلیحضرت: شجاعت من بر خود من معلوم نیست. از دانایی خود راضی هستم که آن دانای من تا امروز به کار قوم و ملت من آمده، و خیر و بهبود آنها را اختیار کرده و بازهم امید به خداوند دار که خوبتر به کار ملت من خواهد رفت.

وایسرا: دولت افغانستان در میان دو دولت قوی و کلان افتاده لازم است که با یکی ضرور دوستی داشته باشید.

اعلیحضرت: من هم این معنی را دانسته برای نفع مملکت و ملت خود دوستی دولت شما را اختیار کردم.

وایسرا: شما بر دولت ما باید اعتماد داشته باشید.

اعلیحضرت: اگر چه شخص خود من اعتماد کرده میتوانم، لاکن اعتماد ملت افغانستان آنوقت حاصل خواهد شد که به ابراز دوستیها و معاونت های متواتر شما دهشت و دلزدگی آنها که از خونریزیهای چندی پیشتر از من در دل شان جایگیر شده برطرف گردد).

همدا شانی امیر حبیب الله سراج الملة و الدین د خپل سفر په وخت کی په یوی رسمی وینا کی د افغانستان او انگلیسانو د مناسباتو په هکله داسی ویلی: (... من از دولت شما هیچگاه عزت و احترام شخصی خود را منظور ندارم و به آن ممنون نمی شوم. شما باید که هیئت عمومی دولت و ملت مرا معزز و محترم بشمارید زیرا من یك فرد از افراد ملت افغانم، دوستی و دشمنی شخص واحد خودم برای شما هیچ ثمر و ضرری نمی بخشد...).

سراج الاخبار د ظلم، رشوت، فسق او فساد په مقابل کې د عکس العمل بنکاره کولو او د هغو ناوړو عواقبو ته د امیر حبیب الله د ملتفتولو او جلوګیري کولو دپاره د (امن و آسایش) تر عنوان لاندې، د دې سره چې د دغه عمل مرتکب یو درباري مخور سردار ؤ (د کندهار نائب

www.sikaram.com

الحکومه سردار محمد عثمان خان) او چایې نوم په سپکه اخستلای نه سو، په ډیر مال اندیشانه او محتاطانه صورت چې پاچا ځنې آزرده او خوابدي نه سي تشهیر او بدګویي کوي او د رسمیاتو څخه د داسي کسانو د لاس لنډولو او تر محاکمي لاندي نیولو توصیه کوي او لیکي: (... شکنجه و عذاب منع گردیده است و تعرض به مال و ملك و به جان کسی روا داشته نمیشود و همه فراریهای اخراج شده ممالك اجنبیه به خارج و مبالغ زیادی واپس به وطن ارجاع نمودند و بسی املاك و اموال مضبوط مصادره شده به اصحابش اعطا نمودند. ولی هزار افسوس و صد ها حسرت که اخلاق عمومی به درجه زهرناك گردیده و سوء اخلاق در مردمان چنان تاثیر ناگوار بخشیده که احکام خدا، رسول، قرآن، حق وطنی، شرافت ملی، عزت و شان قومی، حقوق عالیه، وجودان، ایمان همه را برای نفس اماره خاین مشئوم بر طاق نسیان میگذاریم. بادشاه برای ولایتهای خود حاکم مقرر و انتخاب میکند اصیل بگویی اصیل، ریش سفید بگویی ریش سفید، نماز خوان بگویی نماز خوان، متدین بگویی متدین، عالم بگویی عالم، عاقل بگویی عاقل کیست که بر خوبی او شهادت نمیدهد. حینیکه خود را به دایره حدود ولایتی که مقرر شده پرتاب میکند، به مجردیکه در آنجا میرسد، اژدهار بگویی اژدهار، نهنگ بگویی نهنگ دریا، بلا بگویی بلا، یوها بگویی یوها میشود، اسپ بگویی کمند ها، کمند ها، مال مواشی بگویی خزینه ها خزینه ها، جنس بگویی صندوقها صندوقها را مالك میگردد. طرفه تر اینکه چون نام آنرا بپرسی میگوید که (پیشکشی و تارتقی) که این کلمه را دیگر هیچ کتاب لغتی حل کرده نمیتواند، مگر قاموس معلوم خود جناب نائب الحکومه صاحب. این بلای مبرم سوء اخلاق اگر تنها بلا منحصر به بعضی میبود، هرچه که بود، بود اما جای حسرت این است، که یك میرزای سفله و مفلوکی که به دفتر کدام محالاتش مقرر میشود در اندك مدتی می بینید که صاحب خانه ها، ملك ها، زمینها و چه ها و چه ها میشود. سبحان الله ما به چشم سر می بینیم که ذات پادشاه در باب حسن اداره و تلف نه شدن بیت المال به درجه مساعی و جاهد میباشد. که از بسی مصارف و مخارج مبرمه ذات شاهانه شان صرف نظر فرموده اند، حتی طعام حضور شاهانه نیز خیلی مختصر و به قاعده تصرف و خیلی برابر دیده میشود، حالانکه سفره های بعضی نائب الحکومه ها از شصت هفتاد غوری نان کمتر نمیباشد. بخشش و احسانی که ذات اعلیحضرت پادشاهی میکنند از عین مال خصوصی شان میباشد که آنهم از

www.Sikaram.com

اسراف و ابذار سراسر خالی است. حالانکه بعضی از نائب الحکومه ها قریب به لك ها روپیه بر زید و عمر دارالسلطنه بخشش ها نموده اند. آیا از کجا چه میدانم از کجا؟ اگر بگوئیم که قارون بود نه بود. اگر بگوئیم که پیش از نائب الحکومه شدن هامون بود نه بود، همه غصب بیت المال همه از خون رعایا اگر چه میدانیم که به این سخنان یك عالمی را با خود دشمن میسازیم ولی دشمنی این چنین ها را نسبت به دوستی که با وطن و ملت خود داریم، به قدر ذره اهمیت نمیدهیم. حقیقتاً هیچگاه پنهان نمی ماند از بارگاه خالق مطلق خود نیاز و تضرع میکنم که خاینان دولت و ملت را که برای نفس و هوای خود رعیت را پایمال میکند، امن و آسایش را اخلال مینمایند و مستوجب اضلال و اخلال میگردد. شرمنده دنیا و آخرت نماید و نمك... چشمه های شانرا کور گرداند آمین...).

سراج الاخبار که دیوي خوا څخه د ملي نهضتونو د پیاوړي کولو او اصلاحاتو راوستلو دپاره مبارزه کوله، له بلیخوا څخه یي د وطن او هیواد د ښمنانو د ناوړو پروپاګندو هم ځواب وایه. لکه چې سراج الاخبار د دریم کال د ۲۲ ګڼي د (۱۲۹۳ش) کال د اسد په ۱۶ د (افکار تایمز لندن در حق افغانستان) تر عنوان لاندی د نورو تنقیدونو د ځواب ویلو په جمله کي د دغي واقعي ځواب داسي وایي: (برای جشن عروسی بعضی از زنان سازنده و نوازنده از طرف علیاحضرت سراج الخواتین خواسته شده بود، ولی آن امر غیر رسمی زنانه را کوتوال و دیگر مامورین خاین دین و دولت که در قندهار بودند، وسیله عظیمئیه رشوت خوری ساخته بر اعراض و نوامیس عموم دست اندازی کردند، هر کس که زهر و زقوم رشوت را به حلق های پلید شان انداخت ناموس خود ها وارهاند و آن کس که نداد و یا نداشت، زیر تضیق و فشار شد، ادانه شان در آمد تا آنکه مردم به جان آمده کردند، آنچه کردند، کردند مگر بر نفس خود آن ارباب غرض زیرا اگر بر حکومت میبود، بر خزینه و دیگر دوایر حکومتي تعرض میامد، حالانکه همچنین نه شد هجوم را بر نشیمن گاه خود نائب الحکومه منحصر داشتند و از طرف نائب الحکومه حکم فیر داده شد، بسیاری از اطفال و اناث و زنانی که بر بامهایی شهر برای تماشا بر آمده بوند، مقتول و مجروح گردید، ارباب قیام پراگنده شدند...).

د سراج الاخبار د آزادیخواهي او استعمار دښمني څخه بین المللي امپریالزم ډیر په تنګ سوي ؤ. دغي جریدي د خپلو خپرونو او تبلیغاتو په اثنا کي ولس د خپلو سیاسي او طبیعي حقوقو

www.sikaram.com

د په لاس راوړلو د پاره تحریکوی چنانچه د (۱۹۱٤م) کال د دسمبر په میاشت کي د هند نائب السلطنه د امیر څخه خواهش وکړ چې سراج الاخبار سانسور کړي او هند ته يي ورلیږل منع کړي. همداشاني طرزي محمود د مصاحبه قلمیه تر عنوان لاندي د هندوستان د ایډوکیټ انګلیسي اخبار تنقید چې ویل به يي: د کابل نوي اخبار ته به د هندوستان د اخبار په شاني آزادي ورنه کړه سي بعضي هغه آزاد یګاني چې د امیر صاحب خود مختاري مختله کړي.

سراج الاخبار يي په ځواب کي داسي وايي: (... **به این فقره ایدوکیت در ظاهر حال گویا یك خیر خواهی و رهنمایی برای حکومت ما نموده ضمناً حکومت را به سراج الاخبار بدگمان کردن و محو کردن آن ایما کرده اند...**).

استعماري محافل ډیر وارخطا کړه، دغه نظر بیخي صائب او د تردیده وتلي دي چې د مشروطي غوښتلو، خپلواکي، وطن دوستي او روشنفکري نهضت د پیاوړي کولو، ارتجاع، استبداد او استعمار د ځپلو په مبارزو کي طرزي محمود د خپل اخبار په واسطه د وطن د آزادیخواهانو او ملي مبارزینو په لومړي صف کي دریدلای سي. ده په خپلو مهیجو مقالو او راویښونکو شعارونو سره د مطلق العنانی او عیاشي په ټکولو کي یوه مستحکمه ملي جبهه پرانسته چې د سراج الاخبار د امتیاز په حاصلولو سره يي د هغوي په مقابل کي نه مضمحلیدونکي موقف ونیوي. د ده یو شعر چې په سراج الاخبار کي د کرکانو د ښکار غندلو په هکله خپور سو، هغه د امیر پر کرکتیر او د دربار پر وضع ناوړه اثر وښندي. د هغه شعر مبدا داسي وه:

بس است صید بودنه، بطرف کشتزار

امیر حبیب الله چې د کرکانو (یلدر جین) ښکار هر کال کاوه د دغه شعر په لوستلو سره يي د کرکانو د ښکار شوق پریښود.

طرزي محمود د (جوانان افغان) د لیکوالو د ټولني مشر ؤ او په خپلی داهیانه لاربښوونې سره يي په سراج الاخبار کي د دوي د افکارو د خپرولو د پاره په زړه پوري زمینه مساعده کړه، چنانچه هغه شعر چې د (پریشان) تر مستعار نامه لاندي د بلبل کرفتار تر عنوان لاندي د سراج الاخبار د شپږم کال په ۱۲ ګڼه کي خپور سو:

www.sikaram.com

سهرگهی بشنیدم ز بلبلی به قفس
که مردم از غم و درد و الم نه پرسد کس
که از چه میکشم این ناله ها نفس به نفس
چرا گذشت مرا عمر در فغان چو جرس
چرا به غیر فغان نیست کار و بار مرا؟
چرا حیات به گردن شد ست بار مرا؟

نه محرمی که به او یکزمان سخن گویم
نه مونسی که ز درد غم وطن گویم
نه همدمی که به او حرفی از چمن گویم
ز لاله و گل نسرین و یاسمن گویم
کنم به شکوه دلی پر ملال را حالی
ز درد خویش کنم جمله بلبلان حالی

غرض ز قصهء پر درد خود کمی بشنواند
ز نکته های اسیرانه شمه یی بر خواند
که باد بوی چمن بر قفس نشین گذراند
سپید و بال و پر افشاند و این حدیث بخواند
مگر رساند نسیمی صبا ز خاك وطن
که برد هوش و قرارم به خاك پاك وطن

دمی به حیرت و بیخود فگنده سر استاد
ز شکر باز شکایت و گر لبی نه کشاد
که باز باد صبا از شگوفه دادش یاد
کشود چشم و کشید از خروش دل فریاد
که همچو من شوی از خانمان جدا صیاد
چو من اسیر ستم سازدت خدا صیاد

مرا که فخر چمن زیب گلستان بودم
گل شگفته نیسان آشیان بودم

www.sikaram.com

روان باغ و چمن روح بوستان بودم
ظریف و خوشتر از جمله بلبلان بودم
اسیر پنجهء فولادی بلا کردی
به جای لطف جفا کردی و خطا کردی

فضایی بی سر و پا بود جای پروازم
بلند شاخ سر سر و مسکن نازم
همیشه بوی گل از خانه خوش اندازم
بیرون چمندی جو آواز خرمی سازم
مرا نه درد اسیری نه چون قفس دل چاك
نه اشکریزی غمگین نه ناله غمناك

سحر که بال و پر شوق میزدم به هوا
به شاخهای شگوفه گرفتمی ماوا
گهی بر روی گلی گه به سنبلی شیدا
به خنده نغمه کنان می سرودم این آوا
کراست عشرت امروز دایبکه من دارم
ندیم سنبل و گل خانه در چمن دارم

همان گل است کنون و همان زمان بهار
زمین ز سبزه مخلع درخت پر بر و بار
فگنده شور گلشن نوای قمری ساز
به گوشهای گلستان چو من هزار، هزار
پرند از سر یك شاخ برد گر خندان
فتاده من به قفس گریه میکنم به فغان

رسیده است دل زار من به جان یارب
ازین ستمکده ام زود وارهان یارب
درین جفا کرده پر غم همان یارب
دوباره ام به گلستان و گل رسان یارب

www.sikaram.com

اگـــر برای قـــفس آفـــریده ام بـاری
چرا بـه بال و پرم داده ای ســـرو کـــاری
اسـیـر پنجـه جـور و جـفـا سـتم تاکی
نـدیم آه و فـــســـوس و غم انـدم تاکی
انیس اندوه بســـیـــار و لطف کم تاکی
جلیس این ســـتم آباد و پر الم تا کی
چو غـیـر یاس درین خانه نیست کـار امـید
بهـشت امـیـد فـراری از این مـزار امـیـد
سـپس خـمـوش شـد و سـاعـتی تامل کـرد
مـرا گـمـان کـه شـد آرام یا تحـمل کـرد
دوباره نغـمـه کنان روی جـانب گل کـرد
به خنده گـفت کـه صـیـاد چون تغـافل کـرد
بیـــا بمیـــر ز ذلت نجـــات خـــواهی یافت
به گوشه گاه عدم خوش حیات خواهی یافت
اگـر چه نیـست گـوارا به من چنان مـردن
جـوانم و بود افـســوس بر جـوان مـردن
ولـی بـه آرزوی زندگـی تـوان مـــــردن
کـه هست مـوجب احـیـای جـاودان مـردن
چو هر سـحـر به قـفس حـال مـرگ می بینم
چرا نمیـرم و فـارغ ز درد و غـم ننشـینم
به گفته این و به حسرت به سوی گلشن دید
کـــشـــود بال و پر بـر در قـــفس بدوید
بر آن طلسم زمـانی هجـوم کـرد شـدید
ولی چه فـایده کـه آن بود سـد سخت شـدید
ز کله و پر و بال نحـــیف و منقـــارش
بریخت خـــون مـــصـــفـــای رنگ گلنارش

www.sikaram.com

فتاد بیخود و خونش بجوش می آمد
دل سپیده به خون در خروش می آمد
گهی، گهی که به حال و به هوش می آمد
همین انیس حزین زد به گوش می آمد
شکست بال و پرم در هوای آزادی
هزار شکر که گشتم فدای آزادی(۱)

دغه مسدس مولوی صالح محمد کندهاری په پښتو اړولی ؤ چې نمونه یی دا ده:

یو سحر زما تر غوږ سوه له بلبله — چې قفس کی یی ژړل دایی ویله
چې بندی سوم د صیاد له سخته دله — ولی نه پوښتی څوک حال زما له دله
ولی نسته بی فغانه کار او بار زما — ولی حبس ابدی راغی په وار زما
زړه می ډک دی سره چوی د ارمانه — خدایه ژرمی خلاصوی له دی زندانه
نور می مه پریږده په دی ځای کی سبحانه — بیا می ژر ورسوی تر خپل بوستانه
که دی زه یمه قفس ته پیدا کړی — بیا وزردی ولی ماته دې راکړی
څو تر څو به یم په دی جور و ستم کی — خو تر څو به په ژړا یم او په غم کی

امیر حبیب الله سراج الملة و الدین د دغه شعر په نسبت د سراج الاخبار په یوه کنج باندی داسی ولیکل: معلوم شود پریشان کیست؟

څرنګه چې عمومی جنګ په خر په جاری ؤ، د آلمانانو او ترکانو هیئتونه کابل ته را رسیدلی وو، طرزی محمود د افغانانو د ملی حمیت د تحریکولو او سیاسی استقلال د ګټلو له پاره د سراج الاخبار په لسمه ګڼه کی د جدی په ۱۶ (۱۲۹٤) کی د حی علی الفلاح سرمقاله چاپ کړه چې د هغی په اثر د افغانانو د آزادی غوښتلو، وطندوستی، ملی غرور، ننګ او ناموس ساتلو شعایر یوځل بیا په ښور راغله چې د هغو په نتیجه کی مقاله مصادره سوه او پر ځای یی شعرونه او ادبیات ور واچول سول، د دغی مقالی ځینی مهم ټکی په دی وسیله وړاندی کیږی:

(... سراج الاخبار افغانیه یك اخبار مسلمانیست، نه انگلیزیست، نه روسی، نه فرانسوی، نه ایتالیایی، نه جرمنی، نه استریایی، نه چینی است، نه ژاپونی، صرف

۱- سراج الاخبار، سال ششم شماره ۱۲، ۵ دلو، ۱۲۵۹.

www.sikaram.com

مسلمانیست و در مسلمانی هم محض افغانیست. هرچیزیکه میگوید، هر نغمه ایکه میسراید، هر نوائیکه مینوازد، از نقطه نظر افغانیت گوید، از مقامات علویت، افغانیت میسراید و از نواهای شرافت ملیت مینوازد، حی علی الفلاح! ای ملت نجیب افغانیه، شرافت ملی، عظمت قومی خود را محافظ کنید، استقلال و حاکمیت دولتی خود را صیانت نمایید، افغانیکه به دیانت و دینداری به شجاعت و بهادری، به غیرت و ناموس شعاری در تمام دنیا مشهور و معروف شده باشد، آیا اینرا بر وجدان و ایمان و شرف و ناموس خود چنان گوارا کرده میتواند. که نام حمایت، تابعیت دولت اجنبی غیر دین و غیر ملت بر او بوده باشد... معنی صاف و صریح تابعیت و حمایت این است که یك دولتی به دیگر دولتی گوید که به غیر از من دیگری را نه شناس، به غیر از من با دیگر دولت حرف مزن، به غیر از من به دیگر دولتی عقد معاهدات یا رابط مناسبات (معاملات مکن! به غیر از من به دیگر دولت نه سفیر بفرست و نه سفیر قبول کن... معنی صاف و صریح استقلال نامه و آزادی کامله نیز این است که هر دولت در همه چیز های که در بالا مذکور گردید. مستقل و آزاد باشد، دنیا به یك حال نمی ماند، بشریت به مدارج مختلفه سیر و دور میکند، طفل میباشد، شیر میخورد، جوان میشود، پیر میگردد و به کمال میرسد، خود را کامل میکند، ملت نجیبه افغان بینایی، دانایی، آگاهی حاصل کرده به خیر و شر به نفع و ضرر خود پی برده شرف آزادی قومی، حقوق و استقلال ملی خود را به خوبی شناخته تا به حال هر چه که بود هرچه که شد، لیکن بعد ازین افغان آن افغانیست که از حقوق خود چشم پوشی بتواند...).

همداشانی سراج الاخبار پخپلی یوی مخصوصی گنی کی د افغانستان د آرامی او ملی نیکمرغی او په عمومی جنگ کی د مسلمانانو مخصوص د ترکانو دوستی او بهادری ستاینه کوی او مسلمانان اتحاد او ورورگلوی ته را بولی چې د دغی گنی په خپریدلو سره انگلیسان په تشویش کی ولویدل او پر امیر باندی یی پروتست وکړ.

همت گوره د ترکانو — د رومیانو عثمانیانو
بیدار مغز کاملان دی — باغیرته عاقلان دی
د سلطان همت ته گوره — مردانه غیرت یی گوره
د همت توره یی کښلی — د غیرت په لاس نیولی

www.sikaram.com

آفرین دی پر همت وی — صد تحسین دی پر غیرت وی
چې فرصت یی کی پیدا — ور روان سو په رشتیا
عزمی وکړ ور رهی شو — مقابل هم د روسی شو
ځنی ونیوی قفقاز — په مطلب سو سرفراز
هم پر مصری حمله کړی — هم پر سویزی جبه وړی
بلی، بلی ښه فرصت وی — خدای راکړی غنیمت دی
عطا سوی دی له پاسه — مفت یی مه یاسی دلاسه
ای زما برادرانو — ای جمله مسلمانانو
ښه فرصت دی خدای راکړی — ښه نعمت یی عطا کړی
چې کفار سره اخته دی — په سرو وینو آغشته دی
فکر وکړی چې سی زیاد — کافران شی تهول برباد
همیشه ښه فرصت نه وی — تل بری پر غلیم نه وی
گاهی گاهی شی پیدا — مدام نه وی پر دنیا
تیر کلو ته که نظر — په احوال کړه ځان خبر
چې پر مور باندی څه حال وو — پریشان زمور احوال وو
د کفارو غړ غړی وی — شپه او ورځ پر مور نعری وی
تر خوله تیری یی کولی — لافی شافی یی وهلی
وحرم ته یی نسبت — دوی کاوه په جمعیت
خدای اخته کړه اوس پخپله — سره وژنی یو له بله
دا د خدای مهربانی ده — د خالق نگهبانی ده
چې یی مور کړو ځنی خلاص — شکر وکړی په اخلاص
بلی، بلی مهربان دی — د مظلومو نگهبان دی
له ظالمه انتقام — اخلی دی همیش مدام
ای باری پروردگاره — ای قادره ای غفاره

www.sikaram.com

خوار افغان تا ته زاری کړی بیا زاری په عاجزی کړی
مور نگاه کړی له آقا تو له جمله انقلاباتو
په سایه کی مود شاه زمور امیر حبیب الله
آسوده لری ای خدایه ای هادی او رهنمایه
په حرمت د مصطفیٰ محمد مجتبی

سه شنبی اوومه د دریمی خور سنه ۱۳۳۳ هـ. ق په مدرسه شاهی کی (صالح محمد)

د دی وروسته د سراج الاخبار د خپریدلو په لار کی دول، دول خنډونه ایجادیدل، دفتریی د دولتی ماشینخانی څخه د ده افغانانو یوه کورته انتقال سو او بیا د هغه کور څخه چې سرکاری کور ؤ واستل سو او د شهزاده امان الله عین الدوله په مرسته عین العمارت ته نقل شو. هغه وخت چې پر امیر حبیب الله د سرطان په ۱۲ (۱۲۷۵) کی په شور بازار کی سؤ، قصد وسو، او مهم همکاران یی لکه عبدالرحمن (لودین)، عبدالهادی (داوی) په دغه تور بندیان سول، د سراج الاخبار په خپریدلو کی نور مشکلات پیښ شول، حروف چینان یی یا مړه او یا وتښتیده، د طباعتی شیانو د نرخ د لوړیدلو په نسبت د اخبار مالی بنیه ضعیفیدله او شماری یی دری میاشتی تر خپل وخت وروسته ناوخته راوتلی نو طرزی محمود د ۱۲۹۷ د قوس په ۲۷ مجبور سو چې اخبار معطل کړی، خو د دغه کال په ژمی کی د لغمان د کله گوش په ښکار ځای کی د امیر حبیب الله په وژلو سره اوضاع بیخی تغییر وخوړه او شهزاده امان الله چې د طرزی د افکارو او خیالاتو څخه پوره متحسس ؤ د یو غیور او آزادی دوست افغان په څیر سلطنت ته ورسید، طرزی محمود چې په دی وخت کی ۵۲ کلن ؤ د ده د افکارو او ملي مبارزو ته په زړه پوری زمینه مساعده سوه.

د طرزی محمود سیاسی افکار:

طرزی محمود که څه هم د ملی حکومت د جوړیدلو حق، عدالت او مساوات د تامینولو له پاره د دموکراسی رژیم په گټه پوه او وویل به یی چې گوندونه یا حزبونه د لویدیځ مدنیت او د دموکراسی نظام بنسټ ګڼل کیږی، خو په اسلامی هیوادونو مخصوص افغانستان کی تر ټولو، لومړی عرفانی، اجتماعی او اقتصادی اصلاحاتو ته ضرورت دی او باید د خلکو ذهن او فکر د

www.sikaram.com

نوی ژوندانه سائنس او تخنیک د پلوشو غوړیدلو ته متوجه سی وروسته د اسلامی او افغانی شعایرو په نظر کی نیولو سره نوی تحولونه تجهیز سی د ترقی او نیکمرغی لاری چاری وپلټلی سی.

څرنګه چې عام ذهنیت او عمومی عنعنوی فکرونه د مطلقیت د تعدیلولو او دموکراسی نظام د راوستلو له پاره مساعد نه ؤ، او افغانی دموکراسی یا مشروط باید ځانته علیحده عینی او ذهنی شرایط را زیږیدلی وای، نو په دغه وخت کی چې افغانستان د داخلی او خارجی زیاتو ستونزو سره مخامخ ؤ، طبقاتی او قشری تضادونه نسبتاً حاد شوی وو. او د سیاسی اقتدار حاصلولو له پاره د سردارانو او فیودالانو، روشنفکرانو او مرتجعینو په منځ کی بی امانه مبارزه جاری وه، نو هغه مشروطی یا دموکراسی ته چې د هغی له پاره په ایران، ترکیی او ځینو نورو هیوادونو کی مبارزه کیده، دلته یی مجال نه سو پیدا کولای او د اسلامی ورور ګلوی او ملی اتحاد د اساسونو څخه منافی ګڼله کیده لکه چې طرزی محمود په دی هکله وایی: (**... از هنگامیکه حکومت مشروط در دولت علیه عثمانیه قایم و عنوان خلافت عظمای اسلامیه به عنوان حکومت مشروط عثمانیه تبدیل نیرنگهای عجیب تغیرات جزبی در آن سرزمین پاك به صورت بسیار المناك جلوه پذیر گردید، غیر ازینکه بسیاری از ممالك جسیمه مانند ولایت طرابلس، غرب افریقا و قطعه روم ایلی اروپا و جزایر سفید و آسیا و به ملیون ها نفوس ضایع و غایب گردید، بسیاری از آدم های نامدار و قمتداری نیز طعمه آتش حرص و کین، غرض و نفس پرستی گردید مقصد ما از آن نامداران تلف شده در آتش دشمن که در میدان کار و زار تلف شده اند نیست که دست همدیگر شان با حیا مفقود و یا غدار مقتول شده اند، و شایان حسرت و افسوس این است که بعضی از افراد ملت شان آن بادیه پیمای راه عدم را نفرین و لعنت میخواند و بعضی آفرین و رحمت میگویند، در میان آنها ادیب ها، محررها، سیاسیه، افسر ها، وزیر ها، سرکرده ها، صدراعظم ها، ناظر حربیه ها نیز موجود است اینها همگی فداشدگان نفس پرستی، پارتیها و فرقه ها شده است...**).

همداشانی سراج الاخبار د دوهم کال د دوهمی ګڼی د میزان د شلمی ۱۲۹۱ کال په خپرونه کی د حزبونو په نسبت د (ضرورت تربیت سیاسی) تر عنوان لاندی خپله د طرزی محمود په قلم لیکی: (**... در هر مسلکی که فرقه ها و پارتیه ها افزونی گرفت یعنی گند، گند بازیها بسیار شده اختلاف ها و پراگندگی ها و پریشانیها نیز بیشتر شده است، زیرا معنی**

www.sikaram.com

حقیقی پارتی و (گوند) نفاق و انشقاق است که یگانه موجد خرابی، موجب بربادی میباشد.

دولت همه ز اتفاق خیزد بی دولتی از نفاق خیزد

اتفاق ملت ها و پارتی سازی و گند بازی یك میل مفرطی داشته میباشد و حتی اگر یك چند نفر شان در یك سرزمین بسیار دوری هم باشند، باز از پارتی سازی و گند بازی در مابین خود شان فارغ نمیشوند، دین مبین اسلام اخوت و اتحاد را که مراد عدالت اجتماعی است اساس قرار داده و بر آن اساس یك دولت عظیمه را وضع نموده اند که از هزار و سه صد سال باینطرف پایدار و استوار مانده است. دولت عثمانی به اتحاد و اتفاق عناصریکه دل یك وجود شده به صفوف اعدا زده اند... و تا وقتیکه اختلاف در عسکری و حکومت و ملت شان موجود نه بود، از فتوحات به فتوحات و از کامیابی به کامیابی علم افراز مهایت شدند، و از وقتیکه نفاق و شقاق در مابین عساکر (ینی چری) ملت و حکومت شان پیدا گردید به تنزل و خرابیها نیز سر زده ظهور شد...).

طرزی محمود د یو ډول افغانی نشنلزم له څنگه داسی اسلامیزم هم تبلیغاوه چې مهم عناصر یی د غربی استعمار او امپریالزم سره مخالفت او د عمومی مسلمانانو د ورورگلوی او همکاری ساتل و لکه چې د سراج الاخبار د لومړی کال (۷) گڼه د جدی ۵/ (۱۲۹۰) کال په خپرونه کی (د حب الوطن) تر عنوان لاندی داسی لیکی: (... ای هموطنان دانش قرین و ای هملتان همدین و آئین! آیا ما میدانیم که وطن خود مان را چرا دوست میداشته باشیم! اگر از همه سبب های بی شمار آن یگان، یگان بیان کنم، می بایدت از همه کائنات سخن بگوییم، زیرا کائنات ما وطن است، موجودیت ما به وطن وابسته است مقصد از دوست داشتن وطن تنها عبارت از دوست داشتن خاك، چوب، سنگ، میوه و باغ و غیره نیست بلکه خود را دوست داشتن است شرف و عزت ملت ناموس خود را دوست داشتن است، آزادی خود را دوست داشتن است:

هر کس که دل به عشق وطن کرد مبتلا ایمان و عقل دین نه شود هیچ از و جدا

طرزی محمود د افغان او افغانیت سره د زړه له کومی مینه درلوده، د اجنبی دوستی او طرفداری څخه یی سخته کرکه کیده، لکه چې مهدی فرخ ایرانی لیکوال او د پلومات په خپل اثر کی د (کرسی نشینان کابل) په نامه د ده په هکله لیکی:

www.sikaram.com

(... او نسبت به عَضویت ضیاء همایون در دربار افغانستان به عنوان اینکه ایرانی نه باید در امور سیاسی دربار افغانستان راه داشته باشد، همیشه مخالفت کرده و حتی الامکان کوشش نموده است که مشار الیهه را طرد نماید، و حتی اشخاصی را هم جلب کرده است که جای نشین او بشود... و خیلی ساعی است که ایرانیها از اعلیحضرت امان الله خان دور باشند و به همین جهت خصومت و خوف و رعب از ایران را تقویت کرده و میکند، او در دربار متنفذ و خیلی قوی است، ولی چون پیر شده... افراط مینماید امید است عقب خیالاتش منقطع شود، و در همین ضدیت خود نسبت به سیاست ایران در افغانستان ضدیت های هم موجود است[۱].

۱- کرسی نشینان کابل، مهدی فرخ صفحه ۵ چاپ ۱۳۲۷

www.sikaram.com

د مطلقیت او استبداد د رفع کولو له پاره د (جوانان افغان) ملی مبارزی

د دي سره چې امیر حبیب الله سراج الملة و الدین په ظاهره د لومړي دوري مشروطي غوښتونکو او د مطلقیت سره د مقابله کونکو د ځپلو او له منځه وړلو څخه خلاص سو، خو یو شمیر مشروطه غوښتونکو چې د امیر د ضربي څخه ځانونه ژغورلي وه د امیر د تروروولو او له منځه وړلو ته یې دوام ورکړ او د شور بازار د حادثي وروسته په (۱۲۸۹ش) کې یې پر امیر باندې بل سوء قصد وکړ خو ناکام سو او په دغه سوء قصد کې شامل کسان د محکمې په فتوا ووژل سول او ځینې یې لکه سردار نصر الله نائب السلطنه، سردار غلام علي او سردار محمد عمر تر شدید نظارت لاندې ونیول سول. د (۱۲۹۱ - ۱۲۹۵ش) پورې پر امیر حبیب الله باندې نور ناکامه سوء قصدونه وسول، خو څرنګه چې د آزادي غوښتونکو او ریډي کالستانو سوء قصدونه یو په بل پسې ناکامیدل، د دي دپاره چې دوي په خپله اراده کې بریالي سي نو شهزاده امان الله ته چې یو وطندوست، دموکرات، د استعمار او استبداد مخالف افغان و، ورنژدې سول او د امیر حبیب الله ورور نائب السلطنه چې د غرب دوستي، انګلیس مابي او عیاشي څخه یې ښه نه راتلل په دغه عزم کې یې د ځان طرفدار ګرځولي و. د دغه جمعیت نهه تنو یوه تعهدنامه چې په قرآن شریف کې یې لاس لیک کړي وه سردار نصر الله ته وړاندې کړه. د دغې ډلې مشهور کسان محمد ابراهیم بارکزي، غوربندي شجاع الدوله، یعقوب خان شاه غاسي، محمود سامي، محمد ولي بدخشاني، میر زمان الدین بدخشاني، شمس المشایخ او فضل عمر جان وو او سردار نصر الله هم لاس لیک کړه. څه وروسته سردار نصر الله خان د ځینو مصالحو په نسبت د هغه ترون د عملي کولو څخه ډډه وکړه او د امیر حبیب الله وژل کیدل یو کال وځنډیدل او په کال (۱۹۱۹م) کې د لغمان په کله ګوش کې په شهادت ورسید.

www.sikaram.com

د جوانان افغان مرام د امیر حبیب الله وژل، مشروطه، اساسي قانون، کابینه جوړول، ملي شورا، اجتماعي او اقتصادي رفورمونه، سائنس او تکنالوژي، د مطبوعاتو آزادي، د معارف پراخول، د بریتانیه د استعمار سره مخالفت، سیاسي استقلال ګټل و.

د امان افغان جریده د (۱۹۱۹م) کال د اپریل په ۱۲ د دغي واقعي تفصیل داسي لیکي:

(... در لیل پنجشنبه ۱۸ جمادی الاول (۱۳۳۷ق) اعلیحضرت سراج الملة و الدین در کله گوش نام دره لغمان که برای شکار ماهی خیمه زن عز و اجلال گردیده بودند، به وقت سه بجه شب در خیمه در بستر شاهانه خود از طرف شخصی نامعلومی شربت شهادت چشیدند. برای خوب تصویر توانستن واقعه کمی از خوابگاه شاهانه بحث کنیم: خیمه خواب شهانه برد و حصه متن و حاشیه تقسیم است، تجیر بیرونی که دیوار دهلیز خیمه گفته شده میتواند از چهار سمت خود دروازه دارد. تجیر داخلی که دیوار متن گفته میشود هم عیناً همین دروازه ها را مالك است دهلیز جای خواب غلام بچه ها ر نوکری والا است. خوابگاه یعنی رخت و بستر خواب شاهانه در متن نزدیك دیوار تجیر متصل کنج خیمه واقع است که یك دروازه تجیر داخلی هم متصل بستر شاهانه است. در وسط خیمه چراغ پهلوی دیرك بزرگ وسطی در آمدن قاتل جانی است، قاتل خاین پرده دروازه مذکور را که به میخ های کوچکی بند میباشد پس کرده پیش سر جلالت افسر آن سرور هنر رسیده دهان (ریوالور) خاینانه جاینانه خود را بر نقط که بیخ گوش چپ و یك کمی به پشته گوش مایل بود نهاده و آتش داده است، کله راست پیشانی حد نزدیك موی سر را بغند ساخته خارج نه شده است و اعلیحضرت بی آنکه صداوندا یا طپش و اضطرابی یا شرکت اضطراری با اختیاری بکند، ده ملیون نفوس ملت افغان را یتیم ساخته از خواب راحت به راحت خواب مرگ رفته، قاتل را غلام بچه که نوکری والا بود (محمد خان) نام داشته به سبب پرده ایکه ذکر شده دیده نتوانسته است. صدای تفنگچه را شنیده به هولی تمام برخاسته ولی اعلیحضرت را به خواب یافته، درینجا همه اعیان و مامورین حضور حاضرند. سردار نصر الله خان موجود نیست همگی اطلاع دادن او را لازم دانستند. سردار موصوف آمده بیرون خیمه نشستند و به قرار ذیل بیانات مردم فریب را کردند، در دنیا از اینگونه کار ها بسیار پیش شده و پیش میشوند، تقدیر همچنین بود، باز سپاه سالار محمد ولی خان سر جماعه در باب تحقیقات و تفتیشات رای خود را به او گفته اند که

www.sikaram.com

تفنگچه های عمله ها را بوی کردن، کارتوس شان را دیدن، پهره و غیره را گرفتار کردن بسیار لازم است، ولی سردار صاحب موصوف همگی را در عهد تعویق انداختن و اینگونه تفتیشات مناسب نیست. بلی وقتی که قاتل هم نشانی های خود را گم و هر چیز مشتبه را اصلاح و ازین فرصت استفاده کند آن وقت لازم خواهد بود).

نفری دیگری هرچه درین باب اصرار کردند، کمتر به سمع قبول رسید و الحاصل همه عمله را امر به جمع داده است. عسکر یك طرف استاده عمله ملکی دیگر طرف، خود سردار موصوف خود را به موقع استحقاق خطابت شناختاند. درین فرصت سپاه سالار محمد نادر خان درجواب نطق سر افسرانه اش سخنان معنی داری از زبان عسکر گفته است که اولاً برای حضرت امیر شهید مغفرت از دربار خداوند رحیم استرحام و برای خود و بازماندگان او رحمت الله صبر و اجر عظیم میطلبیم و به همان صداقتی که در رکاب او میخواستم جان های خود را قربان کنیم در رکاب اولاد و فرزندان و برادر و سایر خدامش جانفشانی مینمائیم. بعد از شنیدن این نطق پهلو دار محمد ولیخان سر جماعه غلام بچه گان امیر شهید را برای حمل و نقل نعش مغفرت مبرور مغفور امر آمرانه دادند. آقای موصوف اعلیحضرت مرحوم را بر چهار پایی نهاده و تا به سرك موتر که قریب دوکره مسافه دارد آورده و در موتر نهادند. خود محمد ولیخان با جنازه شاهانه در موتر نشسته تا به حد (سرخ رود) رسیده و حسب الامر توقف کرده است سردار خیال دار نصر الله خان خودش آدم فرستاده است و بر تلفون لغمان سانسور مقرر کرده محمد نادر خان را برای آنکه همه اعیان و اراکین را جمع نموده بگویند که امیر صاحب می آیند و هم افواج جلال آباد را در خود چهاونی تحشید و انتظام کند، به جلال آباد فرستاده است، زیر سانسور گرفتن تلفون را هم امر کرده است، خود سردار هم سوار موتر شده به باغ شاهی که همه مردم حاضر بودند، آمده است. سردار عنایت الله و سایر عمله حضور هم رسیده است. موتر جنازه در پرچم زیر سایه دیوار باغ شاهی مانند مرده دلان خاموش استاده است. سردار موصوف باز خطابت عموم را غیر از خود لایقی نه دیده، درین اثنا علی احمد ایشك آقاسی و باز سردار عنایت الله دست بیعت به سردار نصر الله داد و باز روز جمعه به وقت شش بجه و تا کاغذ که شب نوشته بودند، بدست شجاع الدوله صاحب فراش باشی داده او را سوار موتر ساخته بودند که به طرف کابل بیاید و برای ویسرای مستعمره هند یك مکتوب فرستاده بودند...).

www.sikaram.com

عین الدوله شهزاده امان الله چې د خپل اکا مکتوبونه ولوستل ډیر متاثر سو او وې ویل: چې زه د خپل پلار قاتل پیژنم هغه هیڅکله د ښکار شوق نه درلود، خو دا ځل زما د پلار د وژلو دپاره تللي و. هغه چا چې بې استحقاقه خپل ځان د سلطنت دپاره تاکلي او زما د پلار قاتلان یې پرې ایښي، شهزاده امان الله زیاته کړه. زه د خپل پلار د وژلو تحقیق کوم او د کله گوش د ښکار ځای ټول معیتي هیئت مسئول دي. په دي تحقیق سره عسکري جذبات په ښور راغله او سپاه سالار صالح محمد خان ور دمخه سو او ویې ویل ستا تر قیادت او امارت لاندي به زه خپل سر قربان کړم او بیعت یې ورکړ. وروسته نائب سالار عبدالوکیل نورستاني هم د ځان او هم د لښکرو بیعت ورکړ او د کابل ټولو خلکو په پاچاهی قبول کړ.

نو عین الدوله شهزاده امان الله د امیر صاحب حبیب الله د پاچاهي د حقیقي وارث په حیث په (۱۹۱۹م، ۱۲۹۸ش) کي د کابل پر تخت کښینوست.

د اعلیحضرت امان الله دور:

اعلیحضرت امان الله د ملي ارمانو د په سر رسولو په لار کي د هغو تجربو څخه چې د پلار د دوري د سړو او تودو سیاسي جریاناتو، د آسیایي ملتو د نجات بخښونکو مبارزو، طبقاتي تضادو، د افغانانو د ملي روحیاتو، سیاسي او اقتصادي شرایطو او په اخیر کي د ملي او بین المللي حالاتو څخه ورحاصل سوي وو، پوره استفاده وکړه. ده آزادي دوست او روشنفکره افغانان پر ځان را ټول کړه او د یو آزاد او مترقي افغانستان په جوړولو کي یې په نه ستړیدونکي او پیګیري مبارزي شروع وکړه.

ده په تخت کښینستلو سره لومړی ځل خپل وطنوال داسي مخاطب کړه: (**... من عهد بستم که بایستی دولت افغانستان مانند سایر قدرتهای مستقل در جهان در داخل و خارج کشور آزاد و مستقل باشد و از هر گونه تجاوز و ظلمی محفوظ و مردم باید مطیع قانون باشند و در اجراآت دولت مشورت را به حکم و شاور هم فی الامر رهبر قرار خواهیم داد...**).

د انګلیسانو نماینده ته یې وویل: (**به هیچ نیروی خارجی به اندازه یك سر مو اجازه نخواهیم داد که در امور داخلی و خارجی افغانستان مداخله کند. اگر چنین اقدامی نماید گردنش را به این شمشیر خواهم زد**).

www.sikaram.com

د اعلیحضرت امان الله سره د جوانان افغان د دلي ملګرتیا:

اعلیحضرت امان الله د خپل تخت کښینستلو په لومړیو ورځو کي ټول سیاسي بندیان خوشي کړه او د دولت پر مهمو چارو باندې مقرر کړه د مثال په توګه کاکا سید احمد لودین یي د معارفو د مشاور، تاج محمد پغماني یي د قطغن ولایت د خارجه مدیر، غلام محمد میمنګي یي د زیات تحصیل له پاره جرمني ته واستاوه، محمد انور بسمل یي په شمالي ولایاتو کي د ولسوال، میرزمان الدین یي د کابل د والي، نظام الدین ارغندیوال یي په امنیه وزارت کي د مدیر او بیا په برلین کي د افغانستان د سفارت د سکرتر عبدالرحمن لودین یي د سرمنشي او بیا د کندهار د بناروال او داسي نور مقرر کړل. هغه هندي پروفیسران چې بندیان سوي وو لکه ډاکټر عبدالغني، مولوي نجف علي، مولوي محمد حسین او نور پر خپلو عهدو او وظیفو بیرته مقرر کړه. د بیلو اداري، اقتصادي، قضایي نظامنامو او لایحو په خپرولو سره یي په وطن کي د معارفو، مطبوعاتو، صنعت او حرفت نوي دور پیل کړ. اعلیحضرت امان الله د بیان او ټولنو د نظامنامو په راوستلو سره د حزبونو او ګوندونو جوړولو له پاره زمینه مساعده کړه، په (۱۳۰۵ش) کال کي یي د استقلال او تجدد د فرقي یا حزب مرامنامه خپره کړه دغه ګوند د جمعیتونو د قانون له مخي جوړ سو. د دغه ګوند یا حزب مرکز په کابل کي ؤ چې د مرام مهم ټکي یي دا وه:

د استبداد مخ نیول، د ترقي او خپلواکي ساتل، د دغه ګوند د دوهمي مادي له مخي هغه خرافات چې د اسلام په مقدس دین کي داخل سوي او د اعتیاداتو په اثر د اعتقاد جز ګرځیدلي دي، د هغو لیري او اصلاح کول، د خلکو په منځ کي د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي قوانینو نافذول، د ټولو مدني احتیاجاتو چې د یو مترقي او عصري دولت او د هغو د اتباعو سره ښائیږي رفع کول، د شورا د وکیلانو ټاکلو په وخت کي د خلکو د ذهنو د روښانولو او د دغه ګوند د اهمیت د حرګندولو او عمومي چارو کي د ګډون کولو د اولیت مقام ځان ته حاصلولو هلي ځلي. د دغه ګوند عمومي رئیس او بانې خپله اعلیحضرت امان الله ؤ.

په دغه وخت کي په کابل کي دوو سیاسي ګروپونو د جوانان افغان او اخوان افغان په نامه سیاسي فعالیتونه کول. د جوانان افغان چپي څانګو تند او انقلابي افکار درلوده. دوي د خارجي

www.sikaram.com

ژبو او فرهنگ سره بلدوو، ملي دموکراسي او د قانون حاکمیت يي غوښت د استعمار، فیوډالزم او ملوک الطوایفي سره سخت مخالف وو. د دغي ډلي مشهور پیروان عبدالرحمن لودین، عبدالعزیز باباجان، محمد یوسف حقیقي، محمد کبیر او محمد کریم، د محمد عظیم وړونه، غلام سرور جویا، سید ابوبکر، محمد عمر د کیمیا او د باغي انجنیر، میر عثمان په خارجه وزارت کي د آلماني ژبي ترجمان، محمد علي تلگرافي، سعد الدین د شورا وکیل، میر غلام محمد غبار او وړونه یي، دلبر د ملي کافي چلونکي، عبدالغفار کنډکمشر لوگري شیر محمد، میرزا محمد مهدي چنداولي، غلام محي الدین ارتي، غلام محي الدین انیس، فیض محمد ناصر، سید حسن فرقه مشر، سید غلام حیدر پاچا، محمد رسول محمدزي، فقیر احمد، غلام احمد رحماني فیض محمد باروت ساز او نور وو.

بل گروپ د اخوان افغان په نامه د لغماني میر سید قاسم میرزا محمد علي تائب، قاضي عبدالظاهر سامي، عبدالهادي داوي، او ځینو نورو ملایانو او روشنفکرانو د لارښوونې لاندي د اعلیحضرت امان الله د اصلاحي پروگرامونو تطبیق د ولسي او تشریعي اساسونو له مخي غوښت. د دوي په فعالیت سره یو شمیر تشریعي او فرهنگي آثار په پښتو او دري وایرول سوه. د مولوي عبدالرازق، مولوي عبدالواسع، مولوي عبدالرب، یار محمد مقري، محمد اختر او سردار محمد کریم هلو ځلو په دغو فعالیتونو کي تسریع راوسته.

دغو گروپونو د ملي کتابخانو په تاسیس او بیلو جریدو په خپرولو کي زیاته توجه کوله، د پغمان په لویو جرگو کي يي (۱۹۲٤ - ۱۹۲۸م) د انتصابي او انتخابي غړو په حیث ګډون درلود. ځینو شخصیتونو يي د ارگ د شمالي او ستوري د مانیو په مجلسونو کي هم شمولیت درلود. د دغو گروپونو ځیني غړي د اعلیحضرت محمد نادر شاه د قتل په اتهام او د انگلیس پر سفارت باندي د یرغل کولو په تور ووژل سول او یا د ډیر عمر په بند محکوم سول.

څرنگه چې د اعلیحضرت امان الله عهد زمور په فکري او سیاسي نهضت کي ډیره اغیزه لري نو که د دغه دور پر ځینو خصوصیاتو او سیاسي جریاناتو څه نور ولیکل سي شاید د موضوع څخه به ډیر وتلي نه وي.

اعلیحضرت امان الله د خپل دولت د پروگرام د تائیدولو او لارښودلو د پاره لویه جرگه (۱۳۰۳ش) د پنجشنبي د سرطان د شلمي څخه پیا د اسد تر نهمي پوري په خپل صدارت په

www.sikaram.com

پغمان کي دایره کړه او د خپل لس کلن حکومت اجراات او اصلاحات يي ور وړاندي کړه چې په ازاده او هر اړخیزه توګه بحث پروسي او په یقیني صورت ارزیابي سي.

لویي جرګي د ده د حکومت پروګرام او اجراات تائید او تقدیر کړه او د هغه د خدمتونو ستاینه يي وکړه او د افتخار نوښانونه تورہ، توپک او القاب يي لکه امیر المومنین، تولواک غازي، سیف الدین ورته پیشنهاد کړه.

اعلیحضرت د دغه پیشنهاد په ځواب کي داسي وویل: (د وطن او ملت په هکله کوم خدمتونه چې زه يي د کولو هیله لرم، د هغو څخه مي په زړو کي یو لا هم په سر نه دي رسولي. هغه وخت چې د خدمت مصدر وګرزم د نوښان به مستحق وګرزم، پر ما چې خپل نیکه امان الله نوم اینبي دي او خداي چې ماته د غازي افتخار بخښلي دي دغه مي بس دي. د سلطنت په لومړیو ورځو کي ماته د مور او اقربا و له خوا څخه د شمس الملة و الدین، سیف الملة القاب راته پیش سول او ما قبول نه کړه. تولواک پښتو کلمه ده، کله چې پښتو په ټول افغانستان کي او د ماموریتونو په منځ کي رواج ومومي البته بیا يي منم. اوس زما په حال د امان الله نوم کفایت کوي. دغه ظلایي تورہ چې د الماس دانې باندي کار سوي دي د واقعیت خلاف ده ځکه يي نه منم. توپک مي قبول دي په دي لحاظ چې د محاربي په وخت کي د وطن په خدمت په کار رائي او په ژوندن به يي څوک راڅخه وانخلي. هغه وخت چې مصطفي کمال اتاتورک په ترکیه کي په نوو اصلاحاتو لکه قانوني پارلماني ګوندي دولت په جوړولو بریالي سو نو د خلافت موسسه يي چې د دولت په چارو کي په ګټه نه تمامېدل، د (۱۹۲٤م) کال د مارچ په دریمه د هغه قانون له مخي چې د خلکو د جلسي او تصویب څخه تیر سو لغو کړه. هغه وخت چې اعلیحضرت امان الله د ایتالیا د دولت په بلنه د (۱۹۲۷م) کال د دسمبر په میاشت کي خپل سفر هند ته شروع کړ هند، مصر، ایتالیه، فرانسي، بلجیم، سویس، جرمني، انګلستان، پولنډ، شوروي اتحاد، ترکیه او ایران يي ولیدل د (۱۹۲۹م) کال د نومبر په څلورمه ترکیي ته ورسید او د ترکیي د جمهور رئیس مصطفي کمال اتاترک سره يي ولیدل. دي په ترکیه کي د خلافت د جریاناتو په واقعیت ښه پوه سو او هغه وخت چې د سفر څخه بیرته وطن ته راغي او د (۱۳۰۳ش) کال په لویه جرګه کي چې د خلافت مسئله طرح سوه ځینو ملایانو او روحانیونو د ترکیي او افغانستان د دوستي پر ټرون ځکه ښه نظر نه

www.sikaram.com

درلود چې ترکیې د خلافت موسسه لغوه کړي وه. او عمومي احساسات د مصطفي کمال د حکومت په مخالفت تحریک سوي وه او د دغه نامطلوب عمل د جبیري کولو دپاره خپله اعلیحضرت امان الله ته یې د خلافت د عهدي د منلو پیش نهاد وړاندي کړ. اعلیحضرت امان الله د هغه اعتماد او حسن تدبیر له اثره چې د ملت په ټولو افرادو مخصوص روشنفکره طبقه کي درلود، دغه مخالفتونه او بدبیني یې په عامله توګه خاموشي کړي چنانچه د لویي جرګي په یوي غونډي کي یې په دي هکله داسي وویل: (... اولاً باید جمعیت علمای اسلامیه بیشتر از دیگر مذاکرات این مسئله بسنجند که آیا یقین خلافت درین عصر حاضر مفید است یا نه؟ آیا خلیفه که معین شود، میتواند که تمام مسلمانان روی جهان را اداره کند، یا نه؟ آیا این مسئله قابل یقین است که به اوامر یك خلیفه ترکی مسلمانان هند، که زیر فشار حکومت انگریزی و مردم مصر که طبعاً طرفدار حکومت محلی و مردم عرب که ذاتاً میلان به سوی شریف مکه و اهالی مراکش که ظاهر به سوی امیر شان تمیل دارند، اجراات و رفتار خواهند کرد، یا نه؟ بعد از فیصله شدن این مسئله و حتمی بودن خلافت و باز متفقاً تعین موضوع خلافت را غور و فیصله نمایند که چقدر قوای مادی و معنوی در خلافت ضروری است؟ اگر چه به خیالم که علمای هر موضوع مساعی جمیله شانرا نسبت به امر روسای وطن خود این مسئله را لایق دانست خواهند شمرد و مسایل و دلایل را اقامه کرده و به جای منافع یك گونه نفاق و تفرقه در بین مردم اهالی تولید خواهند کرد...).

انګلیسانو غوښتنه چې په لومړي سر کي اعلیحضرت امان الله ته د خلافت د عهدي په وړاندي کولو سره هغه ډول پان اسلامیزم چې د مسلمانانو په نقص او د دوي په ګټه وي تحریک کړي. د هند د آزادي غوښتلو د استعمار او امپریالزم سره د مسلمانانو د مخالفت کولو مبارزي د شوروي روسیي په مخالفت تحریک کړي او په بین المللي مجامعو کي شوروي روسیه تجرید کړي. اعلیحضرت امان الله په دغو سیاسي چالبازیو پوه او د انګلیسانو په نسبت یي د شوروي روسیي دوستي د وطن د ګټو او مصالحو ساتلو له پاره مناسبه ګڼله دا ځکه چې شوروي روسیه په ظاهره د افغانستان د استقلال، مځکي تمامیت، کلتور او ثقافت ته په درنه سترګه کتل او د ده د اصلاحي پروګرامونو په پر مخبیولو کي یې هر اړخیزي مرستي ورسره کولي.

اعلیحضرت امان الله د عبدالرحمن لودین د دي اعتراض په مقابل کي چې پاچا په نامه سیاسي اصول را استلي دي، خپله هم حکومت او هم سلطنت کوي او هم یي د خپل حکومت مهمي

www.sikaram.com

چاري د خپلي مورخينو نالايقو غنيمت شمرده شاه غاسيانو ته سپارلي دي؟ دغه اعتراض ته اعليحضرت امان الله په غير مستقيم دول د (۱۳۰۳ش) کال په لويي جرگي کي داسي ځواب وايي: (بعد از قرائت ماده که در آن بار حکومت و مسئولیت بر دوش وزرا بوده، ذات ملوکانه غیر مسئول قرار داده شده است فرمودند، که لفظ غیر مسئولیت را مجلس شورا و وزرا بر خلاف خواهش و میل من ایراد نموده اند، حالانکه من خود را ایماناً و وجداناً عقیدتاً غیر مسئول در اجراات سلطنت و مملکت نمی انگارم و اتفاقاً میگویم در صورتیکه عزل و نصب و تنزیل و ترفیع وزراء و مامورین را خودم مینماییم باید خود را در بدنامی و نیك نامی آنها تا درجه اول بانگاریم، خدای خود را شاکرم که مرا یك پادشاه عیاش، تنبل و کاهل نیافریده است تا خودم در خانه نشسته مشغول لهو و لعب و ساتیری بوده، متسلی باشم که کار های مملکتم را وزرا اجرا میکند، خداوند شاهد است (و کفي بالله شهیدا) خودم به نفس خود در هر وزارت طوری کار میکنم که یك وزیر بسیاری جدی فعال کند. ازینرو این لفظ غیر مسئولیت در اینجا بی معنی است و من خودم به همین یك لفظ ازین بارگران امانت خالق منان سبکدوش و غیر مسئول نمیتوانم زیرا که مردن دارم، خداوند از من به روز محشر خواهد پرسید.

در نظامنامه که نام صدراعظم است و نشانی از آن به نظر نمی آید، لهذا معروض میدارم، چون خودم یك مرد جوان و شوق و محبت فوق العاده را نسبت به خدمات ملت و مملکت خود دارم و هر رجال دانشمندی را که متحمل همچه یکبار گران مملکت شده بتواند، علی العجاله سراغ ندارم و هم خواهش مند نیستم که ما بین من و ملت من یك سد و حائلی در میان باشد، ازینرو فعلاً تا وقتیکه میتوانم اینکار را هم علاوتاً بر ایفای وظایف امارت بر دوش خود گرفتم چنانچه اینکاری را که (لویه جرگه) با شما مینمائیم حیثیت صدارت را دارد.

اعليحضرت امان الله د طايفوي او نسبي علايقو د مضرت او تاوان او د ملي وحدت او روا داري په ښيګنو کي په خپلو رسمي او ملي خطابو کي داسي ويلي دي: (... پس از چیست که شما علاوه بر اسلامیت به خود و همدیگر نسبت درانی و غلجایی و سدوزایی و اچکزایی و (اوپره) و غیره را میکنید و شما و علمای تان اینقدر عقل و فهم ندارید، که شرع شریف احمدی به مقابل اسلامیت، قومیت و وطنیت را اهمیتی نداده است و همه پیروان صادق

www.sikaram.com

خود را به بانك بلند و به شهراه توحید امن قال (لااله الا الله دخل الجنته) میکشاند و به جز از تقوا و پرهیز گاری هیچ امتیازی به قومیت و وطنیت نداده است.

څرنګه چې په افغانانو مخصوص ځینو پښتنو او کندهاریانو کې طایفوي او فیوډالي مناسباتو تینګې ریښې ځغلولې وې، نو د مذهبي استدلال او استناد پرته د هغو ناوړو خویونو او اعمالو د له منځه وړلو د پاره عجالتاً اډو بله چاره نه وه موجوده چې موثر کار ځني واخستل سي نو ځکه اعلیحضرت امان الله د اجتماعي او اقتصادي نا به سامانیو د اصلاح کولو د پاره کله د مذهب د حربي او کله د رسمي او امرو د صادرولو څخه کار اخست، په لویه جرګه کې د ننګرهار د کامي یو ملا د آزادي پر کلمي تنقید ونیوي او وي ویل: (... **در ذیل ماده که در آن ذکر آزادي عامه است، معروض داشت، که مقصد از لفظ آزادی شخص و ذاتی عموم افراد افغانستان بر طبق شریعت و فرمایش حکومت است، لکن در عوام چنان افواه است که مطلب از آزادی، آزادی ادیان و افعال غیر مشروع، رقص و سرود، ملاعب و نواهی و اعمال نارواست.**) اعلیحضرت در جواب فرموده: (... **مقصد ازین آزادی، آزادی است که بر طبق مقررات شریعت غرای محمدی و هدایات حکومتی هر شخص از مظالم و دست اندازی های غیر مشروع دیگر افراد آزاد و کاملاً حریت شخصی خود را مالك باشد، تا آن خرابیها و بدکاریها دست درازی هائیکه سابق برین بر مال و جان و ناموس و شرف ذاتی اشخاص رعیتی هر روزه از طرف مامورین دولت و اشخاص صاحب رسوخ و اعزه ملت در معرض اجرا می آید مرفوع و مدفوع گردد. بعد عطف کلامش را به سوی ساز ها، سرود ها و مطرب ها و بار دیگر اینکه در اعصار سابق کسب شدت و کثرت داشتند، نموده و ذکر لواطت و رقاصی ها و دیوانه بچه های بخارا، را که یگانه موجب تباهی و خرابی آن مملکت از همان اعمال است فرموده گفت: آیا در دوره حکومتم بازیگری را احدی به جای می بیند؟ و آیا در نظامنامه جزای عمومی برای انسداد امثال این اعمال نامشروع مجازات مکفی تعین نه گشته است؟ شما راست به سوی معانی حقیقی مواد نظامنامه متوجه شوید و الا اگر تاویلات بنمائید، پس از امثال این تا ویلات کلام پاك خالق کائنات خلاص نه شده مردمان منافق و خود غرض ایات بینات او را از خود ترجمه و تاویل نموده و برای افعال نامشروع خود تمسك میگیرند پس احکام من عاجز را چطور تعبیرات غلط نخواهند کرد؟ و به همین واسطه تفرقه و تشتت را در میان ما و شما نخواهند انداخت؟**

www.sikaram.com

یکی از ثمرات لذیذه آزادی این است که شما علماء و فضلا و مشایخ و وکلا واعزه ملت امروز به حضورم حاضر و آزادانه اظهار افکار و ارا خود را میدارید. اگر شما بدین آزادی که بر طبق اوامر شرعی است رضامند نباشید بسیار خوب اینك مرا اجازه بدهید که مجلس را فسخ کنم...).

د اعلیحضرت امان الله اصلاحي پروګرامونه او د مطلقیت د تعدیلولو فعالیتونه د ننه په هیواد کي د نفوذ لرونکو خلکو د منافعو او په دباندنیو هیوادونو کي د استعماري اعمالو د په سر رسولو سره تکر وکړله منځه ولاړل. انګلیش مین د لومړي ځل د پاره د افغانستان په حکومت کي د دو دسته ګي او نفاق خبر خپور کړ چې د افغانستان د کابیني د وزیرانو په منځ کي بیلتون وجود لري. خارجه وزیر طرزي محمود د انګلیسي استعمار پرضد مبارزه ګوي، په داسي حال کي چې صدراعظم عبدالقدوس اعتمادي داسي ډول فعالیتونه د ولس په ضرر ګڼي لکه چې ده په هغه لیک کي چې د (۱۲۹۹ش) کال د سرطان په ۲۶ کي د کندهار څخه د شمس المشایخ مجددي په نامه لیږلي و په دغه لیک کي دي د خپل نظر اختلاف د طرزي محمود د سیاست سره بیانوي او وایي (... د خواشیني ځاي دي اعلیحضرت امان الله هم د هغه طرفداري کوي، نصارا در مورد مسلمانان دو نوع حیله دارند، یکی با شمشیر و دیگر با قلم و فریب از جمله اول ملت و دولت را در حساب میگیرند و در جمله دوم شخص شاه در نظر است که ملت را به گردن دولت می اندازند. و نتیجه آن هم اصول مشروطیت است که سیزده سال پیشتر (پانیر) از آن ذکر کرده و گفت مشروطیت در ترکیه و ایران به سببي مستحکم شد که مردم لذت آزادی چشیده بودند و اما در افغانستان برعکس ترکیه و ایران مشروطیت ثمری ندارد، و برای ویرانی این دولت کدام سردار نامداری،... و یا خان با اعتبار به کار است من نمیدانم که برای دولت انگلیس قوت و حواله شمشیر بالای ملت و دولت افغانستان نمانده و آنچه مانده است عبارت از مشروطیت است و علاج آن این است که از طرف شرع انور مشروط طلبا را باید واجب القتل دانست...).

د طرزي محمود د سیاسي فعالیتونو سره د افغانستان درو معتبرو کورنیو لکه د سردار عبدالقدوس اعتمادي، شاه غاسي علي احمد او سپاه سالار محمد نادر خان او په خارج کي انګلیسانو سخت مخالفت درلود خو اعلیحضرت امان الله د دوي توطئوته متوجه و او په زغرده یي خپل اصلاحات مخي ته بیول.

www.sikaram.com

اعلیحضرت امان الله د سیاست او وطن ته د عملي خدمت علاوه د شعر او ادب سره هم مینه درلوده او کله کله يي خپله شعري طبع هم ازمويله، يوه ورځ دي د معارفو د پروګرامونو د لیدلو او وارسي کولو په لړ کي يو شوونځي ته ورغي چې يو متعلم د کابل په ستاینه کي د اصفهاني (صائب) مشهوره قصیده چې لومړي بیت يي دا دي:

خوشا عشرت سرای کابل و دامان کهسارش
که ناخن بر دل گل میزند مژگان هر خارش

ورته قرائت کړ، اعلیحضرت امان الله په باالبدیهه توګه د خپلی طبع څخه د هغه په ځواب کي داسي وویل:

شدم یکبار گی با جان و سر از دل گرفتارش
و هم خون عزیز خویش تا نازم چو گلزارش

همداشاني د استقلال د فاتحینو په نامه چې په کابل کي د یادوني ځلي جوړ سو، د اعلیحضرت امان الله د طبع دغه بیت باندي لیکلي سوي و:

ما یتیم ستم تیغ فرنگی شده ایم مست دیدار خدائیم و بهشتی شده ایم

اعلیحضرت امان الله خواریکښان د خپلو حقوقو پوهولو، اخستلو، او یوموټي کولو ته تحریکول، د مثال په توګه هغه وخت چې ده د دارالامان د مانۍ د جوړولو پلان لیدی د هغی مانۍ مزدورانو او خواریکښانو د لیدلو او حال پوښتلو ته ورتهر سو او پوښتنه يي ځني وکړه چې د اتو ساعتو کار په عوض کي څومره اجوره اخلی؟ هغوی ورته وویل: چې يو قران ده ورته وویل چې دومره شاقه کار او يو قران بیا يي ورته وویل تر څو نیمه افغاني اجوره درنه کړي، کار مه کوي. هغه وخت چې د مزدورانو د اعتصاب څخه د مانۍ د کار آمر محمود یاور خبر سو، مزدورانو ته ورغي او د کار نه کولو علت يي ځنی وپوښت، هغوي ورته وویل چې اعلیحضرت راته وویل تر څو نیمه افغاني نوره اجوره درنکړي، په کار لاس مه پوري کوي، نو محمود یاور هغوي ته یوه افغاني اجوره ومنله. بله ورځ چې بیا اعلیحضرت امان الله د دارالامان د کار وارسني کوله د هغو مزدورانو څخه يي بیا پوښتنه وکړه هغوي ورته وویله: چې یوه افغاني اجوره اخلو، اعلیحضرت بیا ورته وویله چې دغه اجوره لږ ده ستاسي ګذاره نه په کیږي باید نیمه افغاني نوره در اضافه

www.sikaram.com

سي. محمود یاور چې خبر سو، نو د اعلیحضرت امان الله حضور ته ورغي او عرض یي وکړ چې دا اجوره د دولت په تاوان ده او مور باید دوي دومره سپین سترګي آموخته نه کړو اعلیحضرت غازي په قهر سو او ورته وي ویل: دا مور چې څه لرو ټول د دوي دي، پر دوي یا ملت ګټه کړل بي حرمتي او بي ننګي ده.

په اعلیحضرت امان الله کي د ملیت او افغانیت هسکي نخښي لیدلي کیدي او بي له خدایه یي هیڅاته سر نه ټیټاوه لکه چې ویل به یي:

سر زما سر کوزي نه مني د تاج باري تاج زما و سرو ته محتاج

د اعلیحضرت امان الله د ملي غرور بله نخښه دا وه: هغه وخت چې ده اروپا ته سفر پیل کاوه انګلیسانو د خپل سفیر او وایسرا د خولي ورته وویل چې: باید د پیښور د لاري د هلي ته ورسي چې هلته یي وایسرا استقبال وکوي. پر اعلیحضرت امان الله دغه دستور یا خواهش ډیر دروند تمام سو او ورته وي ویل: د هر لوري چې وغواړم سفر به وکړم او زه د افغانستان د پاچا په حیث دا سپکاوي او د حیثیته لیري کار ګڼم چې وایسرا زما استقبال ته راسي، ځکه یي خپل سفر د انګلیسانو د غوښتني مخالف د چمن، بمبئ د لاري اروپا ته شروع کړ او په هند کي یي داسي د اوره او ملي جذباتو ډکه وینا وکړه چې د هند د ټولو آزادي غوښتونکو ملي احاسات یي را پاروول او افغان ټولواک یي د ختیځ د ملتونو د لوي ناجي او قهرمان په عنوان اعلان کړ لکه چې زمیندار اخبار لیکي:

چو مسلم دین ورزید، فخر الدین راضی شد
ولی چون در عمل کوشید امان الله غازی شد

خو مخالفینو یي د وطن د نیکمرغي او خلکو د ترقي په لار کي د دغه پاچاه هلي ځلي ناکامي کړي او د (۱۳٤۷ ق) کال د شعبان په ٦ یی د نولس فقریزه اعلامیي په صادرولو سره دغه اتهامونه پر وارد کړه:

امان الله شفاهي سلام منع کوي او د سر په اشاري یي تبدیل کوي، د لنګوټي په عوض کي یي پیخه او کاسکیټ او سوټ او بوټ رواج کړي ډیره خریل یي معمول ګرزولي، د ښځو مکتبونه

www.sikaram.com

یې تاسیس کړي، چادري یې لیري کړي، نجوني یې د تحصیل د پاره خارج ته لیږلي، د دیني علماو سره مخالفت کوي، په محصلینو انګلیسي ژبه وایي، په شرع کي یې د قانون په نامه فساد رواج کړي، قمري سنه یې په شمسي اړولي، عیسوي سنه رواجوي، د جمعې ورځي رخصتي یې پنجشنبې ته راوستلي، د امامانو او موذنانو معاشونه یې د شهادت او هویت د پاڼې تر لاس راوړلو پورې معطل کړي، مجددي حضرتان محمد صادق او محمد معصوم بندیان کوي د حضرت صاحب ملا امام قاضي عبدالرحمن او نور یې د ترقي سره د مخالفت په جرم اعدام کړي، د تش په نامه او بې شهادتنامي او بې هویته ملایانو امر او نهي یې بند کړي، بت پرستي او شراب خوري ته یې اجازه ورکړي، ملا عبدالله او د جنوبي ځینو ملایانو چې پر ده باندې د کفر فتوا صادره کړي هغې یې وژلي. د دغو اتهاماتو په واردولو او د انګلیس د مشهور جاسوس لارنس (پیر کرمشاه) د توطئو په جوړولو سره عمومي اغتشاش شروع سو. د دې سره چې اعلیحضرت امان الله دغه اتهامونه دیوي بیانیې او اشتهار په خپرولو سره داسي تردیده کړه: (دا دې روښانه وي چې د افغانستان د داخلي او خارجي دښمنانو په تومب په مشرقي کي ځینې ورانې وشوې، خو زه چاته د جزا ورکولو اراده نه لرم، هیله ده چې تر دې وروسته له داسي اعمالو څخه لاس واخلي، کوم افواهات چې په ما پسې پیدا سوي دي او داسي ښودله سوي چې زه ګویا د شرعي احکامو مخالف یم او د غرض خاوندانو هغه منلي او سند یې ګڼي، ما فقط د سوء تفاهم ورکولو له پاره ځینې هغه ټکي چې د پاریدنې سبب ګرځیدلي اصلاح کړل چې دلته یې یو په یو یادوم.

۱ - مشهوره سوي چې ما نعوذ بالله منها د خیر البشر علیه افضل الصلاة و التحیات په درناوي او احترام کي کمي کړي، زه په دي خبره دومره خواشیني سوي یم چې په هیڅ شي به دومره خواشیني نه سم. زه هر وخت په لمانځه کي او له لمانځه څخه د باندې د حضرت سرور کائنات په روح درودونه او تحیات استوم څنګه کولای سم چې داسي ناوړه او ناروا شائبه په خپل فکر کي وګرځوم. زه خپل ملت ته دا ډاډ ورکوم چې زه د رسول اکرم (ص) مینه او درناوي د ایمان پانګه او دارینو نیکمرغي ګڼم او د (لا اله الا الله محمد رسول الله) له مقدسي کلمي سره د صداقت لومړي شرط د حضرت ختمي مرتبت مینه او

www.sikaram.com

احترام گنهم. دا ډول ناولي افواهات د افغانستان د اسلامي مملکت او ملت د دښمنانو او مخالفینو له خوا خپریږی.

۲- څو ځله تجربه سوي چې ځینې پیښنهادونه چې د ملت وکیلانو په جرګو کې منلي، د علماو د مخالفت سره مخامخ سوي د دي علت دا دي چې خلک د وکیلانو په ډله کې دیني عالمان نه رالیږي، نو د دي نیمګړتیا د لیږي کولو له پاره داسي ترتیبات نیول سوي چې د دیني علماو یوه پنځوس کسیزه ډله په مرکز کې جوړه سي چې د هیواد د علماو له خوا به ټاکل کیږي څو هغه پیښنهادونه چې د وکیلانو مجلس یې وړاندې کوي د اعیانو مجلس به یې هم له نظره تیروي او دیني اړخونه به یې څیړي څو چې دوي یې ومني د تعمیل وړ به وګڼل سي.

۳- خلک چې د مدعي العموم مقررول غواړي، دا زما په خوا هم په نظر کې و اوس مي یې د یو نظامنامي په ترڅ کې تقرر وماته.

٤- هغه ټولنې چې خارج ته د زده کړې له پاره لیږلي سوي ځینو دا سي فکر کړي چې هغوي غیر اسلامي هیوادونو ته لیږلي سوي دي بلکه داسي نه ده. هغوي غیر اسلامي هیوادونو ته نه دي لیږلي سوي، یوازې د ترکیې اسلامي هیواد ته د ښځو د مخصوص ناروغیو د طبابت د زده کړې له پاره لیږلي سوي، څو مسلماني میرمني اړي نه وي چې په خاصو ښځینه ناروغیو کې نارینه ډاکټر ته ورسي. په کوم ښوونځي کې چې دوي درس وایي ما پخپله لیدلي او دا په ترکیه کې د ښځو د زده کړې له پاره مخصوص دي. او دوي هلته د افغاني سفیر غلام جیلاني خان د میرمني تر خاصې څارنې لاندې زده کړه کوي او هغه صلاحیت لري چې هغه ټول مقررات باندې تطبیق کړي چې د افغاني عفت او عصمت غوښتنه ده خو بیا هم څرنګه چې دا موضوع د خلکو په نظر کې بده ګڼله سوي او فکر کوي چې نورو غیر اسلامي هیوادونو ته تللي بیرته مي را وغوښتي.

۵- د دیوبند د علماوو په باب زما نظر چې افغانستان ته مي په راتلو بندیځ لګولي وو، د دي دپاره نه و چې د دیوبند د موسسې څخه خطر موجود وو، بلکه د نومورې دارالعلوم

www.sikaram.com

ځيني فارغان زمور د هيواد له حالاتو سره د نابلدتيا له امله د غرض د خاوندانو د لاس اله ګرځيدلي وو او د ديوبند د تعليم يافته په نامه د بيلا بيلو مذهبونو او مسلکونو لکه قاديانيت په خپرولو دلته بوخت وو او د افغانستان مذهبي او ملي وحدت يې زيانمن کاوه نو ځکه يې مخ نيوي وسو. څرنګه چې دي موضوع زړه بداوي را منځ ته کړي و نو منظور مي کړه چې تر دي وروسته دي د ديوبند علما هم د خپلې شهادتنامي سره لکه د نورو علماو په شاني افغانستان ته راځي.

۶- تر دي وړاندي هم په نظامنامه کي د رشوت د پاره جزا تاکلي سوي وه، اوس به هم دي موضوع ته خاصه پاملرنه کوم.

۷- د ستر په برخه کي د سړ کال په لويه جرګه کي پريکړه سوي ده، چې حکومت دي هغه کسان او قبيلي لکه کوچيانو او نور چې د چادريو اغستلو سره عادت نه لري، نه مجبوره وي چې برقع واغوندي او هم دي ښاريان د حجاب په ليري کولو نه مجبوروي. ما هم د جرګې دا مقررات تعميلول، يوازي د ځينو علماو په فتوا مي چې د دي مبارک آيت (ولا يدين زينتهن الاظهر منها) په استناد مي جواز ورکړي د څو تنو څخه خپل لاسونه او مخونه نه پټول، خو څرنګه چې ځينو مغرضو کسانو دا مساله لويه وښوده نو ځکه مي امر ورکړ چې دومره دي هم نه لوڅوي او ويښته دي هم نه غوڅوي او نه يې هم پرې کوي.

۸- د تدريس د شهادتنامي له درلودلو سره ترلې مطلب مي داو چې کار و اهل کار ته وسپارل سي، چې څوک د مدرس په نامه د خلکو د ګمراهي سبب نه سي، دا شرط هم ليري کړل سو.

۹- عسکري چې د نفوسو په اساس کيږي او د عسکري پچي يا قرعي له پاره شميرنه کيږي، مطلب دا و چې د هيواد ټول اوسيدونکي عسکري مقدس خدمت وکړي او خپل هيواد وساتي. څرنګه چې خلک باندي راضي نه دي، تر دي وروسته مي سر شميرنه او تذکره ويشنه بنده کړه او عسکر به په قومي سستم د ويش له مخي نيول کيږي.

www.sikaram.com

۱۰ - د شرابو چیښلو د جزا په برخه کې مخالفینو خپره کړې ده، چې حکومت د شرابیانو په جزا قصداً سترګې پټې کړې، سره له دې چې ما پخپله د دې لوی رنځ او ناروغي مخنیوي په هر ډول کړې او دولتي نظامنامې او اوامر په دې برخه کې قاطع حکمونه لري اوس چې محتسبین تاکل سوي هر چا ته جزا ورکوي او زه پخپله هم ټینګ مراقبت کوم.

۱۱ - د احتساب د محکمې په باب حکومت غفلت نه دی کړی خو پخپله احتساب هم باید شرایط او ارکان ولري چې په دې باب ځانګړي کتاب تالیف کیږي په هر حکومتي ناحیه کې یو محتسب منظور سو څو تول شرعي اوامر او نواهي وڅاري او شرعي جزا ورکړي.

۱۲ - د جمعې پر ځای د پنجشنبې ورځ له رخصتي څخه زما مطلب دا و چې د جمعې د رخصتي له امله اکثره مامورین او شاګردان له بنار څخه د باندې ځي، سیل او تفریح کوي او د جمعې لمانځه ته نه حاضریږي، خو کله چې رخصتي له جمعې څخه پنجشنبې ته سوه دا تول کسان د جمعې لمانځه ته حاضریږي او دا بدلون هم د علماو په فتوا وسو او د جمعې د لمانځه په وخت مامورین او کارداران هم تول لمنځونو ته تلل او پولیس موظف وو چې دکانداران او نور کسان هم ولمانځه ته را وبولي، خو دې موضوع هم زړه بداوي پیښ کړ او بیرته د پنجشنبې رخصتي په جمعه واوښته.

۱۳ - د چون لرونکي چادري په باب چې په کندهار کې په شامي بوغره (برقع) بدله سوي ده دا قید هم لغوه سو.

۱٤ - د پیري او مریدي په باب زما نظریه دا وه چې یوازي نظامیان او عسکر دي باید د مریدي په باب له ما څخه اجازه واخلي څرنګه چې دا مسئله داسي نبود له سوي چې ما بیخي پیري او مریدي بنده کړي نو دا شرط مې هم لغوه کړ.

۱۵ - د زده کړیانو او متعلمینو ذ واده له منع څخه زما مطلب دا و چې واده د تحصیل د بشپړتیا د مخ ونه نیسی، خو اوس چې دې موضوع هم غلط فهمي را منځ ته کړه، دا قید مې هم لیري کړ.

www.sikaram.com

۱۶ - د مستوراتو مکتب د علماو په فتوا جوړ سوي و ، خو اوس دي د وکیلانو د مجلس (ولسي جرګي) او د اعیانو د مجلس (مشرانو جرګي) تر پریکړي پوري معطل سي.

۱۷ - د پور ورکولو مخنیوي د دي د پاره و چې د پري د عواګاني ځني را ولاړ پرې او د مامورینو د پیش خورګي سبب ګرځي دا هم بد تعبیر سو آزاد دي وي.

۱۸ - د لباس او کالیو په باب داسي خپره سوه چې دا حکم د هر چا له پاره ضروري دي. دا حکم یوازي د کابل د ښار له پاره نه د افغانستان د نورو ښارونو له پاره خو دا موضوع هم غلط تعبیر سوه ، نو وایم د لباس قید دي د ټولو رعایاو له پاره نه وي او هر ډول شرعي او روا لباس اغوستلاي سي.

تر دي ټولو توضیحاتو او تعدیلاتو وروسته وایم چې ما هر څه ستاسو د آسودګي ، آرامي او وطن د ترقي او نیکمرغي له پاره کړي نه د ځان له پاره او که بیا هم تاسو په خپل تضعیف او خساره خوښ یاست مسئولیت به یې پر تاسو وي.

څرنګه چې د اعلیحضرت امان الله خلع کیدلو د ده د مخالفینو د پلان جزو ، نو د دغه پاچا پر ټولو اقوالو او افعالو د بطلان لیکه کشیده او په (۱۹۲۹م) کال کي د وطن په پریښیدلو او خلع کیدلو مجبور سو.

ده د خپل خلع کیدو او وطن د پریښیدلو په تاثر داسي ویلي وه (... **من به اطمینان وعده های اقوام عرض راه و بنابرین که قوای بچه سقا که در غزنی توقف داشتند ، و بیش از ۸۰۰ الی ۱۰۰۰ نفر نه بودند جانب غزنی تقدم کردم ، اما حینیکه به آنجا نزدیك شده رسیدم برخلاف توقع من یك بغاوت جدیدی از طرف عموم مردم تیره های قبیله اندری ، و حصه های از اقوام ترك و هوتك و توخی بروز نمود به اساس خواهش دیرینه و صلح جویانه خود دست از محاربه کشیدم ، من هیچ آرزو نداشته و ندارم که قوم خودم از دست خودم و برای خودم ضایع شود ، سلطنت را ترك گفت از افغانستان وطن محبوبم خارج شدم...**)[1]

۱- حبل المتین ، ص ۲۲- ۲۳.

www.sikaram.com

د دی وروسته د ځینو ملی مبارزینو، آزادیخواهانو او وطندوستانو د بندی کولو او وژلو په کار لاس پوری سو او په نتیجه کی د نیمی پیړی د پاره پر هیواد توره تیاره وغوړیده، د حقیقی مشروطی او قانونی حکومت لبله تپوله شوه.

اعلیحضرت امان الله د ۱۸۹۲ کال د جون په ۱۸=۱۲۷۱هـ.ش کال د جوزا په لسمه=۱۳۰۹ق د ذیقعدی د میاشتی په پنځمه د کابل د پغمان د زرګر دری ته نژدی زیږیدلی او د ۱۹۶۰ کال د اپریل په ۲۵ ۱۳۳۹ هـ.ش = ۱۳۸۰ هـ.ق په ایټالیا کی وفات او جنازه یی وطن ته راوړه سوه او په جلال آباد کی د خپل پلار له څنګه خاورو ته وسپارله سوه.

www.sikaram.com

د مطلقیت او استبداد په مقابل د دوهمی دوری د مشروطی د ځینو مشهورو ملی مبارزینو پیژندگلوی

عبدالرحمن لودین:

دی په کال ۱۲۷۲ - ۱۸۹۳ کي په کابل کی زیږیدلي او د خپل وطندوست او ملی مبارز پلار (کاکا سید احمد) لودین د محضر څخه یی د مطلقیت او استبداد سره د مبارزی درس اخستی ؤ کله چې د حبیبی مکتب د (له منځني بنسونځي رشدیه) څخه فارغ التحصیل سو بیا فکر او شعری قریحه یی درلوده، د پښتو او دری ژبی لیکوال او شاعر ؤ او په شعر کی به یی کله کبریت تخلص کاؤ، په ترکی او عربی کی پراخه مطالعه درلوده او مضامین به یی د هیواد په مشهورو اخبارونو او جریدو کي لکه امان افغان، انیس او داسی نورو کی د رحمن افغان او لودین په نامه هم خپریدل نو زیات علاقمندان یی پیدا کړی وه. عبدالرحمن لودین په لومړی نړیوالی جګړی کی د افغانستان د شاملیدلو طرفدار ؤ ځکه چې د ده په عقیده د انګلیسانو د ضعف او کمزورۍ له کبله د هیواد سیاسی خپلواکی بیرته په لاس راتلای شی. د ده د یو شعر څخه چې دلته را وړه کیږی څرګندیږی چې دی د مطلقیت، استبداد او استعمار بین المللی امپریالزم سره زیات حساسیت او نه پوخلا کیدونکی وضع درلوده او هیوادوال یی د علم او معرفت د حاصلولو او د خپلو حقوقو د په لاس راوړلو له پاره هڅول، او امیر حبیب الله یی په بی خبری او عیاشی غاندې، لکه چې وایی:

www.sikaram.com

نعره

ای ملت از برای خدا زودتر شوید
از منتر مکر و حیله دشمن خبر شوید
تا از صدای صاعقه اش گنگ و کر شوید
و آنگه چو رعد نعره زنان دربدر شوید
مانند برق جلوه کنان در نظر شوید
از یکطرف نهنگ و ز دیگر طرف پلنگ
هر دو به خون ما دهن خویش کرده رنگ
اکنون که گشته اند، به خود مبتلا ز جنگ
جهدی کنید بهر چه هست این همه زرنگ
در حفظ راه حق همه تیغ و سپر شوید
این وقت فرصت است نه هنگام جشن و شور
هر کس که فوت میکندش میشود کفور
پس در همین خلال و چنین حال و این فتور
تیزی وسعی همت تان اینقدر ضرور
تا از برای چشم عدو نیشتر شوید
امروز در تمامی عالم چه شور و شر
بر پا و ما نشسته از آنجمله بی خبر
نی فکر سود نی سر سود ایمان به سر
افسوس بر فلاکت حال چنین بشر
باید ز شرم آب ز پا تا به سر شوید
الله عالم است که این خصم بد سرشت
این حب، حب خویش چنان کرده است کشت

www.sikaram.com

تا هیچ فرق کرده نه با بد ز خوب و زشت
نقشی چنین بساط بباید در نوشت
ترسم خدا نخواسته زیر و زبر شوید

حاضر کنید اسلحه کوبید طبل و کوس
آرید رو به جنگ چو عثمانی و پروس
تا حلق انگلیز فشارید و نای روس
در جاغر تفنگ گذارید کارتوس
چون شیر راست سوی مخالف بدر شوید

باری به سیر سوزن ساعت نظر بدوز
در لمحه ها و لحظه و ساعت گذشت روز
همواره در تلف گذرد عمر یا چو پوز
افتاده از بهر چه استادگی هنوز
چیزی شوید یا کم و یا بیشتر شوید

ای غافل از زمانه و شاغل به لهو و گلف[۱]
با دشمن خبیث چه کسی کرده است حلف!
خود فکر کن عدونه کند چون ز عهد خلف
یابد گریست برسر این احمقی و جلف
تا چند برای دیدن حق کور و کر شوید

زین سان که در کلاه و قراکوت و بوت نو
از رشك میبرید یکی از دگر گرو
ترسید ز انگلیز چو اطفال از ببو
تاکی پس از دریژنگوئید زیر و زو
یکبار لازم است به عزم سفر شوید

خصم بزرگ خویش شناسید انگلیز
زان پس عدوی دیگر تان است روس نیز

۱ - امیر حبیب الله د گلف لوبه د پرده خوندول دی

www.sikaram.com

درین زمانه عمد نیرزد به یك پشیز
دارید ملت و وطن خویشتن عزیز
با اتحاد جمعه چو شیر و شکر شوید

این کرچ ماست در کمر وجیغه در کلاه
بس وضع خوب و فیشن روز است واه، واه
اما چه عیب روشن و بی همتیست آه
کین هر دو محض بهر نمایش شود نگاه
باید برین حمیت خود نوحه گر شوید

از حال پر تأسف این ملت نجیب
خواهم بیان کنم به حضور تو ای ادیب
تا کی بشنوی یا الله و یا نصیب
زین داستان نغز چنین قصه عجیب
بهر شنیدن سخنم گوش اگر شوید

کردند خائنان جفا کیش بیفروغ
آقای زمانه همه بهر خود قروغ
جهل و نفاق و بی خبری غفلت و دروغ
انداخته به گردن ما حلقه چو یوغ
گویند در اطاعت ما گاو خر شوید

گر مستبد ز روی جهالت عتاب کرد
یا غیر حق گدام کسی را عذاب کرد
یا بهر نفع خویش جهانی خراب کرد
ناچار عقل عالم و آدم خطاب کرد
تا کی به کشف حال چنین خیره سر شوید

هر جا که جاهلیت پر از جهل و ابلهی
تفتیش در معارف ما میکند زهی
چشمش پر از حرام ولی از خرد تهی
پس ای برادران چو چنین است گمرهی
بهر خدا از حال وطن با خبر شوید

www.sikaram.com

بر نقد و جنس مالی خاینان امین
در مجلس سیاسی ما جاهلان سکین
نی فکر و هوش و قلب نه وجدان عقل و دین
تا بهر انتباه صدای کنند چنین
کای غافلان از خواب تنعم بدر شوید

هر یك نشسته است به زین آنچنان تلك
کس نیست غم ز ملت و پرواش از ملك
با صد غرور کبر همیتازد اسپدك
کس نیست تا به سینه ایشان کند شلك
خوب ای خران چرید که تا چاغتر شوید

هر لحظه چون خیال چنین حال غم فزا
آید به سر ز جوش شود فرق من جدا
دایم به آه و ناله و افغان کنم نگاه
اندر هجوم اشك همیگویم این دعا
کای ظالمان خاك به سر دربدر شوید(۱)

عبدالرحمن لودین هغه وخت چې پوه سو امیر حبیب الله د افغانستان د ټولو نهضتونو او ملي نیکمرغیو خنډ ګرزي، د ده په له منځه وړلو او وژلو یې اقدام وکړ او په (۱۹۱۸م) کال کې د لومړي ډلي مشروطي غوښتونکو د ډلي د ترټلو څخه نهه کاله وروسته د امیر حبیب الله د زیږیدنې په جشن کې هغه وخت چې نوموړي امیر د ارګ د بازار او شوربازار د چوک څخه په موټر کې تیریدی عبدالرحمن لودین د شوربازار دیوه دکان پر بام د قاضي کوڅې ته ورځرمه پټ ناست و، د تفنګچی څو فیرونه او ډزې یې باندې وکړې، خو په خپل هدف و نه لګیدل. د دغې حادثې په نتیجه کې عبدالرحمن لودین ونیول سو او په ارګ کې محبوس سو. د دغه ناوړه قصد په اثر د ده پلار کاکا سید احمد لودین چې لا پخوا محبوس و، په بندیخانه کې تر فشار لاندې ونیول سو او ډیر وزورول سو. د دغه سوء قصد په تور عبدالهادي داوي او د جوانان افغان نور ملګري او د ده

۱- افغانستان در مسیر تاریخ، استاد غلام محمد غبار، صفحه ۷۲۱، چاپ ۱۳٤٦- ۱۹٦۷ کابل.

www.sikaram.com

تیر دوستان هم ونیول سول.

طرزي محمود په سراج الاخبار کي د دوي د حبس په نسبت د پاچا له حضوره څخه په عفو غوښتلو سره په خپل یو شعر کي په غیر مستقیم ډول دغي واقعي ته داسي اشاره کوي:

قهر و عتاب و جورت دارد خواهش مرهم
از بهر زخم ریشم قهر تو گشته درمان
قهرت چنین چو باشد رحمت بگو چی باشد
احیا کنی چو عیسی این مرده را بیکسان
مرغ شکسته بالم، بی یار بی مددگارم
با سینه میخزم من در راه فیض و عرفان
از عفو رحم وجودت امیدوار آنم
با بال و پر شوم من گیرم ز علم طیران

د (بابال و پر شوم من) څخه مطلب دا دي چې عبدالرحمن لودین او عبدالهادي داوي د بنده خوشي سي.

امیر غوښته چې د کله گوش د ښکار ځاي څخه د بیرته راګرځیدلو وروسته عبدالرحمن لودین، تاج محمد پغماني او شمس الدین د هغه لیک د سپکاوي په ګناه چې ده ته یي لیږلي و، اعدام کړي، خو خپله امیر د ښکار ځاي څخه په ژوند را ونه ګرځیدي او ووژل سو، او زوي یی شهزاده امان الله پر تخت کښینوست.

اعلیحضرت امان الله د خپل تخت کښینستلو په لومړنیو ورځو کي ټول سیاسي بندیان خوشي کړل. چې په دغه جمله کي عبدالرحمن لودین هم شامل و. ده د لودین حیثیت او منزلت بیرته ور اعاده کړ، اول یي د خپل سکرتر او منشي په حیث وټاکه، بیا د قانون جوړولو د هیئت د غړی (۱۳۰۰ش)، په بخارا کي د سیاسي هیئت د غړي (۱۳۰۲ش)، د پښتو مرکي د رئیس (۱۳۰۳ش)، د سرمنشي په حیث وټاکل سو وروسته د دغي وظیفي څخه ګوښه سو او کندهار ته ولاړ (۱۳۰٤ش)، او د کندهار د ښاروال (۱۳۰۵ش)، د کابل د ګمرک د رئیس (۱۳۰٦ش) او د کابل ښاروال په حیث وټاکل سو (۱۳۰۸ش). بیا په هغه تور چې د کابل دکانداران یې د سقاویانو د حملې د خطر څخه په دکانو ترلو او ځان ساتلو هڅول په (۱۳۰۹ش) کي د

www.sikaram.com

اعلیحضرت محمد نادرشاه سره د مخامخ تند سوال او ځواب ورکولو په موقع د پاچاهي ارګ په زینو کي د هغه په امر ووژل سو.

عبدالرحمن لودین ډیر مهربان، مشفق، آشنا دوست، مترقي فکره ملي شخصیت و. د وطندوستي او عدالت شعاري احساسات يي په وینه کي خوتهدل، په عمومي او دولتي چارو کي يي چپي افکار درلوده، د خیانت عیاشي او مطلقیت سره يې نه جوړېدونکی طبع درلوده او د حق د اظهار په موقع کي د هیڅا څخه نه ډارید په لویه جرګه کي يې د اعلیحضرت امان الله پر ځینو اجراآتو په شدیده او تنده لهجه تنقید کاوه خو دي بیا هم پر اعلیحضرت امان الله د صداقت او تورت ګویی له کبله ګران و او د هغه اعتراضونو او تنقیدونو ته يې په سره سینه او رسا منطق ځواب ورکاوه او ډېر ځله يې نازاوه. د عبدالرحمن لودین د مرګ خبر چې اعلیحضرت امان الله واورید د زړه له کومي خواشینی سو او وې ویل: څرنګ چې دي زما د اصلاحي پروګرامونو او اصلاحاتو جدي طرفدار او معتقد و، نو محمد نادرشاه د هغه داسي کرکتر او سجیه نه خوښوله ځکه يې وواژه.

د عبدالرحمن لودین په ویرنه او مرثیه کي یوه مهمنګي ځلمي شاعر د (خانقاهي) په تخلص داسي ویلي دي:

چنان شهادت تو حال من پریش نمود
که خون ز دیده روان قلب چاك ریش نمود
ستمگری که ترا کشت سخت بدنام شد
چرا که کیسه ملت به خویش بیش نمود
شهید عشق وطن زنده است قلیم از آن
به شوق نام در آورد خود همیش نمود
چه دید ظلم و چه نوشید خون دل به وطن
چو نوش جام شهادت ز تیغ و نیش نمود
به این خیانت و مکری که تو شهید شدی
کجا چنین ستمی کس به هیچ کیش نمود
نیش بد بده (خانقاهی) عبدالرحمن
به بین ز هجر تو مردم چها به خویش نمود

www.sikaram.com

عبدالرحمن لودین د ختیځ او لویدیځ د قواو د پرتله کولو او په لومړي جنګ کي د لویدیدځ د علم او تخنیک د تفوق په هکله یوه لویه قصیده د ځلوینتو بیتو په شمار ویلي ده چې نمونه یي دا ده:

افغانیان زی هم گر متفق گردد بهم
سبقت کند از گستهم شهرت برد از تهمتن
بهر وطن گر یك دو صد عالم به اصلاحش رسد
بی شبهه این جهل و حسد را می زداید چون سنن

همداشاني د علم په توصیف کي د (کائنات علم و فن) تر عنوان لاندي لیکي:

باید مکاتب بی شمیر گردد معارف بیشتر
تام علم و فن یابد مقر در قلب اولاد وطن
از علم و فن میگو سخن در خانقاه و انجمن
بیهوده نکشای دهن در وصف گلزار و چمن
از علم و حکمت بحث ها بنویس و بر خوان ملا
کن مدح را دایما مخروش از سرو سمن
صد ها مکتب در یلدا ز بهر ملیو نما ولد
تا روح حریت دمد در جسم شان
چون جان به تن[1]

د لودین صاحب مشهور آثار:

پښتو په دري قاموس، بیوګرافي رجال عمده افغاني، رساله ملیت خواهي په سراج الاخبار، امان افغان او انیس کی مهیجی مقالی او نور.

عبدالهادی (داوی):

عبدالهادی (داوی) د کندهار د نامتو طبیب عبدالاحد زوی په کال ۱۲۷۹ هـ.ق (۱۸۹٤) د جمادی الاخر د میاشتی په ۱٤ د کابل په باغ علیمردان کی زیږیدلی هغه وخت چې سردار عبدالقدوس خان اعتماد الدوله د امیر عبدالرحمن خان په امر د مرکزی افغانستان د نا آرامیو د

۱- سراج الاخبار، سال ششم، شماره ٥، صفحه.

www.sikaram.com

کرارولو له پاره هغی خوا ته تللی ؤ او هلته ناروغه سو ، د امیر په امر د هغه سردار د تداوی د پاره عبدالاحد طبیب د کندهار څخه ور واستول شو او د هغه د تداوی وروسته په کابل کی دیره شو ، او د دربار په طبیبانو کی شامل سو.

عبدالهادی خپل تخلص د خپلی قبیلی د یوی څانگی (داوی) څخه اخستی دی او داوی د غرغښت نیکه د درو زامنو دانی بایی ، مندو » د دانی د څلوو زامنو (کاکړ ، ناغر ، پنری ، داوی څخه یو دی.

دی د ۱۲۷۹ څخه تر (۱۲۹۰) پوری د حبیبی د مکتب محصل ؤ ، او د ۱۲۹۰ وروسته یی د طرزی محمود سره په سراج الاخبار کی قلمی مرسته شروع کړه.

د داوی صاحب په روزنه کی مولوی عبدالرب او مولوی محمد سرور واصف چې د حبیبی مکتب استادان وو زیاته توجه کوله ، د قاری عبدالله ملک الشعرا او عبدالغفور ندیم څخه یی چې د حبیبی د مکتب د ادبیاتو د مضمون استادان وو ، ادبی علوم او فنون ویلی وو ، د مولوی محمد مظفر او مولوی محمد حسین څخه یی سیاست ، فلسفه او د آزادی غوښتنی مبارزه زده کړی ، اردو ژبه یی هم د دوی څخه زده کړی او یو شمیر د آزادیخواهی او ملی خود ارادیت آثار هم د دوی څخه په لاس ورته ، داوی صاحب ترکی ژبه د علی افندی څخه چې د حربی د ښوونځی ښوونکی ؤ او همدارنگه د طرزی محمود څخه زده کړه ، دی د اجتماعی افکارو د تقویه د کلوب غړی ؤ چې مؤسس یی غلام محی الدین افغان ؤ. داوی د سراج الاخبار د جریدی قلمی ملگری او د جوانان افغان سره یی ناسته او ولاړه درلوده ، چنانچه د لودین عبدالرحمن سره د نژدی همکاری په تور بندی سو.

د اعلیحضرت امان الله د تخت کښینستلو مجرد د (امان افغان) د جریدی د مدیر او په ۱۳۰۰ کال کی د خارجه وزارت د هند او اروپا د څانگی د مدیر په حیث وټاکل سو. داوی صاحب د افغانستان او هند د سولی د هیئت غړی او په ۱۳۰۱ کال کی د خارجه وزارت دوهم مستشار او په ۱۳۰۲ کی د بخارا او خیوی د تحقیقیه هیئت د جرگی مشر ؤ او په همدغه کال په لندن کی افغانی لوی سفیر او په ۱۳۰۵ کی د تجارت وزیر ؤ. هغه وخت چې اعلیحضرت امان الله د وروستی ځل له پاره د وطن څخه بیلیدی داوی صاحب هم تر بمبئی ورسره ملگری ؤ او وروسته یی په لاهور کی د (افغانستان) په نامه یوه مجله خپروله.

www.sikaram.com

داوی صاحب د اعلیحضرت محمد نادرشاه په دوره کی په ۱۳۱۱هـ.ش کال د کابل د ادبی انجمن غړی ؤ، په ۱۳۱۲ کال د نادرشاه د قتل د پیښی او مخالفت په اتهام بندی شو او تر ۱۳۲۵ پوری څو د سردار محمد هاشم حکومت رنګیدی په بند کی پاته سو.

داوی صاحب په ۱۳۲۷ هـ.ش کال د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د سرمنشی او په ۱۳۲۸ کال په ملی شورا کی د کابل د ده سبز د ولسوالی د وکیل وروسته د ملی شورا درئیس او بیا د اعیانو د مجلس رئیس وتاکل سو.

د دغه وخت څخه د ده او د افغانستان د ځینو روشنفکرانو او مترقی عناصرو تر منځ دربار ته د ده د قرب، په ملی او سیاسی مهمو مسایلو کی د حکومتو نو د پالیسی د طرفداری کولو له کبله بدبینی او بیلتون راغی. داوی صاحب په کال ۱۳۳۳ په مصر کی د افغانستان د لوی سفیر او په ۱۳۳٤ کی په اندونیزیا کی د لوی سفیر په حیث کار کاؤ، وروسته په هغه سفارت کی د ځینو مالی محاسباتو د عدم تصفیی او اشتباه له کبله د کاره لیری شو او تقاعد ته سوق سو، د دغو اشتباهاتو د رفع په مورد کی دی وایی:

گفتند چون ز حبس نه کردی شکایتی　　کز سوز و درد شعر سخن را اثر بود
سرما زده چرا کند از مهر شکوه یی　　در گوشه یی که پرتو او تیز تر بود

داوی صاحب د خپلو خطی یاداشتونو د رسالی په یوه برخه کی د مخالفینو د اعتراضونو په رد کی لیکی: زه ځکه د حکومتونو همکاری کولو ته مجبور کړه سوم چې نورمی د بند او زجر توان نه درلود، حتی د صدارت د عهدی څخه د ځان خلاصولو او ناروغی د تداوی په پلمه می سفارتونه قبول کړه...)[1]

سید مسعود پوهنیار په خپل اثر ظهور مشروطیت کی په دی هکله داسی لیکلی:

(... یادداشت های مرحوم داوی که از طرف رژیم کمونستی در کابل نشر شده یك چهره مسخ شده آن مرد بزرگ را نشان میدهد، مثل در اثر فشار سیاسی انگلیس از سفارت استعفی داد، اما درباره مقامات اخیر سرمنشی حضور، ریاست مجلس سنا، بطور ضمنی رفتن به شورا را تحمیلی و از روی اجبار یعنی ترس جان وانمود کرده است، در حالیکه همه ما میدانیم که در آن دوره فشار و اجباری در میان نه بود، بلکه حسن نیت و

۱- ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان، سید مسعود پوهنیار، صفحه ۲۷۲.

www.sikaram.com

اعتماد و احترام شخصیت و اعمال گذشته او موجب سپردن این مقامات بلند و حساس بوده است، همچنان اشتراك در کمیسیون مشورتی قانون اساسی ۱۹٦٤ را من خود وسیله دعوت ایشان گردیده محض احترام به جای اینکه تعین شان به ذریعه رادیو به گوش شان برسد، شخصاً به حضور شان رفته خواهش شمولیت شان را نمودم، اما در یاداشت خود رفتن را یك قسم فشار و تحمیل از طرف دولت معرفی کرده اند)(۱).

داوی صاحب د ثور د انقلاب په دوره کی د پلار وطنی ملی جبهی د موسسانو د تولنی د غړو او د لیکوالود اتحادیه د غړیتوب عهده لرله او په ځینو مجالسو کی یی شرکت کاؤ.

داوی صاحب د ۱۳٦۱ ش کال د اسد په ۲۷= ۱۹۸۲ د ۸۸ کالو په عمر په کابل کی وفات سو مشهور آثار یی دا دی:

زما رسول، تجارت باس، س، س، غیاصه، گلخانه، نفحات، رجال وطن، او د وطن په اخبارونو او جریدو کی مضامین او اشعار.

داوی صاحب زیاتره د طرزی محمود د افکارو او خیالاتو پیروؤ، او د یو داسی اسلامی او افغانی نظام طرفدار ؤ چې د نوی عصر د ترقی او تخنیک سره یی منافات نه لرل د ده افکار او نظریات د ده د آثارو په تیره بیا د امان افغان د سرمقالو او شعرونو څخه ښه څرګندیدلای شی.

داوی صاحب د امان افغان د ۱۳۳۷ ق د رجب= ۱۲۹۸ د حمل ۲۲ د اپریل په د ۱۲ تر کلیشی لاندی داسی لیکی:

می نویسد بر افق با خط زرین آسمان باد بر افغانیان مبارك دوره امن و امان

د لوی خدای د حمد او ثنا وروسته لیکی: (... امان افغان پیش از آنکه خود را معرفی کند، یا کسی او را بشناسد صفحه اول شماره اول سال اول خود را در ماتم فقدان تاجداریکه سیاست و کیاست صاحب سریر یگانه خط ریاست و امارت بانی مبانی ترفیع و ترقی و مؤسس بنیاد تمدن و تعالی اعلیحضرت سعید مکین سراج الملة و الدین امیرحبیب الله خان نور الله مضجعه سیاه پوش غم و الم مینماید...)

د امان افغان د ۱۲۹۹ هـ.ش ۱۸ د حمل= ۱۹۲۰ د اپریل په ۷ ګنه کی داوی صاحب په خپله سرمقاله کی لیکی: (ازماست که بر ماست)

۱- خاطرات ... سید قاسم رشتیا.

www.sikaram.com

آتش به دو دست خویش در خرمن خویش چون خود زده ام چه نالم از دشمن خویش

مخالفین است که با صورت آشنا و اله همجنسی مهلك ترین درهمه عالم دشمن خانگی چون مار آستین مدهش ترین، ضربهای خود را حواله نازکترین جاها بدن مینماید، تا امروز برای بریدن شجره طیبه عالم اسلامی هر تیری که دست اغیار حواله کرده میشود، دسته آن از خود این درخت بد نصیب بوده است، این آن مدحشه است. که سیاست صلیب زمین گیر را بر هلال آسمان شان غالب گردانیده است، اگر داستان حفیظ و مراکش کهنه شده است زخم تازه که شریف مکه کشوده است هنوز سوزش میکند...).

داوی صاحب په خپله دغه سرمقاله کی د مسلمانانو د بی اتفاقی او د انگلیسانو په موافقت د مکی د شریف سیاست غندی او وایی چې د ترکانو سره باید د انگلیسانو په ځپلو او د جهاد د مفکوری په پیاوړی کولو مجاهده وړاندی بوتله سی او یو مسلمان د بل مسلمان په مخالفت را ولاړ نه سی.

د داوی صاحب د قومولی، وطندوستی او ملی جذبات د ده د د غو پښتو او دری شعرونو د نمونو څخه ښه څرګندیدلای سی.

بیریدونکی زړه

د ښارو میرمنی زمور دی نازولی په اعصابو عضلاتو هم نتلی
کاریی لږ خوراک یی غوږ هوایی بده سستی پستی لویې سوی دی بی حده
د شپی څه چې دی پرتی تمامه ورځ بالښتونه یی پاسته لکه اوریځ
کوچنی زړونه یی په هر دقیقه ریږدی و اولادته دغه بیړه میراث پریږدی
یو څرخی ماته کاوه دا حکایت ظرافت تر لباس لاندی شکایت

د غیاصی څخه انتخاب:

په لهجه د کندهار غراره ده د خره بار
مثلاً وایی بنا مستاجر نه د بنا
ګچ دوه زره غراری دی په کار د مناری
عربی کی د الفت دی راغلی په کثرت
په دی لفظ او معنی تلفظ آهنګ نوا
مګر غین یی مکسور دی لغاتو کی مذکور

www.sikaram.com

تابکی

تابکی اولاد افغان تا به کی — تا به کی هان تابکی
کوکوی مرغ سحر آمد به گوش — خر، خر خواب ای گرانجان تا به کی
نور بیداری جهانی را گرفت — خواب غفلت ای حریفان تا به کی
سبزه خوابیده هم برداشت سر — برغیداری تو مژگان تابکی
میرسد آواز سیل از راه دور — تو به خواب ای خانه ویران تابه کی
میوزد باد خزانت در چمن — شوق گلگشت بیابان تا به کی
بایدت بر حال خویشت خون گریست — سیر انهار و گلستان تا به کی
شوق تعمیر سرای و خانه چند — خاك بازی همچو طفلان تا به کی
روزکار و روزگار عبرت است — خواب راحت در شبستان تابکی
هست مکتب جان ملت، جان من — تا به کی باشیم بیجان تا به کی
کودکان را مکتب است و مدرسه — خاك بازی در بیابان تا به کی
یك نفس سر درگریبان، در کنید — فکر کالرای جوانان تا به کی
رفت وقت خنده و هزل و مزاح — خوردسالی خورده سالان تا به کی

ای قلم آخر زبانت میبرند
اینقدر حرف پریشان تا به کی

مولوی عبدالحی پنجشیری:

مولوی صاحب د محمد غلام زوی ؤ چې په کال ۱۲۶۷ هـ.ش کی د پنجشیر د شنج د برج یمل په کلی کی زیږیدلی او په کال ۱۳۳۲ هـ.ش کی د ۶۵ کالو په عمر د حوت د میاشتی په څلورمه په کابل کی وفات سو.

ده د پنجشیر د شصت په کلی کی تحصیل کړی وروسته یی د افغانستان او هند په بیلو ښارونو کی په اسلامی علومو کی خپل تحصیلات بشپړ کړی، په تقوا او اخلاقی جرئت زیات مشهور ؤ د قرآن عظیم د حفظ علاوه یی تر زر زیات معتبر احادیث په یادوو، ده د بخارا د آزادی پر سر د روسانو په مقابل کی زیاتی مجاهدی کړی او د افغانستان د مجاهدینو عمومی قوماندان او مذهبی مشر ؤ د اعلیحضرت امان الله سره یی د بخارا د آزادی د تامینولو او اصلاحی ځینو پروګرامونو په پر مخبیولو کی د نظر اختلاف درلود، له همدغه کبله یی څومودې پر کور کښیناوه.

www.sikaram.com

دی د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د پادشاهی په وخت کی د جمعیت العلما غړی او بیا په کال (۱۳۲۹ش) کی د کندهار د مرافعی د قاضی په حیث مقرر سو، د کندهار د والی سره یی د هغه ځای په قضایی چارو کی د مداخلی له کبله لاس په لاس جنګ وکړ د دغه جنګ په نتیجه کی دی موقوف او تقاعد ته سوق سو د (وطن) جریده د دغی واقعی د افشا او تشهیرولو په نسبت چې په کندهار کی یی د بی امنی او قضایی چارو سره د بی احترامي خبر خپور کړئ و هم مصادره سوه.

محی الدین انیس:

یوه پیړی د مخه د مقر د جمال خیل د ستانه تیر څخه یو ملی مبارز، د ظلم او استبداد څخه بیزاره کورنی د داخلی جنګونو او فسادونو څخه د ځان خلاصولو او ګوښه کولو په نیت د محی الدین نیکه او پلار یی چې غلام نقش بند، نومید او د سترګو طبیب ؤ د خپل وظیفی د چلولو د پاره مصر ته ځکه ولاړ چې هلته د روشنفکری علم او ادب او مطلقیت سره د مخالفت نهضت مخ په وړاندی روان و، په همدغه وخت کی محی الدین وزیږید، د ده پلار په راوروسته کی د افغانی امیر الحجاج وظیفه هم اجرا کوله او کله، کله به یی د وطن مطبوعاتو ته مقالی او ګټور مضامین رالیږل.

انیس په مصر کی خپل تحصیلات بشپړ کړه د یو ملی او وطندوست افغان په څیر یی د مصر په ادبی او سیاسی محافلو کی شهرت وموند.

هغه وخت چې اسمعیل افندی په ۱۳۰۰هـ.ش کال کی د مطبعی د رانیولو او پروژو د بشپړولو له پاره مصر ته ولاړ او د محی الدین انیس سره یی له نژدی ولیده، د اعلیحضرت امان الله د دعوت له مخی یی وطن ته د بیرته راتلو او ملی خدمت کولو د پاره تشویق کړ، د دغی بلنی له مخی محی الدین لومړی ځل هرات ته راغی او د اعلیحضرت امان الله د خوښی سره سم یی د هرات د روشنفکرانو او ملي عناصرو سره ناسته او ولاړه اختیار کړه او دری ژبه یی د غلام سرور جویا څخه زده کړه او یو اثر یی د طلبه معارف یا حقوق ملت په نامه ولیکی. بیا کابل ته راغی او د اعلیحضرت امان الله په مشوره او د کابل د ځینو منورو حلقو په مالی مرسته یی په کال ۱۳۰۶ هـ.ش کی په خپل امتیاز د انیس ورځپانه خپره کړه.

www.sikaram.com

انیس د خپل لومړی مخ په سرمقاله کی د (هوالمستعان) تر عنوان لاندی داسی لیکی:

(... انیس طفلك نوزادیست در عالم مطبوعات میخواهد در اوقات فراغ ندیم در ساعتهای کار معاون و در امور مشکله مشاور و در حال غم و اندوه سمیر و الحاصل در حیات فکری و عملی عموم خاصه فریق مامورین مؤسس و خدمتگار گردد. انیس طفل است و مانند هر طفل حیات او وابسته پرورش و التفات است، البته به مقدار توجه، فریقیکه میخواهد به آنها خدمت نماید، در میدان نمود و نشاط تقدیم خواهد کرد والانصیب این طفلك بیچاره مانند اقران خوش خواهد بود، که دوره طفولیت را اتمام نه کرده عالم حیات مطبوعات را پدرود گفته اند، انیس روزیکه به عالم وجود آمدن داشت فریضه خدمت به جامعه درك کرد هرچند میخواهد که تمام اهل جامعه مؤنس و خدمتگار باشد ولی نظر به بسی اسباب لازم شد که خدمت خود را خاصتاً به حکومت بیشتر سازد، و اهمتر از همه اینکه صاحب امتیازش مامور و محرر تان مامور متکفل حیات و ضروریاتش مامور ازینرو لازم شد که مخدومیتش نیز مامور باشد، انیس فرض یگانه دارد خدمت های علمی قانونی، روحی، ادبی به عموم خاصتاً فریق مامورین است، بناءً علیه هر شماره آن یکی و یا چندی مبحث متعلق به حیات مامور در میدان وظیفه مامور و مستقبل مامور و صحت مامور در تفریح مامور، در وقت آمریت مامور، در ماموریت درج میشود، برعلاوه هر مفید را به شرطیکه عمومی باشد، حاوی خواهد بود. در مقالات، تقریظ و انتقاد که مداخلت ننماید اگر چه سعی دارد که مداخلت ننماید در حالت های مشروعه و اضطرار به تنها قصد افاده عام را در نظر خواهد گرفت، در شئونات فردی و یا شخصی هیچ مداخلت ندارد، و در مقالات و ارده حق تصرف را دارد، موضوعات انیس بر شش قسمت منقسم میباشد:

مباحث حیاتی مامورین، مباحث فلسفه، قانون، سیاست، مباحث نظام نامه، خبر های علمی و فنی، متفرقات، هرآنچه نزد عایله اهمیت دارد.

انیس تا زمانیکه در طفولیت است در هر روز یکدفعه به موانست مشترکین محترم خواهد بود.)

همداشانی انیس د ۱۳۰۶ کال د ثور په ۳۰ گڼه د (اسرار ترقی و نهضت فلسفه اتحاد و اتفاق) تر عنوان لاندی لیکی:

www.sikaram.com

اتحاد و اتفاق ملت چه معنی دارد... اصل معنی اتحاد و اتفاق ملت نه این است که افراد کلاً و کاملاً در تعارف و تفاهم بوده است، باهم منازعه و همچشمی نداشته باشد... مراد از اتفاق ملت این است که همه افراد راجع به مصالح و منافع عمومیه خود پابند یك گونه افکار آزاد بود، نصب العین همه حصول به فعل آمدن همان مفکورات باشد).

د بحران نجات د لومړی مخ د مقالی څخه چې د محی الدین انیس تالیف دی د ده د وطنولی او خلکو دوستی افکار ښه څرګندیدلای شی، ده په دغه مقاله کی د اعلیحضرت امان الله د سلطنت د زوال عوامل څیړلی او لویه ملامتی یی پر مرتجعینو، طایفوی خانانو، درباری مفسدینو، مفتخورانو او بین المللی امپریالزم ویلی او ولس یی د دوی په مقابل کی د یووالی او اتحاد خواته را بللی لکه چې لیکی:

(... قلم هیچ افغان وطندوست به نوشتن حوادث و وقایع مؤلم اغتشاش گذشته که در تاریخ وطن بدون اراده ما ثبت شده است به اساس اقدام کرده نمیتواند، و اگر نوشت حتی حالت روحی او به زیر کابوسهای گوناگون وجدانی خواهد رفت، زیرا شخص وطندوست خوش دارد، چنانچه قاعده دوستی است که برای وطن سرمایه و دلیل افتخار بگذارد، یادگارهای مسرت بخش بگذارد ذخیره عظمت و وفا بگذارد ولی بدبختانه درین صفحات خود یادگار از منحوس ترین روزگار های وطن پیش میکنم. که هر صفحه آن حادثه های مؤلم و واقعه های جگر خراش تذکار میکنم، گویا درین موقف خود مانند محبی هستم که خیر مولم را به محبوب خود مجبور است بگوید، و الحق مرحله مشکلی بوده این سفرنامه را که طی مردم و یا به نوشتن آن اعتراف نمودم، زیرا فردی ازین وطن هستم، چگونه میتوانم نویسنده و حوادث بد همین وطن باشم، چی طبیعی است به محبوب گفتن (اینك عیب های تو) نه نفس برداشته و نه زبان ادا کرده میتواند، ولی از طرف دیگر می بینم که لاچار باید گفت تا معلوم شود که چه چې ها را نه باید کرد...).

د انیس، اخبار د هغه عامه مقبولیت له کبله چې لری یی د دی سره چې د خپرونو څخه یی تر نیمی پیړی زیات وخت تیر شوی د هغه ملی محبوبیت له مخی چې لری یی او د افغانستان په سیاسی او اجتماعی او اوضاعو کی د پر بدلونونه راغلی بیا هم د مطلقی بندولو او مصادره کولو له خطر سره نه دی مخامخ سوی او دیوی ملی مازیګرنی ورځپانی په څیر هر کله را وزی.

www.sikaram.com

د دغه اخبار مؤسس غلام محی الدین د جوانان افغان د وروستیو تینگو ملگرو څخه گڼل کیدی افکار او نظریات یی طرزی محمود ته ورته وه د اسلامی هیواد و مخصوص عربی هیوادونو د خپلواکی غوښتنو ملی پاڅنو څخه یی الهام اخستی انیس د امیر حبیب الله خادم دین رسول الله د اقتدار په وخت کی (۱۳۰۷) د ځان څخه د خطر د لیری کولو له کبله د انیس په چلولو مجبور کړه سو څو په پته د کابل څخه د هیواد جنوبی سیمی ته ولاړ او د هغه د مخالفینو ملگری سو، دی د سپهسالار محمد نادر خان سره کابل ته راغی او د انیس په خپرولو یی بیا پیل وکړ د انگلیس د سفیر روبرت میجکنس Robert Mechexneehcc د راپور په تائید چې اوس هم د دهلی په آرشیف کی محفوظ دی په ۱۳۰۹ بندی شو او په بند کی د توبرکلوز د ناروغی په اخته کیدلو سره په ۱۳۱۰ هـ.ش کی وفات سو.

دی متاهل ؤ او دوه اولادونه یی د احمد فرید او فریدی په نامه پاته سول چې په فقر او تنگدستی وفات سول.

میر غلام محمد غبار:

ارواښاد استاد میر غلام محمد غبار د سید محبوب فرملی زوی په کال ۱۲۷۶ (۱۸۹۸) په کابل کی زیږیدلی د متداوله علومو د تحصیل وروسته په دولتی چارو کی داخل سوی دی. دی د ۱۲۹۸ ش (۱۹۱۹) د ژمی څخه بیا د ۱۲۹۹ش (۱۹۲۰) پوری (د ستاره افغان) د هفته واری جریدی چې د پروان په جبل السراج کی خپریده مدیر او د ۱۲۹۹ (۱۹۲۰) څخه تر ۱۳۰۰ (۱۹۲۱) پوری د عمومی امنیت د وزارت د پولیسو دیوی څانگی رییس او په ۱۳۰۰ (۱۹۲۱) کی د هرات د تنظیمیه هیئت غړی ؤ. د دغه وروسته په ۱۳۰۳= ۱۹۲٤ کی د امانیی شرکت د تصدی معاون او د ماسکو په نندارتون کی د دغه شرکت نماینده او په ۱۳۰۵ کی (۱۹۲٦) کی په پاریس کی د افغانستان د وزارت مختاری سکرتر ؤ. استاد غبار په ۱۳۰٦ (۱۹۲۷) کی د قطغن او بدخشان د گمرکاتو مدیر او په ۱۳۰۷ (۱۹۲۸) کی د پغمان په لویه جرگه کی د کابل د ښار انتخابي وکیل ؤ. د سقوی دوری وروسته په ۱۳۰۹ (۱۹۳۰) کی په برلین کی د افغانستان د وزارت مختاری سرکاتب او د ۱۳۱۰ (۱۹۳۱) څخه تر ۱۳۱۱ (۱۹۳۲) پوری د کابل د ادبی انجمن غړی ؤ.

www.sikaram.com

استاد میر غلام محمد غبار د جوانان افغان مخصوص هندی او افغانی ازادی غوښتونکو او مطلقیت د تعدیلولو د نهضت فعال غړی ؤ. دغه پارتی هغه وخت جوړ سوه چې یو روشنفکره او آزادی غوښتونکی هندی (متبه سنگهـ) په برلین کی یوه کافی پرانستله چې په دائمی مشتریانو کی بی سید کمال، محمد شریف افغان، عبدالغفور برینبنا، سید عبدالاحد، محمد عظیم منشی زاده (په هغه وخت کی بی تخلص یوسفزی ؤ) محمد عمر د کیمیا او دباغی انجنیر شمیرل کیدل. دوی متبه سنگهـ په افغانستان کی د کافی پرانستلو آزادی او دموکراسی د افکارو خپرولو ته تشویقاوه او هغه وخت چې اعلیحضرت امان الله د خپل دوستانه سفر په اثنا کی برلین ته ولاړ دوی د متبه سنگهـ د تابعیت پانه او افغانستان ته د راتللو عریضه وروراندی کړه او د هغه له حضوره ومنله سوه او همهلته افغانی تابعیت او پساپورت ورکړه سو، متبه سنگهـ په دی صورت د ترکیی او ایران د لاری افغانستان ته راغی او په شاهی بازار کی بی د برلین په شانی یوه کافی وپرانستله چې دغه کافی د افغانی او هندی آزادی غوښتونکو او ملی مبارزینو د راغونډیدولو او افکارو د تبادلی کولو مرکز وگرځید. او په دایمی غړیتوب کی بی سید کمال (د سردار محمد عزیز د سردار محمد داؤد د پلار قاتل) محمد عظیم منشی زاده (د انگلیس پر سفارت باندی حمله کونکی) د نجات د لیسی د آلمانی ژبی ښوونکی د تلگرافیانو ډله محمد عارف، رحیم وردی ورد ک، سید حبیب الله، محمد صدیق، محمد علی، بابا عبدالعزیز کندهاری، میر غلام محمد غبار، محمد سرور جویا، غلام محی الدین انیس، او د انیس ځینی کارکونکی محمد یوسف حقیقی (د حقیقت ډ شبنامی ناشر) او نور شامل ؤ دوی د جوانان افغان په نامه د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروگرام کلک پلویان وو هغه وخت چې د اغلیحضرت امان الله حکومت رنگ سو د دغی تولنی چپو او انقلابی ځوانانو د سقاو او نادرشاه د حکومتونو په مخالفت بنکاره او پتی تولنی کولی او دغه کافی بی د نوښانی ځای ؤ که څه هم دغه کافی د نادرشاه د سلطنت په وخت کی سمدستی ونه تړله سوه، خو حکومت د خپلو گماشتگانو او جاسوسانو په واسطه د کافی حالات هر کله تر څارنی لاندی نیول.

میر غلام محمد غبار په ۱۳۱۲ هـ.ش کی د هغی واقعی له کهله چې د ۱۹۳۳ کال د سپتمبر په شپږمه یعنی د برلین د واقعی دری میاشتی وروسته چې د نجات د مکتب معلم محمد عظیم

www.sikaram.com

انگلیسانو ته د پروتست ورکولو او مخالفت په نسبت په کابل کی د انگلیس وزارت مختاری ته ننوت چې مختار وزیر (مک کانیلی) ووژنی څرنگه چې هغه په سفارت کی نه ؤ نو د سفارت دری کارکونکی یی چې یویی برتانوی میخانیک بل یی هندی ملازم او دری یم یی یو افغان ملازم وو ووژل، او بیا یی ځان د سفارت گارد ته تسلیم کړ. د محمد نادرشاه حکومت محمد عظیم وواژه، محمد ولی خان دروازی (د اعلیحضرت امان الله خارجه وزیر) غلام حیدر خان څرخی، شیر محمد خان خویشاوند، هدایت الله، محمد مهدی چنداولی او فقیر احمد خان د دغی واقعی او نورو ارتباطاتو په نسبت اعدام محکوم کړه، عبدالعزیز بابا جان، میر غلام محمد غبار د خپلو وړونو میر غلام حامد بهار، میر عبد الرشید بیغم او محمد یوسف یی دری کاله په کابل کی د موتی د سرای په محبس کی بندیان وساتل او وروسته یی فراه او کندهار ته فرار کړه دوی تر ۱۳۲۵ کال پوری چې د سردار محمد هاشم حکومت پرنگ سو په بند کی وساتل سول د عمومی عفو په اعلان سره د بنده خوشی سول او بیرته کابل ته راغلل.

میر غلام محمد غبار د ۱۳۲۸ (۱۹۴۹) څخه تر ۱۳۳۰ (۱۹۵۱) کال پوری د ملی شورا د اوومی دوری د کابل د ښار انتخابی وکیل ؤ او په ۱۳۳۰ (۱۹۵۲) کی د وطن د حزب د موسسانو غړی او د وطن د جریدی د امتیاز خاوند ؤ. دغه اخبار په ۱۳۳۱ (۱۹۵۲) کی مصادره شو.

د دوهمی عمومی شخړی وروسته چې په آسیا، افریقا او لاتینی امریکی په هیوادونو کی د ملی آزادی او دموکراسی غوښتلو مبارزی تودی وی افغانستان ته یی هم لاره وموندله چې په نتیجه کی د سردار محمد هاشم د حکومت په عوض کی د سردار شاه محمود حکومت منځ ته راغی، دغه حکومت دموکراسی اعلان کړه د مطبوعاتو او بیان آزادی یی تصدیق کړه نوروته یی د فعالیت زمینه برابره کړه چې په دغه لړ کی میر غلام محمد غبار د ۱۳۲۹ کال په جدی کی د (وطن) د گوند په جوړولو بریالی سو. د دغه گوند په موسسو غړو کی میر محمد صدیق فرهنگ، غلام سرور جویا، فتح محمد هزاره بهسودی فرقه مشر، داکتر غلام فاروق اعتمادی، عبدالقیوم رسول، احمد علی کهزاد، برات علی تاج، علی احمد نعیمی، محمد آصف آهنگ، محمد اکبر پامیر، جنرال سید اکبر مینه یار، عبدالحی عزیز، داکتر ابوبکر، نور الحق ارغندیوال، غلام حیدر پنجشیری، علی احمد خروش، او نور یادولای سو.

www.sikaram.com

د وطن د ګوند مرام پر دغو تکو بنا ؤ.

۱ - د افغانستان د خاوری تمامیت او خپلواکی.

۲ - د هیواد په ټولو اجتماعی چارو کی د دموکراسی اصولو تطبیقول.

۳ - د افغانستان د ملی وحدت پیاوړی کول.

٤ - د افغانستان د معارفو، عمومی روغتیا اقتصادی چارو د تقویه د پاره هلی ځلی.

٥ - د اجتماعی عدالت او د خلکو عامه حقوقو ساتل.

٦ - د اجتماعی مفاسدو لیری کول.

۷ - د بین المللی صلح او سلامتیا سره پابندی او احترام.

دغی مرام نامی ځان ته یو اوه فقریز پروګرام درلود چې د مرامنامی مهم تکی یی څیړل او د هر منفی حرکت په مقابل کی یی د ګوند د مبارزی لارښوونه کوله، دغه پروګرام د عمومی مساوات طرفداری، ژبنی، نژادی، سمتی او مذهبی بیلتونو پرینبول او طردول، د ګوند اساسی وظیفه ګڼله او د دموکراتیکو آزادی حمایه یی کوله همداشانی د دولت د دروګرنو قواؤ سره بیلول او د دوی د هریوه صلاحیت او مسولیت ټاکل غوښتل، د ملی وحدت د مختلولو، تجزیه کولو، قبیلوی، سمتی او نژادی توپیرونو د منځه وړلو شعاریی ورکاؤ. او په ټول هیواد کی یی د نارینه معارفو پلانونه پې کوچیان او کلیوال هم پکښی داخل وی تائیدول، د عامی روغتیا د ساتلو وظیفه یی د ګوند او دولت پر غاړه اچوله، همداشانی د عمومی اقتصاد پلان یی چې په هغه کی د کرنی تقویه، د ملی صنایعو تاسیس د عامه ګټو په اساس د اقتصادی فعالیتونو اداره او مراقبت، خلکوته د کارموندلو لاری چاری لټول د خلکو د اقتصادی سویه لوړول او داسی نورو عامه المنفعه چارو اجرا کول د ګوند په وظیفو کی داخل ګڼل، د هر ډول تعرض څخه د خلکو د ځان او مال او حقوق ساتل، د کروندګرو، کارګرانو، مستخدمینو، مامورینو، ښځو، کوچنیانو او معیوبینو او معلولینو سره د مرستندویو مؤسسو جوړول، همداشانی د ګوند د غړو له پاره د خرافاتو، غوړمالیو، رشوت، عیاشیو او نورو اجتماعی مفاسدو له منځه وړلو له پارهٔ پروګرام وضعه کړی ؤ، د ګوند هر غړی مجبور ؤ چې قولاً او عملاً خپل خدمات د ټولنی د افرادو مخی ته وړاندی کړی، د نورو هیوادونو د افرادو سره د متقابل احترام له مخی خپل دوستانه مناسبات په نظر کی ونیسی.

www.sikaram.com

د وطن گوند خپل تشکیلات په ۲۱ مادو کی چې په هغه کی د گوند د شاملیدلو شرایط، د ولایتونو شورا ته د اعانو ورکړه، د مرکزی شورا، د ولایتی شوراگانو د عامل هیئتونو د وظیفی، گوندی انضباط، د گوندی مجازاتو ډولونه شامل وو اعلان کړی وو، د وطن گوند نشراتی اورگان د (وطن) جریده او د امتیاز خاوندی میر غلام محمد غبار د گوند عمومی منشی او مسؤل مدیریی علی محمد خروش او بیا میر محمد صدیق فرهنگ ؤ، همداشانی حزب غوښته چې د خپل نشراتی ضرورتونو د رفع له پاره یوه بشپړه مطبعه تاسیس کړی خو د مطبوعاتو وزارت د کارشکنی او اقتصادی ضعف له کبله یی دا کار په سرونه رسولای سو. د وطن گوند د تولنیځ پلان د عملی کولو له پاره په ملی سویه، اقتصادی، فرهنگی، نشراتی، مالی د سواد زدکولو کومیتی درلودی او نسبتاً د یوی بشپړی کتابخانی خاوند ؤ میر غلام محمد غبار د ملی شورا په اومه دوره کی د دغه گوند د فرکسیون نمایندگی کوله د دولت د ځینو لوایحو د تعدیلولو، د مالیاتو پر عایداتو د قانون پر تجدید نظر کولو دغلی د رانیولو د لایحی فسخ کول یی په ټینگه غوښته. د وطن گوند د خپل تاسیس یو کال وروسته په کابل کی د ملی شورا د جعلی انتخاباتو کیدلو د اعتراض او مظاهری کولو په نسبت د هغه گوند د عامل هیئت د ۱۳ تنو په محبوسیدلو د ۱۳۳۱ کال د جوزا په میاشت کی غیر قانونی اعلان سو.

ترکومه ځایه چې موثوق معلومات موجود دی دغه گوند په روشنفکرانو او مشروطی خواهانو کی زیات نفوذ درلود، او د تاسیس دلومړی ورځی څخه یی د اعضاؤ شمیر (۱۷۰) تنو ته رسیدی، د دی سره چې د وطن گوند د شاملیدلو په پالیسی کی ترکمیت کیفیت ته زیات اعتبار ورکول کیدی او د گوند د غړیتوب له پاره یی نسبتاً قیودات وضع کړی وه، خو بیا یی هم د اعضاؤ شمیر د اعتنا ور ؤ.

د دی دپاره چې د میر غلام محمد غبار د سیاسی فکر او د لیکلو د طرز او اسلوب څخه څه نور معلومات حاصل سی دلته د (وطن) د جریدی لومړی سرمقاله را نقل کیږی:

بنام خداوند دانا و توانا:

مردم ما که بعد از عبور چندین قرن مسیر خواب دوشینه برداشته و در راه زندگی جدید جهان قدم گذاشته اند میروند، که ثقلت وظایف اجتماعی خویش را احساس نمایند،

www.sikaram.com

واقعاً این فقط ما هستیم که در شرق زمین میخواهیم از حیات قرون وسطی در ساحه زندگی جدید بشری داخل شویم، پس طبعاً راه درازی در پیش و همت بلندی در کار داریم، آری سالیان چهار صد پیش ازین قسمت بزرگی از بشر در سایه اختراعات باروت، قطب نما، کاغذ، چاپ و در اکتشافات جغرافیایی و تجدد صنعتی... قدم گذاشتند، در حالیکه تا سی سال بشر در دسته بقیت السیف زندگی کهنه قرون وسطی چیده بود... همچنان تقریباً دوصد سال میگذرد و مجامع بشری به نفخهء حیات بخش فلاسفه و نویسندگان عالی مقامی چون لاك، مونتسکیو، ولتر، روسو از قبرستان سلیم و انقیاد نسبت به قدرت مطلقه حکومت و گردان عدم مناسبات در اجتماع و فقدان آزادی در امور ذوقی برآمد و وارد صحنه درخشنده قرون معاصر گردیدند، قرونیکه در طلیعهء آن اعلامیه حقوق بشر، حق حاکمیت ملت، تساوی حقوق مردم در برابر قانون و آزادیخواهی شخصی در گفتار و کردار مثل خورشید روح بخش قرار داشت و اما تا ایام معدود انگشت شماری پیش ازین از تمام از تمام نعمای بزرگ بشری محروم و حتی از تلفظ آن ممنوع بودیم، این است که میگویم در روی افتان و غلطان روانیم... البته مرام و نصب العین ما در روزنامه وطن به مشکل ثابت و بایدار عبارت خواهد بود:

نشر امور دموکراسی در کلیشه شئون اجتماعی مملکت به اساس رژیم مشروطه شاهی (کانستی چوشنل لا) یعنی مساوات عموم مردم بدون قید و رجحان، نژاد، زبان، مذهب، ولایت، قبیله و غیره، و به معنی آزادی قانونی مردم در گفتار و کردار، کسب کار، اجتماع و اقامت مسافرت و به معنی تفکیك قوای ثلاثه دولت در تعین حدود مسؤلیت هریك و مصئونیت مال و جان مردم و حقوق مردم، از تعدی و تجاوز و تعین مجازات با حکام و محاکم صالحه، هکذا تقویت وحدت ملی به استناد تاریخ مشترك، وطن مشترك، مفاد مشترك که از آغاز تاریخ تا امروز مردم افغانستان را در رشته واحد ملیت، مسلك ساخته است، و ارائه طریق حفظ منافع عامه اعم از مامورین و مستخدم زارع و کارگر معلول و معیوب به واسط وضع قوانین و ایجاد موسات تعاونی و بحث در اطراف مسایل مهمه معارف اقتصاد و حفظ الصحه عمومی همچنین مبارزه برضد اقوال و اعمالیکه به نوع از انواع تمامیت، امنیت، و استقلال خاك را جرح و وحدت ملیت و مبانی دموکراسی را نقض و اخلاق اجتماعی را افساد میکند. این است مرام و نصب العین کارکنان (وطن) که

www.sikaram.com

تعقیب خواهد شد. این فقط قابل تذکر است که افق نظر وطن وسیع تر از آن است که در نشرات خویش مادامیکه حیات و سعادت جامعه منظور اوست به اشخاص و افراد یعنی خوب یا بد بپردازد، زیرا وطن فرد را هرچه باشند و منحیث هو، هو نمی شناسد، بلکه اعمال و افعال را مورد تبصره و انتقاد قرار خواهد داد که حد سرنوشت کشور کم و یا بیشتر موثر باشد، پس نشرات و انتقادات وطن مبتنی بر دو رکن است، یکی موضوع و امری از امور اجتماعی خواهد بود، نه فرد و یا افراد معین زیرا ما با هیچ فردی مخالفت و یا محبت شخصی نداریم، مگر در امور اجتماعیٔ دیگر انتقادات وطن در هر موضعیکه باشد محض تظاهر و بی نتیجه یی بلکه با نشاندادن راه های اجتماعی.

میر غلام محمد غبار د ۱۳۴۳ کال د ملی شورا یا ولسی جرگی په انتخاباتو کی ځان کاندید کړ خو په وطن کی د اجتماعی ژوندانه د اساساتو د اوښتلو او نوی انقلابی کارګری فکرونو د رواجیدلو په نسبت یی بریالیتوب حاصل نه کړای سو او په ډیر تاثر یی د مبارزی سیاسی میدان خوشی کړ، ښاغلی سید قاسم رشتیا د ده د ناکامی د عللو د ذکر کولو په موضوع کی په خپلو سیاسی خاطراتو کی لیکی: (... **جای تعجب است که آقای میر غلام محمد غبار با همه شهرت سابق که در دوره هفتم در حوزه مربوط بیش از ده هزار رأی بدست آورده بود، درین موقع با همه کوشش هوا خواهانش پنج صد رای هم بدست نیاورده بود، این بیانگر آن است که شخصیت های سیاسی اگر یکبار صحنه مبارزه را ترك نماید شهرت و محبوبیت شان رفته، رفته از بین میرود**)(۱)

د دغه وروسته استاد میر غلام محمد غبار د خپلو یادښتونو د راغونډولو او خاطراتو لیکلو په کار لګیا سو چې د افغانستان در مسیر تاریخ اثر یی د دیر شهرت او اعتبار خاوند دی، د دغه کتاب ځینی وقایع د محمد زو د ځینو کورنیو رسمی افرادو او د اجراآتو د غندلو او سردار عبدالقدوس اعتماد الدوله: اشتباهاتو په ګوته کولو سره د نور احمد اعتمادی د حکومت له خوا مصادره شو او د ثور تر خلقی انقلابه په بند کی پاته سو استاد میر غلام محمد غبار د ۱۳۵۶ هـ.ش کال د دلو په ۱۶ د معدی د زخم د دوهم عملیاتو وروسته د اتیا کالو په عمر په برلین کی وفات سو جنازه یی کابل ته راوړه سوه او د دلو په ۲۲ د کابل د صالحینو شهدا و په هدیره کی

۱- خاطرات سیاسی، ۱۳۱۱- ۱۳۷۱، سید قاسم رشتیا، صفحه ۲۶۱

www.sikaram.com

خاورته وسپارله سوه. د وخت د حکومت له خوا د اطلاعاتو او کلتور وزیر پوهاند داکتر عبدالرحیم نوین هم د ده د ښخولو په مراسمو کی گډون کړی ؤ.

د استاد میر غلام محمد غبار مشهور آثار د دای:

۱ - افغانستان و نگاهی به تاریخ آن (دغه د افغانستان د تاریخی جغرافیا په نامه په ۱۹۰ صفحو کی په کال ۱۳۱۱ هـ.ش (۱۹۳۲) د (کابل په مجلی) کی د دوهمی گنی څخه تر ۱۲ گنی پوری په دولتی مطبعی کی چاپ سوی دی.

۲ - تاریخ مختصر افغانستان (د اوستا د زمانی څخه تر شلمی پیړی پوری په ٦٨ صفحو کی په کال ۱۳۱۱ (۱۹۳۲) د کابل په لومړنی کالنی کی د افغانستان د پخوانی ولایتونو او ښارونو د نومونو د فهرست سره یوځای په دولتی مطبعی کی چاپ سوی دی.

۳ - افغانستان در هندوستان: (دغه کتاب په ۹۵ صفحو کی د افغانستان د سیاسی نفوذ خپریدل په هندوستان کی د کابل په مجله کی د ۱۳۱۱ (۱۹۳۲) د لومړی شماری څخه، تر نهمی شماری پوری په عمومی مطبعه کی چاپ سوی دی.

٤ - تاریخ احمد شاه ابدالی: (د افغانستان د ۱۸ پیړی تاریخی واقعی په ۳۵۲ صفحو کی په هغه وخت کی چې مولف په کندهار کی په تبعید کی ؤلیکلی دی او په کال ۱۳۲۲ (۱۹٤۳) کی د کابل په عمومی مطبعی کی چاپ سوی دی.

۵ - خراسان (دغه یوه تحقیقی رساله ده (چې یو نیم زر کاله پخوا افغانستان په دغه نامه یادیده دغه رساله د ډیرو معتبرو تاریخی رسالو او جغرافیاوی معلوماتو مسالک او ممالک څخه اخستی سوی او په کال ۱۳۲٦ (۱۹٤۷) کی د کابل په عمومی مطبعی کی چاپ سوی ده.

٦ - امرای محلی افغانستان (دغه یوه رساله ده چې د آریانا مجلی د لومړی کال د ۱۱ - ۱۲ گنیر او د آریانا مجلی د دوهم کال د ۳ - ۷ گنیو کی په ۱۳۱۲ (۱۹۳٤) ۱۳۱۳ (۱۹۲٤) په ۵۸ صفحو کی د کابل په عمومی مطبعی کی چاپ سوی ده.

۷ - تاریخ ظهور اسلام و نفوذ عرب در افغانستان: (د افغانستان د تاریخ دریم توک په کال ۱۳۲٦ (۱۹٤۷) کی په ۱۱۲ صفحو کی خپور سوی دی.

www.sikaram.com

۸- تاریخ قرون اولی (د افغانستان په بنوونځیو او مدرسو کی د تدریس له پاره د تاریخ د معلم دوست محمد په ملګرتیا په کال ۱۳۲٦ (۱۹٤۷) په ۲۲٦ مخونو کی خپور سوی دی.

۹- افغانستان به یک نظر: (په کال ۱۳۲٦ (۱۹٤۷) په ۲۸٤ مخونو کی خپور سوی.

۱۰- ادبیات دوره محمد زایی (د افغانستان د ادبیاتو د تاریخ پنځم ټوک په کال ۱۳۳۱ (۱۹۵۲) په ۸۱ مخونو کی خپور سوی دی.

۱۱- افغانستان در مسیر تاریخ (په ۱۳٤٦ (۱۹٦۷) کی په ۸٤۰ مخونو کی په کابل کی خپور سوی.

۱۲- تاریخ ادبیات افغانستان (د تاریخی دوری د شروع څخه تر شلمی پیړی پوری).

۱۳- تاریخ احزاب سیاسی افغانستان در قرن بیستم.

۱٤- خاطرات زندګی غبار.

د دی پرته غبار صاحب یو شمیر بیلی تحقیقی مقالی او ترجمی لری چې څینی یی د افغانانو د تاریخی مشاهیرو په نامه د آریانا مجلی په بیلو ګڼو ۱۳۲۲ (۱۹٤۳) او ۱۳۲۸ کی طبع او خپرې سوی دی.

غلام سرور جویا:

غلام سرور جویا په کال ۱۲۷۷ هـ.ش کی په کابل کی زیږیدلی او پلار یی الحاج غلام حسین سرشته دار نومید، ده متداوله علوم مخصوص ادبی فنون د خپلی کورنی د غړو او نژدی آشنایانو څخه لوستی بیایی د پلار تر لاس لاندی په کتابت کار کاؤ. دی په ۱۲۹٦ - ۱۲۹۷ کی د سپین بولدک په جبهه کی (قلعه جدید) د افغانستان د سیاسی خپلواکی د حاصلولو په معرکی او ملی مجاهدی کی د نورو ملی مبارزینو ملګری ؤ، د معرکی د بریالیتوب وروسته په کال ۱۳۰۳ کی د اعلیحضرت امان الله په منشیانو کی داخل او څرنګه چې یی د مطبوعاتو او طباعت سره علاقمندی درلوده، نو د دغه ذوق د پاللو او پرمخ بیولو په غرض شوروی اتحاد او ایران ته ولاړ او په دغو رشتو کی یی د رسمی اسنادو حاصلولو وروسته بیرته وطن ته راغی او د هرات د مطبعی د

www.sikaram.com

مدیر او بیا د ادبی انجمن د غړی او اتفاق اسلام د جریدی د چلونکی په حیث وټاکل سو. ده په خپلو مهبجو، د استبداد او مطلقیت سره د مخالفو مقالو او مضامینو په خپرولو سره زیات شهرت وموند.

په دغه وخت کی ده د هرات د یوه ملی نهضت سره چې مشری یی میرزا صاحب الدین کندهاری کوله ارتباط او همکاری درلوده، دغه نهضت د اتم و نهم صنف د متعلمینو په شمول ډیر پیاوړی شوی ؤ چې یو شمیر پیروان او مشران یی په کال ۱۳۱۱ ش کی د مترقی او سوسیالستی تحریک په جرم په هرات او کابل کی ډیر کلونه په بند کی پاته سول د دغه نهضت نور مشهور غړی سرور بدخشانی ۱۹ کلن ځوان شاعر، محمد امین ترابی، غلام حسن احساساتی خلمی، محمد عظیم د کریم شوقی خواننده ورور او نور نومیدل.

غلام سرور جویا ته په کال ۱۳۱۱ هـ.ش کی د محی الدین انیس د ګوښه کیدلو وروسته د انیس د چلولو وار ورسید او د خپلی سرمقالی په عنوان کی د شعار په توګه داسی لیکی:

سوختگان وارث یکدیگرند　　منصب پروانه بما میرسد

جویا که څه هم د نادر شاهی او ظاهر شاهی دوری د مطلقیت د مخالفو لیکوالو څخه ګڼل کیږی خو د دوهمی دوری د مشروطی غوښتونکو د مهمو وفادارو او سربندونکو غړو څخه هم شمیرل کیږی. دی د مکلفیت سره د مخالفت په ګناه د ۱۳۱۲ څخه تر ۱۳۲۵ پوری د کابل په دهمزنګ کی بندی ؤ د بند څخه د خوشی کیدلو وروسته په ۱۳۲۷ کی د کابل د ښاروالی د انتخابی وکیل او د (وطن) د ګوند د مؤسسینو څخه وګرځید او د ۱۳۳۱ - ۱۳٤۰ د جدی پوری یوځل بیا د مطلقیت او استبداد سره د مخالفت په ګناه په بند محکوم سو او په دی صورت کی یی د خپل خوارۀ عمر ۲٤ کاله په حبس او مشقت کی تیر کړه. دی خپلی کورنی ته د خپل پندیتوب په باره کی د زندان څخه داسی لیکی:

نخستین بار از من چارده ساله　　به زندان شد جوانی سخت پامال
کنون هم باز، ز آزادی پسندی　　شدم بار دگر ده سال بندی
درست است آنکه من دیدم تباهی　　مگر نه شنید دشمن از من آهی
دمی از رنج زندان گرنه ژندم　　که بایستی به هستی دل به بندم
دمی دیگر رسید که بهرم نویدی　　که بر آینده می یابم امیدی

www.sikaram.com

دی د آزادی او وطندوستی په هکله وایی:

سوز عشقی از وطن مستانه بر سر داشتن — بـایـد از حب زن و فـرزند دل بـرداشتن
بهـر مـردن کی سزد تا قامت مردانگی — از بـرای گـرده نـان چـرخ چنـبر داشتن
هـم بـه استبداد سازش هم ز آزادی دفاع — و زنـان را هـم روانه بود در شوهر داشتن

د جویا صاحب د شعر او افکارو بله نمونه:

این همـان خـاك مـقـدس کـه به دامـان پرورد
صـد چو یعـقـوب صـفـاری سـجـسـتـانی را
وین همان ملك گرامی است که محمودش کوفت
بر سـریر او فلك کـوس جـهـان بانی را
یارب کنون چه شـد آنرا کـه کند بادشـاهش
آسـتـان بوسی لاردان بـریتـانی را

جویا د انگار د جریدی په اوه مه او شپږمه گڼه کی د انگار د جریدی د خپریدو په هکله دغه استقبالیه ویلی ده چې څو بیته یی دا دی:

شد بیرون تا به خط سرخ در انظار انگار — شعـله زو در بـود از دل عشاق قرار
میتوان خواند غنیمت و توان گفت تبریك — بـه همـان دسته آزاده جـوان بـیدار

شور او سبب تقویه وحدت ما:

بهـریـك تـوده افسرده سرما خورده — مژده، داد خوش از آمدن فصل بهار
که ز همکاری و جهد بوجود آوردند — مجـمری چـند ز انگار بـه نام اخبار
بعـد تبریك تو جویاز خدا میخواهد — در وطـن کـامـروایـی جوانان بسیار

جـویا صـاحب د زندان د کړاؤنو او شکنجو وروسته په داسی حال کی چې ټولی جسمی او روحی قـواوی یی مضمحلي سوی وی او سخت مرګه کی ناروغـه ؤ حکومت د بدنامی څخه د ځان خلاصولو په منظور دی د بنده څخه خوشی کړ او یوه هفته وروسته د ۱۳٤۰ کال د جدی په ۱۵ وفات سو.

www.sikaram.com

مولوی یار محمد مقری:

مولوی یار محمد د مشهور ملی مجاهد نصرالدین زوی ؤ چې په کال (۱۲۷۶هـ.ش) کی د مقر د شینکی په سیمه کی زیږیدلی ؤ، د استبداد او مطلقیت سره د مبارزی روحیه یی د سیمی د حکمرانانو او ملکانو سره د پلار د مقاومت او مخالفت له کبله پیاوړی سوی وه. دی د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروګرامونو سخت طرفدار د افغانی عظمتونو او ملی یووالی نومیالی مدافع ؤ.

هغه وخت چې د اعلیحضرت امان الله د سلطنت د رنګولو له پاره استعمار او ارتجاع په پته او بنکاره په توطئو لاس پوری کړ او په وطن کی یی د هغه په مخالفت په یوه نامه او بل نامه نا آرامیګانی او جنګونه شروع کړل مولوی صاحب په مقر کی د یوی دستی افغانی ملیشی او وفادارو ملګرو په مرسته د اعلیحضرت امان الله د پادشاهی د بقا او بریالیتوب له پاره په حربی او سیاسی فعالیتونو پیل وکړ او د کندهار د کلات په برخه کی یی د اعلیحضرت امان الله عسکری مفرزه د سقاوی د زوی د طرفدارانو په مقابل کی تقویه کړه او د خپل خسر جنرال محمد خان قوایی تر شا ووهله.

ده د اعلیحضرت امان الله د پاچاهی یو مخالف شهزاده عبدالکریم نامی په رنګون کی ووایژه چنانچه (افغانستان در مسیر تاریخ) دغی واقعی ته داسی اشاره کوی:

(... عبدالکریم هندوستانی به نام پسر محمد یعقوب خان به هند فرار کرد پولیس انگلیسی او را توقیف نمود و به برما فرستاد، مگر مولوی یار محمد مقری از افغانستان به هند رفت و او را تعقیب کرد، تا در برما بیافت و بکشت و برگشت در حالیکه جنرال کونسل افغانی حاجی محمد اکبر از هرگونه مداخله درین مورد اجتناب کرد. اما شخص شاه یار محمد را بنواخت و او در کابل بود تا بعد از سقوط دولت امانیه در اوایل پادشاهی محمد نادرشاه در محبس افتاد و سالها بماند و پیر شکسته رها شد و بمرد.)[۱]

د محمد هاشم زمانی د (زندانی خاطراتو) اثر په جیل کی د مولوی صاحب د حالاتو په هکله لیکی:

۱- افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار، چاپ ۱۹۶۷ کابل.

www.sikaram.com

(... د ویالی په غاړه همداسی گرځیدلو چې د دهمزنګ د عمومی جیل نه یو جګ غبرګ غنم رنګه قوی هیکله سړی چې شنه مشهدی لونګی یی پرسروه، دم بودنه ږیره یی درلوده چې د یو مجرب سیاستمدار ترجمانی یی کوله، زمور د کوټې قلفی له خلاصیدو څخه خبر شوی ؤ راغی، د دی سړی نوم مولوی یار محمد او اصلی ځای یی په مقرکی ؤ، دغه منور مولوی وطنپال، ملی لوی شخصیت، د کلک ایمان او ارادی خاوند ؤ د انګلیس د استعمار او د هغه داخلی ګوډاګیانو څخه یی ډیر بد راتلل، افغانستان یی د افغانانو له پاره غوښت، دغه وطنپرست ملی شخصیت د نادر د کورنی د لاسه دیر زیات تکلیفونه خواری لیدلی وی چې اوس زمور سره په سیاسی بندیانو کی شمیرل کیږی او ۱۴ کاله بندیی په ارګ، شیرپور او دهمزنګ کی تیر کړی دی)[۱]

مولوی یار محمد مقری د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروګرامونو د طرفداری او د محمد نادرشاه د پالیسیو سره د نه موافقت لرلو په ګناه په کال ۱۳۱۲ هـ.ش کی د کابل په دهمزنګ کی محبوس سو. دی د ۱۳۲۵ هـ.ش کال د عمومی بخښنی د اعلامیدلو له کبله له بنده خوشی شو او په کابل کی یی تر نظارت لاندی د کراهی کاروانسرایو په کوټو کی په ډیری بیوسیله ګی او بینوایی شپی او ورځی تیرولی.

هغه وخت چې د ده اقتصادی وضع او د روغتیا حالت د خرابی پر خوا مخ ونیوی نو د محمد ګل مهمند او عبدالمجید زابلی له خوا څخه کله کله مادی او معنوی مرستی ورسره کیدی د ده حضور ته به د کابل، پکتیا، ننګرهار روشنفکران او د عالی مکاتبو محصلین راتلل د وطن د تاریخ او سیاسی جریاناتو څخه به یی پوښتی چې په خلاصه خوله او ملی شهامت به یی د اسنادو په روپټ ځوابونه ورکول.

مولوی یار محمد مقری د ۱۳۴۴ هـ.ش کال په عقرب کی د ۷۸ کالو د عمر په شاؤ خوا کی په کابل کی وفات سو او جنازه یی د مقر د شینکی د ادم خیلو تر کوپه هدیره کی خاورو ته وسپارله سوه.

۱- زندانی خاطرات، محمد هاشم زمانی کنری، ۹۰ مخ.

www.sikaram.com

سید حسن سید:

دی د سید حسین پاچا زوی ؤ چې په کال ۱۲۷۵هـ.ش د لغمان په چهارباغ کی زیږیدلی او د نسب سلسله یی په یو روایت سید جمال الدین افغان ته رسیږی. لومړی زده کړه یی د کورنې د غړو څخه په سر رسولی او وروسته چې د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین په دور کی د حربیی مکتب تاسیس سو دی د هغه مکتب د لومړنیو فارغ التحصیلانو څخه ؤ چې په هغوی کی محمد گل مهمند او محمد اکلیل هم شمیرل کیدل.

سید صاحب یو رشید او نومیالی عسکر وخو د هغه ارتباط او مفاهمی له مخی چې د هیواد د ملی مبارزینو او مطلقیت د مخالفینو سره یی درلود ملی محبوبیت یی حاصل کړی ؤ د آزاد افغانستان جریده د ده د فکر او سیاسی روش په هکله لیکی: (... **وی عقیده داشت که نظیر مصطفی کمال باید یك رژیم در افغانستان بوجود آید روزی این مرام سیاسی خود را به الفاظ خوبی چنین تعبیر کرد: دکتاتوری نظامی که من در افغانستان لازم میدانم، در حقیقت استعمال جبر و زور است بر مردم، برای مردم، به نفع مردم، اما این مفکوره نظامی و سیاسی باید متوجه منوران و جوانان آزادیخواه و روشنفکران نه باشد، بلکه با العکس برای تنویر بر زوایای تاریك استعمال گردد و مبنی بر کدام غرض شخصی و منافع مادی یك یا چند نفر نه باشد، سید در اثبات این نظریه نظامی و سیاسی خود از منطق تاریخی افغان کار میگرفت، و اوضاع پادشاهان سابقه را انتقاد میکرد و علل پشیمانی ما را در دکتاتوریهای شخصی و خاندانی می شمرد، ولی دکتاتوری به آمال منتج به دموکراسی شده میتواند، به شرطیکه مخلصانه خلق را بر آزادی و مبادی دموکراسی بپروراند...**) (۱)

اروابنیاد قیام الدین خادم صاحب د ده د علمی شخصیت په هکله د اوسنی لیکوال د لومړی توک په ۲۵ مخ کی وایی: څکه چې د ده مزاج طبیعی فلسفی راغلی ؤ، نو په خپلو کاوشونو او مطالعو سره یی په ډیرو مسایلو کی تحقیقی معلومات لاس ته راوړی وه، د ادبیاتو سره یی خاص شوق درلود او په پښتو شعر کی د نبی طبع خاوند ؤ، په فارسی کی یی هم ښه قلم لاره. دلته یی د فکر د څرګندولو او ادبی ذوق ښکاره کولو له پاره د څو شعرونو نمونی راوړه کیږی.

۱- آزاد افغانستان جریده، ۱۹۵٤، کال اګست ۱۳۳۳ د اسد، ٦ ګڼه، ۱۷ مخ.

www.sikaram.com

پـه نغـمه لکه بلبل کړیـدل زده کـړه پتـه خـولـه وینا د گل لـه ویل زده کړه
کـه د نـورو آسـایش او آرام غـواړی گهـواری په ځیر د ځان کړول زده کـړه
د خلـیل د نـخلستـان سـرو آواز کـا ځان قربان کړه د بسمل تپیدن زده کړه
راحت پریږده زحمت واخله حسن گله د وطـن پـه درد غـم ژړیـدل زده کـړه

***

کـه په کـف او په کـالر یی عـلامه یی کـه پـه علم او هنر وی د خړه وروریی
که په خوله دی قوم پرست او وطنخواه پـه عـمل بـاندی کـم بخته د پیغوریی

سید صاحب په کال ۱۳۱۹ کی د انقلابی افکارو درلودلو د دسیسی په گناه بندی او هم هلته په بندیخانه کی وفات سو.

غلام نبی سرخ رودی:

دی د ننگرهار د سره رود د باغبانیو د کلی و چې د میر سید قاسم سره یی په امان افغان کی د معـاونی وظیفـه اجرا کـوله، په سقوی دوره کی سرخ رود ته ولاړ او هلتـه یی د سید غلام حیدر باچا سره د (کـورغم) جریده چلوله، ده د علی احـمد خان والی په مـخالفت چې په جـلال آباد کی یی د کابل د پاچاهی نیـولو او انگلیسـانو ته د نژدی کیدلو فـعالیت کاؤ په خپله جریده کی یوه سخته مقاله خپره کړه او څرگنده یی کړه چې هیڅ دسیسـه نه سی کولای چې د افغـانانو د خوښی پرته حکومت تحـمیل کړی ده په کال ۱۳۰۸ کی د ننگرهار په خوگـیانو کی د سـردار محـمد هاشم د فعـالیتونو او نادرشاه د پاچا کیدلو مخالفت کاؤ او کله چې یی د سـهار د لمانځه د ادا کولو له پاره پر ویاله او دس تازه کاوه د تفنگچی په ډزو ووژل سو.

سید غلام حیدر پاچا:

دی د سید محمد سرور زوی په کال ۱۲٦٦ هـ.ش کی د لغـمان د چهارباغ په پاچا کلی کی زیږیدلی ؤ د کـورنی تربیـی او مـحیطی زده کړی وروسـته د ځـوانی په وخت کی کابل ته راغی د سیاست او وطنی خدمت صحنی ته داخل سو، په ۱۳۰۰ هـ.ش کال کی د اعلیحضرت امان الله له خوا ترکیی ته د سیاسی نماینده په حیث ولیږل سو، په ۱۳۰۱ کی کابل ته راغی او تر ۱۳۰۵ کال

www.sikaram.com

پوری یی د کانو، کرنی، فواید عامی په وزارتونو کی کار کاؤ. په ۱۳۰۷ کی د خارجه وزارت د سیاسی لوی مدیر په حیث وټاکل سو، په سقوی دوره کی یی د افغانستان له پاره د یو جمهوری گوند اساس کښیښود او د (کورغم) اخبار په ملگرتیایی د ولس د آزادی جمهوریت، ملی یووالی د طرفداری د ارتجاع او استبداد په مخالفت انقلابی تحریکونه مخی ته بیول، سید غلام حیدر پاچا په ۱۳۲۱ کی د ۵۵ کالو په عمر تر ۱٤ کلونو بند او فشارونو گلولو وروسته په محبس کی وفات سوه اروابنـاد گل پاچا الفت صاحب د سید غلام حیدر پاچا د پیژندنی په هکله لیکی: (... چا چې مرحوم سید غلام حیدر یوځل لیدلی، دا به بی شکه ووایی چې د خلقت لورینه د ده په وجود کی وانمود، درلود. چې هر چا به یی په لیدلو (فتبارک الله احسن الخالقین) ویلی، هغه وجاهت چې په دیرو گټو خلکو د هرچا نظر ځانته جلبوی، د ده ممتازه برخه وه، زه نادیده سړی نه یم، مگر دا رشتیا وایم چې تر اوسه می د ده د جمال ساری نه دی لیدلی، د حیثیت په لحاظ آزاد مشر به، قلندر صفته سړی ؤ چې هرڅه په لاس ورتله په لاس کې به یی نه ټینگیده او د سبا ورځی غم به ورسره نه ؤ، هغه وخت چې د اعلیحضرت امان الله حکومت د عمومی اغتشاش په وجه له منځه ولاړ او پخوانی ننگرهار د لغمان او کونړ په شمول د کورنیو جگړو صحنه وگرځیده، سید غلام حیدر د ولس ځینی مشران په یو عهد او پیمان متفق کړه د یوی مقالی په امضا کولوی په ۱۳۰۸ هـ.ش کی د یوی ملی اداری او ملی تشکیل اساس قایم کړ، که څه هم په ابتدا کی یی محلی بڼه درلوده په هغه وخت او حال کی د تجدد او تنور اکثر منسوبین د ځان په پټولو او د خپل پله په ورکولو مجبور وو، د ده دغه خارق العاده کار که هر څوک کله د افغانستان سیاسی تاریخ لیکی، د مشروطیت او جمهوریت مستقیمی او غیر مستقیمی مبارزی یادوی باور لرم چې سید غلام حیدر به هیڅکله هیر نه کړی او دغه د (۱٤) کالو سیاسی بندی او له محبس څخه مدفن ته تلونکی ملی مجاهد د لوی حق خاوند وگټی[۱].

۱- د گل پاچا الفت، ۱۳۵۲ کال، د سنبلی ۱۸ یادداښت څخه.

www.sikaram.com

میرزا محمد علی تائب:

دی د هیواد مشهور عارف او خطاط، د مطلقیت او استبداد سره د مخالفو شخصیتونو څخه ګڼل کیږی، پلرونو او نیکونو یی په خپله سیمه کی د مطلقیت سره د مقاومت کولو او انګلیسی استعمار سره د مجاهدی کولو په لار کی ښه نوم ګڼلی ؤ.

میرزا محمد علی تائب په دوه کلن سن د خپل عالم او مجاهد پلار سره د پاچا ګنبتیود لانجو څخه د ځان خلاصولو له پاره کشمیر ته مهاجرت کړی ؤ پلار یی د امیر شیرعلی خان د دولت د هوا خواهانو څخه ؤ او له هغه سره یی د نژدی فرهنګی او سیاسی علایق درلودل ده. متداوله علوم او د خط هنر د خپل پلار له حضوره کسب کړی وه، او په دوولس کلن سن بیرته وطن ته راغی او د میر احمد شاه په واسطه د امیر عبدالرحمن خان حضور ته وروستل سو او د خپل خط نمونه یی ور وړاندی کړه. امیر ورته وویل: همداشانی یو بل لیک سمدستی زما په حضور ولیکه هغه چې د امیر فرمایش پرځای کړ، امیر خوشحاله سو او دی یی ونازاوه او شهزاده نصرالله ته یی معرفی کړ. دی په سیمه کی د نستعلیق خط، عربی، مشق، آویز، کوفی، سریانی خط د نومیالیو ماهرانو او استادانو څخه ګڼل کیدی د عصر د متداوله علومو لکه فقه، تجوید، صرف او نحو، عروض، نجوم او تفسیر مدرس ؤ د شهزاده نصرالله په شخصی کتابخانه کی یی پر ځینو تاریخی او ادبی آثارو حاشی لیکلی او د نایابو خطی نسخو ضایعات ورجبیره کول، تائب د کابل په طباعتی ماشینخانه کی د بیدل غزلیات، په خپل لیک او اهتمام چاپ کړی او تفسیر کړی دی.

تائب صاحب د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین او نائب السلطنة نصر الله خان د فرهنګی او سیاسی افکار په تلقیو کی د نصرالله خان خوا نیولی وه او د هغه د فرهنګی او ادبی مشاورینو او استادانو په جمله کی شمیرل کیدی، او ده ته یی د کتابخانی د ناظم، خطاطی، حاشیی نویسی چاری هم سپارلی وی.

میرزا محمد علی تائب د شهزاده نصرالله د هغو ملګرو لکه محمد اختر، عبدالرحیم علومی، عبدالله د نائب السلطنته غلام بچه، محمد امین د محمد عمر محمد زی زوی، سردار محمد محسن محمد زی، سردار محمد کریم محمد زی، دلاور خان پنجشیری د محمد اختر شخصی ناظر، محمد اکبر فارغ څخه شمیرل کیږی چې د پغمان په لاره کی یی د اعلیحضرت امان الله د ترورولو او شهزاده نصرالله د حبس او فشار څخه د خلاصولو په توطئه کی متهم وو.

www.sikaram.com

په دغو کی درو تنو لکه سردار محمد کریم خان، دلو خان پنجشیری او میرزا محمد علی تائب د اعلیحضرت امان الله د وژلو او ترور ولو سره موافقه نه درلوده.

هغه وخت چې توطئه افشا شوه او دوی په پغمان کی د یو پله لاندی د کمین نیولو په اثنا کی باالفعل ونیول سول او تحقیقات ځنی شروع شول:

اعلیحضرت امان الله میرزا محمد علی تائب مخاطب کړ او ورته وی ویل: چې تا ولی په دغی دسیسی کی شمولیت کړی ؤ؟

افغانستان در مسیر تاریخ دغی واقعی ته داسی اشاره کوی:

(... شاه گفت درباب میرزا محمد علی خان چیزی نه گفتید، محمد اختر خان جواب داد وقتیکه میرزا صاحب را دعوت کردم، رد کرد و مرا هم دوستانه منع کرد، دیگر بین ما در این موضوع حرفی مبادله نه شده، در همین وقت میرزا محمد علیخان از خانه اش آورده شده بود، شاه از او پرسید، وقتیکه محمد اختر خان شما را به ضد من دعوت به اقدام کرد شما چه کردید؟ میرزا به آرامی و متانت جواب داد، رد کردم، شاه پرسید شما حال پشت ناخون هم می بینید؟ جواب داد. اعلیحضرت این چیز ها محض برای تفریح بود، شاه گفت، وقتیکه شما از قصد کشتن من آگاه شدید، چرا به من اطلاع ندادید؟ میرزا جواب داد: من به پادشاه خیانت نه کردم، و دعوت را نه پذیرفتم. ولی نتوانستم به دوستان خود نیز خیانت کنم، شاه بعد از سکوت مختصری امر کرد که محمد اختر خان، غلام حیدر خان دلو خان، میرزا محمد علی تائب، عبدالله خان، محمد امین خان اعدام شود. حافظ محمد اکبر به واسط پدرش حافظ مجذوب و عبدالرحیم به واسط پدرکلانش از اعدام معاف هستند. محمد انور بسمل برادر محمد اختر محبوس و تمام دارای خانواده اش ضبط گردید... این حکم عملی گردید)[۱]

محمد علی تائب د پښتو، دری او عربی ژبو پوځ او ځان ته سبک لرونکی شاعر ؤ چې د شعرونو نمونی یی د ده د زامنو میرزا محمد نبی تائب او میرزا محمد طاهر (تائب) له خوا څخه د هیواد په یو شمیر مشهورو اخبارو او مجلو کی خپاره شوی، د ده زامنو هم شعری طبع درلوده او محمد طاهر تائب د ویښو ځلمیانو د موسسو غړو څخه علاوه د انګار د اخبار تنګ ملګری او مقالی یی د تایب او تره کی په نامه زیاتی خپری سوی دی.

۱- افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار، صفحه ۷۴۹.

www.sikaram.com

محمد طاهر تائب د مطلقیت او استبداد سره د مخالفت له کبله څو کاله محبوس سوی او یو زوی یی د تائب په تخلص په ملګرو ملتو کی د افغانستان د هیئت غړی او یوه لوری (میمونه) یا لیلا نومیده چې د افغانستان د ښځو د دموکراتیک سازمان د موسسو غړو څخه شمیرله کیده چې د عبدالبصیر رنجبر سره یی واده کړی ؤ.

دلته د میرزا محمد علی تایب د شعر یوه نمونه را وړه کیږی چې د پسرلی په ستاینه کی ویلی دی.

دگر زرنگ گل افروخت نوبهار آتش — کشید سر ز دل بلبلان هزار آتش
گذشت فصل خریف، و ز ناله جان سوز — به مرغزار فگنده است مرغ زار آتش
طلسم دیر نموده است لاله کاریها — مگر ز داغ کسی داشت در کنار آتش
به سان آتش زردشت کی شود خاموش — درین قصیده ز بس برده ام به کار آتش
وعید نار جحیم دگر مده زاهد — شهید عشقم و دارد به من چه کار آتش
خوشا به حال شهیدیکه بعد مردن دید — ز شمع روی تو یك شام بر مزار آتش
حریف بزم دی ای شمع نیستی یکدم — به امتحان وفا بهر گذار آتش

دغه قصیده تر سل بیتونو زیاته ده

رباعی

ماه نو چون خم ابروی تو دارد شکنی — روی گل هم به گل روی تو ماند کمکی
رستم تایب اگر رستم ازین راه سپر — زانکه او گشته بسی زنگی رستمکی

طوطی خوش تکلم

الهی ببازی به دل خواه تائب — چناغی که ای ماه پیکر شکستی

دل روشن

تایب از فیض دل روشن کنون — طعنها بر جام جم داریم ما

افسون خفته

مشو محو فریب آب و رنگ این چمن تائب
که موج خون مشتاقان بود گلهای بستانش(۱)

۱- مجله آریانا ماه حوت سال ۱۳۳۲.

www.sikaram.com

غـــزل

تیغ جـــفـــا بیـــا ریخت آن یار تا به گـــردن
در مـــوج خـــون فـــروشـــد کـــهـــســـار تا به گـــردن
ســـاقی بزم مـــســـتـــان بی می ندارد آبی
پر کن صـــراحی مـــا زنـهـــار تا به گـــردن
کی بگذارم چو منصـــور از دعـــوه کـــه دارم
چرخم رسن نه پیـــچـــد از دار تا به گـــردن
از سبحه رشته بگسیخت، زهد و ریا زهم ریخت
افگنده آن برهمن زنار تا به گـــــردن
سامان عـجـز سر کن، از سرکشی حذر کن
کـــارت چو شـــمع ناید هشـــدار تا به گـــردن
آثار ســـربلندی در خـــدمت آفـــریدند
بارت نهند مـــردم بگذار تا به گـــــردن
چون صـــعـــوه مـــحـــال است جستن ز دام الفت
دارم ز دست طفـــلان این تار، تا به گـــردن
طول رمل ندارد غـــیـــر از هلاك چیـــزی
یك زهر جـــانگداز است این مـــار تا به گـــردن
در یاد بزم وصلش از مـــــوج اشك تایب
طوفـــان رسـیـــده مـــا را صـــد بار تا به گـــردن

غلام محی الدین آرتی:

دی د شیر آرتی زوی، یو وطندوست او روشنفکره سوداگر ؤ چې د مطلقیت او استبداد سره یی نه پخلا کیدونکی مخالفت دولود، د انګلیس استعمار، رشوتخوریو او خویش و خاله ګیو روابطو دیر زوراوه، ده د کابل په عوامو کی زیات محبوبیت درلود، د همدغه کبله د ۱۹۲۸ کال په لویه جرګه کی د وکیل په حیث وټاکل سو. ده اعلیحضرت امان الله ته په خپله یوه بیانیه کی داسی وویله: اعلیحضرته! که ستا دغه ځینی په فساد مشهور وزیران د محاکمی میز ته راکش نه

www.sikaram.com

سی، په هیواد کی به ستا د غه ارمانونه هیڅکله عملی نه سی، دی د محمد نادرشاه د پاچاهی په وخت کی د کابل پرینبولو ته مجبور سو او په پینبور کی د ناپیژندونکی چاله خوا ووژل سو یو زوی یی جمال الدین آرنی د ثور د انقلاب په اوایلو کی ژوندی ژړاند ورک سو.

غلام احمد اعتمادی:

دی د سردار عبدالقدوس اعتماد الدوله زوی ؤ چې تحصیلات یی د کورنی د غرو او حبیبی په مکتب کی پای ته رسولی او د جوانان افغان د وفادار او ملی دردونو درلونکو ځلمیانو څخه ګڼل کیدی، دی د وطندوستی او استعمار سره د مخالفت د فعالیتونو په نتیجه کی دی فیصلی ته رسیدلی ؤ چې د افغانانو د ترقی او نیکمرغی له پاره باید لویه پینبتونخوا جوړه سی ده د صوبه سرحد او کوئټی له وطندوستانو سره د نژدی علایق درلودل او وروسته یی په بمبئ او انقره کی سیاسی پوستونه درلودل (۱۳۰۶) دی په پینبتو، دری، انګلیسی او اردو پوهیده، ده د پینبور د مردان د اوسیدونکی فضل احمد غر د پینبتو دیوان چې مقدمه یی خپله باندی لیکلی ده په بمبئ کی چاپ کړ (۱۹۳۰) اعتمادی صاحب د روند، موقر او مهربان شخصیت ؤ، د ده ورور چې سردار جمعه خان نومید د هیواد د مشهورو پوهانو څخه ؤ چې په (۱۳۰۱) کی په بخارا کی د افغانی سفیر او نماینده په حیث تاکل سوی ؤ. بیا د میمنی اعلی حاکم سو او په کال ۱۳۰۲ ش کی په کابل کی وفات سو.

غلام احمد رحمانی:

دی د سردار عبدالرحمن زوی او د سردار عبدالوهاب خان لمسی ؤ چې د وطندوستی او ملت پروری شعایریی د خپلی کورنی د غړو څخه په میراث وړی ؤ، ده خپل تحصیلات په تاشکند او بخارا کی په سر رسولی و. او د اعلیحضرت امان الله د دوری د متجدد و اود عصری ځلمیانو څخه ګڼل کیدی. رحمانی صاحب په کال ۱۳۰۸ کی د امانی تحریکاتو د پر مخبیولو او د څرخی غلام نبی خان سره د ناستی او ولاړی لرلو په جرم بندی سو کله چې دی اعلیحضرت محمد نادرشاه خپل حضور ته وروغوښت او ګیله یی ځنی وکړه چې څله د ده د حکومت سره مخالفت کوی او د ده د دښمنانو په ټونګ په توطئو کی شاملیږی او د اعدام سزایی ورته واوروله، دی ډیر وارخطا سو او

www.sikaram.com

د ځان خلاصولو له پاره یی داسی ورته وویل: **من بد کنم و تو بد مکافات دهی پس فرق در میان من و تو چیست؟** اعلیحضرت په دغه عذر دی د اعدام څخه وژغوراوه او په بندئی محکوم کړ.

غلام احمد رحمانی په کال ۱۳۲۵ هـ.ش کی د عمومی بخښنی له کبله د بنده خوشی سو او د کابل په پښتو ټولنه کی د روسی ژبی د ترجمان په حیث مقرر سو، ده د یوی روسی ښځی سره واده کړی ؤ او په خلکو کی د روسی رحمان په نامه مشهور ؤ.

د ده یوه لور (ماګه) رحمانی نومیده چې د ۱۳۲۹ کال را په دیخوا یی د کابل د منورو ښځو د مشرتابه حیثیت درلود، دا په کابل کی بی حجابه او لوڅ مخ جوړه ګړی ګرځیده، د وطندوستانو او ادیبانو سره یی د دوستی او همکاری علایق ساتل د دی یو اثر د (پرده نشینان سخنگو) په نامه زیات مشهور دی.

غلام احمد رحمانی په کال ۱۳۳۰ هـ.ش کی په کابل کی وفات سو.

سید قاسم او سید عبدالله:

دی کورنی د امیر عبدالرحمن د پاچاهی راهیسی د دربار سره ښه علایق درلودل د کنړ په وقایعو او حوادثو کی یی د افغانستان او افغانانو په طرفداری زیاتی هلی ځلی کړی دی دغه دواړه ورونه د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروګرام تینګ ملګری او د طرزی محمود د فکر او سیاست سره یی پوره علایق ساتل، د همدغه مناسباتو او روادارو له کبله طرزی محمود خپله یوه لور سید قاسم ته په نکاح ورکړه او د دغی خپلوی له اثره یی په خارجه وزارت، د ماسکو په سفارت او بمبئی کی حساسی دپلوماتیکی عهدی لرلی. د سید قاسم ځینی مقالی په امان افغان کی هم خپریدی او یو اثر یی د افغان دپلوماتانو په پیژندلو کی زیات مشهور ؤ چې قلمی نسخه په کابل کی د سید قاسم رشتیا په کتابخانه کی لیدلی سوی وه.

وروریی سید عبدالله نومید چې په خارجه وزارت کی یی د طرزی محمود ترلاس لاندی کار کاؤ، او د څه وخت له پاره په ماسکو کی د افغانی سفارت لومړی آتشه او د اعلیحضرت نادرشاه د سلطنت په دوره کی د خارجه وزارت د سیاسی عمومی مدیریت چاری یی مخی ته بیولی، سید

www.sikaram.com

عبدالله د ۱۳۱۵ هـ.ش کال د جمعی په ورځ د قوس په ۱۹ (۱۹۳۶) د دسمبر په ۱۵د آمو سیند د تیریدلو په اثنا کی غرق او وفات سو د ده یو زوی سید وحیدالله چې په وحید عبدالله مشهور ؤ او د سردار محمد داؤد د جمهوریت په وخت کی د خارجه وزارت د مرستیال او کفیل په حیث کار کاؤ، دی د سردار محمد داود د جمهوریت د فعالو او اعتمادی غړو څخه ګڼل کیدی چې په همدغه لامل د ثور د انقلاب په لومړیو ورځو کی ووژل سو.

بشیر احمد:

د دغی کورنی مهمو غړو د دوو پیړیو راهیسی چې د سرحد د یوسفزو د تبر څخه دی د افغانستان د رسمی چارو په پر مخبیولو کی پوره برخه اخستی او تر مهمو دولتی رتبو وزارتونو او ریاستونو رسیدلی بشیر احمد په خارجه وزارت کی د طرزی محمود تر لاس لانی کار کاؤ او د جوانان افغان د فعالو غړو څخه ګڼل کیدی.

محمد ابراهیم جمشیدی او آدم خان:

یو د هرات د ایماق قبیلی او بل د لوګر د احمدزو خانانو د تیر څخه ؤ چې پلرونه یی د دربار د غلام بچه ګانو په حلقه کی شامل وو، دوی د شاهزادګانو سره یوځای لیک او لوست زده کاؤ په خوی او بوی د نژدی ورسره بلد ؤ

د اعلیحضرت امان الله په دوره کی د جوانان افغان سره د ملګرتیا علاوه په دولتی چارو کی یی هم فعاله ونده اخسته. محمد ابراهیم جمشیدی په ۱۳۰٤ کال کی د کندهار د ګمرک مدیر او آدم خان په ۱۳۰۳ کی د ګریش او پشت رود حکمران ؤ آدم خان د اعلیحضرت محمد نادرشاه په دور کی د غزنی اعلا حاکم او وروسته د دربار د وزارت د مشاور په حیث وټاکل سو.

شیر محمد افغان بیګ:

دی د شمالی د کوهدامن د پوپلزو یو وطندوست او پر ملی شعایرو مین صاحب منصب ؤ چې د حربی ښوونځی څخه راوتلی ؤ. دی د اعلیحضرت حبیب الله د وژلو په فقره متهم او بندی او وروسته د اعلیحضرت امان الله له خوا د عالی تحصیلاتو له پاره ترکیی ته واستول سو او د هیواد په بیلو سیمو کی یی د داخلی نا آرامیو او اغتشاشونو په کرارلو کی فعاله برخه اخسته د

www.sikaram.com

اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت په اوایلو کی یی د حضور د یاورانو په جمله کی وظیفه اجرا کوله خو د روشنفکرانو او استبداد ضد عناصرو سره د دوستی پاللو له کبله بندی سو او په بند کی وفات سو.

عبدالغنی سرخاوی:

عبدالغنی سرخاوی احمدزی په کال ۱۲۷۱ هـ.ش کی د لوگر په سرخ آب کی زیږیدلی ؤ، دی د حربی ښوونځی څخه د فراغت وروسته ټولی مشر سو، د هیواد د خپلواکی د مستردولو په معرکی، کی یی د پکتیا په محاذ کی فعاله برخه درلوده، چې د دغو ملی خدماتو د په سر رسولو په عوض او افتخار کی د کنډ کمشری او د ګرمنی تر عهدو ورسیده دی د نظامی عهدی لرلو علاوه یو روښان فکره، پر افغانی او ملی نوامیسو مین افغان ؤ په صداقت او ملی حیثیت لرلو زیات مشهور ؤ او د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروګرامونو او جوانان افغان د اعتمادی غړو څخه ګڼل کیدی. ده د اعلیحضرت امان الله په دوره کی په پکتیا کی د اصلاحاتو ضد یو شمیر ناوړه او مشکوک کسان په خپله ځسکری قشلی کی بندیان کړل چې د عامه زیاتی خوښی او قدر وړ وګرځیده د دغو نظامی او ملی خدمتونو په مکافات کی په ۱۳۰۸ کال کی د برید جنرالی او وروسته د تورن جنرالی رتبی ته ورسید.

عبدالغنی سرخاوی په ۱۳٤٤ ش کال کی د ۷۳ کالو په عمر په کابل کی وفات سو او جنازه یی د لوگر په سرخاو کی خاورو ته وسپارله سوه. د ده یولمسی داکتر اشرف غنی احمدزی نومیږی چې د افغانستان د اسلامی انتقالی دولت د مالیه وزیر دی چې په کال ۱۳۲۸ کی په کابل کی زیږیدلی په بیروت او امریکایی پوهنتون کی یی تحصیلات بشپړ کړی دی.

فتح محمد ارسلا او عبدالجبار ارسلا:

فتح محمد ارسلا او عبدالجبار ارسلا د ارسلا خان (غلجی) د کورنی څخه دی چې د امیر شیرعلیخان په کابینه کی د خارجه وزیر او پلار یی عصمت الله خان د داخله وزیر عهده لرله. دی په میر افغان مشهور ؤ چې ویل به یی زما او د امیر عبدالرحمن توپیر په یوه الف کی دی، دی د افغانانو امیر دی او زه د افغانانو میر یم د همدغه کبله یی د امیر عبدالرحمن خان مطلقی لویی او تکبر ته یی غاړه نه ایښوده او امیر هرکله د هغه د له منځه وړلو په فکر کی ؤ.

www.sikaram.com

هغه وخت چې ارسلا خان په کابل کی د قاضی فیض الله په کوڅه کی اوسیدی دوولس زره معاش په لوړه او کښته ارغندی او سرخ کوتل کی د دیرو مځکو عواید ورکول کیدل، کله چې سردار محمد یعقوب خان د پلار څخه د عبدالله جان د ولیعهد تاکلو له کبله خفه سو او په هرات کی اوسیدی، ارسلا خان د یو هیئت سره هرات ته ولاړ او سردار محمد یعقوب خان یی د پخلا کولو په نیت د پلار حضور ته را وست، دی په دغه اثنا کی په کال ۱۲۹٤ کی په کابل کی وفات سو او جنازه یی په شاندارو نظامی او ملکی مراسمو د ننګرهار د غلجیو په حصارک کی خاورو ته وسپارله سوه.

د دغی کورنی زیاتو غړو د وطن د دفاع او ملی خپلواکی ساتلو په لار کی د قدر وړ خدمتونه کړی او د ښه نامه خاوندان دی.

جنرال تاج محمد د ارسلا خان جبار خیل زوی د محبت خان جبار خیل لمسی د نصر الله خان جبارخیل ورور د میوند په غزا کی د افغانی لښکرو یو بریالی قوماندان و چې د میوند د معرکی د مشهورو فاتحینو څخه ګڼل کیږی، هغه وخت چې امیر عبدالرحمن پر خپلو مخالفینو بریالی سو، د دغی کورنی ځینی نومیالی غړی د سردار محمد ایوب خان سره یوځای هند ته فرار سول.

د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین په وخت کی چې فراریانو ته بیرته وطن ته د راتلو اجازه وسوه، د دوی ځینی غړی وطن ته راغله چې د هغو څخه فتح محمد ارسلا او امین الله خان جبار خیل چې په هند کی یی خپل تحصیلات بشپړ کړی وه زیات مشهور وو او د معارفو او عدلیه په چارو کی په خدمت لګیا سول.

دوی د اعلیحضرت امان الله د پاچاهی په عهد کی د (جوانان افغان) سره د همکاری او ملګرتیا علایق درلودل او د هغه د اصلاحی پروګرامونو پر خوا وو چې په دغه لړ کی یی د خارجی ژبو څخه یو شمیر علمی او اجتماعی رسالی ترجمه او خپری کړی.

د دغو علمی او اجتماعی خدمتونو د تقدیر له کبله فتح محمد ارسلا د حبیبی مکتب د مدیر او امین الله ارسلا د عدلیی د وزارت د معین په حیث مقرر سول.

همداشانی عبدالجبار ارسلا د فتح محمد ارسلا جبار خیل کشر ورور چې د کابل د عالی ښوونځیو د استادی د وظیفو لرلو علاوه د معارفو د وزارت د لومړی معینیت پوری هم رسیدلی ؤ

www.sikaram.com

چې په ۱۳۳۰ش کال کی په کابل کی وفات سو د دغی کورنی د پاته کسانو څخه اوس یو هدایت امین ارسلا نومیږی چې د مجاهدینو د عبوری حکومت په دوره کی د ملی محاذ په معرفی د خارجه وزیر او په را وروسته کی د افغانستان د اسلامی انتقالی دولت (۱۳۸۰) د مالی د وزیر او په ۱۳۸۱ کی د صدارت د مرستیال په حیث وظیفه اجرا کوی.

ښاغلی هدایت امین ارسلا خپل ثانوی تحصیلات په کابل او د ماستری درجه یی د امریکا د الوتای د پوهنتون څخه په لاس راوړی ده دی د ۱۳۵۸-۱۳۶۶ پوری د واشنگتن د نړیوال بانک په بیلو څانګو کی په کار لګیا ؤ د ۱۳۶۸- ۱۳۷۰ پوری د مجاهدینو په عبوری حکومت کی د مالیی د وزیر په ۱۳۶۹ کی د ملی محاذ له خوا د مجاهدینو د عالی شورا د غړی په ۱۳۷۲ کی د خارجه وزیر په حیث کار کړی او په ۱۹۹۹ د روم د جرګی د اورګنایزر او منتظم د ۲۰۰۰ کال په جولایی کی یی د ملت د بابا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه په نمایندګی په نیویارک کی د ملګرو ملتو د عمومی منشی د مرستیال سره کتلی دی.

میرزا محمد مهدی چندولی:

میرزا محمد مهدی چندولی د میرزا علیجان زوی ؤ چې د کورنی او خصوصی تحصیلاتو وروسته د هیواد د روشنفکرانو او آزادیخواهانو په تیره بیا د جوانان افغان د ډلی د ناستی او ولاړی له اثره څخه یی عربی، ترکی، فرانسوی ژبی ښه زده کړی او د دغی ډلی د وفادارو او امانت کارو غړو څخه شمیرل کیدی.

میرزا محمد مهدی چندولی د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین په عهد کی په اولس کلن سن د سنجش په دفتر او وروسته د غند مشری (ډګرمنی) په رتبه په حربیی وزارت کی د لوازمو د مدیر په حیث کار کاؤ. د امیر حبیب الله د مړینی وروسته ځکه چې دی د اعلیحضرت امان الله د نژدی مخلصانو او د ده د اصلاحی پروګرامونو د جدی طرفدارانو څخه و، د لومړی ځل له پاره د هغه د خصوصی مشاور او بیا د خصوصی منشی په څیر موظف ؤ. هغه وخت چې د اعلیحضرت امان الله حکومت ړنګ سو میرزا محمد مهدی چندولی د جوانان افغان د هغو لومړنیو غړو څخه ؤ چې د سقاو د زوی سره یی د همکاری او خدمت ګذاری څخه نتیجه وکړه، څرنګه چې ده په هزارګانو کی زیات نفوذ درلود نو د خصوصی تماسونو او لیکونو په واسطه یی هغوی د سقاو د زوی په مخالفت

www.sikaram.com

کولو او بیعت نه ورکولو ته رابلل. او له دغه اثره څخه‌ؤ چې هزاره جات ته د سقاو د زوی د هیئت رسیدلو په موقع کی چې په هغه کی ملا فیض محمد هزاره، آقا میر، آقا نور الدین او نور شامل وو هغه هیئت د هزارګانو د عکس العمل ښکاره کولو له کبله له هغه ماموریت څخه په ناکامی راوګرځید.

میرزا محمد مهدی چندولی د نادرشاه د حکومت سره د بدبینی او مخالفت د انګلیس پر سفارت باندی د حملی د لاس لرلو په تور د نورو ملګرو سره د اوو میاشتو حبس وروسته د ۳۱ کالو په عمر په ۱۳۱۲ هـ.ش کال د سنبلی په ۲۲ د دار په واسطه اعدام سو د ده څخه دری زامن د محمد یونس مهدوی چندولی چې د چندولو د نا آرامی په تور د ثور په انقلاب کی ووژل سو، بل زوی یی محمد آصف آهنګ چې د وطن ګوند د فعالو او وفادارو غړو څخه ګڼل کیږی په ظاهر شاهی دوره کی د حکومت د مخالفینو سره د مرستی په تور دری څلور ځله بندی سوی، او د عبدالملک عبدالرحیم زی د مالیی د وزیر د کودتا په اتهام تر ۱۳٤۰ کال پوری په دهمزنګ کی د زنجیر او زولانی سختی شپی او ورځی تیری کړی دی محمد آصف آهنګ په کال ۱۳٤۳ د کابل د چندولو د لومړی ناحیی د ولسی جرګی د وکیل او د ثور په انقلاب کی د اساسی قانون د تسوید د کمیسون د غړی په توګه کار کاؤ.

محمد آصف آهنګ وطن او خلکو ته د صادقانه خدمتونو د په سر رسولو علاوه د هیواد د مطبوعاتو او لیکوالی سره د خورو او پخونثر او نظم د لیکلو په نسبت زیات شهرت لری، څرنګه چې د وطن د تیرو شلو کالو ډول ډول نا آرامیو دی ډیر وزوراوه نو په کال ۱۳۷۲ کی د وطن په پرینبودلو مجبور سو او اوس په کانادا کی د مهاجر په توګه اوسی.

ده د تبریزی صائب، عشقری، آئینه د شعر په اقتفا د کابل په ستاینه کی دا شعر ویلی دی:

کابل آن شیران پیکارت چه شد	رستم ورتبیل سالارت چه شد
پا به پای غازیان بودی به جنگ	حالیا ای شیخ دستارت چه شد
نی امین الله ماند و مسجدی	اکبر و ایوب سردارت چه شد
مشك عالم رفت و محمود بیات	آن محمد جان سپهدارت چه شد
کابل ای شهر نیکو رویان ما	میله ها و جشن هر بارت چه شد

www.sikaram.com

قلعه مستحکم بالا حصار — وان دژ و دیوار کهسارت چه شد
کوچه های پیچ در پیچت خراب — خانه های چار در چارت چه شد
شاخ و برگ ارسی دروازه ها — منبت کاران و معمارت چه شد
گنبد کوتوالي و چوك چته — چار باغ ارگ سرکارت چه شد
رونق هند و گذر باقی نماند — دختر دیوان و دربارت چه شد
باجهء مشکی و کرنیل طرق — آب پاشیهای بازارت چه شد
شش کباب و ژاله و فالوده کو — کله پز ها و سماوارت چه شد
از ریکا خانه گذر تا چندول — ساده رویان دلازارت چه شد
طوطی نیز ار طرف جبه کو — قمری شاخ سپهدارت چه شد
سرزمینی مرد خیزی کابلا — کاکه های مست و عیارت چه شد
کاکه اورنگ و رضای عرعری — حیدر سابن پیزارت چه شد
کاکه طیغون مرد افسوس — غرفه خالی نصوارت چه شد
شاطران شهر و بابای برق — باد پای تیز رهوارت چه شد
چوب باز پهلوانانت کجاست — رحمی و برهان بیدارت چه شد
اکرم یل قادر و بچه چجی — آن عزیز چتر برادرت چه شد
سید لالا و عزیز رنگ زرد — بابهء توت دلافگارت چه شد
سر و رقصاب لنگ خاك شد — محسن نانوای بیمارت چه شد
قاسم استاد و خراباتت خموش — چنگ و شهنای و سه تارت چه شد
ناتك و سرتاج موسیقی کجاست — ظاهر شوخ هنربارت چه شد
قامت آئینه و گرد باد خم — وان مدیر جشن نظارت چه شد
نسکی و بابه رضای کشمیری — بچه شاقل وفادارت چه شد
کو غلام شوده و بچه چیجل — مردم قلاش و بیکارت چه شد
چکه چورو پایلوچ پوچاق خور — سه پته بازان طرارت چه شد
مولوی و بلبل و سید مرد — میر صاحب رفت عطارت چه شد
خانقاه هر جای و درویشان خراب — مهره کچکول و چلتارت چه شد
ساد و مداح واگفتارنی — قصه بارانه و بارت چه شد

www.sikaram.com

بابه داؤد و سکندر شـــه نماند | با لکه های رند و چو تارت چه شد
صبحدم صد آفتاب زنده گرد | سر نهاده پای دیوارت چه شد
قاری و بیتاب و طواف و ندیم | واصلا دیوان اشعارت چه شد
نی افندی ماندنی شایق جمال | شاعران نغز گفتارت چه شد
اشقری و مذنب باقی نماند | افضل رسوانی گفتارت چه شد
نی برشنا ماندنی بابا حیات | قصه های دی و از پارت چه شد
ای دیار عشق و شوق و شور و شعر | آن سرور انداز گلزارت چه شد
خواجه و جیلانی و شیر و ولی | چرخی آن مرد فداکارت چه شد
مهدی و لودین محی الدین انیس | و ان اما نستان جسارت چه شد
شد ... چه کرد | ... پیکارت چه شد
آن صداهای پر از عشق و طرب | زیر این گردون ادوارت چه شد
شهر خالی از جوانان شد چرا | دختران کبك رفتارت چه شد
هیچ همشهری نمی یابی به شهر | ای وطنداران وطندارت چه شد
زان جوانمردان نشان پانماند | ... بگو کارت چه شد
خاك بر سر کن گرامی شهر من | آخر آن یاران غمخوارت چه شد

قاضی محمد عبدالظاهر سامی

دی د هیواد د مشهورو عارفانو او اجتماعی عدالت خوښونکو څخه ؤ چې د خپلی قضا او معلمی په وظیفه کی یی یو شمیر وطن او اسلام ته صادق شاگردان روزلی د تقوا او عدالت قصی یی تر اوسه د خلکو په خولو کی پاته دی.

قاضی صاحب د پغمانی محمد صالح زوی ؤ چې په کال ۱۳۲۲ هـ. ق کی د پغمان د زرگر په دری کی زیږیدلی ؤ، لومړنی تحصیلات یی په خصوصی توگه په سر رسولی وه او وروسته یی په عربی دارالعلوم، دارالمعلمین او دارالقضات کی خپل تحصیلات بشپړ کړه د هرات په بالا مرغاب د کندهار په ارغستان کی یی د قضا چاری په سر رسولی څرنگه چې یی په اجتماعی چارو کی د خانانو، ملکانو، پانگه والو او سردارانو د وضع څخه ځکه ښه نه راتلل چې د قضا په چارو کی یی د زورمندانو په نفع مداخلی کولی نو مجبور ده د قضا څخه لاس واخست او د ملی شورا په دوهمه

www.sikaram.com

دوره کی د پغمان د خلکو له خوا څخه په وکالت وټاکل سو. ده د وکالت دوری د پای ته رسولو وروسته په ۱۳۱۶ ش کی د کابل د دارالمعلمینو او په ۱۳۲۳ د غازی لیسی د ادبیاتو او دینی علومو د استاد او هم یی د افغانستان د دائرة المعارف د ټولنی د افتخاری غړی په توګه کار کاؤ قاضی صاحب په پښتو او دری ژبو شعر وایه مضامینویی اخلاقی، اجتماعی او اصلاحی جنبی درلودی استاد خال محمد خسته په خپل اثر معاصرین سخنور کی د ده د شعر دغه نمونی راوړی دی:

خواهی که به سینا مزاری باشی
در طرفه فقر شهریاری باشی
دانش طلب، و به دیگران می آموز
نادیده خزان ز گل بهاری باشی

* * *

دیده مصروف گل و روح در فضای ماتم است
شهری داغم نیست میگویند جانی را غم است
همتی داری، به عیش و نوش دانش پیش گیر
عیش جمشید از شراب و نوش سقراط از سم است
زینت خاك نژادان راه تسلیم است و بس
از سلیمان تا گدا سجود نقش خاتم است
این عروس کهنه هرگز صید دام کس نه شد
گر شبی آرام آغوشی سحرگاهش دم است
صبح اگر خندید شام ظلمتی را بار داد
شادی و غم در بساط دهر طفل توام است
فقر و هستی از نیاز و ناز رمز بیش نیست
چون گدا قانع شود کچکول او جام جم است
گر بخواهی بارور گردی تواضع بر گزین
نخل سنان هر کجا بینی که بر شاخش خم است

www.sikaram.com

ارتبـــاط زندگی گـــر کم کنی، آســـوده ای
برف اندك باشـــدش جـــائیکه بام او کم است
ســامیـا گـر فـقـر پامـیـرت دهند الفت مگیـر
چون دمـی زیـن دامـگاه آرامـگاهت پـرنم است

محمد ابراهیم صفا

دی د ناظر محمد صفر زوی ؤ چې په کال ۱۳۲٦ هـ.ق کی په کابل کی زیږیدلی ؤ څرنګه چې یی کورنی د پاچاهی دربار د ځینو مهمو غړو سره د نژدی همکاری او علاقمندی درلوده او د هغو د اشاری له مخی یی کله راسته او کله چپه پلو ته تمایل ښکاره کاؤ نو د دغه اثر څخه کله گټه او کله تاوان ور رسیدی، خپله صفا صاحب یو اخلاقی متین او پاك طینت شخصیت ؤ د سیاست په نسبت یی د علم، کمال، فلسفی او اجتماعی چارو د په سر رسولو سره علاقمندی درلوده، پر آشنایی ټینګ، وفادار او قانع سړی ؤ، محمد ابراهیم صفا د مطلق العنانی او استبداد سره د علاقی نه لرلو او د کورنی د ځینو غړو سره د علاقی نه شلولو په گناه د کال ۱۳۱۲ څخه تر ۱۳۲۵ پوری د کابل په دهمزنګ کی بندی ؤ، د عمومی عفو د اعلان په خپریدلو سره له بنده خوشی سو، او د عبدالمجید زابلی په بلنه د اقتصاد په وزارت کی د انګلیسی ژبی د ترجمان، مدیر د انطباعاتو د عمومی مدیر، د تجارت د اطاقونو د عمومی مدیریت او د تجارت د اطاقونو د ریاست تر عهدی ورسید.

دی په کال ۱۳۳۲ ش کی د اصلاح د ورځپانی د مدیر په حیث وټاکل سو.

د ده آثار په دری، انګلیسی، عربی ژبو کی زیات خپاره سوی، څرنګ چې یی په بند کی د ډیر جسمی او روحی فشارونه لیدلی او تولی قواوی یی مضمحلی سوی وی نو په خپله خوښه یی تقاعد واخست او په کال ۱۳٤۸ کی د ۸۲ کالو په عمر په کابل کی وفات سو.

د ده د فلسفی او منطقی آثارو څخه د هیواد په پوهنتونو، اکاډیمیو او عالی ښوونځیو کی استفاده کیږی د اشعارو یوه رساله یی د (نوای کهسار) په نامه خپره سوی چې د زبان لاله تر عنوان لاندی یی یوه نمونه خپریږی:

www.sikaram.com

من لاله آزادم خـــود رویم و خـــود بویم
در دشت مـکـان دارم هـم فـطـرت آهـویم
آبم نم باران است فـــارغ ز لب جـــویم
تنگ است مـحـیط آنجـا در باغ نمی رویم
از خون رنگ خویش است گر رنگ سرخ دارم
مـشـاط نمی خـواهد زیبـای رخـسـارم
بر سـاقـه خـود ثابت فـارغ ز مـددگـارم
نی در طلب یارم نی در غم اغـیـارم
من لاله آزادم، خـــود رویم و خـــود بویم

هر صبح نسیم آمـد بر قـصـد طواف من
آهو برگـــانـرا چشم از دیدن من روشن
سـوزنده چراغـسـتم در گـوشـهء این دامن
پروانه بسی دارم سـرگـشـتـه به پیـراهن
من لاله آزادم خـــود رویم و خـــود بویم

از جلوه سـبـز و سـرخ طرح چمنی ریزم
گـشـتـه است ختن صـحـرا از بوی دل آویزم
خم مـیـشـود از مـستی هر لحظه ولی خـیـزم
سـر تا به قـدم نازم یا تا به سـر انگیـزم
من لاله آزادم، خـــود رویم و خـــود بویم

جـوش می مـسـتی بین در چهـره گلگونم
داغـست نشـان عـشق در سـینه پرخـونم
آزاده و سـرمـسـتم خـو کـرده بهـامـونم
رانده است جنون عـشق از شـهـر به افـسـونم
من لالهء آزادم خـــود رویم و خـــود بویم

از سـعی کـسی منت بر خـود نه پزیرم من
قـیـد چمن و گلشن بر خـویش نه گـیـرم من

www.sikaram.com

بر فطرت خود نازم وارسته ضمیرم من
آزاده بیرون آیم، آزاده بمیرم من
من لاله، آزادم خود رویم و خود بویم

عبدالغفار سرحد دار

دی په اصل د لوی کندهار د شاه جوی د توخو څخه و چې نیکونه یی د سیاسی فعالیتونو او حکمرانانو سره د مخالفت په جرم د کابل ده بوری ته را فرار سوی او تر زیات وخت پوری یی تر نظارت او مراقبت لاندی ژوند کاؤ. ده خپل لومړنی تحصیلات د کورنی د غړو څخه په سر رسولی او بیا یی حربی بنوونځی لوستی او د اردو په څانګو کی په خدمت لګیا سوی دی. دی د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروګرامونو وفادار ملګری، د مطلقیت د تعدیلولو او قانونی حکومت د راوستلو په لار کی یی ډیری هلی ځلی کړی فشارونه او تکلیفونه یی لیدلی ؤ.

عبدالغفار سرحد دار په ۱۳۱۲ هـ.ش کال د جوانان افغان د ځینو نورو ملګرو سره د انګلیس پر سفارت باندی د حملی کولو په تور بندی او تر ۱۳۲۵ پوری په بند کی پاته سو. د خوشی کیدلو وروسته دی د څه مودی د پاره د هوټلونو د مدیر او بیا د کندهار د ډند او ځینو نورو حکومتونو د ولسوال په حیث وټاکل سو. څو د کبرسن له کبله تقاعد ته سوق سو دی ډیر ډودی مار، بزله ګو، او با شهامته افغان ؤ، ډیر سیاسی او اصلاحی نزاکتونه یی په خپلو خوږو او مؤدبانه الفاظو داسی تفسیرول چې د لږ عکس العمل سره مخامخ کیدی. د عمر په اخیر کی د دی سره چې په سترګو یی ښه نه لیده او غوږونو یی په مشکل کار کاؤ خو روشنفکرانو او وطندوستانو دی تنها نه پریښود او سیاسی خاطرات به یی ځنی نوټول دی په کال ۱۳۷۱ هـ.ش د کابل د خپل نوی ښار په کور کی وفات سو.

احمد راتب

احمد راتب د عبدالباقی بارګزی شاغاسی زوی ؤ چې په (۱۲۳۱) کال کی په کندهار کی زیږیدلی او د مور له خوا د سردار غلام محمد طرزی د لمسیانو څخه ګڼل کیدی. راتب صاحب خپله زده کړه د کورنی د منورو غړو مخصوص پلار څخه په سر رسولی، د ادبی علومو او اجتماعی

www.sikaram.com

مسایلو په څیړنه کی یی ځانته نظر او فکر درلود هغه وخت چې پلار یی په مشهد کی افغانی کونسل ؤ احمد ورسره ملګری ؤ، ده د ایران د مشهورو لیکوالو او ملی مبارزینو سره ناسته او ولاړه درلوده، اعلیحضرت امان الله د احمد راتب افکار او سیاسی نظریاتو ته د قدر په سترګه کتل د همدغه کبله یی د (نسیم سحر) د جریدی د خپرولو اجازه ورکړی وه څرنګه چې په هغه وخت کی افغانستان د ارتجاع او امپریالزم تر شدیدو ضربو لاندی ؤ پر روشنفکرانو او تجدد خواهانو ډول ډول ناروا تورونه لګیدل نو احمد راتب هم خپلو خپرونو ته تر دی زیات دوام نه سو ورکولای، د ځانی او مالی مشکلاتو سره مخامخ ؤ چې په نتیجه کی د اعلیحضرت امان الله حکومت هم ړنګ سو.

احمد راتب د خادم دین رسول الله حبیب الله د حکومت په دور کی د تجدد خواهی او ګمراهی په ګناه بندی سو دځه وخت بند تیرولو وروسته هند ته تښتیدلی، د اعلیحضرت محمد نادرشاه د پاچاهی په دور کی په دی هیله چې بیرته به په وطن کی د تجدد خواهی او ترقی دور شروع شی کابل ته راغی څرنګه چې د هغه د حکومت د سیاسی او فرهنګی کړنلاری سره یی موافقت نه سو ورکولای لومړی ځل بندی او وروسته ایران ته تبعید سو. احمد راتب په ایران کی په ډیری خواری او بیوزلی ژوند تیراوه، څرنګه چې یی انقلابی افکارو د مطلقیت سره سخت مخالفت درلود او د ویری چا ځان نه سو ورنژدی کولای خو په زیاته ناروغی او لوړی په کال ۱۳۱٤ هـ.ش کی وفات سو او په تهران کی خاورو ته وسپارل سو.

د احمد راتب یو زوی د راتبزاد او یوه لوریی د (اناهیتا راتبزاد) په نامه د خلقو دموکراتیک ګوند د پرچم د څانګی فعاله غړی او د ښځو د دموکراتیک سازمان د موسسینو مشره وه زیات شهرت لری.

احمد راتب د (نسیم سحر) اوه نیزه جریده په خپله شخصی پانګه، امتیاز او مسول مدیریت په دوو مخونو کی په دیارلسم نیم په اته نیم انچه قطع په حروفی چاپ د افغان په مطبعه کی د ۱۳۰٦ هـ.ش کال د دلو دوهمه د جمعی په ورځ د جنوری په اوه ویشتمه ۱۹۳۸ کال کی په کابل کی خپره کړه، راتب صاحب په خپله لومړنی سرمقاله کی په وطن کی د ورځپاڼی چلولو لانجو، خپلی بی وسیله ګیو او بی مایګی، مشکلاتو او شخصی مخالفتونو ته ګوته نیولی، خو د دی سره

www.sikaram.com

هغه عشق او علاقمندی چې دی یی د وطن د ترقی او وطنوالو د نیکمرغی د پاره لری، د یوی خپرونی په واسطه غواړی چې د افغانستان په دغه اصلاحی پروګرام او تجدد په دور کی خپله وطنپرستانه دنده په عملی توګه واخلی او په دی لاز کی هر مشکل په ورین تندی ومنی. که څه هم نسیم سحر لومړی ځل د یوی ادبی جریدی حیثیت درلود خو د نورو معلوماتی او ورځنی مضامینو د خپرولو په هکله لیکی: (... د تنوع په غرض ناچار دی چې ځینی نوری مسالی هم خپری کړی، د دی جریدی د متن څخه یوازی پنځلس ګنې چاپ سوی او داسی څرګندیږی چې په خپلو خپرونو کی یی غالباً دوه هدفونه په نظر کی درلودل، یو تشویقی او بل تقنینی په ادبی موضوعاتو کی یی هم هغه مطالب خپرول چې د ورځنی ژوند د جریاناتو سره یی تماس درلود، او کله یی انتقادونه د طنز په لهجه خپرول د نسیم سحر نشراتی کړنلاره وروسته ډیره بریالی سوه او زیات لوستونکی او طرفداران یی ومونډل چنانچه په خپله اوه مه ګڼه کی د (انعکاس مدنیت) اروپا تر عنوان لاندی یی داسی مهیجه د اجتماعی اصلاحاتو ډکه مقاله خپره کړه چې تر پنځلسو ګنو پوری یی مسلسل دوام وکړ، دغی مقالې تول ظالمان او رشوتخوران په تنګ کړه او د نسیم سحر د مصادری له پاره یی په دسیسو شروع وکړه د همدغه کبله نسیم سحر مصادره او خپله دی محاکمی ته راوستل سو لکه چې لیکی:

(... امروز احتیاجات مادی و معنوی ما زیادتر است تا تماشای تیاتر و تا وقتی به تکمیل و اصلاح آن موفق نه شویم، از تماشای تیاتر فایده برای ما متصور نیست، و هم رفتن و تماشای برده های دلفریب و درامه های شیرین تیاتر و حتی به حال ما مفید است که دیدن ما برای عبرت و رفع نواقص اخلاق باشد. نه محض خندیدن و پول خرچ کردن دور نه رویم... حالت تاسف آور سینمای مرکز را تماشا کنید، که حقیقت ما په خجالت است، و دسته، دسته خانم های محترمه وقتی وارد میشوند، با چه حالت تند و صدا های عجیب در لوژ ها قرار گرفته و متصل خنده های سرشار آنها در فضای محدود سینما منعکس میشود و بعضی اوقات به اندازه میرسد که نزدیك است خود را به لوژ آقایون پرت کنند... همینکه از خارج وارد شدیم زمین و اسمان را باید تنقید کنیم، و اول دستی که برای کار دراز کنیم و با نام (اصلاح) شروع و اقدام نماییم همانا تمام فامیل اناثیه خود را جمع کرده و گیسوان هر یك را به نام سعادت با مقراض مدنیت قطع مینماییم! فاعتبرو یا اولی الابصار).

www.sikaram.com

ما به هیچ صورت مخالف با تمدن حقیقی نیستیم و این انتقاد ما بر حقیقت تمدن نیست، شکی نیست که تمدن اروپا با تمام محسنات که دارد دارای مفاسد و معایب هم است... (اما) معایب و مفاسد تمدن زودتر در مملکت ما سرایت کرده... و در صورتیکه هیچ نداریم باز باید از حیث لباس و خوراك در ردیف اول دنیا خود را برسانیم، در تمام مملکت ما یکدانه سوزن که تمام احتیاجات ما را تکمیل کند ساخته نمیشود ولی باید لباس ما کم از اروپا نه باشد...) (۱)

اسمار سمیه

اسمار سمیه (بی بی عربی) د شیخ محمد صالح دمشق الاصل لور د طرزی محمود وهمه ماینه وه، چې په کال ۱۹۸۱ کی یی په دمشق کی واده کړی وه، اسماد خپل بزرګوار او منور پلار شیخ محمد صالح د اخلاقو او تفکر په طرز روزل شوی وه هغه وخت چې دی د طرزی محمود سره واده وکړ خپله طرزی هم د داسی افکارو او د ښځو د ښوونی او روزنی سره علاقمندی درلوده، طرزی صاحب چې د وطن د بیلوالی څخه وروسته کابل ته راغی او سراج الاخبار یی تاسیس کړ دایی هم د افغانی ښځو د تنویرولو او مطبوعاتی خدمت کولو دپاره وهڅول څو د ارشاد النسوان د جریدی په خپرولو بریالي سوه.

دا د کابل د مستوراتو لومړی مدیره وه، چې په عربی، ترکی او فرانسوی ښه پوهیده، او د شعرونو یوه ناچاپه رساله یی په عربی ژبه د عبدالوهاب طرزی په کتابخانه کی موجوده وه. د خادم دین رسول الله په عهد کی دا د طرزی محمود سره یوځای په دیارلس سوه اوم کال د وطن په پرینښودلو مجبوره سوه او ترکیی ته ولاړه. دا د طرزی محمود د وفات دیارلس کاله وروسته په ۱۳۲٤= ۱۹٤٥ کی د نیم بدن د فلجیدلو په ناروغی وفات سوه.

ارشاد النسوان یوه اوه نیزه جریده وه چې لومړی ځل په لس × پنځلس انچه قطع او وروسته په یوولس × نولس انچه قطع په اتو مخونو کی چې هر مخ یی دری ستونه درلودل د ۱۳۰۰ کال د حمل په یوولسمه د پنجشنبی په ورځ د (ا-ر) یعنی اسمار سمیه په مدیریت او د (ر-ا) یعنی روح

۱- نسیم سحر (جریده)، سال اول، شماره نه، صفحه ۵۲، هشت حمل ۱۳۰٦.

www.sikaram.com

افزا په سر محرری د کابل د ده افغانانو په گردانسرای کی په دری خپره سوه[۱].

لکه چې د نامه څخه یی ښکاری دغی جریدی د هیواد د ښځو د کورنی او د باندنی ژوندانه د چارو د تنظیمولو، عالی اخلاقو او معرفت حاصلولو، د نړی د ښځو د حال او احوال څخه د خپریدلو او نارینه ؤ سره د ژوندانه په چارو کی د فعالی برخی اخستلو او د ښځو د حقوقو د پیژندلو په لار کی گټوری خپرونی کولی، او د خپلو ویونکو د پاره یی په زړه پوری ادبی پارچی او ویښونکی مضامین خپرول، د دی سره چې په هغه وخت کی د ښځو لیک او لوست په ابتدایی مرحله کی ؤ خو بیا هم دغه جریده د هیواد روشنفکرانو په تولنه کی لاس پر لاس گرځیده او زیات علاقمندان یی موندلی وه.

سید اسمعیل بلخی

سید اسماعیل بلخی په کال (۱۲۹۹) هـ.ش کی د سنگچارک د بلخاب په کلی کی چې د جوزجان په ایالت پوری اړه لری، د مشهور روحانی سید محمد په کور کی زیږیدلی ؤ. وایی چې د دغی کورنی نیکونه د میر سید علی شاه همدانی د اولادی څخه دی چې د کورگانی امیر تیمور د پاچاهی په وخت کی د (ختلان) د کولاب څخه شمالی افغانستان ته راغلی او همغلته یی د وحدت ارشاد او تبلیغ ډیوه بله ساتلی وه.

افغانی پاچاهانو لکه سلطان شهاب الدین (۷۸۵- ۸۵۵) او سلطان قطب الدین (۷۹۵- ۷۷۵) په هند کی د ده تبلیغاتو ته موقع ورکړی وه، اسلامی ثقافت او تهذیب ته یی زیات خدمت وکړ، چې خانقاهوی یی تر اوسه په هند او پاکستان کی موجودی، دی.

سید اسمعیل بلخی خپل لومړنی تحصیلات د کورنی د غړو څخه په سر رسولی او د هغی علاقمندی له کبله چې د ادبیاتو او شعرونو سره یی درلوده، ډیر نغز شعرونه، قصاید، منظوم او منثور آثار یی په یاد وو او په ادبی او علمی محافلو کی به یی استناد په کاؤ.

سید اسمعیل بلخی په کال ۱۳۱۲ هـ.ش کی د خپل پلار سره هرات ته ولاړ او د څه وخت تیرولو وروسته د هغه ښار څخه د بیت الله شریفی زیارت او د عتبات عالیه آستان ته ورسید او له

۱- رضا مایل هروی، معرفی روزنامه ها و مجله های افغانستان در خارج، کابل ۱۳۶۱.

www.sikaram.com

دغه ځای څخه مشهد ته ولاړ او زوی یی اسمعیل د اتم امام د روضی په دارالعلوم کی شامل کړ ده په هغه دارالعلوم کی عقلی او نقلی علوم بشپړ کړه، او هلته یی د خمینی د زوی سید مصطفی خمینی او سید موسی صدر سره له نژدی پیژندگلوی حاصله کړه، شام، مصر، عراق، حجاز ته یی سفرونه وکړه او د هغه ځای د علماؤ او مشاهیرو سره یی د اسلامی وحدت او ارشاد پر موضوعاتو مجلسونه جوړ کړه او د ناطق الاسلام په لقب وویاړل سو.

بلخی صاحب د دغه سفر څخه په کال ۱۳۲۵ کی بیرته هیواد ته راغی او په هرات کی یی یوه اسلامی مجتمع جوړه کړه چې په هغی کی سید محمد حیدر غزنوی، محمد بشیر هروی، الحاج عبدالغفار، ملاحسین منجم باشی شامل وو، ده په کال ۱۳۲۷ هـ.ش کی په مزار شریف او کابل کی په وعظ او ارشاد شروع وکړه، د وحدت او ورور گلوی په هکله یی په تکیه خانو او عمومی مجامعو کی کنفرانسونه ایراد کړه او په خپلو خطابو کی یی د ظلم، تبعیضاتو او بی عدالتیو څخه شکایتونه وکړه، د خلکو احساسات او ملی جذبات یی د مسلط شاهی رژیم په مخالفت را وپارول، ده د خپلی مجمع نوم د حزب ارشاد په نامه واړاوه چې په هغی کی سید علی گوهر غوربندی، خواجه محمد نعیم قوماندان، محمد اسلم سیغانی، عبدالطیف سرباز چنداولی، رجب علی چنداولی، داکتر اسدالله رؤفی، محمد ابراهیم گاوسوار، عبدالغیاث کندک مشر، خدای نظر ترجمان مزاری، محمد حیدر کندک مشر غزنوی، محمد حسن لوا مشر او نور شامل وو.

سید اسمعیل په کال ۱۳۲۷ هـ.ش کی د خپل یو شمیر ملگرو او پیروانو لکه: خواجه محمد نعیم قوماندان، میر علی گوهر غوربندی، محمد اسلم جغتووال، محمد ابراهیم گاوسوار سره د کودتا کولو په اتهام ونیول سول. او په ۱٤ کاله یعنی حبس دوام بند محکوم سول.

اروابناد سید قاسم رشتیا د خپل خاطرات سیاسی په ۲۱۰ صفحه کی لیکی: (... **خواجه محمد نعیم قوماندان سابق امنیه و همکاران نزدیکش منجمله سید علی گوهر غوربندی و محمد ابراهیم مشهور به گاوسوار. هزاره از طرف هیئت محکوم به اعدام گردیدند اما از جانب شاه اعدام آنها به حبس دوام تعدیل شده بود...**).

سید اسمعیل بلخی د حبس څخه د خوشی کیدلو وروسته یوځل بیا د ایران او عراق د علمی موسساتو او مشاهیرو د لیدلو او تبلیغاتی محافلو د دائرولو په منظور هغو هیوادونو ته سفر

www.sikaram.com

وکړ چنانچه یوه علمی حوزه د ده د ورتلو په مناسبت دغه اعلامیه خپروی:

بسمه تعالی:

مژده به عموم مؤمنین و طلاب حوزه علمی!

مجلس وعظ و ارشادی از شب ۱٤ محرم در جریده (حسینیه سجاد) ع برگزار است، از عموم طبقات و طلاب حوزه علمی امیدوارم که از سخنان محققانه و بامغز و نغز خطیب توانا، نابغه شرق، سید جمال الدین ثانی جناب آقای سید محمد اسمعیل بلخی افغانی استفاده کامل کنند، چنانکه از مراحم حضرت باری جل شانه امیدواریم که بر میمنت اثر وجود جناب معظم له حسینیه سجاد ع را از سرنوشت اخیرش زودتر کامیاب سازد.

(چاپ خانه حیدری عراق)

د بنده څخه د را خوشیدلو له جریاناتو څخه داسی څرګندیږی چې بلخی صاحب یو سیاسی مرام او جوړ کړی تشکیلات نه درلودل، بلکه حرکت او نهضت یی د یو شمیر ملګرو د شخصی عقدو، دموکراسی افکارو سره د رشد او نابلدی او غلط فهمی نمایندګی کوله سید اسمعیل بلخی د ژوندانه په وروستی مرحله کی د هیواد دیو شمیر روشنفکرانو، ادیبانو مخصوص درباری غړو په زیاته بیا د ظاهرشاه پاچا سره د دوستی او شناخت روابط ساتل او د پاچا حضور ته د رسیدو خبر به یی په کابل رادیو کی خپریدی.

سید صاحب د هیواد د مشهورو عرفانی، تصوفی، اجتماعی او اصلاحی شاعرانو او مبلغینو څخه شمیرل کیږی، دی په خپل یو شعر کی د ملی وحدت د مزیتونو په بیانولو کی وایی:

مینګرم

چه ابتلاست که در هر بلاد مینګرم — نزاع مذهب و جنګ نژاد مینګرم
نوای عدل به هر نای لیك وقت عمل — خلاف مصلحت عدل و داد مینګرم
به نام صلح به اسباب جنګ میکوشند — ز بهر تفرقه در اتحاد مینګرم
مګر نه جمله ز یك نسل پاك بابائیم — سرا به محنت خود از چه شاد مینګرم
به عیب خود نه کشودیم چشم دل هرګز — به عیب جامعه در انتقاد مینګرم
بروی سفره نعمت به دور هم جمعیم — برای لقمه ربودن عناد مینګریم

www.sikaram.com

زد هرو میکده آزاد باش می شنوم چه کشمکش ز بی انقیاد مینگرم
بهانه چند نماییم به بیسوادی خلق تمام مفسده از باسواد مینگرم
بیا، بیا همه اعضای یك بدن باشیم امور جمله به وفق مراد مینگرم
به زعم شیخ اگر وحدتی پدید آریم متاع شیعه و سنی کساد مینگرم
میان ما و تو صد درد مشترك باقی است ترا به خود ز چه بی اعتماد مینگرم
دل شکسته مظلوم (بلخیا) به کف آر بنای ظلم سراسر به یاد مینگرم

عازم شهادتیم

این دم که یار، قاتل جان فگار ما است مژگان خدنگ کرده و در فکر کار ما است
سعی کند، به کشتن ما، هر که یار ما است ما عاشقیم کشته شدن افتخار ما است
شمشیر تیز عشق ز سنگ مزار ما است
زاهد به صبحدم، پس آزار میبرد مطرب مرا به خانه خمار میبرد
عشق آخرم، به حلقهء ابرار میبرد ما را کشیده یار، سوی دار میبرد
ساقی بیار باه، دم گیرو دار ما است
ای دل بیا و عزم سفر، سوی یار کن جان در رهش نثار کن و افتخار کن
بلخی زره وجود تو کامل عیار کن حافظ حجاب این تن خاکی کنار کن
جانان بغل کشوده و در انتظار ما است

د هیواد مشهور متفکر او نومیالی شاعر علی اصغر بشیر هروی د سید اسمعیل بلخی په پیژندنه کی داسی وایی: (... مرحوم سید اسمعیل بلخی عالمی بود که علمش با عمل همراه بود، دانشمندی بود که درد ملت را به خوبی تشخیص داده بود، و میدانست که یگانه داروی این درد وحدت ملی است او میگفت همه ما مسلمانیم، اختلاف فرعی شیعه و سنی نمیتواند و نه باید در ارکان اسلامیت ما تزلزل وارد آورد، او میگفت همه ما افغانیم، پشتون، تاجك، هزاره، ازبك و سید بودن و تفاوتهاییکه از رهگذر هیافه یا زبان در میان اقوام و طوایف مختلف کشور وجود دارد و شایسته نیست که وجود و واجبات افغانیت را به یکدسته اشخاص بدهد، یا از یك دسته سلب کند...).

اختلاف وضع بیدل در لباس افتاده است
ورنه یك رنگ است خون در پیکر طاؤس و زاغ

www.sikaram.com

سید اسمعیل بلخی په کال ۱۳۴۷ هـ.ش د سرطان په ۲۳ د کابل په افشارو کی د وینی د فشار په ناروغی وفات سو او د افشارو په هدیره کی خاوروته وسپارل سو.

ماما واحد

دی د کندهار د ویښو، عدالت خواهو روشنفکره ملی مبارزینو څخه ؤ چې په کال ۱۲۸۵ کی د کندهار د اوسنی دوهمی ناحیی په یوی متوسطی، متقی او با شعایره کورنی کی زیږیدلی ؤ، پلاریی فقیر محمد نومیده چې د لیکنی، تدریس او ملی ارشاد له مخی خپل مایحتاج رفع کول، د حرام خوری، ظلم، استبداد او عیاشی څخه یی ډیر بد وړل د همدغه کبله یی د خپلی کورنی ټول غړی په داسی ملی او اجتماعی اوصافو روزلی و ماما واحد خپل لومړنی تحصیلات د پلار او کندهار د روشنفکرانو د محضر څخه په سر رسول او دی ته زیات تشویق سو چې د نورو او عصری علومو د زده کړی له پاره د افغانستان مرکز کابل ته ولاړ سی او د هغو په سفارش د کابل په حربی ښوونځی کی داخل سی.

ماما د هغه ښوونځی څخه د عالی شهاد تنامی په لاس راوړلو وروسته شوروی اتحاد ته د حربی تخنیک د زده کړی له پاره و استول سو، د نظری او عملی تحصیلاتو وروسته وطن ته راغی او په حربی ښوونځی کی د استاد او تخنیک پوه په حیث مقرر سو ماما واحد طبیعتاً هوښیار، زیرک، په کار پوه، مهربان د مظلومانو او بیوزلانو سره د مرستی طرفدار ؤ او څرنګه چې یی د خلکو سره عمومی خوا خوږی او د مرستی رسولو روحیی درلوده نو هر چا د خپل ماما او مشر په توګه ورته کتل او په همدغه نامه مشهور سو. ماما واحد د اعلیحضرت امان الله د اصلاحی پروګرامونو د تطبیق جدی طرفدار ؤ. د ۱۳۱۱ کال د میزان د شلمی د غرمی د ۱۲ بجو د هغی مظاهری په تور چې د حربی ښوونځی شاګردانو او ځینی استادانو له خوا د ارتجاعی تعلیمی نصاب په مخالفت جوړ کړی ؤ بندی شو او د بند څخه د خوشی کیدلو وروسته د افغانستان او شوروی اتحاد د بدخشان په سرحد کی د افغانی کمیسار په حیث مقرر سو څرنګه چې یی د مطلقیت او ارتجاع سره هیڅ روغه نه سوه کولای نو د شاه محمود سپهسالار په امر کابل ته راوغوښتل سو او په بند محکوم سو. د بند څخه د راوتلو وروسته یی تقاعد وکړ او څرنګه چې

www.sikaram.com

ماهر تخنیک پوه ؤ نو د اجیر په ځیر د جنګلک د فابریکی د فنی آمر په حیث مقرر سو، د سیلو او ځینو نورو فنی دستګاؤ د مشاور په حیث یی هم کار کاؤ.

ماما د خپل کار په دغه دوره کی د یر فنی او په انقلابی روحیی پوه کاریګران وروزل څو چې یی کار او زیار یی په وسه پوره ؤ ځان یی نه ځنی سپماوه د همدغه پشت کار او غیر صحی خوراک له کبله ناروغه سو او د ۱۳۵۱ هـ.ش کال په ژمی کی وفات سو.

مولوی خال محمد خسته

دی د ملا رستم زوی د عبدالرحیم لمسی ؤ چې په کال ۱۲۲۰ هـ.ق= ۱۲۸۰ هـ.ش کی د بخارا د ختلان د دهباز د کنګرت په کلی کی زیږیدلی ؤ، ده متداوله علوم؟ عربی صرف او نحو او خوش خطی د پلار څخه زده کړه او بیا مزار شریف ته راغی او قرآن عظیم یی حفظ کړ، د دغه ښار د استادانو څخه یی د فقه او عقایدو مبادی بیا ولوستل، دی په کال ۱۳٤۱ ق کال کی د زیاتو علمی تحصیلاتو له پاره هند ته ولاړ، او د هند په ځینو ښارونو کی یی د تحصیل په ضمن کی د نستعلیق لیک چې د پلار څخه زده کړی و د مشغینی عبدالغنی یاقوت رقم دهلوی څخه یی د نسخ او نستعلیق مفردات او مرکبات علما او عملاً زده کړه. خسته صاحب په کال ۱۳۵۵ کی د هند څخه بیرته مزار ته راغی او د اسدیه په مدرسه کی یی شپږ کاله تدریس وکړ، د دغی وظیفی وروسته په متوسط ښروونځی کی د دینیاتو او په ۱۳٦۳ کی د خواجه خیران په مدرسه کی په غیر رسمی توګه په تدریس وګمارل سو.

مولوی خسته د ۱۳۲۷ ش کال د حوت په میاشت کی د مزارشریف د خلکو له خوا څخه د ملی شورا د اوه می دوری د وکیل په حیث وټاکل سو او په دغه شورا کی تل د روشنفکرانو او وطندوستانو په صف کی ولاړ ؤ. د شورا د وکالت په سر رسولو وروسته په ۱۳۳۲ - ۱۳۳۵ کی د میوند په جاده کی د خسته کتابخانه او کتاب فروشی وپرانسته چې د کابل او هیواد زیاتو دانشمندانو او مفکرینو د راغونډیدلو مرکز وګرزیده.

مولوی خسته د نوی اساسی قانون ۱۳٤۳ په نافذیدلو سره په کال ۱۳٤٤ ش کی یوه اوه نیزه جریده د (وحدت) په نامه د دوشنبی د دلو په اوله نسبتاً کوچنی قطع په څلور مخونو او پنځو ستونو کی په خپل امتیاز او مسؤل مدیریت په دولتی مطبعی کی د چاپه راواستله، د دغی جریدی

www.sikaram.com

مالی تمویل او مرام د عبدالحمید مبارز، گل احمد فرید، غلام سخی حسابی، احمد ضیاء تخاری، د فارمسی د پوهنځی رئیس ډاکټر زمری، د فارمسی د پوهنځی غړی ډاکټر فضلی، پوهاند کرام الدین کاکړ، محمد محسن فرملی، د تجارت د اطاقونو د رئیس حاجی فقیر محمد خوشبین او نورو له خوا برابریدی. د دغه گروپ مشر تابه استاد خلیل الله خلیلی په غاړه ؤ، چې په محیط کی د مرتجع او فرصت طلب په نامه پیژندل کیدی، په همدغه نسبت یی د رشد او بریالیتوب زمینه مساعده نه وه.

د مولوی خال محمد خسته د وحدت د جریدی د کلیشی راسته خواته د ده دغه رباعیات د شعار په توگه چاپیدل:

حزر ز آتش که آتش خوشیتن زا — خورد چندانکه آخر خاك گردد
صبور آویز تا روح روان است — به راه معرفت چالاك گردد

د وحدت نشراتی مرام د ملی وحدت تینگول، د اجتماعی عدالت تامینول، د بیان او مطبوعاتو د آزادی رواجول. او دیوی سرمقالی عنوان یی دا ؤ:

(... فرهنگ ملی پایه محکم ایدیالوژی ما است). مشهور لیکوال یی: دهی نژاد، غلام نبی چکنور د مهمند دری وکیل، محمد علی چوپان، حبیب الله رفیع، گل پاچا الفت، خیری فاریابی، سید جان، حسین تخاری، داکتر خالدی، س زهدی، دکتور چپات و سار، جلال الدین بدری، پائیز حنفی، فروتن کابلی، سید اسمعیل بلخی او نورو.

د مولوی خسته دغه شعر د وحدت مرام تفسیر وی:

باز خواهم از نوای تازه یی — بزم وحدت زادهم شیرازه یی
نغمه سازم نمی تابد دوی — نیست از صوتم من تو تویی
صورت وحدت چو طور ایمن است — صلح کل از معنی او روشن است
وحدت ما وحدت افغانی است — رونما یی هستی انسانی است
ملت افغان درین دور بشر — در حیات مشترك واحد ثمر
منزلی او در کجا در آسیاست — هم به قلب آسیا بگرفته جاست[1]

* * *

۱- وحدت، ۱۱ دلو ۱۳٤٤، سال اول شماره اول.

www.sikaram.com

اگر پشتون اگر تاجك، اگر ترك چمن زادیم و از یك شاخساریم
ندارد رنگ ما، جز بوی وحدت كه ما پروردهء یك نوبهاریم

مولوی خسته د بی عدالتی او اجتماعی بی پروایی د غندنی په هکله په تغزلی او ادبی پیرایه داسی وایی:

آنکه او را نظر لطف، سوی من باقی است
به رهش تاب و توان باختم و تن باقی است
حرف در انجمن دهر ز حق و باطل
گفته شد آنچه ببایست شنیدن باقی است
یاد آن صید که صیاد کشیدش بر سیخ
به رهش دیده به راهی به نشیمن باقی است
محنتی سایه عیش است که من میدانم
مفت دهقان اگرش خاکه، ز خرمن باقی است
ترك دنیا نتوان گفت به کلی هرگز
که درین رشته مسیحا سر سوزن باقی است
حق به صد حجت و برهان نکند عرض وجود
تا به ارباب ستم گر رگ گردن باقی است

د مولوی خسته د خولی څخه روایت دی چې ویلی وه: (... زما پلار مرحوم ملا رستم په اصل کی د پنجشیر د شتل د کلی اوسیدونکی ؤ چې د سردار محمد اسحق د امیر عبدالرحمن خان د اکا د زوی د منشی توب عهده یی لرله، او کله چې هغه د امیر عبدالرحمن خان څخه ماته وخوړه د هغه سره یوځای ماوراءالنهر ته مهاجر سو.).

مولوی خسته د استاد خلیل الله خلیلی د ګوند چې (جبهه ملی) ورته ویل کیدی او په ۱۳۴۳ کال کی جوړ سوی ؤ غړیتوب درلود د دغه ګوند د مرام په نامه یی د (وحدت) اخبار چلاوه استاد میر محمد صدیق فرهنګ په خپل اثر افغانستان در پنج قرن اخیر کی په دی هکله وایی:

(... در عین حال استاد خلیلی که در آنوقت وظیفه مشاوری شاه را به عهده داشت به تاسیس حزبی به نام (وحدت ملی) معروف به زرنگار دست زد، که مرام محافظه کار را با گرایش اسلامی داشت...).

www.sikaram.com

استاد سید قاسم رشتیا د خپل اثر (خاطرات سیاسی) په ۲۵۷ کی په دی هکله وایی:

(... اما متاسفانه این طرز تلقی غلط در آنوقت عده زیادی را تحت تاثیر خود قرار داده بود و شاید بر شخص شاه نیز با وصف روشن و وسعت نظری که دارد و نیز کلی بی تاثیر نمانده باشد متاسفانه در جمله کسانیکه با استاد در این تلقیات نادرست و حرکات ناروا و خلاف قانون و روی ظاهر جهت تقویت موقعیت شاه همنوایی داشتند اشخاص منوری داکتر عبدالظاهر، و تا اندازه (شاید نا خود آگاه) برادرش عبدالقیوم وزیر داخله و پوهاند محمد اصغر رئیس بلدیه کابل و به درجه پائین تر فرصت طلبانی مانند عبدالحمید مبارز شرکت داشتند و تا ختم انتخابات این موقف آنها دوام نموده اکثر این افراد به اصطلاح به ساز استاد می رقصیدند...) همچنان اعلیحضرت بعد از وقوف قضیه فرمودند (... به خلیلی گفته شده که ازین حرکات صرف نظر نمایند و به کار های که به او مربوط نیست تعلق نه گیرد، خدا انصاف بدهد من بسیار سعی کردم که تنها همان مقام شاعری او استادی خود را حفظ کند، و برای بلند بردن مقام او خانه و سامان شایسته یك شاعر نامدار و بزرگ تهیه گردید...).

څرنګه چې د ۱۳٤٤ کال په انتخاباتو کی یعنی د شورا په دوولسمه دوره کی د دغه ګوند زیاتو غړو د پاچا په نامه بریالیتوب وګټی او عامه خلکو د استاد خلیلی و سابقی ته د تردید او اشتباه په سترګه کتل نو حکومت د هغه د سیاسی فعالیتونو د بندولو په غرض سفارت یعنی خارج ته ولیږی.

مولوی خال محمد خسته د یو شمیر کتابونو خطاط، مؤلف او مصنف دی چې مشهوریی دا دی: دیوان خسته، نفخ صور، معاصرین سخنور، شعر منشور، اداب خط نستعلیق، کلمات حکمت آیات، شعرای قرن ۱۲ و ۱۳ خطاطان قرن ۱٦ الی ۱٤، دبیرستان بلخ، منتخب الزمان او نور.

مولوی خسته دیوی اوږدی ناروغی وروسته په کال ۱۳۵۱ د سنبلی په ۲٦ په داسی حال کی چې په ستر ګو روند او په تن زهیر ؤ او عمریی په سختی، محرومیتونو او بیوزلی تیرسوی ؤ، خو د متانت، اطمینان او قوی معنوی روحی درلودلو په برکت چاته د مرستی او احتیاج لاس ونه غزاوه وفات سو او د کابل په شهدای صالحینو کی خاورو ته وسپارل سو.

www.sikaram.com

خواجه محمد نعیم قوماندان

خواجه محمد نعیم د خواجه محمد سعید زوی د خواجه محمد صدیق لمسی د خواجه ناصر کروسی په کال ۱۲۹۰ ش د کابل د شمالی برخی په یوه کلی چې پای منار نومیږی او د ده سبز په ولسوالی مربوط دی زیږیدلی ؤ، د دغی کورنی زیاتره غړو د هیواد د آزادی او ملی نوامیسو ساتلو په لار کی تاریخی مجاهدی کړی چې د هغو څخه د افغان او انګلیس په لومړی شخړه کی د خواجه ناصر په مشری د یوی دستی ملی مجاهدینو فداکاری زیاتی مشهوری دی.

خواجه نعیم د هغه ښه قد او قواری، میړانی، وفا او ملی شعایرو درلودلو په نسبت د خپلو کلیوالو او دولت د جلب په اثر د حربی ښوونځی د متعلمی له پاره معرفی سو، د ښوونځی څخه د عالی درجی فارغ التحصیلی وروسته د هغه ښوونځی د قوماندان محمود سامی په معرفت د عامه فوایدو د وزارت د کار په قواؤ کی د بلوکمشر په حیث وټاکال سو.

په سقوی دوره کی یی د وظیفی د دوام څخه زړه تور سو، خو د سردار محمد هاشم د صدارت په دوره کی په صدارت کی د شفر د څانګی د سرکاتب او بیا د پولیسو د تعلیم ګاه د قوماندان او د ۱۳۲۰ - ۱۳۲۵ کلونو پوری د کابل د امنیتی قوماندان په حیث په کار لګیاؤ. دی د دولت او ملت د اعتمادی، پوهو متقی صاحبمنصبانو څخه شمیرل کیدی، څرنګه چې دی د وطن د مهمو سیاسی او اجتماعی چارو په اجراکولو کی د چا تر تاثیر لاندی نه راتلی، نو د وظیفی د اجرا په اثنا کی یی یو شمیر مخالفین او فرصت طلبان پیدا سول چې د دولت واکداران یی د هغه مطلق العنانی او کله شخی ته ملتفتول، د همدغو مخالفتونو له اثر څخه دی د مزار شریف د امنیی د قوماندان په حیث تبدیل سو، او په ضمن کی یی ورځنی اجراآت تر مراقبت او سانسور لاندی ونیول شوه، ده هلته په نیولی لاس د ۱۳۲۶ - ۱۳۲۸ پوری وظیفه اجرا کوله، څو په کال ۱۳۲۸ کی یی تقاعد وکړ او کابل ته راغی او د څلورمی کارتی په خپل کور کی په مطالعی او ریاضت او کله، کله د دوستانو او آشنایانو په لیدلو لګیا سو. که څه هم په دی وخت کی یوځل بیا ده ته په ملکی چارو کی لکه ضبط احوالاتو، قوانینو جوړولو کی د کار پیش کښ وسو، خو ده دا دول کارونه د خپل حیثیت او ملی منافعو څخه مغایر ګڼل نو د ناروغی او استراحت په بهانه یی څان د داسی وظیفو د اجرا څخه ساته، په دغه وخت کی د ده سره د وطن زیاتو روشنفکرانو او د ظلم او

www.sikaram.com

عداوت مخالفینو تماس درلود او دی یی د مطلقیت ضد تولنی غړیتوب نه هڅاوه، څو په کال ۱۳۲۹ هـ.ش کی د کودتا کولو په اتهام د خپلو نورو ملگرو سره ونیول سو او تر ۱۳٤۲ کال پوری په بند کی پاته سو د ۱۳٤۳ کال د اساسی قانون د نافذیدلو په اعلام چې تول سیاسی بندیان خوشی سول دی هم له بنده خلاص سو خو مفاهمه ورسره وسوه چې د دولت د اساسی اجراآتو په موقع کی په خندنه ایجادوی. خو بیا هم ده د ملی او اسلامی شعایرو د تطبیقولو او مطلق العنان حکومت د تعدیلولو د پاره مجاهده کوله، په دغه وخت کی د ده د کورنی ځینو غړو (زوری) تخلص اختیار کړ او وویل به یی چې مورږ د زوری یا سوری افغانانو څخه یو چې د کوچیانی ژوند په توگه د منځنی افغانستان څخه د کابل د ده سبز سیمو ته راغلی یو او د قوماندان صاحب مور خپله سهاکه افغانه وه د خواجه محمد نعیم قوماندان تول اولادونه د ډاکټری او انجنیری تر منزلت رسیدلی چې مشهور یی ډاکټر محمد رحیم او امین برین دی چې په آلمان کی اوسی. خواجه محمد نعیم قوماندان په کال ۱۳۵۸ کی په کابل کی وفات او په شهدای صالحینو کی خاورو ته وسپارل سو.

www.sikaram.com

د مطلقیت او استبداد سره د دریمی دوری د ځینو نومیالیو افغانانو ملی مبارزی

د اعلیحضرت امان الله د تجدد پسندی او جدی سیاسی، اجتماعی او اقتصادی اصلاحاتو د عملی کولو، د مطلقیت د مهارولو، د اساسی قانون د تطبیقولو اجرائی، تقنینی، قضائیه قواؤ د وظائفو د بیلولو، امپریالزم او ارتجاع د بنیادونو د کمزورولو، داخلی استبداد او خارجی استثمارچیانو او گټو د مخنیولو په نسبت چې د هغه د سلطنت چاری د بحران او نا آرامی سره مخامخ سوی او په نتیجه کی دی خلع سو او د نهو میاشتو دپاره په وطن کی ډول ډول نا آرامیو مخ راونیوی، څو د اغتشاشاتو د آرامولو او عمومی نظم راوستلو دپاره د محمد نادرشاه د پاچاهی له پاره زمینه مساعده سوه.

اعلیحضرت محمد نادرشاه د افغان ملت په ملی خصوصیاتو او قومی ژوندانه په اصولو او رمزونو تر نورو تولو پوه او مدبرؤ. او بی ملی مصلحته یی داسی سیاسی او فرهنگی قاطع عمل نه کاؤ چې ولس د ده د قیادت او رشادت څخه مخ واړوی او په وطن کی یوځل بیا اړو دور ایجاد سی.

محمد نادرشاه په زیات تامل او تدبیر د وطن د ترقی او نیکمرغی هغه اصلاحی چاری چې اعلیحضرت امان الله د هغو د جدی او قاطع تطبیقولو څخه پاته راغلی وو په کمال آرامی او خوښی په سر ورسولی.

شوروی اتحاد د اعلیحضرت محمد نادرشاه د سیاسی زیرکی، ملی غرور او قومی شهامت درلودلو د پالیسی څخه چې په ډیره عاملی او کفایت یی مخی ته بیولی دیر خار خور او هغه یی د خپل عیار او پوخ دښمن په څیر گانه، انگلیسانو هم د خپلی هندی متصرفي د امنیت ساتلو په هلو ځلو کی د ده د پاچاهی موجودیت غنیمت گانه او دا ورته محققه سوی وه چې هغه د روسیی تر

www.sikaram.com

دوستی د انگلیسانو دوستی ته ترجیح ورکوی او یو داسی افغان دی چې د لویدیځ مدنیت او شرقی استبداد د ځینو ناوړو اثراتو څخه خپل هیواد او وطنوال لیری ساتی. محمد نادرشاه په داخل کی د خپلی پاچاهی د دښمنانو د لیری کولو، بندی کولو او ورکولو، د عمومی امنیت راوستلو، د انگلیسانو او روسانو د بیکاره مداخلو د شنډولو او بین المللی اعتماد د حاصلولو وروسته د هیواد د بیلو چارو د پرمخبیولو د پاره قوی اقتصاد او پانگی لرلو ته سخت اړتیا درلوده نو د دغی اړتیا د رفع کولو له پاره عبدالمجید زابلی په آلمان کی د سردار محمد هاشم صدراعظم په شناخت چې پلار یی عبدالحکیم نومید او د زابل د سیمی څخه یی هرات ته کوچ کړی ؤ او هلته د داخلی او خارجی تجارت په پیشه لگیاؤ. عبدالمجید زابلی د ملی اقتصاد د چارو په سمون کی فعاله برخه وروسپارله سوه. عبدالمجید زابلی په افغانستان کی د سهامی شرکت، بانکونو جوړولو، د هیواد په بیلو سیمو کی د صنعتی او تخنیکی چارو په کار اچولو، روښانفکره ځوانانو د جلبولو، عامه رفاه، مرستیالو او پلانیزه موسسو په دائر ولو سره د ملی اقتصاد د پیاوړی کولو د پاره پوره کار وکړ او د سردار محمد داؤد په ملگرتیا یې د روشنفکرانو د سیاسي او اجتماعی ټولنو په جوړولو، ملی تمنیاتو ته د رسیدلو او د پښتونستان د داعیي د پیاوړی کولو او بریالی کیدلو په لار کی د قدر وړ گامونه واخستل. په دغه وخت کی چې په سیاسي او ملی چارو کی د وزیر محمد گل خان مهمند فعالیت د کمیت او کیفیت له مخی د هغه د وچ افغانی نشنلزم او ملی عنعنی د پاللو د نظریاتو د تطبیق له مخی د مشکلاتو او عوایقو سره مخامخ کیده او په ځینو مواردو کی یې د ترقی، صنعت، تخنیک او انکشاف په پرمختگ کی خنډونه ایجادول نو یو شمیر روشنفکرانو او ادیبانو د مترقی کړنلاری د غوره کولو او ورځنی اقتصادی مشکلاتو د رفع کولو د پاره و عبدالمجید زابلی ته د اقتصادی پلانو د پرمخبیولو په چارو کی د دوستی او همکاری لاس ورکړ.

طبیعی څوک چې په یوه هیواد کی سیاسی، اقتصادی او اجتماعی تحولات په جدی او اساسی توگه مخی ته بیایي د بیلو طبقو د منافعو سره تکر خوری. د همدغه کبله د ده پلانونه هم کله د ډول ډول عکس العملو موجب گرزیدل ځینی یې جدی طرفداران او ځینی یې آشتی ناپذیر مخالفین شول. میر محمد صدیق فرهنگ، میر غلام محمد غبار، عبدالحی عزیز، عبدالرحمن

www.sikaram.com

محمودی او داسی نورو د ده پر سیاسي او اقتصادی کار روانبو اعتراض کاوه او په ځینو مشخصو موضوعاتو لکه تجارتی انحصاراتو قائمولو او یو شمیر عناصرو ته د مالی امتیاز ورکولو په تور استیضاح او یا د جرایدو مقالو د ځواب ورکولو صحنی ته راجلباوه لکه چې د ملی شورا په اوومه دوره کی ډاکټر عبدالرحمن محمودی په خپله یوه بیانیه کی عبدالمجید زابلی د ملی شورا د استیضاح غونډی ته را غواړی او وایي: کله چې ده سهامی شرکت جوړ او بیا یي لغو کړ او په عوض کی یي ملی بانک تاسیس کړ، د حکومت د اسهامو او ولس نیم لکه افغانی یی چې د بیت المال پیسي ګنلی کیدی د ګټی سره صدراعظم ته وسپارلی او همداشانی دی د عبدالمجید زابلی څخه د هلمند او ارغنداو د غیر مثمری زراعتی پروژی په هکله چې د (موریسن او ګنوډیسن) امریکایي کمپنی سره یي لاس لیک کړی استیضاح وسی.

د سردار محمد داؤد او عبدالمجید زابلی د تینګی ملګرتیا او همفکری له مخی سردار محمد هاشم صدراعظم د (۱۹۴۳ - ۱۹۴٤م) د وزیرانو د مجلس د څو غونډو د تصویب په نتیجه کی دغه پیشنهاد د سرحدی قبایلو د ملی خوډ ارادیت په هکله د انګلستان حکومت ته وړاندی کړ:

۱ - د بریتانیه حکومت دی تعهد وکړی چې په هند کی د سیاسي موقف تر تغیر خوړلو پوری به په آزاد سرحد کی د حاکمیت د پراختیا اراده ونه لری.

۲ - د بریتانیه حکومت دی وعده وکړی چې د افغانی قبایلی سرحداتو د امنیت ساتلو د پاره دي د افغانستان د عسکری قواؤ له پاره نظامی تجهیزات او مالی مرسته ورکړی او په بلوچستان کی دی یو بندر وروسپارل سی.

۳ - افغانستان او بریتانیه دی تعهد وکړی چې په سرحدی قبایلو کی د امنیت، رفاه او مدنی انکشاف د راوستلو په مورد کی یو له بله همکاری او مفاهمی جاری وساتی.

٤ - د افغانستان او بریتانیه حکومتونه دی لس کلن او یا شل کلن دنه تجاوز کولو او همکاری کولو تړون لاس لیک کړی.

۵ - هغه وخت چې هند آزادیږی د افغانستان د لاسه وتلی مځکی دی بیرته ورکړه سی.

عبدالمجید زابلی په رسمی او ملی محفلونو کی د افغانستان هغه مځکی چې د مخلوع او ګوډاګی پاچا شاه شجاع او رنجت سنګه او هم مغلوب پاچا امیر محمد یعقوب خان او امیر

www.sikaram.com

عبدالرحمن خان په لاسلیک انگلیسانو ته ورکړه سوی وی او دایی غیر قانونی او شخصی تشبث گانه بیرته غوښتلی او ویل یې هغه وخت چې د انگلیس استعمار خپله سلطه د هند د مځکی د غصبولو څخه پای ته رسوی او هر ملت او هیواد ته خپل طبیعی او ملی حقوق سپاری د سرحدی افغانانو د آزادی او ملی خود ارادیت حقوق باید په نظر کی ونیسی.

سردار محمد داود او عبدالمجید زابلی په دوهم عمومی جنگ کی د جرمنی د سوقیاتو ځکه طرفداری کوله چې د خپلی خاوری تمامیت یې غوښت، افغانی تاریخی سیمو ته د آلمان د لښکرو د را رسیدلو په صورت دوی د خپلو مځکو د بیرته په لاس راوړلو له پاره تیاری نیوی. د ډیموکراتیک آلمان د خارجه وزارت یوه نشریه د دوهم عمومی جنگ په اثنا کی په دی هکله لیکی: (... عبدالمجید زابلی په دغه هکله د هټلری آلمان د سفیر او د دولت د اراکینو سره په مفاهمه لګیاؤ چې د یعقوب خان وزیر دربار، ډاکټر عبدالغنی د عمرانی کیسی د رئیس او داسی نورو په مرسته وطن ته بیرته د اعلیحضرت امان الله د راتګ ترتیبات ونیسی چې ملی قدرت په لاس کی واخلی او هغه د روشنفکرانو، وطنخواهانو او ملی عناصرو په ملګرتیا هغه اقتدار ته ورسوی چې خپلی ارثی مځکی او ملی حقوق په لاس راوړی...)

عبدالمجید زابلی د سردار محمد داؤد په حمایه د ډیموکراسی د راوستلو، روشنفکرانو او عدالت خواهانو، یو شمیر ملی، سیاسي او فرهنګی نهضتونو لکه ملی کلوب، د ویښو ځلمیانو، د پښتنو د ملی خود ارادیت، ملی نهضت او ترقی د ټولنو په جوړولو او پیاوړی کولو کی فعاله برخه درلوده. ده د (۱۳۴۳ش) کال د نوی اساسی قانون د تصویبیدلو په هلو ځلو کی د پښتو د ملی ژبی د رسمی کولو په لار کی د پوهاند صدیق الله رښتین، سناتور مولوی عبدالرب مجاهد زاده، معصومه عصمتی ورد ګ او نورو وطندوستانو په ملګرتیا د ولسی جرګی په ټولو جرګه ګیو او لویو جرګو کی په جدی توګه برخه اخسته د یو آزاد، مترقی او پرخپلو پښو ولاړ اقتصادی او فرهنګی افغانستان په جوړولو کی وهر ډول مالی او ځانی قربانیو ته آمادګی ښوده. عبدالمجید زابلی د خپل ټول مایملک او سرمایې لویه برخه په رسمی توګه په وقفو و بیت المال ته وبخښله چې احصائیه یې د افغانستان رادیو په خپرونو او اخبارونو کی خپره سوی ده.

www.sikaram.com

د (۱۳۴۳ ش) کال د نوی اساسی قانون د ځینو مادو د تطبیق لو په هلو ځلو کی چې په هیواد کی د انارشیزم ملی او سیاسي بحران بیره پیدا سوه، د عبدالمجید زابلی په ابتکار د سردار محمد نعیم په خوښه او د علی محمد خان د دربار وزیر او غلام محمد شیرزاد په مرسته د سردار محمد داؤد او پاچا د پخلا کیدلو د پاره جمیله مساعی شروع سوی، خو دغه مساعی د افغانستان د داخلی او خارجی غلیمانو په تړونګ د ناکامی سره مخامخ سوی او عبدالمجید زابلی هم داسی وفهمول سو چې په وطن کی تر دی زیات د ده اوسیدنه مصلحت نه دی او وطن پریښیدلو ته مجبور سو.

عبدالمجید زابلی د امریکی د متحده ایالاتو د بوستن په ښار کی په یوسل اته کلن عمر په داسی حالت کی اوسپدی چې حافظه او عمومی شعور یې د ډیری زړتیا له کبله د لاسه ورکړی ؤ او په خپل کور کی یی د یو نرسی ترطبی مراقبت لاندی شپی او ورځی تیرولی.

د امریکی ږغراډیو په کال (۱۳۷۷ ش) د پنجشنبی په ورځ د عقرب په شلمه، مطابق (۱۴۱۹ ق) د رجب المرجب په دوه ویشتمه، مطابق (۱۹۹۸ م) د نومبر په یوولسمه د امریکی د بوستن په ښار کی د ده وفات خبر خپور کړ.

د وصیت له مخی یې د خپلی دارایي دریمه برخه د افغانستان د معارفو د پراختیا د پاره بخښلی ده.

ښاغلی وحید مژده په خپل اثر «یاداشت های عبدالمجید زابلی» کی د ده د خولی په دی هکله لیکلی:

(بعد از آزادی کامل افغانستان و تاسیس حکومت آزاد ملی قراریکه توضیح شد «یعنی از طریق رأی آزاد و لویه جرگه رویکار شدن یك حکومت غیر کمونستی و آزاد از نفوذ روسیه» این ترست فند باید به ترتیب ذیل اداره و مورد استفاده، قرار داده شود:

فصل پنجم- اداره ترست فند در افغانستان: بعد از آن که هشتاد فیصد عواید سالانه ترست فند (که همیشه در بانك خارج میباشد غرض استفاده پوهنتون کابل به کابل

www.sikaram.com

انتقال می یابد یك هیئت نظارت ترست فند در داخل افغانستان از آن طبق این وصیت نامه وارسی خواهند کرد...)(۱).

کلوب ملی او د محصلینو اتحادیه

د دوهمی عمومی شخړی وروسته چې په ټوله نړۍ مخصوص آسیایي او افریقایي هیوادونو کې د آزادۍ غوښتونکو او ملی حکومتونو جوړولو مبارزو زور واخست، افغانستان هم د هغو د اثراتو څخه بې نصیب پاته نه سو او د خپلو یو شمیر وطندوستو مشرانو په لارښوونه یې د ډیموکراسی او اجتماعی عدالت د قائمولو د پاره په فداکاری او ملی مبارزو پیل وکړ (۱۳۲۵ ش).

په دغه وخت کی د پاچاهی کورنی ځینو غړو د خپلو اصلاحی افکارو او یا سیاسي وضع څخه په خپله گټه د کار اخستلو او خپل نظام د بقا په غرض د پخوانی مطلقه حکومت سستم په ظاهره رنگ کړ او د ډیموکراسی د اصولو په تطبیقولو سره یې د سپاه سالار شاه محمود خان په مشری د ډیموکراسی د (بابا) په نامه د ملی او قانونی حکومت د جوړولو له پاره په کار شروع وکړه. د سیاسي ټولنو د جوړولو سره حساسیت لږیدی د ملی اخبارونو د خپرولو له پاره یو په بل پسی اجازه ورکوله کیده. د ملی شورا، بناروالیو د آزادو وکیلانو د تاکلو او فرهنگی اتحادیو جوړولو زمینه مساعده سوه. په سوو سیاسي بندیان لکه عبدالعزیز (بابا جان)، عبدالهادی داوی، غلام سرور جویا، عبدالقیوم غفوری، محمد انور بسمل، محمد ابراهیم صفا، خلیل الله خلیلی او نور د دهمزنگ د محبس څخه را واستل سول. د دغه اقدام په نتیجه کی یو شمیر د مطلقیت سره مخالفو شخصیتونو لکه میر غلام محمد غبار، ډاکټر عبدالرحمن محمودی، محمد کریم نزیهی، گل پاچا الفت، عبدالحی حبیبی، نظر محمد نوا، سید محمد دهقان، عبدالاول قریشی او داسی نورو ملی شورا ته د راتلو لاره ومونده. دوی د لومړی ځل د پاره د حکومت په مقابل کی پارلمانی جبهه جوړه کړه او په (۱۳۲۸ش) کال د میزان په څوارلسمه یی پاچا ته دیو

۱- یاداشت های عبدالمجید زابلی، [illegible]

www.sikaram.com

دیموکراتیک حزب د جوړلو عریضه وړاندی کړه. د دغی پالیسي د عملی کولو له پاره دولت دوه تاکتیکه په کار واچول:

لومړی دا چې په کابینه کی باید په گروپیک شکل داسي تغیر راوړه سی چې د مشر تابه واک یې د لومړی گروپ د مشر سردار محمد داؤد په لاس کی وی او عبدالمجید زابلی د اقتصاد وزیر، علی محمد دروازی خارجه وزیر، فیض محمد ذکریا د معارفو وزیر د دوهم، دریم او څلورم سرگروپانو په څیر د ده سره د مرستیالانو په څیر کار وکړی او دیوه ملی ډیموکراتیک گوند (کلوب ملی) د جوړولو دپاره په کار لاس پوری سي.

مرحوم غلام سرور جویا په خپل یو ناچاپ سوی اثر (فجر دیموکراسي) کی (۱۳۲۹ش) په دی هکله داسي لیکی: (... اوایل بهار سال (۱۳۲۷ش) که به ناگاه در آسمان مرکز وطن عزیز ما افغانستان ابر کرامتی نمود، از گشته و فیاضانه بروی خفته گان عالم مایوسی که از سالها خواب آزادی و دموکراسی را میدیدند، ترشحاتی نثار نموده و چنان اراده و قراری اتخاذ فرمودند تا بلدیه شهر کابل ازین تاریخ به بعد به صورتی انتخابی تاسیس یافته و به طرز دموکراسی که تداول عصر کنونی در غالب نقاط دنیا است، اداره گردد. درین میان جوانان آزادیخواه و نویسندگان قلم بدست و توانا همه یکبار دیگر به هم نزدیك شده و در فکر اجتماعات و فراهم ساختن هم آهنگی ها بودند. متاسفانه چون حزب معینی در شهر ما موجود نه بود، به اصول متداوله دنیا انتخابات آزاد بلدیه ترتیب اثری داده نتوانستیم. لذا به اولین مرحله آقای غلام حسن ساپی به ایما و استشاره عبدالمجید زابلی وزیر اقتصاد ملی در کلوب بانك ملی جلسه منعقد و یکعده منورین شهری را دعوت کردند. مدعوین این مجلس عبارت بود از عده دوستانی که شهرت تجدد و نویسندگی داشته و یا به وی همکار و شناسا بودند و هم یك دسته از طلاب حساس فاکولته حقوق و علوم سیاسی و دیگر متعلمین بودند که به اجازه وزارت معارف بصورت داوطلبی آمادگی خدمت و مجاهدت شان را در راه انتخابات اظهار میداشتند. غرض از اجتماع همان مفکوره بود که ما چسان هر کدامی خود را در هرگذری به وکالت نامزد کرده و چطور به مرور ایام از اشخاص برجسته شهر نفر دیگری پیدا و بر عده خود به زمره داوطلبان وکالت بیفزاییم تا در آینده همکار یکدیگر باشیم و جوانان معارف چسان و به کدام طریق با افراد

www.sikaram.com

خوب همراهی کرده و به اشخاصیکه شائسته وکالت نیستند و از نفوذ شان کار میگیرند، مجادله و مخالفت نمایند. اگر چه مذاکرات ما تماماً مقدماتی بود ولی خوب به یاد دارم که به یك مراتبه یك قسمت از حضار محفل به اندازه زیر تاثیرات احساسات وطنپرستی و ملت دوستی آمدند که موضوع انتخابات از بین رفت لذا بعضی از رفقا محافظه کار شده و به هراس آنکه مبادا از گفتار خارج موضوع و تنقیدات بی مورد نسبت به حکومت در مقصود خود ناکام شوند بهتر دیدند مجلس را منحل و به عده دیگری موکول نمایند. انصافاً این نکته را باید اعتراف کنیم که آقای غلام حسن ساپی در حالیکه رئیس دیپوی تعاونی بود با یك عالم ذوق و شوق مفرطی که بسیار زود او را حالت توجه ساخت درین راه شروع به فعالیت نمود...).

د ملی کلوب د دفتر منشي پوهاند محمد اصغر د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځی رئیس او مهم غړی يي عبدالستار شالیزی او استاد خلیل الله خلیلی، شمس الدین مجروح او نور تاکل سوی وو. چې د مطبوعاتو د مستقل رئیس محمد قدیر تره کی د برطرفی پیشنهاد د نامطلوبی له کبله د دوی له خوا سوی ؤ.

مرحوم استاد میر محمد صدیق فرهنګ د ملی کلوب د تاسیس او اهدافو په هکله لیکی:

(... این نقشه در ظاهر به نام تقویه قوه اجرائیه صورت گرفت اما در واقع اقدامی بود برای انتقال صلاحیت شورا به حزب و رهبران آن و به طور مشخص خنثی ساختن اپوزیسیون پارلمانی بنابرین توجه بنیان گذاران حزب در مرحله نخست به وکلای مستقل و روشنفکر متوجه گردید و سعی کردند که با جلب و جذب آنان در حزب آزادی عمل را از ایشان بگیرند، اما وکلای روشنفکر این معنی را دریافت. علی الرغم فشار زیادی که بر ایشان وارد کردند از شرکت در آن امتناع ورزیدند و به اتفاق یکعده دیگر از روشنفکران مانند آقای برات علی تاج، عبدالحی عزیز، داکتر ابوبکر، داکتر قیوم رسول، غلام حیدر مختار زاده بر سبیل احتجاج مجلس را ترك گفتند. هرچند کلوب ملی پس ازین حادثه به کار خود دوام داد، عصر ها در عمارت غلام فاروق عثمان که برای این منظور به کرایه گرفته بود، مجالس صرف چای و قهوه دایر میکرد اما موقف آن نزد روشنفکران رنگ نه گرفت و سایر اعضا هم یکی بعد دیگر ترك گفتند، تا اینکه بر اثر برخوردی که بین عبدالمجید زابلی و شاه محمود خان صدراعظم در مجلس وزرا رخ داد، رئیس گروپ دوم

www.sikaram.com

یعنی گروپ اقتصادی عبدالمجید زابلی به دلیل اینکه رفقا به او همبستگی حزبی نشان ندادند، امداد مالیش را قطع کرد و کلوب ملی به خانه ارزانتر آقای محمد هاشم میوندوال نقل مکان کرد و چندی بعد به مرض فقر الدم جهان فانی را پدرود گفت...).

پوهاند محمد اصغر د دی سره چې د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځی د ریاست چاری یې اداره کولې، د ملی کلوب د منحلیدو څخه یې تر ډیره حده مخنیوی کاوه، خو بریالی نه سو.

د ملی کلوب د ډرنګیدلو بله وجه د سردارانو په منځ کی داخلی تضادونه، د سلیقی او د تفکر د طرز اختلاف ګڼل کیدی. د سردارانو یوی جدی او حساساتی ډلی غوښتنه چې د اقتدار د منحصرولو او د شاه محمود صدراعظم د پالیسي د ناکامولو په ارتباط یو شمیر وکیلان او باخبره عناصر د هغه په مخالفت را وپاروی او د اشعار تقویه کړی چې ولس د اجتماعی او سیاس شعور له مخی دغی درجی ته ندی رسیدلی چې د ډموکراسي د لاری خپل ملی حکومت قائم کړی، که دغه شانی ډموکراسی ته خاتمه ورنه کړه سي، په ولس کی بی نظمی پیښیږی چې د خپلی دغی داعیې د تصدیق له پاره یې ډ خواجه محمد نعیم قوماندان، سید اسماعیل بلخی، محمد ابراهیم بچه ګاو سوار، محمد حسن لوا مشر او نورو د کودتا دسیسه د مثال په توګه یادوله چې دا د بی وخته ډیموکراسی د راتلو د عللو څخه ګڼله کیده.

د ملی شورا یو شمیر ډیرو وطندوستو غړو لکه میر غلام محمد غبار، عبدالحی حبیبی، محمد کریم نزیهی، عبدالرحمن محمودي او داسي نوروته دا ښه څرګنده وه که د شاه محمود خان د حکومت د ډرنګولو او ناکامولو له پاره تر دی زیات فشار واچول سی بله نتیجه په لاس نه سی راتلای بیله دی چې د شاه محمود خان د حکومت ټاکلی دوره خاتمه ومومی او د سردار محمد داؤد د حکومت د نوبت له پاره چې طبعاً د ده خلف ټاکل سوی شپی او ورځی لنډی سی او د سردار محمد هاشم د حکومت هیولا بیرته په کار شروع وکړی.

هغه وخت چې سردار محمد داؤد د دغی ډلی روشنفکرانو د خیالاتو څخه اطلاع حاصله کړه چې دوی د سردار شاه محمود د حکومت د ډرنګیدلو خیال نه لری، یوځل بیا یې مساعی په کار واچوله چې د ویښو ځلمیانو، وطن، ندا ء خلق او ځینو آزاد مشربه روشنفکرانو ځینی فعال غړی د یوی بلی سیاسي ټولنی وجوډولو ته رادعوت کړی.

www.sikaram.com

د محصلینو اتحادیه

د محصلینو اتحادیه په کال (۱۳۲۹ش) کی د محمد اسحق عثمان، عزت الله مجددی، عبدالواحد د محمد صدیق وزیری د خوریي، محمد حسن شرق او د حقوقو او سیاسي علومو د ځینو نورو محصلینو په مرسته و پرانستله سوه. دوی د استقلال لیسي په تالار کی د خپلی لومړی جلسي د جوړولو د لاری د هیواد منوره طبقه مخصوص محصلین او روشنفکران و دی ته د عوتول چې د ملی کلوب د مرام په تائیدولو او پرمخبیولو کی فعاله برخه واخلی.

په دغه وخت کی د ملی کلوب ځینو غړو چې په هغه کی محمد هاشم مجددی هم شامل ؤ دا غوښته چې د ملی کلوب په مرام کی دی د مذهبی اصالتونو او ملی دودونو علایق لکه په دغه کلوب کی د شاملیدلو یوه ماده دا چې افغان او مسلمان به وی د دغی مادی په نسبت هندوان او نور مذهبی اقلیتونه د وطن د خدمت څخه محرومیدل. هم په نظر کی ونیول سي. دغه پیشنهاد د جر او بحث وروسته چې باید هغوی د سیاسي حقوقو څخه محروم نه سي د عمل او عکس العمل مورد وگرځید او په نتیجه کی میر غلام محمد غبار، عبدالرحمن محمودی، غلام حیدر مختار زاده او ځینی نورو د اعتراض په ډول د مجلس چوکی خالی کړی.

ورپسی یوه بله ورځ چې د محصلینو اتحادې د استقلال لیسي په تالار کی غونډه درلوده او په هغی کی عبدالاحمد عبدالرحیم زی لوگري، غلام علی ائین، عبدالحمید مبارز او نور شامل وو، د محمد اسحق عثمان د پیشنهاد د ردولو په ضمن کی محمد یونس سرخابی وویل: مورږ پوهیږو چې مورږ د سردار محمد داوډ د کاذبی اشتها او اقتدار پسندی د ناروغی څخه قربانیږو. دی په هیواد کی یو پیژندل سوی شخصیت دی او هر وطندوست یې لږ او ډیری ترخی خاطری لری. د ده په دغی وینا سره نژدی وه چې مخالف او موافق حاضرین یو د بل گریوانو ته لاس واچوی خو اسحق عثمان د تولنی د متشنجیدو څخه په دغی وینا مخنیوی وکړ: (مورږ نه غواړو چاته په ملی کلوب کی د شاملیدلو دعوت ورکړو، مورږ په دی مجلس کی غواړو چې د محصلینو تر منځ د مهمو سیاسي چارو د په سر رسیدلو په هکله بنه افهام او تفهیم موجود وی. دهم مسلکی او روشنفکری د علایقو د احترام له مخی یو د بل په مقابل کی ونه دریږو، د وطن د ترقی او نیکمرغی د پاره باید

www.sikaram.com

په ګډه کار وکړو. د محصلینو په اتحادیه کی محمد اسحق عثمان، عبدالواحد د محمد صدیق وزیری خوریي، محمد حسن شرق د سردار محمد داود په خوا، سید محمد میوند، عبدالحمید مبارز، محمد طاهر بورګی د سپه سالار شاه محمود خان صدراعظم په خوا، محمد عمر نعیمی کندهاری عظیم الصابر د عبدالمجید زابلی په خوا، فقیر محمد بایزی او ځینی نور د وزیر محمد ګل خان مهمند په خوا ګډل کیدل.

محمد حسین نصرتی، علی احمد شاملزاده، غنی محمودی، سید اسعد احسان غبار، محمد ابراهیم، محمد فاضل د فرقه مشر محمد صدیق چاریکاری زوی او نورو د آزادو افکارو نمایندګی کوله. دوی دیوی معروضی په وړاندی کولو سره د شاه محمود خان صدراعظم څخه د محصلینو د اتحادیې جوړلو اجازه غوښته، د دوی نمایندګان د صدراعظم شاه محمود خان حضور ته ورغله او هغه یي د ډیموکراسي د بابا، د ملی ستر مشر او قاید په نامه قانع کړ او دایي ورته جوته کړه چې دوی حاضر دی چې د ده تر قیادت او رهنمایي لاندی وطن او وطنوالو ته په صداقت او قربانی خدمت وکړي. او د ژوندی دی وی د ډیموکراسي بابا والاحضرت صدراعظم په شعار یي هغه تر تاثیر لاندی راوست او عریضه یي احکام کړه چې د محصلینو د اصول نامی تر جوړیدلو پوري دی دوی ته د فعالیت اجازه ورکړه سي.

د محصلینو د اتحادیې په مرامنامی جوړولو کی د حقوقو او سیاسي علومو استادانو لکه ترکی (منمنجی اوغلو) او د هغه ترجمان او (کانترپارټ)، محمد اکبر پامیر فعاله برخه درلوده، د محصلینو د اتحادیي مرامنامه دیوی سیاسي اتحادیې د مرامنامی په شانی جوړه سوی وه چې بیلي اداری، سیاسي او ورزشی څانګی، کومیټی، تشکیلات او منشی یي درلود. دغی اتحادیه هره چهارشنبی د استقلال په لیسه کی پر بیلو سیاسي او اجتماعی موضوعاتو کنفرانسونه ورکول او یو شمیر زیات انقلابی او د ملی دردونو ډک ځوانان یي غونډوته حاضریدل. د دغی اتحادیې په یو کنفرانس کی محمد اکبر نادم د حقوقو د فاکولتی یو محصل په طنز او ټوکو د سردار محمد هاشم صدراعظم د حکومت پر اجراآتو چې هګی او فیل مرغان یي پلورل، تنقید وکړ چې د موافقو او مخالفو محصلینو په منځ کی د جنجال او تشنج موجب وګرځید او په همدغه وخت کی چې د

www.sikaram.com

اتحادیې اساسنامه د انیس په اخبار کی خپره سوه او هغه د صنفی اتحادیې پرته د سیاسي تشکیلاتو په څیر وه حکومت هغه غیر قانونی اعلان کړه.

د انګار جریدی په خپله ۱۳ ګڼه (۱۳۳۰ ش) کال د حمل په ۲۱ چهارشنبی ګڼی په لومړی مخ کی د (اتحادیه محصلین) تر عنوان لاندی یوه مقاله خپره کړه چې د هغی تاسیس او فعالیتونه یی د وطن د خلکو د ذهنو د روښانولو او پر دولتی اجراآتو باندی د بی غرضانه تبصرو کولو او اصلاح کولو د پاره ضروري وګڼله او د هغی په بندیدو یي تاثر ښکاره کړه لکه چې وایي: (... **اتحادیه محصلین چند ماه به صورت خوب اجتماع نمود، در بیداری مردم و آشنا ساختن آن به حقوق اجتماعی شان به واسطه کنفرانسهای اتحادیه دچار سکته گی گردید. ما از اتحادیه محصلین سابق تمنا داریم تا سلسله اجتماعات و ایراد کنفرانسهای مفید خود را از نو شروع نموده و به طرز صحیح در بیداری عامه مجاهده نمایند...).**

ویس ځلمیان

دغه د لومړی سره یوه فرهنګی او په را وروسته کی یوه سیاسي ټولنه وه چې زمونږ د ولس د تاریخی، اجتماعی او سیاسي شرایطو د بدلون او تکامل څخه د اعلیحضرت محمد نادرشاه د سلطنت په لومړیو وختونو کی د محمد ګل مهمند او سردار محمد داود د تنظیمه ریاستونو په وخت کی په کندهار او ننګرهار کی په وجود راغلی وه. په کندهار کی د پښتو انجمن او پښتو مجلی د خپریدلو، شعر او ادبی محافلو جوړولو علم او عرفان د پلوشو خپرولو، میلو او ساتیریو لکه سترنج، ملی ترانو او شعرونو ویلو د مجلسونو د دائرولو په ضمن کی یي انکشاف او ترقی وکړه حکومت چې د داسي اصلاحی او ملی ټولنو د جوړولو سره پوره علاقمندی ښکاره کوله. د دغی ټولنی مهم غړی یي وخت او ناوخت دربار او خپل حضور ته بلل، د تقدیرولو او نازولو علاوه یي په ځینو دولتی او ملی چارو کی مشوره او مرسته ځنی غوښته. د همدغه جلب او جذب له مخی و چې په کندهار کی دوی شهرت وموند او یو شمیر روشنفکره او وطندوستو ځلمیانو د هغی د مرام په پرمخبیولو کی فعاله ونډه اخسته چې د شاه بازار د عبدالرحمن دندان ساز دکان د رخصتیو په ورځو کی تفریح ځایونه او د میلمستیا محفلونه د هغوی د ناستی او ولاړی ځای و. دغو

www.sikaram.com

مجلسونو ته محمد رسول پښتون، عبدالحی حبیبی، مولوی حاجی عطا محمد، حاجی خدای دوست، محمد علی سترنجباز، د ده خواجی حضرتانو رفیع الدین آغا، محمد یوسف آغا، قاضی عبدالصمد او نور هر کله حاضریدل.

د دوهمی عمومی شخړی وروسته چې په آسیا، افریقا او لاتینی امریکی کی د آزادی او ډیموکراسي مبارزو زور واخست. د ملی حکومتونو د جوړولو او مطلقیت د مهارولو دپاره تاوده او ساړه جریانونه پیدا سول. د افغانستان شاوخوا سیاسي او اجتماعی حالت هم ورسره بدل سو. د هیواد یو شمیر ځلمیانو چې د ویښو ځلمیانو په نامه يي په اخبارونو او محفلونو کی شهرت درلود، د (۱۳۲۷ش) کال د جوزا د میاشتی په اوومه د ویښو ځلمیانو د تدارک د کمیسون د لارښوونی له مخی د کندهار، ننګرهار او کابل یو شمیر ادبی او عرفانی ملګرو لکه عبدالروف بینوا، فیض محمد انګار، نور محمد تره کی، قیام الدین خادم، صدیق الله رشتین، ګل پاچا الفت، نیک محمد پکتیانی، محمد ارسلان سلیمی، عبدالقدوس پرهیز، ابوالحسن هزاره، پاینده محمد روهیلی، محمد ولی ځلمی، عطا محمد شهرزی، محمد طاهر تائب او ځینو نورو لیکوالانو او روشنفکرانو د موسسی کنګری غړو چې شمیر يي دوه ویشتو تنو ته رسیدی د دارالامان په افشار کی د عبدالمجید زابلی د نوی تعمیر پروژی په یوه سالون کی د ماسپښین پر دوو بجو د ویښو ځلمیانو د جوړولو او بیلو ولایتونو د نمایندګانو راغونډولو طرح وړاندی سوه. دغی غونډی ته لومړی دری طرحی وړاندی سوی چې یوه يي د عبدالروف بینوا او نور محمد تره کي، بله يي د قیام الدین خادم او دریمه يي د صدیق الله رشتین په حمایي وه. لومړی يي مترقی او عصری، دوهمه يي ملی او وطنی، دریمه يي مذهبی او کلتوری رنګ درلود. د زیات بحث او جروسته د ټولو طرحو د مهمو مادو په ګډون پر دغو ټولو موافقه راغله:

د اسلام او مشروطه شاهی او د پاچاهی مقام درناوی، د دولت د دروګونو قواؤ تر منځ لکه اجرائیه، تقنینیه، قضائیه تفکیک او بیلوالی او د هغوی حقوق او صلاحیتونه تاکل، د آزادو انتخاباتو او لویی جرګی د لاری د وخت د ایجاباتو سره سم په اساسي قانون کی تعدیلات راوستل او په هغو عمل کول، د علم او معارف خپریدل، د مطبوعاتو، فکر او بیان آزادی تضمینول، د هرډول نژادی، لسانی، منطقوی تبعیضاتو څخه ژغورېدل، د قانون په واسطه د افرادو طبیعی او

www.sikaram.com

اجتماعی حقوق تسجیلیدل، د ظلم، رشوت، قاچاق او بی عدالتیو سره مبارزه کول، د ژوندانه په مسیر کی د افراط او تفریط څخه ډډه کول، د حرفت او صنعت رواجول، په هیواد کی د هر چا له پاره د کار د زمینی برابرول، د کارګرو او بزګرو حقوق، اقتصادی او زراعتی اصلاحاتو ته پاملرل، د موهوماتو او مزخرفاتو سره مجادله کول، د ملی ژبی پښتو او پښتونستان د ملی خود ارادیت پرننګه دریدل، د بشر د حقوقو د اعلامیې او بین المللی صلح او سلم غوښتل او په عملی صورت یې تطبیقول.

وینې ځلمیان په لومړی سر کی یوه متجانسه او پیښلی ټولنه نه وه. په هغې کی د هری طبقی او قشرونو افراد موجود وو. له همدی کبله ځینو دولتی او رسمی عناصرو سعی کوله چې په راس کی یې واقع سي او هغه د خپلی طبقی په ګټه وځرخوی خو دغه نهضت نور د اجتماعی افکارو او طبقاتي خاصیتونو داسي مرکز وګرځید چې د مطلقیت، استعمار او استثمار توجه یې ځان ته جلب کړه.

وینې ځلمیان چې په کال (۱۳۲۷ش) کی د یو مرکزی متحدی تاکلی سیاسي ټولنی په څیر راووتل، د هغه کینې اړخ خواریکښانو او محرومو طبقو په ګټه فعالیت کاوه. دوی د ملی شورا د اوومی دورې په انتخاباتو کی فعاله برخه درلوده. د دوی د مبارزو له کبله د مطبوعاتو قانون نافذ سو، ملی اخبارونه را ووتل، د سرمایوی او اجتماعی اصلاحاتو دپاره لاره اواره سوه. خو د دولتي مداخلو او د هغې ټولنی د ځینو افرادو د اشتباهاتو له مخې یې خپله وظیفه څرنګه چې بنایي مخی ته نه سوه بیولای او دولت هم د خپلی ډیموکراسي او عدالت شعاری د پلان پر مخبیولو په لار کی د ډول ډول موانعو او مشکلاتو سره مخامخ سو چې د عمومی بی امنیتی د راتلو ویره ځنی پیدا کیده نو کرار، کرار یې د خپلی ډیموکراسي د کمبلی په تولیدلو پیل وکړ او هغه کسان یې چې په قصدی او یا غیر قصدی توګه د دی کړنلاری خنډ ګرځیدل په هغویې د اوږدی او لنډی مودی جیل خانی ولیدی.

www.sikaram.com

فیض محمد انگار

دی د حاجی گل محمد بریخی زوی او د محمد حسن لمسی ؤ چې په کال (۱۲۹٤ش) د حوت په نهمه د کندهار د یحیی خان په کوڅه کی زیږیدلی ؤ. لومړی لیک او لوست یې د خپل پلار څخه چې د کندهار د نومیالیو میرزایانو او مخورو څخه ؤ زده کړ. بیایې د کندهار د شالیمار د تجارو په ښوونځی او د ارگ په ښوونځی کی خپل لومړی تحصیلات په سر ورسول څرنگه چې یې پلار په رسمي دفترونو او تجارتی شرکتونو کی د سرکاتب، مامور، مدیر او رئیس په حیث کار کاوه، انگار هم د خپل پلار سره د شاگرد لیکونکی او مامور په حیث وظیفه اجرا کوله.

فیض محمد انگار په کال (۱۳۲۵ش) د کابل د حقوقو او سیاسي علومو د اکادمی څخه د شهادتنامی اخستلو وروسته د ملی اقتصاد په وزارت کی د گمرکاتو د معاون، مدیر او بیا د کندهار د (موریسن کنوډسن) امریکایي کمپنی او فوائد عامی په وزارت کی په کار لگیاو.

انگار صاحب د ویښو ځلمیانو د موسسی کنگری په رئیسه هیئت کی د یو فعال غړی په څیر پیژندل کیدی (۱۳۲۷ش).

ده په کال (۱۳۲۹ش) د حوت په نهمه چهارشنبی د (انگار) جریدی لومړی گڼه په خپل امتیاز او مسؤل مدیریت (هره یکشنبی او چهارشنبی په پښتو او فارسي د انگار په شخصی گستتنر) خپره کړه.

د دغی جریدی لومړی مخ داسي شروع کیږی:

بنام خدای بزرگ

همتم بدرقه راه کن ای طائر قدس که دراز است ره مقصد و من نو سفرم

مرام این نامه:

خود را بختیار و مسعود میدانم که برای اولین مرتبه از قانون مطبوعات استفاده کرده با نیت پاك و دل پر آرزو به نشر این نامه کوچك ملی میپردازم. گرچه نامه نسبت به آرزو های من خیلی کوچك و ناچیز است ولی با اینهم مرام بزرگ و مقدسی دارد و آن عبارت است از خدمت به ملت افغان. ما ازین حقیقت چشم پوشی نمیتوانیم که ملت ما نسبت به تمام ملل عالم به صد ها سال عقب مانده و اکنون به کوچکترین خدمت کوچکترین

www.sikaram.com

افراد احتیاج شدید دارد. چون بنده نیز یکی از افراد با آرزوی این ملت هستم میخواهم به نوبه خود خدمتیکه در خور توان من باشد به این ملت بیچاره بکنم به عقیده من درد مهمی که داریم همانا این است که درد خود را نمیدانیم و این وظیفه چیز نویسان و دانایان افغان است که در تنویر اذهان عامه بکوشند، علل و اسبابیکه باعث عقب ماندن این ملت مظلوم گردیده روشن سازند و هم راه حلی برای رفع آن علل سنجیده و عوام را رهنمایی کنند.

مرام این نامه نیز مبنی به همین اساس است تا به کمك نویسندگان حساس و جوانان بیدار مملکت بتواند خدمت کوچکی در راه تنویر اذهان عامه کرده باشد. البته خدمت به ملت افغان منحصر باین نامه کوچك نیست، شاید اشخاص هم باشند و یا پیدا شوند که عملاً در راه خدمت به ملت داخل میدان گردند، پس این نامه موئید و معاون هر فرد یا موسسه و جماعتی است که به ملت عقب مانده افغان صادقانه خدمت میکند و همیشه آنها را پشتیبانی خواهد کرد. ولی باالعکس رسوا کننده اشخاص یا موسسه و جماعتی است که به ضرر ملت میکوشند و مفاد ملت را قربانی شخصی کرده و یا خود را بادار و دیگران را غلام تصور کند. به عبارت دیگر این نامه زبان، دست و قوت خدام صادق ملت بوده که با خائنین و ظالمین سخت مجادله خواهد کرد، خدام صادق را توصیف و تائید و به ملت معرفی خواهد نمود و دشمنان، مرتجعین و خون آشامان ملت را رسوای خود و بیگانه خواهد کرد. این نامه به تمام قوت در وحدت ملی افغان بدون امتیاز نژاد، قوم، قبیله، خانواده و زبان خواهد کوشید و هم این نامه با دروغ، تملق چاپلوسی، ظلم، خیانت، رشوت رسوم بد و مزخرفات داخل مجادله خواهد شد و باالاخره از هر آنچه به نفع ملت باشد طرفداری کرده و آنچه به ضرر ملت باشد، سخت نکوهش و تنقید خواهد کرد. اینکه مرام متذکره به نشر این نامه کوچك (انگار) یعنی (خوریج آتش) اقدام میکنم و از خدای بزرگ در راه خدمت به ملت توفیق میطلبم و هم از نویسندگان حساس فارسی و پشتو تمنا دارم که درین خدمت مقدس با این نامه کمك نمایند.

و من الله التوفیق

د انگار جریدی د لومړی گڼې لیکوال: نور محمد تره کی، عبدالروف بینوا، گل پاچا الفت، داوری او ضیاء قادری زاده وو.

www.sikaram.com

د انگار جریده د مطبوعاتو د قانون د ۲٤ مادی له مخی په کال (۱۳۳۱ش) کی د عمومی امنیت د اخلالولو په اتهام مصادره سوه.

فیض محمد انگار د څه وخت وروسته کندهار ته ولاړ او هلته شپږ کاله په عسکری قشلی او کور کی تر نظارت لاندی ونیول سو. بیایې د کندهار په تجارتی شرکتونو او موسسو کی د مدیر او نماینده په توګه په کار شروع کړ. دی په کال (۱۳٤۳ ش) کی د خپلو یو شمیر ملګرو (ویښو ځلمیانو) سره د محمد هاشم میوندوال صدراعظم د مترقی ډیموکراټ په ګوند کی شامل سو او ځینی ملګریې د وزارت، ریاست او ولسوالیو تر چوکیو ورسیدل. هغه وخت چې د هیواد د اداری پر طرز او د ډیموکراسي پر چلاو باندی د پاچا د کورنی د ځینو غړو او میوندوال تر منځ د نظر اختلاف پیښ سو او دغه اختلافونه په مظاهرو او اخبارونو کی شایع شول انگار د ځینو غړو په طرفداری په (۱۳۵۲ ش) کال د جوزا د میاشتی په ۲٤ په اخبارونو کی د اعلامیې د صادرولو او چاپولو په واسطه په رسمی توګه د مترقی ډیموکراټ د ګوند څخه ووتل.

فیض محمد انگار په کال (۱۳٤٥ش) کی د کلیو د پراختیا د ریاست د پنجوایې د پروژی د آمر او بیا د داخله وزارت د تفتیش د غړی په حیث کار کاوه. وروسته په کال (۱۳٤۸ش) کی د کبرسن، د سترګو د ضعف او مزاج د علالت له مخی تقاعد ته سوق سو. انگار میانه قد، چاغ، سپین پوستی، خوش طبعه او مهمان نوازه سړی ؤ. د بدن د چاغی په نسبت پر لاره کرار کرار تلی او عینکی یې استعمالولی. د عمر په اخیر کی د پښی درد او د وینی د فشار ناروغی زهیراوه او د همدغی ناروغی له کبله په کال (۱۳۵۸ش) کی د کابل د علی آباد په شفاخانه کی وفات سو او جنازه یې په کندهار کی خاورو ته وسپارله سوه.

عبدالروف بینوا

دی د مفتی عبدالله زوی په قوم علیزی و چې په کال (۱۳۳۲ق= ۱۲۹۲ش= ۱۹۱۳م) کی د کندهار په لومړی ناحیه کی شاه قبرته نژدی کوڅه کی زیږیدلی و. لومړنی تعلیمات یې د خپلی کورنی د غړو او کندهاري عالمانو څخه په سر رسولی او څرنګه چې یې د شعر او ادب سره مینه درلوده نو په دغه رشته کی یې په خصوصي ډول ځان رسولی او په ډیر لږ وخت کی د پښتو دیو

www.sikaram.com

نومیالی او بیاوړی او بیا په (۱۳۲۷ش) کی د وینبو ځلمیانو د سرتاسری مرکزی غونډی د موسسینو او لارښودونکو د جملی څخه وشمیرل سو.

بینوا صاحب د افغانستان په اوسنیو لیکوالو او شاعرانو کی ډیر منلی او نومیالی ادیب دی چې ځانته د سبک خاوند ګڼل کیږی. د شعر او ادب په ډیرو خواو کی یې خپل استعداد او لیاقت په ثبوت رسولی دی. په شاعرانو کی ښه شاعر، په ډرامه لیکونکو کی ښه ډرامه لیکونکی او په مورخینو کی د ښې برخی خاوند و. دی طبیعتاً شاعر ؤ د ده ژوند، د ده صحبت، د ده خوی، د ده ناسته او ولاړه، خوراک او څښاک ډیر شاعرانه رنګ درلود او اصلی رنګ یې همدغه و. د ده په ظاهری بڼه او سور او سپین مخ ښایسته رنګ باید څوک ونه غولیږی د وطن او قوم درد او احساس چې له ده سره موجود و هغه یې نا آرامه او بېنوا ساتلی و، عیش او عشرت دی د بینوایانو او خوارانو څخه اډونه و بیل کړی.

بینوا صاحب دغه رسمی وظیفی په سر رسولی دي:

د (۱۳۱۷ - ۱۳۲۳ش) د پښتو ټولنی غړی، (۱۳۲٤ - ۱۳۳۰ش) د پخوانی وظیفی تر څنګ د ادبیاتو د پوهنځی د پښتو ادب استاد او د پشتو ټولنی لوی مدیر، (۱۳۳۰ - ۱۳۳۲ش) د مطبوعاتو د مستقل ریاست د خپرونو لوی مدیر، (۱۳۳۲ - ۱۳۳٤ش) په ډهلی کی د مطبوعاتی اتشه او وروسته د کابل راډیو رئیس او د اطلاعاتو او کلتور وزیر، (۱۳٤۷ - ۱۳۵۱ش) د موسی کلا د خلکو له خوا څخه په ولسی جرګه کی وکیل، (۱۳۵۱ - ۱۳۵۷ش) متقاعد، (۱۳۵۷ - ۱۳۵۸ش) د پښتو څیړنو د نړیوال مرکز او بیا د علومو د اکاډمی اجیر مشاور، (۱۳۵۸ - ۱۳۵۹ش) د عظمی صدارت رسمی مشاور، په (۱۳٦۲ش) په لیبیا کی افغانی لوی سفیر، په (۱۳٦۳ش) کی د امریکی په نیویارک کی د ستونی د سرطان په ناروغی وفات سو او په نیو جرسی کی خاورو ته وسپارل سو.

د بینوا صاحب مشهور آثار دا دی:

پښتو کلی (۱۳۲۰ش)، پردیس (۱۳۲۱ش)، پښتنی میرمنی (۱۳۲۳ش)، د هوتکو په دوره کی پښتو (۱۳۲٤ش) میرویس نیکه (۱۳۲۵ش)، اریایي پارسي پښتو مرثیي او ویرنی (۱۳۲٤ش)، د غنمو وړی (۱۳۲۵ش) د بیدل د کاکړ دیوان تصحیح او تدوین او مقابله

www.Sikaram.com

(۱۳۲۵ش)، چند آهنگ ملی (۱۳۲۵ش)، ادبی فنون (۱۳۲۶ش)، ویښ ځلمیان (۱۳۲۶ش)، د دار مستتر پښتو څیړنی (۱۳۲۶ش)، د رحمن بابا دیوان تدوین (۱۳۲۸ش)، خوشحال خان ختک څه وایي (۱۳۲۹ش)، نظری بر پښتونستان (۱۳۲۹ش)، پښتونستان (۱۳۳۰ش)، لیډران امروزی پشتونستان (۱۳۳۱ش)، د کاظم خان شیدا دیوان (۱۳۳۳ش)، هوتکیها (۱۳۳۵ش)، پریشانه افکار (۱۳۳۵ش)، خوشحال او پسرلی (۱۳۳۷ش)، پاچاخان (۱۳۳۸ش)، د زړه خواله (۱۳۳۸ش)، پښتو قرائت (۱۳۳۹ش)، زوړ ګنهکار ډرامه، کابر اصل، اشتباه، نمایش نامه عقاب، حکومت بیدار است ډرام، اوسنی لیکوال لومړی ټوک (۱۳۴۰ش)، دوهم ټوک (۱۳۴۱ش)، دریم ټوک (۱۳۴۶ش)، د افغانستان نومیالی دری ټوکه (۱۳۵۵ش)، پښتو متلونه چاپ او دری ژباړه د عبدالمحمد شینواری انګلیسی ترجمه او نور.

بینوا صاحب په عربی، انګلیسي، اردو او فارسي ښه پوهید او ترجمه یي ځنی کولای سوای. دی د پښتو نازک خیاله، ملی، ولسي، بزمی او حماسي شاعر ؤ. په خپلو ملی او اصلاحی اشعارو یي د مطلقیت او استبداد ضد احساسات راپاروول. د دی سره چې زیاتره اشعارو او لیکنویي تنده او زننده لهجه درلوده خو څرنګه چې د پاک فکر او روښان زړه او د وطندوستی او ملی جذباتو څخه یي سرچینه اخسته نو پر چا بد نه لګیدل. رسمی او غیر رسمی عکس العملونه یي لړوه. بینوا صاحب د هغه سیاسي فشار له مخی چې دولت پر ځینو روشنفکرانو اچولی و په (۱۳۳۱ش) کی د ویښو ځلمیانو د غړیتوب [غخه لاس واخست او هم یي په کال (۱۳۵۱ش) کی یی د مترقی ډیموکراټ ګوند د غړیتوب څخه په رسمی توګه استعفی اعلان کړه.

ده د ولسی جرګی په مجلس کی د مترقی ډیموکراټ ګوند په نمایندګی د خپل اعتماد د رایي په هکله نور احمد اعتمادی صدراعظم ته داسي څرګنده کړه: (... **به خاطر درد های بی پایان گروهای محروم و طبقات رنجبر با درك اوضاع نا به سامان اقتصادی و بحرانهای کمر شکن که پیگیر اکثریت ستمدیده را در زیر بار غارتگرانه خود، خورد میکند، با توجه به ماهیت طبقاتی هیئت حاکمه و اعتماد به محکومیت صاحبان امتیاز قشر فیودالی و استثمارگر که تلاش مذبوحانه در جهت حفظ منافع، مانع سقوط حتمی آنان در زباله دان**

www.sikaram.com

تاریخ نه خواهد شد، و در نهایت به اتکا به جنبش پیکیر و ظفر نمودن پیشرویان طبقات رنجبر و زحمت کش و قیام ترقی خواهان و منوران که زائده این دو مرحله تاریخی و موئید اعتقاد ما به استقلال پدیده های نوین زندگی آبرومندانه بوده و حرکت ما را در جهت مبارزه مترقی تشجیع میکند این جانب عبدالروف بینوا وکیل توده غریب و با شهامت موسی قلعه و نماینده جریان (مترقی دیموکرات) اظهار نظر مینمائیم.

ما به پیروی اصول دیموکرات و اهداف مترقی که بر مبنای اصول جهان بینی علمی اتکاء دارد و به جهت توفیق مبارزه خود در راه تامین اهداف دیموکراسی اجتماعی و اقتصادی از راه مجاهدت قانونی و پارلمانی و مردمی با جدیت پیگیرانه به پیش میرویم. ما اصول جهان بینی علمی را به غرض تعقیب هدف قاطع و اساسی مبارزه خود که توصل به یك (جامعه سوسیالستی) خواهد بود، به منظور نابودی استثمار، ارتجاع و استبداد و طرد امپریالزم بین المللی رهنمایی حرکت خود قرار داده ایم. با درك شرایط و واقعیت های جامعه ما این اصول به دین اسلام و اصل مشروطه و اساس ملت افغان احترام میگذارد، و آرزومند تحکیم و رشد شعور ملی و تامین وحدت ملی و بالاخره امحای تبعیض و روشهای امتیاز طلبانه بوده و از تمامیت خاك وطن و استقلال کشور با تمام ایمان به اصول خود دفاع مینماید.

ما معتقدیم که شرایط تولیدی کنونی در جامعه ما غیر عادلانه بوده باید این وضع با مداخلات دولت و از کوتاهترین راه ممکنه به نفع طبقات محروم و ستمدیده در جهت تحقق اهداف سوسیالزم تحول داده شود، شرایط تولیدی کنونی سرچشمه عدم مساوات بیدادگری اجتماعی بوده و اصول علمی حکم میکند که باید تولید به منظور استفاده عام رهبری شود نه به مقصد استفاده جویی دلالان خارجی و سرمایه داران غارتگر. ما عقیده داریم که با درك شرایط و با درنظر گرفتن تناسب زمان اصل مساوات به صورت مترقی در توزیع محصولات رعایت شده و لااقل در تحت اوضاع کنونی کشور ساحه عدم مساوات در توزیع، با تامین منافع عمومی بصورت نسبی از راه قانون محدودتر خاسته شود، سازمان سیاسی (مترقی دیموکرات) در فکر و عمل متوجه تعقیب اهداف مترقی بوده و در مرحله کامیابی باز هم یك هدف مترقی تر توجه خواهد کرد و این سازمان هرگونه فساد، بی عدالتی، چپاولگری و غارتگری مرتجعین، محتکرین، رشوتخوران، سرمایه داران و ملاکین

www.sikaram.com

را طرد کرده روشهای ارتجاعی و ضد ترقی عمال غاصب و غارتگر فیودالی و دلالان سرمایه دار را مردود میشمارد.

سیاست خارجی ما متکی است بر حسن همجواری متقابله قضاوت ملی و آزاد، تائید صلح جهانی، نفرت از تسلیحات و پکتهای نظامی، ضدیت با امپریالزم بین المللی، ضدیت با سرمایه داری و کمپرادور های خارجی، تمامیت از استقلال ملل و دفاع از حق تعین سرنوشت جوامع تحت سلطه استعمار و بالاخره همبستگی با همه خلقهای ستمدیده و محروم جهان در محور اصالت اجتماعی جهانی و بین المللی با توضیح این مفکوره دیموکراسی مترقی میخواهم علاوه نمایم که با همه نهضت ها و جنبش های صادقانه ملی که دارای اهداف مترقی بوده و در مقابل استبداد داخلی پیکار نمایند.

ښاغلی موظف صدراعظم یقین لرم چې په دی څو ورځو کی چې تاسي دی تالارته راځی هغه دقایق به مو هم سترگو ته درپیږی چې تاسي به د ولسي جرگی د رئیس په حیث د ریاست پر چوکی ناست واست او ستاسو مخ ته به موظفو صدراعظمانو یو په بل پسي همداسي د اعتماد رایي اخستی لکه اوس چې تاسي انتظار باسي. خو کاشکی ستا د هغه وخت ارزوگانی هم راته معلومی وای چې هغه وخت تاسي د ملت د یوه وکیل او بیا د ولسي جرگی د رئیس په حیث د افغانستان د بیوزلو خلکو د ملی مصالحو د پاره څه فکر کاوه. هغه ارزوگانی درپه یاد کړی او د امید دا زیری هم ورسره مل کوی چې هغه وخت ستاسو سره تشي ارزوگانی وی، خو نن یې د عملی کولو وا ک هم درسپارل کیږی او دا دً یوه ارزومند انسان له پاره لویه نیکمرغی ده چې د ده په ژوند کی د ارزوگانو د عملی کولو وا ک ورسپارل کیږی.

د بینوا صاحب د نثر نمونه:

د ژوندون په لوی ډګر کی، هرچا، هر چا زیاریوست چې ځانته د ښه ژوند لار پیدا کړی. دوي لوړی او ژوري ولټولی، هری خواته یې منډی ووهلی او هرڅه، هر څه ته یې لاسونه واچول، خو تر ډیر تلاښ وروسته، ټولو ته دا ثابته سوه چې د هر څه د مخه باید د علم لمن ټینګه کړی او د علم په لارښوونه خپل مطلب ته ځانونه ورسوی. نو ټول د علم په زده کړه پسي ولاړل هیڅوک د ژوندون په لوی ډګر کی بې تلاشه پاته نه سول، یوازی د هغه لوی ډګر په یوه ګوټ کی یوه مغرور بی علمه ځلمی ولاړ و چې د علم خواته یې حرکت ونه کړ او د علم د زده کونکو په ډله پسي رهي نه سو. دې

www.sikaram.com

مغرور او ناپوه ځلمی د ځان سره هیڅ علمی سرمایه نه درلوده. یوازی د ده پر سر د خاندان یوه زړه خولی وه چې د ده ټول غرور په همدی خولی ؤ. ده ته د دی خولی سیوری د همای سیوری ښکاره کیده او د ژوندون ټولی کامیابی یې تر دی خولی لاندی ګڼلی. ټول بشری احترامات او انسانی تعظیمات یې همدی خولی ته وربلل. استراحتونه، ثروتونه، خوندور خوراکونه یې یوازی د همدی خولی د خاوند حق ګانله. ده ته هغه څوک ناپوه ښکاره کیده چې دا خولی به یې پر سر نه وه. دا ناپوه ځلمی همداسې مغرور ولاړ و څو چې د علم د زده کړی وخت ورباندی تیر سو. خو ده یې هیڅ پروا ونه کړه علم ته یې په سپکه سترګه وکتل وی ویل: هغه څه چې د دی خولی تر سیوری لاندی کیدای سي، د دنیا هیڅ علم یې نه سي کولای.

د کار وخت راغی، دا ناپوه ځلمی هم هغسی مغرور او بې پروا په دی فکر کې و چې د دی خولی د خاوند د پاره باید نور خلک کار وکړی. شلم قرن راغی، له دی ناپوه ځلمی څخه یې د تحصیل د پلومه وغوښته ځلمی په ډیر غرور او فخر د خاندان د خولی تصدیق نامه ور وړاندی کړه او د هغی امتیازات یې وغوښتل، خو شلم قرن ورسره آشنا نه و. هغه تصدیق نامه یې ونه لوستل سوه نو د ځلمی څخه یې د کار محصول وغوښت. بی علمه ځلمی بیا خولی ور وړاندی کړه او وې ویل: دا د کارفرما خولی ده، د کارګر خولی نه ده. شلم قرن دی بې علمه او بی عمله ځلمی ته په غضب سو او د عصبی ښوونکی په څیر یې څپیړه جوړه کړه او دا ځلمی یې په داسې ضربه له ځانه لیری وغورځاوه چې د خاندان خولی یې له سره ولویده او ورته وې ویل: ای ناپوه او بیکاره ځلمیه دا خولی د ډیره زړه سوی او له موډه لویدلی ده نور په دی خولی ځان مه غولوه او مه دنیا درپوری خنده وه ولاړ سه علم زده کړه، کار وکړه.

www.sikaram.com

د بینوا صاحب د شعر نمونه:

دا څه ژوندون دی

څه خبریم چې ژوندون دی — او که ښورو خوشی هسي
نه مو رنګ ستنه نه مو بوي سته — په ځان لوړ و خوشي هسي
پخوا و اوس څله نه یو — دا نه ګورو خوشي هسي
نه صغرا سته نه کبرا سته
هیڅ قیاس کولای نه سم

هر څو ځمه تاریکی ده — هیڅ رنا نه رانښکاریږی
هر څو سترګی سره کش کړم — یو بینا نه را نښکاریږی
د غه مړ دی هغه مړ دی — څه دنیا نه رانښکاریږی
کار د زړه او د مغز و هیڅ
په قلم لیکلای نه سم

سترګی رونې څه نه وینو — رون چینی راته خاورین دی
د ځان شهد ګنډیربولو — د بل مرچ راته شیرین دی
کله پاڅو کله پرزو
ټینګ اساس ترلای نه سو

په دیوال کی کور سوری دی — خوبونکی ځني خوځیږي
رنګ د ګل خوندیي د پیازوی — هر سړي باندی غولیږی
د وجدان، وجدان ناري دی
خو اثر یي کتای نسم

وزر سته الوتای نه سو — چا مات کړی مو وزر دی
خوله لرو پرغیدای نه سو — دا د کوم جادو اثر دی
خپل پایڅی مو زولنی سوی — ځکه حال داسي ابتر دی
زړه مو سوځی خوله مو پټه
د زړه درد ښودلای نه سو

www.sikaram.com

ملي سرود

څوچې دا مځکه آسمان وی
څوچې دا جهان ودان وی
څوچې ژوند په دې جهان وی
څوچې پاته یو افغان وی
تل به دا افغانستان وی
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت
تل دې وي افغان ملت جمهوریت
تل دې وي افغان ملت جمهوریت
ملي وحدت، ملي وحدت

پوهاند عبدالشکور رشاد د (بینوا) د وفات په تاثر دغه مرثیه ویلي ده:

خدایه ته یي تور لحد قبه د نور کړي — د خپل فضل مشالونه پر حضور کړي
ستا د عفو د دریاب په زلال ربه — ته ور پاکي توري تپلي د قصور کړي
چې دي دلته نازولي و سر خرویه — په بخښنه یي هلته هم مخ سور کړي
چې دلته یي سر لور ستا په خلقت و — سریي لور هلته هم په خپل منشور کړي
چې دلي دې پر پیرزو جګي رتبي وي — خپل قبول یي هوري هم ربه منظور کړي
ستا د رحم په نظر بي نیازه خدایه — ویران ګور د بینوا بنده معمور کړي
ستا د پراخ لطف وکرم له تجلاو — د سینا تیاره بیدیا پر کوه طور کړي
د هغو په روي چې ستا له مینې مست دي — د سرمست (بینوا) ګور دارالسرور کړي
ستا بنده بینوا درغې، روفه — د رحمت د خم له فیضه یي مخمور کړي
وچې شونډې ستا د بخښنې داد ته پروت دی — په نصیب یي دک جامونه د ظهور کړي
تور یې بزم لري خدایه په خپل لور — د کوثر له میخورانو یي محشور کړي
نسته بل د امید ځای ژاړم وتاته — ته په مرګ د «بینوا» صفت (مغفور) کړي

www.sikaram.com

پوهاند عبدالحي حبيبي

عبدالحی حبیبي د ملا عبدالحق اخند زاده کاکړ زوي، د ملا عبدالرحیم اخندزاده لمسي او د ملا حبیب الله اخندزاده (حبو اخندازده) کړوسي ؤ چې په کال (۱۲۸٤ش) د ثور په میاشت مطابق (۱۳۲۸ق) د ربیع الثاني په ۱۷ د پنجشنبي په ورځ مطابق (۱۹۱۰م) د مي په میاشت کی د کندهار په اوسني دریمه ناحیه کي د بامیزو په کوڅه کي زیږیدلي ؤ. د ده مشر نیکه ملا بابر نومیدی چې د کاکړستان د ږوب څخه د ملي مشر میرویس نیکه د قیادت په وخت کي کندهار ته راغلي و. ده خپل لومړني تحصیلات د کندهار په اوسني دوهمي ناحیي کي (۱۲۹۹ش) د شاهلمار د تجارو په ښوونځي کي چې اوس د (مشرقي) ښوونځی په نامه یادیږي په شپږ کاله کي بشپړ کړه.

دي په کال (۱۳۰٤ش) کي په پنځلس کلني عمر د کندهار د ګنج په ښوونځي کي د معلمي په وظیفه وګمارل سو. ه ده افکار او خیالات د خپلي کورني د غړو او اسلافو څخه چې زیاتره یي درباري ملایان، اشراف او د قبایلي نفوذ خاوندان ګڼل کیدل. متاثر شوي وو. دوي د وطن په سیاسي او اجتماعي چارو کي ځانته نظر او د تفکر طرز درلود. په مقتضي مواقعو کي به یي خپلي نظریې بیله هغه څخه چې د چا د مخالفت باک ولري په کمال صراحت، ملي او مذهبي احساساتو ایرادولي چې د همدغه کرکټر له مخي به کله، کله د دربار او قبایلي خانانو د حب او بغض موجب ګرزیدل او د ژوندانه د خوښي او ناخوښیو حالاتو سره به یي مخامخ کول. د ده یو نامتو نیکه ملا حبیب الله اخندازه نومیدی چې حبیبی صاحب هم د هغه د نامه څخه خپل تخلص اخستي ؤ. حبیب الله اخندزاده یو لوي او متبحر ملا ؤ چې د علم او معرفت په بیلو څانګو کي یي تر ۳۳ زیات آثار لیکلي دي. ملا حبیب الله په کال (۱۲۱۳ش) کي د کندهار د بامیزو په کوڅه کي زیږیدلي او په کال (۱۲٦۵ش) کی وفات سوي دي. بل نیکه یي مولوي عبدالروف نومید چې د امیر شیرعلی خان د ګران زوي شهزاده عبدالله جان استاد او د امیر عبدالرحمن خان د لمانځه پیش امام او د شاهي مدرسي سرمدرس او د قضاتو د علمي عهدي او صلاحیت تائیدونکي ؤ. دي شاعر، ادیب او مفسر ؤ او د سراج الاخبار افغانیه لومړی ګڼه د ده په لیکنه راوتلي وه.

www.sikaram.com

دي په بیلو موضوعاتو کي تر یوولس زیات آثار لري او په کال (۱۳۳۲ق) د ۶۷ کالو په عمر په کابل کي وفات سو، همداشاني مولوي عبدالواسع تولد (۱۲۹۰ش)، شهادت (۱۳۰۷ش)، مولوي عبدالرب تولد (۱۲۹٤ش) وفات (۱۳۳۷ش) د دغی کورني د مشهورو علمي غړو څخه ګڼل کیږي. د دغي کورني د نورو مشهورو غړو څخه ډاکټر محمود حبیبي چې د ریاست، ولایت، وزارت او سنا د مجلس د ریاست تر عهدو رسیدلي او مشهور سندر غاړي او فنکار ډاکټر محمد صادق فطرت (ناشناس) چې اوس د مهاجر په توګه په انګلستان کي اوسي، ګڼل کیږي.

د عبدالحی حبیبي صاحب افکار او نظریات د اعلیحضرت امان الله د عهد د آزادي، وطندوستي او عدالت شعاري د اصلاحي پروګرامونو د تطبیقولو څخه متاثر وو او هغه اعلیحضرت یي د یو لوي سیاسي منجي او ملي قاید په څیر ستایه لکه چې کندهار ته د راتلو په وخت کي یي د هغه اعلیحضرت حضورته د (۱۳۰۵ش) کال د عقرب په ۱۱ د طلوع افغان په جریده کي د غه استقبالیه وړاندي کړي وه:

(... ابیات ذیل آقاي (ع.ح) که از معلمین جماعت پنجم مکاتب قندهار و امثال در زمره معلمین مکتب گنج به معارف وطن خدمت مینماید سروده و برای درج به اداره طلوع افغان فرستاده است. طلوع افغان طبع روان آقای (ع.ح) را تحسینت نموده برای تفریح قارین عظام درج نمود...).

د شپاړس کلن شاعر دغه (بنه راغلي) د مخمس غوندي شکل لري. بندونه یي نهه دي ملمع نظم دي د هر بند څلور نیم بیتي یي فارسي دي.

د افغان د زړه قراره راشه، راشه — اول الامر عالي تباره راشه، راشه
زمور مینه، کامګاره راشه، راشه — په خرام تر قندهاره راشه، راشه
ای بهارستان اقبال، ای چمن پیما بیا

چې نقطه مو د امید او د نظر یي — مهربان پر پښتانه لکه پدر یي
فصل سیر دل ګذشت، اکنون به چشم ما بیا

پښتون واړه لکه ګرد ستا د موکب دي — هري خواته درپسي په ډیر ادب دي
جمله افغان در رکابت می دود، تنها بیا

www.sikaram.com

امیدواره یو وتا غازي پاچا ته — لکه زوي چې وي د پلار لطف همراته
توجه لري ژمور و انتباه ته — لور درشله زمور باداره راشه، راشه
ای کلید دل، در امید ما بکشا

په تشریف به دي خزان بیرته بهار سي — چې د زړه غنچی به وا په ډیر تلوار سي
رایحه به ځني پورته نرگس وار سي — تول خزان یو، زمور بهاره راشه، راشه
ما همه پیش تو ایم، ای جمله ما، با ما بیا

همداشاني یې یو بل نظم د آزادي په نامه د طلوع افغان د جریدي د (۱۳۰۶ش) کال د اسد په ۲۵ ګڼه کی د ګنج د معلم عبدالحي په نامه داسي خپور سوي دي:

دي قسم په احترام د آزادي — چې عالي دي ډیر مقام د آزادي
په کلشن د حریت خوښ و خوشحاله — سعادت سیر و خرام د آزادي
تر کلو، کلو ژوندون په اسارت کی — دي بهتره محض نام د آزادي
د هغه ملت ژوندون لوي سعادت دي — په غیرت کي چې قیام د آزادي
تر سهر د استبداد، ده ښه زر واره — توره شپه او تور مابنام د آزادي
د فلک پر توسن سپور به هغه څوک وي — چې په لاس لري لګام د آزادي
تر ابده به سر خوش د سعادت وي — چا چې نوش کي شیرین جام د آزادي

عبدالحي حبیبي چې متداوله علوم د خپل اکا د زوي مولوي عبدالواسع او مولوي عبدالوفا کندهاري او نورو علماو څخه لوستي وو، په دغه وخت کي یې د نوو علومو مخصوص ادبي او سیاسي آثارو د لوستلو سره هم مینه پیدا سوي وه او د طرزي محمود د سراج الاخبار، امان افغان، صور اسرافیل، الهلال، ایران شهر، کاوه او نورو ایراني، عربي، اردو مجلو او روزنامو د مضامینو څخه یې د فکر طرز کرار، کرار تحول موند او د نوي عصر د ترقي او انکشاف په لار برابر سوي و، څو چې د دغه ذوق د پاللو په بنا د طلوع افغان د ورځپاڼې د مرستیال او وروسته د مدیر او چلونکي په حیث وټاکل سو (۱۳۱۰ش). په دغه لس کلنه دوره کی یې د علمي، ادبي او سیاسي آثارو د خپرولو علاوه د پښتو ژبي د ادبي او تاریخي څیړنو په هلو ځلو کي یې توفیق وموند. په کندهار کي د سردار محمد داؤد په لارښوونه او مرسته چې د کندهار نائب الحکومه او د کندهار او

www.sikaram.com

فراه عسکري قوماندان ؤ د خوشحال خان ختک دیوان چې د هغه په مقدمه کې د سردار محمد داؤد رهنمایي ته اشاره سوي او د عبدالقادر خان ختک دیوان چاپ کړ او د طلوع افغان جریدي په فوق العاده ګڼو کي يي د پښتو ادب او تاریخ په معرفی کولو او پیاوړي کولو کي د قدر وړ ګامونه واخستل او طلوع افغان ټول په پښتو واړول سو. د همدغه نشراتي بریالیتوبونو له کبله په دننه او ګاونډیو هیوادونو کي د یو پوخ او لایق ژورنالست او لیکوال په څیر وپیژندل سو او د سردار محمد داؤ په معرفي د پښتو د زیات خدمت له پاره کابل ته وغوښتل سو او د پښتو ټولني د لوي مدیریت او د مطبوعاتو د مستقل ریاست مرستیالي چوکي وروسپارله سوه. دغه وخت د حبیبي صاحب د ادبي او سیاسي عروج په دوره کي شمیرل کیدی. د پټي خزاني اثر يي وموند او چاپ يي کړ، د ادبیاتو د فاکولتي په تاسیسولو کي يي فعاله برخه واخیسته (۱۳۲۳ش) د پښتو د ادبیاتو د تاریخ د مضمون استادي يي په ډیره علاقمندي مخي ته بوتله او د یو شمیر مهمو او معتبرو تحقیقي او علمي آثارو په لیکلو بریالي سو.

د حبیبي صاحب مشهور چاپ سوي آثار یو سل و پنځوس ټوکو ته رسیږی چې زیات مشهور يي دا دي:

پښتانه شعرا، تاریخ ادبیات پښتو، تاریخ افغانستان در عصر تیموریان هند، جنبش مشروطیت در افغانستان، افغانستان بعد از اسلام، پښتو ولویکان غزنه، تاریخ مختصر افغانستان در دو جلد، ظهیر الدین محمد بابر، پیښ لیک، زندګی نامه ابن سینا، جوانمردان و عیاران، تصوف، نسب و زادګاه سید جمال الدین افغان، شیخ الاسلام خواجه عبدالله انصاری سیرت او شخصیت، موقف عرفانی جامی در پیوندګاه فلسفه و عرفان با سائنس او نور.

د (۱۳۲۵ش) کال په لومړنیو وختونو کی چې د سردار محمد هاشم صدراعظم حکومت استعفي ورکړه او د ډیموکراسي په نامه د سردار شاه محمود خان سپه سالار په صدارت سیاسي او اصلاحی فعالیتونه شروع سوه، حبیبي صاحب په دي وخت کي د کندهار د معارف رئیس ؤ، د ارتجاعي او اشرافي ذهنیتونو د اثراتو د کمولو او تش په نامه معارف د تشکیلاتو د تعدیلولو په هلو ځلو کي دري سوه ښونځي لغوه سوه، د ښاروالي د انتخاباتو د جعلي اعلانولو او د خلکو په خوښه د آزادو انتخاباتو کیدلو په مبارزه کي يي د خلکو په ګټه په کلکه ملاوتړله د همدغو

www.sikaram.com

فعالیتونو له کبله ؤ چې سابقه ښاروال ته بیا د کاندیدیدلو او بریالي کیدلو زمینه شنډه سوه او په نتیجه کی ملي مبارز عبدالعزیز بابا جان د کندهار د ښاروال په حیث انتخاب سو. څرنګه چې د ده د سیاسي او اجتماعي فعالیتونو له اثره د کندهار د ځینو فیوډالانو، قبایلي خانانو او د دربار د ګماشتګانو منافع په خطر کي ولیدل نو هغوي هر کله د ده د افکارو او اجراآتو د غندلو په ضمن کي د هغه په مخالفت د سیسي جوړولي او د حکومت ښي نظریې یي د هغه په نسبت مغشوشولي، خو چې حبیبي صاحب پوه سو نور په کندهار کي د ده د سیاسي فعالیت له پاره زمینه نه ده مساعده، نو د عبدالمجید زابلی په لاس ورکړه یي ځان د علمي او فرهنګي وظایفو څخه تبدیل او په (چمن) کی د افغاني وکیل التجار په حیث وټاکل سو. څرنګه چې په هیواد کی په دي وخت کي د ډیموکراسي او اجتماعي عدالت ډنډوره ډیره قوي وه، نو حبیبي صاحب ته یوځل بیا چانس مساعد سو او د کندهار د یو شمیر روشنفکرانو او وطندوستانو په ملګرتیا په (۱۳۲۷ش) کي د ملي شورا د اوومي دوري د وکیل په حیث وټاکل سو. ده په ملي شورا کي د خپلو ملګرو لکه میر غلام محمد غبار، ډاکټر عبدالرحمن محمودي، محمد کریم نزیهي، عبدالاول قریشي او نورو په مرسته د حکومت پر سیاست او ځینو نامطلوبو اجراآتو باندي تبصري او غونډې شروع کړي. د حقیقي ډیموکراسي او عمومي شعور په را ویښولو کي یي فعاله برخه واخسته، خو بیاهم د سپاه سالار شاه محمود خان د حکومت په ړنګیدلو او د سردار محمد داود په رویکار کیدلو بیخي خوښ نه ؤ. هغه وخت چې ورته محققه سوه چې سردار محمد داود د حکومت اقتدار ته رسیدونکي دي، نو د میر غلام محمد غبار له قوله چې وایي: یوه ورځ حبیبي صاحب په داسي حال کي زمور کره راغي چې ډاکټر عبدالرحمن محمودي هم حضور درلود او وي ویل: زه درته وایم چې داود خان راتلونکي دي او که راغي هغه نظر چې دي یي زمور او ستاسو په حق کی لري حتمي یي تطبیق کوي. که مو خوښه وي ځانونه باید په خطر کي وانه چوو او وطن پریږدو. مور ورته وویل: د وطنه وتل مصلحت نه دي، څه چې رائي د خپلو نورو ملګرو سره به یي ګالو، شني په پته نه چیچل کیږي. ده چې د داسي نامطلوبو جریاناتو او سیاسي فعالیتونو تحمل نه سو کولای، نو د ناروغي په پلمه په رسمی پاسپورت پاکستان ته ولاړ او هلته یي د آزاد افغانستان، جمهوریت افغانستان د جریدو او حزب په تاسیسولو او د افغانستان د رئیس جمهور د ټاکل کیدلو په واسطه د شاهي او

www.sikaram.com

برسر اقتدار حکومتونو په مخالفت یو شمیر داسي زننده مقالي خپري کړي چې دولت يي په جدی عکس العمل ښکاره کولو مجبور کړ.

ده د افغانستان د لومړی موقتی جمهور رئیس په توګه دغه اعلامیه صادره کړه:

خطابیهء جلالتماب عبدالحی خان حبیبی رئیس موقتی جمهوریت افغانستان

بسم الله الرحمن الرحیم ط

به نام خدائی بزرگی که حامی عدالت و موید خلق است جمعیت ملی آزاد افغانستان را برای سعادت و نجات آن ملت مظلوم افتتاح میکنم و به روح تمام شهدای راه آزادی که درین مدت ( ) از طرف حکومت جبار و مستبد و غیر ملی کنونی کشته شده اند درود و تحیت میفرستم و تائیدات آسمانی بدرقه را هم کاروان و همدردان این جمعیت آزادی میخواهم:

همتم بدرقه راه کن ای طائر قدس که دراز است ره مقصد و من نو سفرم

خدای کریم را شکر گذارم که به من عاجز توفیق کرامت فرمود تا بعد از تحمیل مظالم ناروای ( ) ساله حکومت شخصی کنونی کابل اینك صدای آزادیخواهی و مظلومیت ملت نجیب افغان را به گوش مسلمانان عالم و انسانهای دموکرات و عدالت پسندی برسانم و سلسله مجاهدات آزادیخواهی ملت افغان را تجدید و دوام دهم:

باز آمدم که سجدهء آن خاك پاکنیم گر خدمتی قضا شده باشد ادا کنیم

برادران عزیزم! در اینجا برخی از پروانگان چراغ حریت در راه تحریك آزادیخواهی ملت افغان از وطن عزیز خود دور افتاده اند حاضرند و یقین دارم با آواز من که در فضائی نیلگون افغانستان می پیچد قلوب دردمند دوازده ملیون برادران و خواهران مظلوم من نیز همنوایی میکند، و منتظرند که از کدام گوشه دست حق به یاوری آن مظلومان بر آورده خواهد شد!

بلی میدانیم برادران مظلوم ما که اکنون در آتش ستم و استبداد یك خاندان مقتدر و یك شخص غیر ملی می تپند با کمال بی صبری انتظار دست غیبی را دارند که آنها را از فشار و قهر و ظلم و خشونت اهریمنی برهاند، من ازینجا به تمام هموطنان مظلوم و ستمدیده خود آواز میدهم که:

میرسد مردیکه زنجیر غلامان بشکند دیده ام از روزن دیوار زندان شما

www.sikaram.com

جمعیت افغانستان آزاد ناشی از داخل افغانستان و متکی بر نیروی تمام قبایل افغانستان از افغان و ازبك و تاجیك و هزاره و غیره است و با هیچ نیروی خارجی سر و کاری ندارد، و در داخل خاك وطن با قوای مدهش استبداد و حکومت شخصی پیکار میکند و در خارج کشور همدردی تمام مسلمانان دنیا و ملل دموکرات و عدالت خواه را به امداد ملت مظلوم و رنجدیدهء افغان جلب مینماید تا درین مملکتی که به سر پنجهء قهارستم و فشار و سر نیزه اداره میشود، حکومت ملی از طرف ملت و برای ملت بر مبادی عالیه اسلامی و دموکراسی و عدالت و مساوات و حقوق بشری و ملی تشکیل گردد. جمعیت سیاسی آزاد افغانستان به اساس آرزو های ملت افغانستان مرام ذیل را پیروی مینماید، و مرکب است از عناصر ترقی خواه و ازادی طلب افغان از تمام قبایل افغانی بدون تفریق نژادی.

۱- حفظ استقلال و تمامیت خاك افغانستان به طور واحد لایتجزی.

۲- سعی و مجاهدت برای تاسیس یك حکومت آزاد ملی نماینده عوام و مبارزه با استبداد رژیم مطلق حالیه که بدون خواهش ملت و بدون قانون بر ملت به زور فشار و سرنیزه و انحصار و استبداد حکمرانی مینماید.

۳- مملکت را به سوی وحدت ملی و حیات مدنی و ترقیات عرفانی و اقتصادی و حفظ صحت عمومی پیش بردن، مطابق به احکام اساسیه دین اسلام و قواعد علمی و مدنی.

٤- لغو تمام امتیازات غیر اسلامی و غیر حقوقی و نشر تحکیم اصول مساوات مطابق مقررات حقوق بشر و مناثیر ملل متحد و نظر مساوات به تمام افراد و طبقات ملت.

٥- حاکمیت حق ملت است و هیچ کس را حق حاکمیت بر ملت بدون خواهش ملت نیست بنابر آن آزادی خواهان افغان الغای رژیم مستبد حالیه را حسب مناثیر ملل متحد اعلان میکند و حکومت شخصی و خاندانی را در افغانستان غیر قانونی می شناسد که بایستی به یك حکومت مشروطهء آزاد نماینده ملت بر اساس دساتیر اسلامی و حقوقی تبدیل گردد.

٦- آزادیخواهان بعد از سقوط دادن این حکومت غیر اسلامی و غیر قانونی که فعال مایشا و مستبد مطلق است حکومت جدید را مطابق خواهش (لوی جرگه) بر

www.sikaram.com

اساس حکومت ملت از ملت و برای ملت تشکیل میکنند و با ملل اسلامی خصوصاً دیگر همسایگان و ملل متحابه عموماً مناسبات دوستانه خود را در سایه صلح و دوستی و تامین منافع مشترك اسلامی بر اساس قوانین بین المللی و حفظ تمامیت و استقلال افغانستان دوام میدهند.

۷- آزادیخواهان افغان تمام خائنین ملی را که درین مدت ۲۲ سال ملت افغانستان را در سایهء ستم و فشار و جاسوسی و انحصار به فقر و بدبختی برده اند و هزاران نفر بیگناه را کشته اند محاکمه کرده به جزا میرساند و قوانین جدیده را بر اساس احکام اسلامی و دموکراسی و عدالت برای حفظ کیان ملی به وجود خواهند آورد.

۸- آزادی خواهان افغان آن سرمایه ملی را که در خارج مملکت انتقال یافته و یا در داخل کشور به صورت غیر مشروع به مصرف رسیده فراموش نمی کند و میکوشند که آن سرمایه ملی را برای منافع ملی بدست آورنده آن را به جرگه ملی افغانستان مسترد دارند.

۹- رفع تمام تکالیف غیر مشروع و مالیات غیر قانونی دور از انصاف و عدالت و منافی حقوق بشری که امروز بر ملت افغانستان در اقتصاد و حقوق مالیه در تمام شقوق زندگی تحمیل شده و مبارزه شدید برای تامین آرای حقیقی و حیات مدنی و امنیت قضایی و حقوقی و اطمینان جانی و مالی که امروز ازین لوازم حیاتی و حقوق بشری برای ملت میسر نیست.

۱۰- ترتیب و قول قانون اساسی مملکت بر اساس اسلام و مدنیت و حوایج عصریه ملیه، مملکت عشرته کامله. اینك مرام ملی، آزادیخواهان افغان که ناشی از جذبات و احساسات خواهش زنده و لاینقطع دوازده ملیون نفوس ستمدیده افسرده و پژمردهء افغانستان است و ما به یاری پروردگار اندرین راه دشوار گذر قدم میگذارم و یقین کامل داریم، که انسانان دموکرات و عدالتخواه و حق پسند مخصوصاً ملل اسلامی و برادران مسلمان همسایه ما پاکستانی و ایرانی و غیره به نام حق و انصاف با ما همدرد و همنوا خواهند بود.

www.sikaram.com

برادران عزیز!

امروز در پهلوی شما، ملتی که سالها به آزادی و خوشی زیسته و در مجاهدات حق همواره حمد خدا کار شما و مسلمانان بوده در تحت سر پنجه قهار استبداد و دهشت و بربریت و بی قانونی در کمال انفجار و نا آرامی در آتش مشتعل و سوزان جور و ستم حکومت یك خاندان ستمگار و ظالم می تپند و می سوزند، نیست و نابود میشوند، دین اسلام نوامیس ملیه افغانیت و تمام شعایر قومی و اسلامی شان پامال ستم، اغراض استبداد ملت فروشی یکدسته غدار و خاین است، امروز صدای مظلومان افغان از فراز کوهسار زیبای افغانستان به گوش شما میرسد که ای مسلمانان ای برادران ای همسایگان ای انسان های دیموکرات به مدد ما بشتابید و ما را از فشار ظلم و ستم و استبداد یك خاندان اسلام فروش و افغان کتش نجات دهید، همچنان که در معرکه های در طوفانی ترین مواقع تاریخی به امداد شما رسیده بودیم، امروز شما با ما یاری کنید و یاوری نمایید.

یك نگه یك خنده دزدیده یك تابنده اشك، بهر پیمان محبت نیست سوگندی دگر، ما از تمام مسلمانان عالم و اهل دموکرات همدردی اخلاقی و امدادی معنوی شان را برای سعادت و تامین حقوق ملی مردم افغانستان خواهانیم چون در محیط کشور ما زور و ستم و بی آئینی و فشار نظامی حکمفرمایی دارد و مردم ما یکی از حقوق بشری و ازادیهای گفتار و کردار و قلم و فکر عقیده سیاسی و مصؤنیت مال و جان و منزل و مساوات و تمام مزایای حقوق که مناشیر ملل متحده برای بشر منظور داشته اند میسر نیست بنابران در داخل افغانستان مقاومت علنی و یا مبارزهء حزبی و مطبوعاتی و حتی گفتار ازاد و حق تشکیل جمعیت نیز ممکن نه بود، اینك برخی از یاران جمعیت آزادیخواهان به خارج مملکت روی می آورند و میخواهند صدای مظلومیت افغان اسیر و مسلوب الحقوق را به گوش جهانیان آزاد میرسانند.

یکی از آن اخوان الصفا که سالها در راه آزاد یخواهی رنج برده اند این بنده عاجزم که سالها در افغانستان بر خلاف استبداد و فشار قلمی پرداخته ام، جمعیت های علمی و کلتوری از قبیل... و فاکولته ادبیات را تاسیس کرده ام، و در دورهء هفتم شورای افغانی وکیل شهر قندهار و سر دسته آزادیخواهان بوده ام و بار ها در مجالس شوری و دیگر

www.sikaram.com

محافل افغانی صدای مظلومیت ملت را به گوش ستمگاران رسانیده ام و در راه تحصیل حقوق ملی رنج برده ام، و بالاخره به ترك وطن و فراق خاکیکه از جان عزیز تر دارم مجبور شده ام، و اگر این صدای من از فراز کوهساران خیبر در فضای زیبا و دلکش وطن طنین انداز گردد یقین دارم، که یاران عزیز و جوانان ملت و هموطنان گرامی به جان برابر من آن را می شناسند و به گوش شان آشناست؛

ما امیدواریم خون شهدای آزادی افغان که در مدت ۲۲ سال به تیغ ستم و جبار این حکومت ستمگار شهید شده اند، عنقریب به جوش می آید، فرزندان و برادران و خواهران آن شهدای ستمدیده هنوز در کوهساران افغانستان زنده اند و شمشیر انتقام ملی عنقریب از نیام جمعیت و غیرت افغانی بر آمیختنی است، ملت افغان به زودی برای تحصیل حقوق حقهء خویش قیام کردنی است و این نهضت ملی متاع زندگانی ستمگاران را به آتش انتقام خواهد سوزانید، بهتراست جفاکاران ملت و مستبدان حکومت شخصی و مربوطین و حواشیش خاندانی مقتدرین کابل نزاکت این مرحله را بدانند، و به محاکمه ملی خود را تسلیم نمایند. زیرا هیچ قوه دنیا نمیتواند آنها را از قهر و غضب ملت افغانستان نجات دهد. هنوز موقع است و فرصت باقی است که خود را به آغوش عطوفت ملت بیندازند بگذارند که این ملت بدور خود فراهم آمده و حکومت ملی خود را تشکیل کنند، و دورهء بدبختی و فلاکت بار موجوده را خاتمه دهند.

ستمگاران و ارکان... شاهی کابل باید بدانند که به هیچ گوشهء دنیا از تعقیب و محاکمه و استرداد مالی حکومت ملی افغانستان رهایی و نجات میسر شان نخواهد بود و کارکنان حکومت ملی آنها را به هر گوشهء دنیا تعقیب خواهد کرد، پس که اکنون دروازه توبه و انابت را فرو نه بسته اند سر تسلیم به آستان ملت گذارند و تمام احوال و سرمایه های را که از گوشت و پوست این ملت مظلوم رنجدیده ستم کشیده و به زور و ظلم به صورت ناجایز چاپیده اند به خزانه ملی مسترد دارند و الا.

ملت بود آن شیر که هنگام تزاحم چون بیشتر آزرده شود پیشتر آید

ربنا افتح بیننا و بین قومنا بالحق و انت خیر الفاتحین ط

زنده باد ملت آزاد افغانستان!

نابود باد استبداد و ظلم و اسیر ذلت!

www.sikaram.com

پاینده باد اسلام...!

یکم ستمبر ۱۹۵۱

د همدغه کبلهؤ چې دولت په ملي شورا کي د کندهار خپل یو شمیر طرفدار وکیلان او د ده شخصي مخالفین ودي ته وهڅول چې د ده څخه افغاني تابعیت سلب کړي. دغو سیاسي فعالیتونو د پاکستان او افغانستان ترمنځ نوري سیاسي لانجې راوپارولې او د مهر خان (یعقوب سکوټ) په واسطه څو کاله د پاکستان په تبلیغاتي مرکزونو کي د افغانستان د برسر اقتدار رژیم په مخالفت روا او ناروا تبلیغات خپریدل لکه چې ویل به یې:

دل را به دل رهی است درین گنبد سپهر از کینه، کینه خیزد و از روی مهر، مهر

حکومتی استخباراتي منابعو به د خپلو ډنډورچیانو او پټو جاسوسانو له خوا د حبیبي صاحب د شخصیت د مغشوشولو دپاره دا ناروا تورونه هم باندي ترل چې دي د حکومت په خوښه په پټه اوسري توګه پاکستان ته لیږل سوي دي چې د پاکستاني حکومت سره په تماس او نزدیکت حاصلولو سره د هغوي پټ اسرار کشف کړي. خو حبیبي صاحب په خپل اثر (نقشه المصدور قرن بیستم) کي ددوي دغه اتهام داسي ردوي:

سحرگه ای نسیم صبحگاهی برد چون نور خود شب را سیاهی
گذر همدوش خود چون پیك انوار ز خیبر بگذرد از کوه شینوار
الا ای پیك خوش رفتار بخرام به کابل رو، کشابالی به بگرام
گذر بر مشکوی یاران همدم بر آن باغ و گل و بستان خرم
دیار من دیار راد مردان دیار دلکش مردان افغان
وطن ای مدفن آبا و اجداد الهی جاودانش دار، آزاد
الا باد صبا نرمك خرامی به کوی هموطن یار گرامی
رسان سوز دل مهجور ما را نواهای شب دیجور ما را
سرشك لاله نام ارغوانی بیفشان بر وطن گرمی توانی
زما جز آه و سوز درد و افغان نباشد ارمغانی بهر اخوان
بگو بر هموطن از ما سلامی رسانش از حبیبی یك پیامی
کزان دم کز وطن گردید مهجور ازو شادی و خودکامی بود دور

www.sikaram.com

بیاد تان خورد خون جگر را / بسوز در آه گرم خود شرر را
چه باشد حال آن مرغی که افتاد / بدور از گلستان از جور صیاد
خصوصاً دور افتاده ای را / غریبی بیوطن آواره ای را
ز ظلم ظالمان از ملك مهجور / به شهر دیگران از خانمان دور
ز تیغ جور ظالم نیم بسمل / که او را نیست جز بیماری دل
مرا گر هست تقصیری بود این / که بسیارم وطنخواهی است آئین
ندارم قبله گاهی غیر آن خاك / بگویم حق بی ترس و بی باك
ازینرو از وطن آواره ام من / اسیر غربتم بیچاره ام من
تو می دیدی که در شوری هفتم / همانا حق بگفتم آنچه گفتم
سرودم داستان درد ملت / کشوده عقده های قلب امت
ندایم دایماً حق بود تنها / که این باشد گنه در کشور ما
چه گویم همنوا کز دست ظالم / چها دیدم ز انواع مظالم
بسا بر من وطنداران جفا رفت / ز جور ظالمان صد ما جرا رفت
شدم آواره از زیبا وطن دور / به آه و ناله در شبهای دیجور
بیا بنگر تن مهجور ما را / غم دل نقشه المصدور ما را
به قرن هفتمین از جور چنگیز / ندیده زیدری این ظلم و استیز
به من بین کز جفا در قرن بیستم / ز جور ظالمان هرگز نه رستم
بدین قرنیکه انسان است آزاد / مرا کاری به بند، و نفی افتاد
مناشیر حقوق آدمی زاد / به حق من یکی صادق نیفتاد
ولی باری بدون جرم معلوم / شدم مطرود زان خاك برو بوم
نبودم در وطن من رهزن و دزد / نبودم پاره خور، بی اجرو بی مزد
مرا کاری نه بود جز علم و فرهنگ / به دانش خدمتی بی ریو و بی رنگ
بلی دارم بدل مهر وطن بیش / ز هر ظالم همی خواهم حق خویش
منم خواهان عدل و هم مساوات / که زاید از ستم انواع آفات
همی خواهم به کشور حکم قانون / که باشد زو خوشی هموار افزون
وطنخواهم به عدل و علم آباد / خدایا جاودانی آن وطن باد

www.sikaram.com

حبیبي صاحب د خپل فطري او افغاني تابعیت څخه د محرومیدلو او سلبولو او په دلائلو او شواهدو سره د خپل ځان او کورني د غړو د وطن پروري او افغان دوستي د ثابتولو او د برسر اقتدار حکومت او ځینو تش په نامه وکیلانو د اعمالو د غندلو په هکله داسي وایي:

(... مردم افغانستان و شاید برخی از مردم ایران، پاکستان، هندوستان و ازبکستان که من به حیث یك فرد رسمی افغان در آن کشور ها سیاحت های رسمی نموده ام و یا به ذریعه معلومات افغانی مرا خوب می شناسد که مدتها در قندهار مدیر جریده طلوع افغان و بعد از آن در کابل رئیس اکادمی افغان (پشتو تولنه) و فاکولته ادبیات و عضو معارف و معاون ریاست مستقل مطبوعات بودم و اسناد رسمی صداقت و خدمت به وطن به امضای وزرا صدراعظم ها و حتی خود پادشاه افغانستان بدست دارم، در مدت ۲۲ سال حکومت دودمان یحیی من مامور رسمی دولت بودم و در میدان علم و ادب خدمتی را که توانسته ام کرده ام که از نظر دانشمندان داخلی و خارجی پوشیده نخواهد بود. ولی از بدو تاسیس حکومت آل یحیی که بنیاد آن بر جور و خود سری و حکومت مردم آزاری گذاشته شد، مخالف سیاست داخلی این دودمان غارتگران بودم و از سال اول جلوس نادر خان مقتول که دشنه سفك الدماء و ناروا را به جان ملت کشید، به مخالفت صریح و علنی آغاز کردم و مقالات من بر خلاف این رژیم ظالم از (۱۳۰۹ش) در جریده افغانستان لاهور به امضای پریشان قندهاری نشر می شد و مدافع اولین حقوق ملی بودم. در سال (۱۳۲۸ش) که به دوره شورای ملی وکیل مردم شهر قندهار بودم نیز علناً بر خلاف مظالم انسانیت سوز آل یحیی (علیهم ما علیهم) در مجلس شورای ملی مقاومت علنی میکردم و تمام مردم کابل که شاهد و ناظر وقایع بودند، مطلع اند (و کفی بالله شهیدا) چون دودمان یحیی به هیچ صورتی از صور حاضر نه شد که دست ظلم و فشار را از گریبان ملت افغان بکشد و با حقوق ملی مردم را به آنها بدهد بنابران برای ادامه تحریك آزادی خواهی که ریشه های آن در دل فرد، فرد ملت افغان محکم است، پارسال به پاکستان آمده اگر در داخل خاك وطن مقاومت علنی شروع و قانونی از راه تشکیل احزاب سیاسی و پیشبرد این تحریك مقدس میسر بودی هر آئینه به کشور دیگر نیامدمی و خاك عزیز افغانستان را پدورد نه گفتمی. علی ای حال من به صورت قانونی بدون ارتکاب کدام جرم و جنایات در حالیکه وکیل یك شهر بزرگ بودم و پساپورت مخصوص وزارت خارجه افغانستان

www.sikaram.com

(٤٦٣٥- مورخه ۱۳۲۹-۸-۲۰) به امضای معین رسمی وزارت خارجه به شمول اولاد و اطفال بدست داشتم و تذکره تابعیت رسمی افغانستان نزد من و اولاد کوچکم بدست داریم، موقتاً از خاك وطن دور افتاده ایم. حکومت ستمگار بعد از چند هیاهوی دلخراش را راجع به شخص من در افغانستان انداخت و تا که توانست بیشرمانه به ذریعه اربابان اجیر شتم کاری نمود و بالاخره به شتم مطبوعاتی اکتفا نه کرده و بصورت عجیبی برخلاف تمام قوانین دنیای متمدنه مسئله را به شورای حکومتی برد. آقای داوی رئیس انتصابی شورا با برخی از کاسه لیسان به اشاره سردار دیوانه (داود خان) همدست شدند در نتیجه تملق سای آقای داوی از شورای حکومتی امضاء گرفت که گویا سلب تابعیت افغانی مرا نموده باشد و این موضوع را به مطبوعات سرکاری و هیاهوی طولانی قرار دادند. درین قضیه چند چیز عجیبی است که هر یك حالی از بی قانونی و خلط قوای سه گانه و وضعیت خنده آور اداره حکومت کنونی است و دنیا میتواند این عجیب و غریب جناب مقرب الخاقان و متملق اللسان آقای داوی و همکاران چاپلوس اوضاع سیاسی افغانستان را قیاس کند. بیچاره متملق اللسان و وکلای بیسواد و جاهل (به استثنای بعضی) اقلاته می فهمیدند که سلب تابعیت یك نفر بدون کدام سبب قانونی و بدون خواهش او، اولاً کار شورا که فقط قوه تقنینیه است نیست و شورا نمیتواند کار قوه اجرائیه و قضائیه را بنماید و اینکار حقوقاً اگر تعلقی داشته باشد، به قوای موخر الذکر خواهد بود که بعد از محاکمه و طی مراتب ابتدائیه و استیناف یك محکمه قانونی کسی را از حق تابعیت قانوناً محروم سازد و باز قواء اجرائیه آن حکم محکمه را به منصه عمل بگذارد. دوم این است که غوغایان نادان و هیاهوگران جاهل که در راس آن آقای متملق السلطنه داوي صاحب قرار دارد، اقلاً اعلامیه جهانی حقوق بشر مورخ ۱۰ دسمبر (۱۹۳۸م) را نخوانده اند و نه وزارت خارجه دولت بی آئین و بی قانون آل یحیی آنها را ملتفت ساخته که دولت آل یحیی آن اعلامیه جهانی را در محافل بین المللی تسلیم کرده هر سال به نام آن جشن میگیرند بنابران نمیتواند بر خلاف متن صریح آن اقدامی کنند و آنهم درباره یکی از وکلای شورا که اساساً مصئونیت قانونی دارد. در حالیکه هیچگونه اقامه ادعای جرم درباره او نه شده و نه قانوناً محکمه او را محکوم قرار داده است و نه خود وی ادعای ترك تابعیت کشور خود را کرده است. این دولت جاهل و وزارت خارجه جاهل و شورای جاهل (به

www.sikaram.com

استثنای چند نفر) و متملق السلطنه جاهل و صدراعظم بیسواد و جاهل باید این ماده صریح و واضح الدلاله اعلامیه حقوق بشر را که وزارت خارجه شان تصدیق و تسلیم کرده است، بخواند- ماده ۱۵:

۱- هر کس حق دارد که دارای تابعیت باشد.

۲- احدی را نمیتوان خودسرانه از تابعیت خود یا از حق تغیر تابعیت محروم کرد.

مطابق این ماده ترك تابعیت افغانی و ایا ادامه آن حق مشروع ملی و قانونی و انسانی است. نه چند نفر هوچی گران غوغایی و متملقان دربار خاقان، هیچ کس نمیتواند شرف افغانیت را از من سلب نماید، در حالیکه گذشتگان نامور من در علم و سیاست استادان و دانش بخشایان این مردم اند و در خدمت کشور خود سوابق درخشان دارند و در آن خاك با نام و نشان زندگی کرده اند و اینك در آن خاك خفته اند و برای آن خاك و منافع ملیه آن مردم خون ها ریخته اند، من نمیتوانم خاندانی که اجداد شان به خیانت و وطن فروشی از خاك افغانستان رانده شوند، و اولاد شان در خاك (دیره دون) هند پیدا و تربیه گردیدند، هنوز هم زبان فارسی یا پشتو را زبان مادری خود نمیداند و نه روان صحبت کرده میتوانند و در خانه های خود هندی گپ میزنند و تا دیروز به سبب خیانتهای از خاك افغانستان رانده شده بودند با آن سوانح ننگین و اجنبی پرستیهای تاریخی چگونه به خاك افغانستان صادق شدند. ولی امثال ما مردم که عمری را در تنویر اذهان و خدمت عملی و ادبی کشور عزیز صرف کرده ایم و زبان مرده و نامرتب (پشتو) را زندگی و تاریخی بخشیده ایم به علت اینکه ملت آزاری و ستمگاری و یغماگری و چور و چپاول مسلسل آل یحیی را انتقاد میکنیم از شرف افغانیت و وطنیت و ملیت محروم شویم. عجبا.

مدتی بر عکس باشد کار ها شحنه را دزد بر آورد بردار ها

علی ای حال امروز غدار و خاین که همه مردم افغانستان آنها را خوب شناخته اند، زمام مقدرات ملت را به زور و جبر و اکراه گرفته اند و میتوانند به ذریعه برخی از هوچی گران بی وجدان و رشوت خوران مشهور امثال عبدالرشید و محمد صدیق هیاهوی برپا دارند ولی بدانند که یومر لکم و سرلنا.

ما تا وقتیکه جان در تن داریم خود را (افغان) دانسته و این شرف را به قیمت و پول دیگران مانند آل یحیی نمی فروشیم و این عنوان شریف را هیچ کسی از ما سلب کرده

www.sikaram.com

نمیتواند. زندگانی ما، حیات ما، ممات ما، جد و جهد ما، پیکار ما، سعی ما، فکر ما وقف وطنی است که در آن زاده ایم. این غیاب موقت ما هم برای تامین منافع وطنی است و اگر عشق وطن و افغانی محرك این کار نه بودی، هر آئینه لحظه ای از آن خاك پاك دوری نه گزیدی.

گر دوریم با یاد تو قدح می نوشیم بعد منزل نه بود در سفر روحانی

به هر صورت این فداکاری تنها نصیب ما نیست، سابقین ما اندرین راه کشته شدند، اظهار حق کردند، حق گفتند، در زیر تیغ سفاکان خون آشام نیز صدای حق بر آوردند، خون آنها ریخته شد ولی از حق نه گذشتند. مولوی عبدالرحیم جد من در سال (۱۲۹۸ق) در زیارت خرقه شریف قندهار بدست امیر مستبد وقت به تیغ نیز کشته نه شد؟ ولی در هماندم به امیر چه گفت؟ آیا او را متغلب دست نشانده فرنگی نخواند؟ به تاریخ رجوع کنید، باز در سال (۱۳۰۸ش) مولوی عبدالواسع شهید عمزاده من، به بچه سقاء باغی و منقلب نه گفت؟ و به توپ آن جاهل سفاك پرانده نه شد؟

حالا اگر حکومت کنونی که عبارت از یك داره دزدان، رهزنان، جاهل و سفاك و ستمگارند ولی به لباس زمامدار و شحنه در آمده اند، مرا طاغی و محروم از حقوق ملت بدانند باکی نیست و عنقریب خود ملت افغان این مسئله را فیصله میکند که خاین دین و ملت کیست؟ ما با یحیی خیل، هر روز طعن و تشنع میشنویم هر قدر جور و جفا ببینیم، از نعمت وطن محروم شویم، عنوان ملت را به زعم خود از ما سلب کنند باکی نداریم.

جفا کنیم و محبت کنیم و خوش باشیم که در طریقت ما کافریست رنجیدن

این هیاهو و هتاکی و بی شرمی که حکومت شخصی و غیر ملی یحیی خیل برپا کرده اند، عشق ما را به وطن و ملت مظلوم خویش دو چندان میگرداند.

وحدتنی یا سعدیا فروتنی جنونا فزدنی من حدیثك یا سعد

حبیبي صاحب د پاکستاني سیاست سره د هماهنګي نه بنکاره کولو او د دوي د لاس دالي نه ګرزیدلو په تور کرار، کرار د پاکستاني مقاماتو له نظره لویدي چې په نتیجه کې يې ژوند او سیاسي ماحول ورځ په ورځ تنګیدی څو د توانه يې ووته او په پیښور کې د افغاني جنرال کونسل غلام حسن ساپي په لاس یوه معذرت نامه د سردار محمد داود صدراعظم حضور ته ورسیده او د هغه له خوا وطن ته د بیرته راتلو اجازه ورکړه سوه څو په کراچي کې په افغاني سفارت کې پناګزین

www.sikaram.com

وگرځید او څو ورځي وروسته د سفارت په کارګو کي په کال (۱۳٤۱ش) کي کابل ته راورسول سو.

د دغه وروسته حبیبي صاحب د تاریخ د انجمن په غړیتوب، د ادبیاتو د فاکولتي د استاد په حیث وټاکل سو او په (۱۳٤٤ش) کال کي د (پوهاند) په علمي رتبي ووياړل سو. د حبیبي صاحب څخه که په لومړی سر کي یو مغرض د ده د پاکستان د تلو او بیرته په عین سختو شرایطو کي وطن ته د راتلو علت پوښتنه وشي نو به په خلص ډول په ځواب کي ورته ویل ولاړم راغلم او بس.

د داود خان د استعفي او د ډیموکراسي د راتلو سره سم بیا هم ده دغه اسرار افشا نه کړل او له ځانه سره یي ګورته یووړل او د سیاسیونو او ملي مبارزینو په ذهنو کي د یو معمي په شکل پاته سو.

د نوي اساسي قانون او ډیموکراسي په نافذیدلو سره حبیبي صاحب د عبدالروف بینوا په اعتماد او ملګرتیا د مترقي ډیموکراټ په ګوند کي شامل سو. او په کال (۱۳٤٥ش) د تاریخ د ټولني د رئیس په حیث وګمارل سو. د محمد هاشم میوندوال د استعفي او د شاهي کورنۍ سره یي د څه نزاکت پیښیدلو له کبله بینوا صاحب او یوشمیر ملګری د ویښو ځلمیانو په نامه چې حبیبي صاحب هم پکښي شامل و په رسمي توګه د مترقي ډیموکراټ د ګوند څخه ووتل او څه مده وروسته تقاعد ته سوق سو. په کال (۱۳٥۱ش) کي یي تقاعد بیرته را وګرځید او د محمد موسي شفیق د صدارت فرهنګي مشاور وټاکل سو او وروسته د خلقی انقلاب په دور کی د اطلاعات او کلتور د وزارت، د دولتي کومیټي د فرهنګي مشاور، د لیکوالو د اتحادیي، پلار وطني ملي جهپي د غړي په حیث پاته سو.

پوهاند عبدالحي حبیبي د (۱۳٦۳ش) کال د ثور په شلمه په خپل کور جمال مینه کي د زړه د سکتي په ناروغي وفات سو او د کابل د شهدای صالحینو په هدیره کي خاورو ته وسپارل سو.

تر کومه ځایه چې د هغه د ژوندانه د جریاناتو څخه څرګندیږي حبیبی صاحب یو آزادیخواه، اشرافي مزاجه، دارستوکراتیک لبرالزم طرفدار افغان ؤ. د نظر وسعت او د هر څه لیدلو او اوریدلو حوصله یي نسبتاً درلوده، خو کله چې به په تنګیدي شدید عکس العمل به یي هم ښکاره کاوه وایي نژدي وه چې د یوه جارو د نه تهیه کیدلو د موضوع پر سر یي د مطبوعاتو د مستقل ریاست د معاوني څخه استعفي کړي واي، دي د دومره عزت نفس او ملي غرور خاوند ؤ. یو وخت چې دي په

www.sikaram.com

کندهار کي د معارفو رئیس و او په غیر رسمي وخت کي په وطني کالیو کي د کابل بازار څخه تیریدي قیمتي شاه مقصودي تسبیح یي د لاسه وشلیدي دي د څه مکث وروسته ځني تیر سو او نورو را هروانو هغه را ټولي کړي. حبیبي صاحب د کتاب پوهیدلو او عتیقه آثارو پیژندلو هم ماهر ؤ په کندهار او کابل کي یي څو ځله خپل مهم او خطي آثار د مطبوعاتو او شاهي تحریر پر کتابخانو پلورلي دي.

حبیبي صاحب هزاره نقشه، سپین پوستي، بلند قامته، نظیف او پاک پوشه موقر افغان و. ده په خپلو ادبي او علمي ظرافتونو د ملګرو مجلس تود ساتي او په بازاري سویه یي نه څوک تحقیر اوه او نه یي ستایه. ده ساده ژوند، ساده خوړل، ساده اغوستل کول. کوریي د کابل په جمال مینه کي ؤ. معمولي ظرف او فرش یي درلود. خانمه یي د محمد اعظم ایازي لور وه چې څو زامن او یوه لوریي ځني درلوده.

دي په پښتو، فارسي، عربي اوڅه انګلیسي پوهیدی. د پښتو او پارسو نومیالي ادیب او شاعر ؤ. آثار یي په داخلي او خارجي مطبوعاتو کي خپاره سوي دي.

د پښتو نثر نمونه یي:

دوي ویل: ښې منظري دي، څنګه ښې ښکاري، دا شنه ډنډونه، را غونه او دښتونه، په دي پسرلي کي څنګه ښه ښکلي، هغه دښتونه او رغونه او د غره لمني، څنګه ښې ایسي. هوغه کلا، هوغه کلي څنګه پاک او پاک ښکاري. ما له ځانه سره فکر کاوه او ښه کلامي نه لیده. یوه ویل دغه حوزه هر راز ترقي ته مستعد ده. بل ویل: دي او بوته چې بندولو یې هغه دښتونه به شنه زرغونه کړي. هغه بل ویل دنیل حوضه را په یاد سوه داسي خبري اتري کیدی او ما اوریدي د طیاري غرهارؤ تله، تله... او دا خبري د فضا په لایتناهي غیږ کي ورکیدي... د هریرود مجرا، د فوشنج خرابي، د اسفزار تاریخي ډګر زما له نظره تیر سول. پر تاریخي ښار فراه راغلو. د بست او میوند تاریخي ښارونه مو ولیدل، زوړ کندهار په اسفناک حال کښته ښکاره سو، د غور عظیم الشان جنوبي غرونه د دي خرابو او سهمناکو مناظرو به عزا... سیاه پوش وه... ماته د پسرلي ښکلا نه ښکاریده... په هوغه کلي کي څوک اوسي؟ څه خوري؟ څه یي اغوستي دي؟ څنګه ژوند کوي؟ څه حال لري؟ دا سوالونه زما په مخیله کي راګرځیده. لکه چې لیونی وم... هو دغه کلاله لوړي

www.sikaram.com

څخه خورا ښکلي منظمه او پاکه ښکاریده، مګر مایي د ننه حال لیدي او دا راته معلومه وه چې هلته د ډول، ډول امراضو بساط پروت دي او یو څو وزي او لوڅ لپر انسان په ډیر فلاکت او روحي اضطراب کي ژوند کوي... یه یه خطاوتم، تر مرګه ځانونه رسوي، ځکه چې ژوند نن ورځ بیل مفهوم لري. زما زړه د دوي د احوال په تصور کي پرسیدي، ډوبیدي، رپیدي، ها نورو ملګرو له ظاهري مناظرو څخه خوند اخست، دا ځکه چې هغوي له لوړي څخه ورته کتل... او د کښتي حال یي نه سو تصور کولاي... ما له ځانه سره فکر کاوه چې یو بل وختنه زه هم دغسي خطا وتلي وم. ما له لوړي طیاري څخه دیوه ملت مځکه لیدله. او دا مي په زړه کي وه چې ګوندي هغه ملت به سعادتمند وي. که څوک غواړي چې د یوه ملت حقیقي حال ځانته معلوم کړي، بهادی له کښتي څخه ورته وګوري... د دوي کورونه، کوډلي وویني، چې دوي څه خوري؟ څه اغوندي؟ څنګه ژوند تیروي ځیني خلک ځکه د ملت په حال حقیقي نه خبریږي چې د لوړي څخه هغو ته ګوري او د لوړي هر شي ښه ایسي.

د شعر نمونه یی:

هلمنده!

تل بهیږي نه وچیږي — اي ژوندي بهانده روده
غاړی، غاړی ځک په خوله کی — ژوندی تولې تګ ؤ پوده
تل ښوبیږی حرکت کړی — ته دیر بدوړی له رکوده
راشه ستا سره حواله کړم — د غمجن زړه تشیده کړم
دلته ستا پر دواړو غاړو — څه ښارونه چې ودان وه
لمر سپورمی په زړو کالو — دلته بریښنده تابان وه
ستا زامن وه نومورې — رادمردان او پهلوانان وه

یو وار وګوره چې څه سوه
په تورتم په ورکیده سوه

(داور) ولاړی تولې وران سو — (بست) دی هم خاوری ایری سو

www.sikaram.com

د (زرنج) کندوالی وینم د لوړتیا مزی یی پری سو
(سروان) هم سو کوتی، کوتی څه ماتم دلی موری سو
البستی په ویر کړکړ دی
زرنجی په خاورو خړ دی

راسه ای بهانده روده درته لولم افسانه ستا
ستا اوبه آب حیات وی تول زامن وه مردانه ستا
چې د مرگ طوفان پر راغی کنډواله سوه کرانه ستا
نه څراغ د تهذیب بل سته
نه رڼا سته نه مشعل سته

د زرنج مدارس وران سوه علمایی تول خاموش دی
نه د بست دانشکده سته طلبه یی سیاه پوش دی
مدنی ښارونه وران سول له عدمه هم آغوش دی
یوار وگوره هلمنده
څنگه تشه ستا لمن ده

یو وار بیا حرکت وکړه شاوخوا د ژوند څپه کړه
بیا ودان کړه لوی ښارونه پری ایله د ژوند چینه کړه
تش دگری دی زرغون باغ کړه (زرنج) بیا آتشکده کړه
خپل زامن په ژوند خبر کړه
زرغون داکنډوکیر کړه

ولی هسی سوی بی فیضه ای هلمنده لحان ته گوره
ته د ژوند اوبه خپری کړه غورځه، پرځه، خانده، ښوره
زرغونه کړه دا دښتونه پریږده مه دا مځکه توره
ته د ژوند مسته چینه یی
ولې نه گوری چې څه یی؟

پوهاند حبیبی دغه سیمه په کال (۱۳۱۲ ش) د حمل په دیرشمه لیدلی ده چې لا آباده نه وه.

www.sikaram.com

گل پاچا الفت

دي د هیوادلوي ادیب، شاعر، متفکر، مصلح، اخلاقي او ملي سیاسي شخصیت و چې په کال (۱۲۸۷ش) کي د ننگرهار د لغمان د عزیز خان په کڅ کي د میر سید پاچا په کورنې کي زیږیدلي و. علمي تحصیلات یې په غیر رسمي مدرسو کي په سر رسولي او متداوله علوم یې لکه صرف، نحو، منطق، تفسیر، حدیث، معاني او بیان د ننگرهار او کابل د مشهورو استادانو څخه لوستي وو.

پاچا صاحب په کال (۱۳۱٤ش) کي د کابل د انیس د ورځپاڼې په اداره کي د کاتب په حیث مقرر سو. او په کال (۱۳۱۵ش) کي د هغه وخت د ادبي انجمن چې بیا یې نوم په پښتو ټولنې واوښت د تالیف او ترجمې په څانگه کي په غړیتوب ومنل سو چې د (زیري) اخبار یې هم چلاوه. په (۱۳۱۸ش) کي د پښتو ټولنې د صحافت د مدیریت مرستیال په حیث وټاکل سو، په (۱۳۱۹ش) کي د پښتو ټولنې د لغاتو او قواعدو د څانگي د مدیر او په (۱۳۲۰ش) کي د اصلاح د ورځپاڼي د پښتو مشاور سو او په همدغه کال د پښتو ټولنې د لوي مدیر او د کابل د مجلي د چلونکي په حیث وگمارل سو. په (۱۳۲۵ش) کي د ننگرهار د اتحاد مشرقي د جریدي مدیر سو او په کال (۱۳۲۷ش) کي د ننگرهار د قبایلو د مدیر او ویښو ځلمیانو د موسسې کنگرې د غړو څخه وگرځید. پاچا صاحب په کال (۱۳۲۷ش) کي د جلال آباد د خلکو له خوا څخه د ملي شورا په اوومه دوره کي په وکالت او بیا د هغې شورا د دوهم معین په حیث انتخاب سو. ده په کال (۱۳۳۰ش) د جوزا په ۲٦ په خپل امتیاز د (ولس) جریده د علي محمد شینواري په مسؤل مدیریت راوایستله. د غې جریدي د ویښو ځلمیانو د اهدافو او تبلیغاتو په خپرولو کي مهمه برخه اخسته. پاچا صاحب په کال (۱۳۳۱ش) کي د لغمان د کرغه ایو د خلکو له خوا څخه د ملي شورا د اتمې دورې په وکالت او په (۱۳۳٤ش) کي د جلال آباد د خلکو له خوا څخه د لویې جرگې په وکالت وټاکل سو او د ادبیاتو په پوهنځي کي یې د پښتو ژبې د استادي عهدې ته هم دوام ورکړ.

گل پاچا الفت په (۱۳٤۰ش) کي د قبایلو مستقل رئیس وٴ د (۱۳٤۳ش) کال د نوي اساسي قانون په طرح او بریالیتوب کي یې فعاله ونډه واخسته او په همدغه کال د جلال آباد د

www.sikaram.com

ښاریانو له خوا څخه د ولسي جرګي د وکیل په حیث وټاکل سو. دي پاچا او شاهي کورنۍ ته ډیر معزز او ګران و او د سردار محمد داود د معتمدینو او همرازانو څخه ګڼل کیدي.

د سردار محمد داود په جمهوري دوره کي څکه چې پاچا صاحب او بینوا صاحب و اعلیحضرت ته ډیر نژدی سوی وه او د نوي اساسي قانون په جوړولو او تصویبیدلو کي یې فعاله برخه اخسته د هغه د تاثر موجبات یې را غونډ کړه او په (۱۳۵٤ش) کي یې یو په بل پسي دواړو ته تقاعد ورکړ.

ګل پاچا الفت په (۱۳۵٦ش) کال کي د زړه د درېدو په ناروغي وفات سو او جنازه یې د عزیز خان په کڅ کي په خپله پلرني هدیره کي د کابل او ننګرهار د لوي سړک واړخ ته خاورو ته وسپارله سوه. په کابل کي یې د مشر زوي مرحوم عزیز جان له خوا د څلورمي کارتي په مسجد کي فاتحه واخستله سوه چې په هغي کي سردار محمد نعیم او لویو ملکي او عسکري صاحب منصبانو او د علم او ادب خاوندانو اشتراک کړي و.

د پښتو د یو پاخه لیکوال په قول دي دومره اخلاقي او محجوب سړي ؤ که به چا د ده سره خبري کولي ده به د شرمه هغه ته کښته کتل. د پاچا صاحب مجلس ډیر خوږ او د ظرافته ډک ؤ وایي یوه ورځ پاچا صاحب د څو نورو ملګرو سره پر لاري روان و که ګوري یو خر بل خر ګروي نو یو ملګري ور نژدي سو او ورته وي ویل نه ګوري په خرو کي هم الفت ستە. پاچا صاحب یې سمدستي في البدیهه په ځواب کي وویل لکه زه چې په تاسو کي یم.

د پاچا صاحب مشهور آثار: غوره اشعار، د پښتو املا او انشاء، ادبي بحثونه او نور دي.

د پاچا صاحب د نثر نمونه:

په یوه ورځ په یوه ساعت کي له یوي شفاخاني دوي جنازي را ووتلي، هغه یوه د کم خوني په وجه او دا بل د فشار خون په سبب مړه وه. د هغه جنازه څلورو تنو پر اوږو را اخستي وه د دي بل جنازي پسي بي حسابه لوي او واړه موټرونه روان وه. هغه یوه وینه نه ډرلوده څکه مړ سو، د دغه بل وینه زیاته سوي او تیزه سوي وه څکه یې ژوند د لاسه ورکړ. دوي دواړه مړه سول، مګر مرګونه یې یو راز نه وه او مرضونه یې بیل وه. یوه د نورو وینې څکلي وي او دي ته محتاج و چې ډاکټران یې له وجود نه وینه وباسي، بل ته چا خپله وینه نه وه پري ایښې او بې وینې ؤ. یو د افراط او بل د

www.sikaram.com

تفریط د لاسه مړ سو. هغه چې فقیر و او په فقر الدم مړ سو، د هغه له مرګه باختر آژانس هیڅ خبر نه سو او د دې بل د مرګ اطلاع اخبارونو په ډیر تاسف اخستې وه او د جراید و مخونه یې په ماتم تور سوه. دوي دواړه یو بادار او بل مزدور ؤ. څه موده پخوا ښاغلي بادار رنځور سو ډاکټر د مزدور وینه د رنځور په وجود کې انجکشن کړه، د مزدور قوي وجود کمزوري سو او بادار په لږ وخت کې د هر راز خوراکونو په زور او د عیاشي به وجه په فشار خون مبتلا سو. چیرته چې دغه شیاني باداري او مزدوري وي، دغه شان کارونه کیږي نو دیوه پر ځای دوه مړي. یو کمزوري کول او بل قوي کول د دواړو په مړینه تمامیږي. د ظالم او مظلوم عاقبت همدغه شاني وي. مور داراز مرګونه طبیعي ګڼو مګر په حقیقت کې قتل او مقاتله ده چې د وینو پور ورته ویلی شو. په دغسي مرګونو کې هم قاتل او هم مقتول سته مګر زمور پولیسان او حاکمان نه په خبر یږي او داسي معنوي قتلونه له نورو څخه دوي ډیر کوي. دلته دا عادت دي که چا څوک په توپک وویشت یا یې په چرو وواهه، پوښتنه کیږي مګر که چا د چا ډوډي وخوړه او هغه د لوړي مړ سو دغسي قاتل ته سزا نه ورکوي، دغه راز مقتول ته څوک شهید هم نه وایي، او نه څوک باندې توپې ټړي.

ښه رښتیا چې مور ډیر ظاهر بین یو او حقایقو ته نه یو ملتفت. زمور ډاکټران هم مور غوندې وي او په دې نه پوهیږي چې اصلي مرض ظلم دي او حقیقي علاج عدالت دي.

د پاچا صاحب د شعر نمونه:

زما ګناه

نه مې د چا مال خوړلی نه مې څوک وژلی دي
نه مې چا ته ورک شه یا ګم شو کله ویلی دي
نوره ګناه نه لرم، په دې ګناه مې مه نیسه
زړه کې مې چې پټ ظالم ته بد غوندې کتلی دي
وخت د اعتراف دي ګناه خپله درته وایمه
نه یمه منکر په مظلومانو مې ژړلی دي
نه وم خبر پرده مې لږ غوندې چې جګه کړه
نه دې د ویلو هغه څه چې ما لیدلی دي

www.sikaram.com

زه يې په ليـــدلو او ويلو ګناه کـــار شـــومـــه
نور يې په کـــولو او عـــمل باندې بنـــاغلي دي

نه يمـــه خـــاين په خـــيـــانت د نورو پوه يمـــه
پوهه کـــه ګناه ده، خلک ټول اوس پوهيـــدلي دي

دا چې ډير کـــاره درته ولاړ دي تېټ ســـرونه هم
ســـتـــا مخ کي چې سم نه سـوه، سم کله چليـــدلي دي

هيڅ اميد تري مه کړه که څوک ځان دا ستا غلام ګڼي
مـــا غـــلامـــانه ذهنيـــتـــونه پيـــژندلي دي

نور محمد تره کي

دي د نظر محمد شبي خيل تره کی زوي و چې په کال (۱۲۹٦ش) د ميزان په ۲٤ د يو لړ باسواده او نيم کوچي شپانه بزګر په کور کي د غزني د مقر د کوچني ناوي په (سره کلي) کي زيږيدلي و. لومړني تحصيلات يې د کورني د غړو مخصوص مشر ورور سلطان محمد تره کي او شا و خوا با سواده کسانو څخه په سر رسولي او هغه وخت چې په ليک او لوست نسبتاً پوه سو په کلي کي يې د يوي کونډې بيوزلي بنځي د مال او اولاد د څارنې او روزنې د مزدوري د لاري خپله اعاشه او اباته برابروله. د دغه وروسته د يو مناسب کار او زيار موندلو د پاره کندهار ته ولاړ او په پښتون شرکت کي لومړي ځل د افتخاري او آزمايشي کاتب او وروسته چې يې لياقت او کفايت ورته څرګند سو په (۱۳۱۲ش) کي د هغه شرکت له خوا په (بمبيي) کي د نمايندګي په کتابت مقرر سو. دي په کال (۱۳۱٦ش) کي د تجارت په وزارت کي د (اقتصاد) د مجلي د محرر او په کال (۱۳۱۷ش) کي د کانو او صنايعو په وزارت کي د سرکاتب او په کال (۱۳۱۸ش) بيرته د اقتصاد د مجلي د محرر په توګه راتبديل سو. دي په کال (۱۳۲۰ش) کي د مطبوعاتو په مستقل رياست کي د داخلي خپرونو د دوهمي څانګي د غړي او په (۱۳۲۱ش) کال کي د کابل راډيو د پښتو نشراتو د مرستيال، په (۱۳۲۳ش) کي د باختر آژانس د موسسي د غړي، په (۱۳۲٤ش) د فوايد عامي وزارت د مخصوص قلم د مدير او بيا د خارجي ارتباط د مدير. په

www.sikaram.com

(۱۳۲۶ش) د پترول د لوي مدیر په حیث وټاکل سو او دیوي حادثي له کبله د دغه مدیریت څخه د لیري کیدلو په نسبت د ډیر لږ وخت له پاره بیکاره پاته سو چنانچه سید قاسم رشتیا د خپلو خاطراتو په کتاب کي په دي هکله داسي لیکي:

(... قابل تذکر است که در جمله کسانی که به نسبت سوء استفاده از مقام خود، درین کمیسیون مورد مواخذه قرار گرفتند، یکی هم نورمحمد تره کی بود که در زمان وظیفه داری خود به حیث مدیر شرکت پترول، صد ها حواله جعلی را که همه به یك خط و یك عبارت بودند، امضاء برای همه آنها علی السویه بیست گیلن پترول را منظور کرده بود. پس از گرفتاری که خط و کتابت آنها مورد تعقیب قرار گرفت یك نفر هم که مالك موتر باشد به نام های مذکور پیدا نه شد و معلوم گردید که حواله ها همه به مقصد سوء استفاده از نرخ دولتی که تحت کنترول بوده یك نرخ بازار سیاه بود، از طرف یك شخص ترتیب و از طرف آمر شرکت یکسان امضاء شده است که تفاوت پول آن به لك ها افغانی بالغ میگردید. وقتی نور محمد تره کی در محضر کمیسیون مورد سوال قرار گرفت، اظهار کرد که به نسبت کثرت کار ندانسته حواله ها را امضا کرده است اما سایر مامورین شرکت برای اخذ معلومات احضار شدند تا علت عدم توجه خود را به یکسان بودن خط و تعداد حواله های همرنگ جواب بدهند، آنها تحریری و شفاهی اظهار کردند که ما چندین بار موضوع یکسان بودن حواله ها را به مدیر موصوف یاد آوری و طالب هایت گردیدم. اما او میگفت بگذارید به مردم غریب چند روپیه کمك شود، ما در هر صورت تیل را فروختنی هستیم، اینکه به کدام اشخاص داده میشود فرقی نمیکند. عجیب اینکه وقتی نتیجه تحقیقات به آقای عبدالمجید زابلی ارائه شد، خندیده گفت خود او به حماقت و سادگی خود اعتراف نموده همین جزا برای او بس است و امر داد دوسیه حفظ شود...).

د دي اثر لیکوال په کال (۱۳۵۸ش) کي د امریکي د متحده ایالاتو د واشنګټن په ښار کي یو افغان ولید چې زمان خان نومیده او په هغه وخت کي یې د ده مزنګ د تیلو د مامور په حیث کار کاوه او وروسته یې د کابل د باغ عمومي په ورځرمه د کانو کي (زمان درملتون) چلاوه. ده یوه ورځ د یارانو په مجلس کي د خپلو خاطراتو بیانولو په ضمن کي د نور محمد تره کي د ساده ګي او خوش باوري په هکله داسي وویل:

www.sikaram.com

(... په دي ډير خواشيني يم چې ما کله، کله د ده د دوستي او اعتماد څخه سوء استفاده کوله او تيل مي په ساخته ګي حوالو د انحصاراتو څخه را ايستل څو د هغه د بدنامي او بي کفايتي موجب وګرځيدم دغه ناوړه کار زه هر کله روحاً او ايماناً زوروم او د لسو کلونو وروسته يوه ورځ مجبور سوم چې د ده حضور ته ورسم او په خپلو دغو ناوړو کړو اعتراف او توبه وکړم هغه چې دغه زما وينا په غور واوريدل، په پاي کي وويل: ماته دي که څه هم ډير ثکليف راکړي او ډير وزوريدم خو ستا په افغاني او ايماني همت آفرين ته چې په خپله ګناه د ارتکاب وروسته اعتراف کوي او توبه کاږي دا د انساني عالي اخلاقو او لويو ښيګڼو څخه ګڼل کيږي اوس هرڅه چې ؤ تير سول. را برسيره کول او پلټل يې يو ډول خود خواهي او فضل فروشي شميرل کيږي. زه دي په خپله ګناه نه نيسم، که دي د بيت المال له مال څخه بي استحقاقه استفاده کړي وي کولاي سي چې هغه مبلغ د هيواد پر بي وزلانو او بينوايانو د خيرات په توګه وويشي چې ګوندي غاړي دې خلاصي سي...).

نور محمد تره کي په کال (۱۳۲۸ش) کي د مطبوعاتو په مستقل رياست کي د بولټن د مدير او په کال (۱۳۳۱ش) کي د باختر آژانس د لوي مدير په حيث مقرر سو. په دغه وخت کي چې دولت د ويښو ځلميانو موسسو او مهمو سياسي غړو ته د سياسي فعاليتونو څخه د ليري کولو په منظور په باندنيو هيوادو کي وظيفي سپارلي عبدالروف بينوا يي په ډهلي او نور محمد تره کي يي په واشنګټن کي د مطبوعاتي اتشي په حيث وګمارل.

څرنګه چې تره کي د دولت د سياسي روش سره مخالفت درلود، نو د واشنګټن پوسټ په ورځپاڼه کي يي د دولت د رژيم او مطلقه حکومت د طرز د غندلو په هکله سخته مصاحبه خپره کړه او سردار محمد نعيم ډير ورباندي په قهر سو او د شپږو مياشتو وظيفي د ترسره کولو وروسته سمدستي برطرف سو. د دي سره چې د امريکي، انګلستان او پاکستان حکومتونو ده ته د پناه ګزيني دعوت ورکړ خو هغه يي ونه منل او د پښتنو د ملي خود ارادیت د حقوقو په طرفداري يي په خارجي ورځپاڼو کي مصاحبي خپري سوي او سمدستي کابل ته راغي او د سردار محمد داود د حکومت تر پايه بيکاره او تر مراقبت لاندي پاته سو. ده د خلق د ګوند د تاسيسولو تر وخته د روشنفکرانو، مترقيونو او عدالت خواهانو سره ناسته او ولاړه درلوده او په ډير سياسي فشار او اقتصادي تنګدستي يي ژوند تيراوه. دي په کال (۱۳۴۳ش) کي د خلق د ګوند د لومړي موسسي

www.sikaram.com

کنگرې له خوا څخه د عمومي منشي او په کال (۱۳٤٥ش) کې د خلق د جریدې د امتیاز خاوند وټاکل سو. د خلق د موسسی کنگرې غړي دغه کسان وو:

نور محمد تره کي د نظر محمد زوي د مقر د ناوي اوسیدونکي تولد (۱۲۹٦ش) وفات (۱۳۵۸ش)، ببرک کارمل د جنرال محمد حسین زوي د کابل د شیوکیو اوسیدونکي د حقوقو او سیاسي علومو د فاکولتي لیسانس تولد (۱۹۲۹م=۱۳۰۸ش)، وفات (۱۳۷۵ش) د قوس ۱۳ د ماسکو په شفاخانه کي، سلطان علي کشتمند د اقتصاد د فاکولتي لیسانس د کانو او صنایعو د وزارت مامور متولد (۱۹۳۲م=۱۳۱۲ش)، ډاکټر شاه ولي د شاه بابا زوي د کابل د ده خدایداد اوسیدونکي تولد (۱۳۰۸ش)، غلام دستگیر پنجشیري د ملک داد زوي د ادبیاتو د فاکولتي لیسانس تولد (۱۳۱۲ش)، عبدالحکیم شرعي جوزجاني د سید معصوم زوي د شرعیاتو د فاکولتي لیسانس د شبرغان اوسیدونکي تولد (۱۳۱۳ش)، عبدالکریم میثاق د صفر علي هزاره زوي د غزني د جغتو اوسیدونکي د داخله وزارت مامور تولد (۱۳۱٦ش)، ډاکټر صالح محمد زیري د گل محمد زوي د کندهار د ښار اوسیدونکي تولد (۱۳۱۵ش)، محمد حسن بارق شفیعي د میرزا محمد شریف زوي د لغمان او بیا د کابل د ریکاخاني اوسیدونکي د مالیې او مطبوعاتو مامور تولد (۱۳۰۹ش)، عبدالقدوس غوربندي د عبدالمجید زوي د ثانوي تخنیک فارغ د ملکي هوایي ریاست اداري مامور تولد (۱۳۱۲ش)، شهر الله د شاه فراز زوي، محمد طاهر بدخشي د وکیل ظاهر زوي د ادبیاتو د پوهنځي فارغ د پوهنې د وزارت د دارالتالیف مامور، ملا عیسي کارگر هزاره، عبدالقیوم قویم د ادبیاتو لیسانس د پوهنتون استاد، انجنیر خالیار د میمني ازبک، عطا محمد شیرزي حسین خیل د شیوکیو د سهاک اوسیدونکي مشهور په یاور متقاعد صاحبمنصب، وکیل عبدالله ځائی متقاعد تولي مشر د ملي شورا وکیل، ډاکټر ظاهر د گردیز د احمد زو تبر څخه، عبدالوهاب ساپي د مولوي فیض محمد زوي د شرعیاتو لیسانس د لغمان اوسیدونکي د کرني د وزارت د قوانینو مدیر تولد (۱۳۱۹ش)، محمد ظاهر افق د محمد اکرم اچکزي زوي د ادبیاتو لیسانس او معلم، عبدالحکیم هلالي د عبدالاحد فراهي زوي د ادبیاتو لیسانس، نور احمد نور د مدیر عبدالستار لوگري زوي د حقوقو لیسانس د خارجه وزارت مامور تولد (۱۳۱٦ش)، غلام محي الدین زرملوال د عبدالصمد زوي د عسکري مکتب

www.sikaram.com

فارغ د مالیي وزارت مامور تولد (۱۲۹۸ش)، محمد اسمعیل دانش د علي اکبر زوي د معدن انجنیر استاد او معلم تولد (۱۳۱۲ش)، میر اکبر خیبر د عسکري پوهنتون فارغ د لوگر د ستانیزو تیر څخه د داخله وزارت د پولیسو د اکاډمي استاد تولد (۱۳۱٤ش).

د (۱۳۵۷ش) کال د خلقي انقلاب په نتیجه کي نور محمد تره کي د افغانستان د خلکو د ډیموکراتیک جمهوریت او انقلابي شورا د رئیس او صدراعظم په حیث وټاکل سو او د (۱۳۵۸ش) کال د سنبلي په ۲۳ محبوس او د میزان په ۱٦ ووژل سو.

دي د هیواد د پښتو ژبي نومیالي لیکوال او داستان لیکونکي و. آثار یي د خلکو په ژبه د خلکو اجتماعي دردونه او رنځونه په طبقاتي روحیي او منطق بیانول. مشهور آثار یي دا دي: د بنگ مسافري (۱۳۳٦ش)، سپین (۱۳۳۵ش)، څړه (۱۳۳۸ش)، زندگی نوین (۱۳٤۰ش)، سنگسار، خاطرات جنگ چرچل، عروسی من در خیبر (ترجمه) د ځلمیانو لارښوونکي (۱۳۲۲ش)، بي تربیه زوي (۱۳۱۸ش)، نطق ویشنسکی دریونو، په ځان باور، لنډي قصي لکه د غوایي لاندي، زما برخه، د سمټ مور او پلار، یو دسترخوان او دري ډوله خواړه، د کور گټه د لاهور گټه، په پاي کي بډاي سو، زوړه جوړه سو، د مصیبتونو څخه د افغانستان د نجات لار او نور.

نور محمد تره کي د (انگار) د جریدي په لومړي گڼه لومړي کال چهارشنبي د (۱۳۲۹ش) کال د حوت په دوهم مخ کي د ویښو ځلمیانو مرام د (آرزوی مردم) تر سر خط لاند دا ډول ذکر کوي: چه میخواهم؟

اگر طوریکه لازم است ما درد و الام اجتماعی خود را اظهار کرده نتوانیم و آنرا به قسم دلخواهی مجسم ساخته نتوانیم، گناه مان نیست، زیرا ما تا الحال چنین موقع اظهار درد های خود نیافته بودیم تا در اظهار آن کدام تجربه را می اندوختیم. به عبارت دیگر مانند گنگ ساخته شده بودیم و اکنون میگویند برای گویا شدن موقع داده شده. خوب گویا شدیم اجازه اظهار دردهم داده شده مگر متاسفانه اعصاب و روحیات ما در تحت فشار به اصطلاح فغانی (گنگه روژه) چنان از بین رفته است که یارای گفتن آن نیز نه مانده و به کدام جای پیکر اجتماعی خویش اشاره کنیم که اینجا درد است همه درد، درد

www.sikaram.com

است بهر صورت از بحث در اطراف علل گنگی خویش صرف نظر کرده مستقیماً به موضوع مهم چه میخواهیم میپردازیم:

چون تکتیك اظهار کردن درد را نمیدانم لذا واضح میگوئیم که ما در مرحله اول غذا و نان خشك باشد میخواهیم، لباس اگر چه درجه سوم باشد میخواهیم، ما معارف زنده جدی و ملی به پیمانه وسیع میخواهیم، ما کار میخواهیم، ما برای هر کس در خدمات اجتماعی موقع مساوی خواهانیم. ما احزاب مشروع برای تربیه سیاسی خود میخواهیم، ما سرکها، پل ها و عمران مملکت میخواهیم، ما امحای خائنین ملی و اجتماعی را میخواهیم. ما امتیازات قومی و قبیلوی را محو کردن میخواهیم، ما میخواهیم از حال فلاکت بار افراد کنج و کنار مملکت که تا حال پوستهای حیوانات زیب تن شان است آگاه شویم، ما میخواهیم رشوت خوران و استفاده جویان در راس امور اجتماعی نه باشد، ما میخواهیم یك وحدت ملی برای هدف ملی داشته باشیم، ما میخواهیم دیگر از بلی، بلی صاحب و به چشم قربان گذشته درد های اجتماعی را به صورت واضح به همدیگر بگوئیم. خواهید فرمود که اینهمه (میخواهیم میخواهیم) به چه ذریعه تامین شده میتواند؟ من میگویم به قوه اتحاد و بیداری ملت و تائید رژیم شاهی مشروطه و حکومت ملی که البته طبعاً مسؤل به پارلمان خواهد بود تا همه طبقات در امور اجتماعی صدای داشته باشد زیرا اکنون ملت کافی بیدار شده خادم و خاین را می شناسد.

د نور محمد تره کي د لنډو قصو یوه نمونه:

د غوایي لاندي

لاس او پښي چاودلي، مخ سپیره، شونډي وچي یو کوچني پیتي غنم په شا اړولي او په سختي د کور په خوا روان دي. بشپړي نهه میاشتي یي خواري کښلي او منتونه یي وړل څو چې په آخر د دوبي نیوي منه غنم له بزګري څخه ورغلل. په دي کي یي نهه منه غنم ملا صاحب ته زکوة ورکړل دري منه یي پښې ته ورکړه او څلور منه یي (رقبه) تري نه یووړل، شپیته منه یي هم د هغو دوو زرو افغانیو په سود کي ورکړه کوم چې د ده د پلار د خیرات او اسقاط له پاره له یوه سود خور څخه په شپیته منه ګټه راوړي وه. په کور کي د ننه ماندینه او نور څلور ماشومان د ده لار څاري او ماشومان له کوره راوتلي او د هغي لاري خواته په ډیره اسره ګوري پر کومه لار چې د دوي پلار اوس کورته راځي او د رشي غنم راوړي.

www.sikaram.com

د ده مور او ماندینه د سړ کال د محصولاتو په شاوخوا کې خورا ښې خوږې قصې کولې او هیله یې وه چې گوندې سړ به یو څو ورځې په نس مارہ سو. په دې وخت کې ماشومان یو په بل پسې د کور لوري ته راغلل او ناري یې وهلې چې بابا راغې او غنم یې په شا دي. دوه تنه انا او دوه تنه مور ته ورغلل چې پر دوي زیري وکړي. همغه و چې بزگر پیتي په شا په کور را ننوت او د خوني له مخې یې کنبینبود. مور او ماندینې یې په نیولې بنه تري نه درشي احوال پوښته چې په دې وخت کې یو سړي ترازو او کانې په لاس په انگړ را کنبیوت او په کلک غږ یې ورته وویل: چې تا خو ویل چې پر راشه به غنم دپور په عوض درکړم او تا ټول غنم کورته راوړل. داسړی د کلي خان و. خانصاحب خورا په قهر ورته وویل چې دا څلور پنځه میاشتې کیږی چې تا نه کور غم او نه دې سړي غم ادا کړي دي. روپې خو نه لري ژر سه غنم را وتله مور یې چغې کړې چې دا څو داني غنم چې ته یوسې مور به څه خورو؟ ده وویل چې خاوري. ده پیټې راواړاوه او ټول غنم یې ځني وتلل او په پای کې لا نور هم پسې په قهر سو او خوار بزگر ته یې وویل: چې دوه سوه منه خو لا نور هم درباندې پاته سوه هغه څرنگه؟ خوار بزگر په داسې حال کې چې د خواشیني یې پر ستوني درد و، تش جوال یې وڅانده او یوې خواته یې کنبینبود. ماشومانو ژړل او په هیله یې ویل: مور وږي یو تاسو خو به یوه لپه نینې را کولې. د ماشومانو انا د باندې ولاړه او څه شفتل یې په پلو کې راوړل او له مالگې سره یې د ماشومانو سره وخوړل خو ماشومان تر ډیرې مدې قانع نه سول او د ډوډۍ له پاره یې په ژړا پیل وکړ. دې خوار بزگر ته اوس کلي گاونډیانو هم پور نه ورکاوه. ځکه له یوې خوا ده پر راشه باندې د دوې څخه دوي کاسي اوړه پور کړي وه او بیرته یې نه وه ورکړي او خپل اعتبار یې بایللې ؤ. وروسته تر هغه چې ډیر فکر یې وکړ، له ځانه سره یې فیصله وکړه چې د یوې غویې چې د ده وروستي او یوازنۍ دارایي ده او د هغه په مرسته یې مزوري کوله، د عیال د قوت لایموت له پاره حلال کړي او نور ستر گي نهامي کړي. په دې خصوص کې یې د مور او ماندینې رضائیت واخست او د یوې غویې یې حلال کړ او هغه یې د عیال د ژمې او مني کتغ کړ او په خپله لوڅي پښې، برانگي کالي بلي سیمې ته د خواري او مزدوري له پاره ولاړ. ده په یوه توده منطقه کې شپږ میاشتې د خاورو او ختیو مزدوري وکړه، ده ته یې د ورځې شپږ افغاني ورکولې چې دري افغاني یې په سپوره ډوډۍ خوړلې او دري افغاني به یې د کور له پاره سپمولې. په پای کې د ده ټوله گټه

www.sikaram.com

څلور سوه اته شپیته افغاني سوي چې په دیرش افغاني یې ځان ته پنې او د کوچنیانو، مور او ماندیني دپاره یې یو کمیس واخست. دي شپږ میاشتي په کور خبر نه و او په خوار بیړه او ښه زړه د کور په لوري را روان دي. کله چې په ور رانښوت، یو واریی لور او ماندیني یې چغې کړي، د پرس او بال او تحقیق وروسته ورته څرګنده سوه چې مور او دري ماشومان یې د سکاروي په ناروغي په مني کي لا پخوا مړه سوي، یو ګړي وروسته د کلي ملک ورو غوښت او ورته وي ویل: چې ستا د مور او ماشومانو کفنونه ما ورکړي دي چې قیمت یې څلور سوه دري دیرش افغاني کیږي او هم یې ستا پر ځاي په دي شپږ میاشتي کي یو سلو درویشت افغاني سړي غم او کور غم ورکړي دي تا خو ځان پټ او نهان کړ او خپلي میلي دي کولي او ټول غمونه دي پر مور را ایله کړه. اوس نو دستي زما پور چې شپږ سوه څلویښت افغاني کیږي راکړه. څرنګه چې ده ټول دا رقم پر یوه ځاي نه سر تادیه کولاي، نو محکمي ته یې کش کړ، بندي سو او بیا د دغه خوار بزګر او کاله حال چاوانه خست.

محمد رسول پستون

دي د حاجي خدایار خان زوي د الله یار خان لمسي د حبیب الله بارکزي کروسي ؤ چې په کال (۱۳۱۸ق=۱۲۷۹ش) کي د کندهار په منصور غونډي کي زیږیدلي ؤ. حبیب الله خان د عبدالمنصور خان عیني ورور ؤ چې د (منصور نیکه) په نامه یې شهرت درلود.

مرحوم میر غلام محمد غبار د خپل اثر (افغانستان در مسیر تاریخ) په ۷۶۲ مخ کي د پښتون د پلار حاجي خدایار په هکله لیکي: (... ده د کندهار د یو شمیر نورو مشرانو په مرسته د کوچني شهید د ناوړي واقعي او توطئي د اثراتو د شنډولو په لار کي چې انګلیسانو جوړه کړي وه او د کندهاریانو په منځ کي یې د سني او شیعه تفرقي ته نوره لمنه وهله، په مصلحانه صورت د قدر وړ خدمت کړي او د نیکونو څخه یو یې عبدالمنصور خان چې د اوسني پاکستان د سیند حاکم ؤ د (نوای معارک) مولف منشی عطا محمد بنکار پوري څه مطالب لري، څرنګ چې د پښتون صاحب نوم د کندهار د مشخصي سیاسي اصلاحي دوري (ویښ ځلمیان) په مسیر، تاسیس او نهضت کي هر کله ذکر کیږي نو ده د ژوندانه، تربیې، افکارو د څیړونو په هکله که څه نوره رڼا واچول سي بې فائدي کار به نه وي.

www.sikaram.com

پښتون صاحب د خپلو خاطراتو په ډایري او روزنامچه کي د خپل هویت او ژوندانه په هکله داسي لیکي: (... څرنګه چې د بارکزو د قوم مځکي د محمد زو د حکومت د پیل څخه د مالیي څخه معافي وي خو د اعلیحضرت امان الله د اصلاحي پروګرامونو د تطبیق له مخي دغه مځکي په (۱۳۰۲ش) کي تر مالیي لاندي راغلي نو د بارکزو قوم د دغي موضوع د حل او فصل کولو له پاره زما پلار د قومي وکیل په څیر کابل ته ولیږي او زه چې یوویشت کلن وم په دغه سفر کي د پلار ملګري وم. مونږ یو کال په کابل، جلال آباد او پغمان کي تیر کړ. د لویانو، خپلوانو او د پاچا سره مو په کراتو مراتو ولیدل د دغو مجلسونو او بحثونو په نتیجه کي مې د کابل د خلکو د ژوندانه او تفکر د طرز سره د نژدي آشنایي پیدا کړه او د هغې سیمې د نیکمرغي او ترقي په رمزونو پوه سوم. د همدغه تاثیر له مخي مې د پلار څخه وغوښتل چې په عسکري مکتب کي مې شامل کړي. په دغه وخت کي سپه سالار محمد نادر خان ؤ. څرنګه چې زما پلار د هغه په دوستي او لیاقت اعتماد درلود، نو زه یې د هغه حضور ته وروستم او د هغه د عنایت او لطف مورد وګرځیدم او د حربي ښوونځي په احضاریه کي یې د شمول امر راکړ...).

د پښتون صاحب فکر او خیالات د کابل د ماحول، هم صنفیانو سره د ناستي او ولاړي له کبله د نوي عصر او تهذیب خواته کرار، کرار متمایل کیدل. افکارویي د آزاد مشربي، اجتماعي عدالت، ملي حکومت او پښتونولي د احساساتو د پاللو په خوا مخ نیوي. اخبارونه به یې لوستل او سیاسي نظریات به یې تبادله کول. پښتون صاحب په اماني عصر کي د (انشاء په نوي تشکیل سوي غونډه) کي د داوطلب کنډکمشر (جګړن) په حیث شامل سو خو د ښوراندې طبیعت له مخي د دغي وظیفي څخه ژر ګوښه سو، دي په (۱۳۰۶ش) کي د کلات د ارغنداب د علاقدار، په (۱۳۰۷ش) کي د کندهار د نوزاد د علاقدار، د سقوي دوري وروسته د کندهار د ښوراوک د علاقدار او بیا د کندهار د خاکریز د علاقدار، په (۱۳۱۱ش) کي ترفیعاً د اجرستان د حاکم او په همدغه کال د سپین بولدک د سرحد دار په حیث مقرر سو چې یو کال وروسته د دغي وظیفي څخه په استعفي کولو مجبور سو. دي وروسته په کندهار کي د پښتون شرکت د تحریراتو د منشي، په کال (۱۳۱۷ش) کي په پنځمه رتبه د کنډکمشر په حیث د فراه د امنیي قوماندان، په (۱۳۱۸ش) کي د کندهار د پولیسو د سرمامور په حیث وټاکل سو. وروسته د دغي وظیفي څخه

www.sikaram.com

لیري سو او په کال (۱۳۱۹ش) کي د اقتصاد وزارت له خوا د پلخمري د نوي بنار جوړولو د مسالو د تهیې د مدیر او په همدغه کال کي د پلخمري د ترانسپورټ د مدیر، په کال (۱۳۲۰ش) کي د پلخمري د تعمیراتو د مدیر، په کال (۱۳۲۱ش) کي د ارزاقو د مدیر، په کال (۱۳۲۳ش) کي د جبل السراج د فابریکي د فني مدیریت د مرستیال او له دغي وظیفي څخه د پلخمري د تفتیش په څانګه کي مقرر سو، خو د دغي وظیفي د انجام څخه ژر مستعفي سو او په کال (۱۳۲٤ش) په خارج کي د کندهار د میوي شرکت د تفتیش د مدیر او په همدغه کال د هغه شرکت د رئیس او په (۱۳۲۵ش) کي په هند کي د افغان فروټ د اجنسي د رئیس په حیث مقرر سو. دي په کال (۱۳۲۹ش) کي د کندهار د حمل و نقل شرکت د رئیس او په همدغه کال د دولتي انحصاراتو د مدیر، په کال (۱۳۳۰ش) کي په بغلان کي د دولتي انحصاراتو د مدیر، په کال (۱۳۳۱ش) تر (۱۳٤۲ش) پوري د هغه اتهام له کبله چې د ده پر نژدي دوست او ملګري د منصور د غونډې اوسیدونکي حاجي خداي دوست وارد ؤ محبوس سو او په دغي بدبیني د ویښو ځلمیانو ځینې نور غړي هم ګرفتار شول.

د نوي اساسي قانون د مقدماتو د راتلو له کبله چې سیاسي بندیان کرار، کرارخوشي کیدل دي هم خوشي سو او په کال (۱۳٤۳ش) کي بې د کابل په انحصاراتو کي د مدیر، په کال (۱۳٤٤ش) کي د کابل په انحصاراتو کي د تفتیش د غړي په توګه کار کاوه. پښتون صاحب په کال (۱۳٤۳ش) کي د ولسي جرګي د وکالت له پاره ځان کاندید کړ خو وروسته د دغه عزم څخه منصرف سو او په کابل کي یې د دعواؤ دارالوکاله وپرانستله.

د پښتون صاحب د ژوندانه د ماجراؤ څخه داسي څرګندیده چې ده د مطالعي، نوي فکر او سلیقي سره پوره آشنایي درلوده خو په عمل کي یې مطلق العناني، ملي غرور او داولیت حق زیات خوښیدي. د همدغه کرکټر له مخي ده د حاکمي طبقي د خیالاتو، سیاسي او اجتماعي روشو سره چې کله به د پکټې او امرونو او کله به د رمزونو په صورت حواله کیدل، پوره سازش او توافق نه درلود نو ځکه د لوړو چوکیو د ساتلو توان یې څرنګه چې لازم ؤ نه درلود او د ماموریتونو او کارداریو څخه ژر، ژر یو په بل پسي تبدیلیدي. پښتون صاحب د هغه کرکټر له مخي چې یې په نصیب ؤ په دائمي توګه د ویښو ځلمیانو د موسسانو غړو او د افغان ملت، ورور ګلوي د ګوندونو

www.sikaram.com

په غږیتوب کي پایدار نه سو پاته کیدلاي او ملګرو هم د هغه د عضویت مسؤلیت په غاړه نه سو اخستلاي. د همدغو غلط فهمیو له کبله کله پښتون صاحب د خپلو ملګرو څخه ګیله درلوده او کله ملګري د ده څخه ګیله من وو.

د پښتون صاحب یو وطن دوست او هنر مند زوي (نصیر هنر پښتون) په دي هکله وایي: (... **پشتون در برخی موارد سخت عصیانگر، تسلیم ناپذیر و سازش ناپذیر بوده است و این عناصر اکثر موجب از دست دادن شانسهای مهم وی شده است. روزی به آقای عبدالروف بینوا گفت که شما یك دپلوم هم ندارید و من بیست دپلوم دارم، شما در قصر ها نشسته اید و من خانه بدوشم، شما... من تقاعد هم ندارم...).**

د پښتون صاحب قاطعیت، حاکمیت، ظرافت په نام دي لکه چې د ده د زوي نصیر هنر پښتون څخه روایت دی: یوه ورځ احمد جان خان طبیب چې د ده دوستانو او هم قومانو څخه ؤ پر دسترخوان ورسره ناست ؤ. هغه په ډیر ادب، وقار او متانت ډوډي خوړه پښتون ورته وویل دا څنګه ډوډي ده چې ته یي خوري؟ مارش، مارش عسکر غوندي ډوډي خوړه.

بله ورځ چې هغه طبیب په تلوار او عجله ډوډي خوړه، پښتون ورته وویله څه بلا اخستي یي انسان غوندي کرار، کرار ډوډي خوړه.

پښتون صاحب د ژوندانه په اخیر کي تهجد او تصوف ته پناه وړي وه، اوراد یي پخول، تعویذونه یي کول. ده د افغانستان د سیاسي کشالي د حل دپاره د ظاهر شاه راتګ او قیادت تائیدوه او ویل یي چې ما لا پخوا ویلي وه چې افغانستان ته خطر د شمال له خوا متوجه دي.

پښتون صاحب د ورزش، ادمان او ځغاستي سره علاقه درلوده، طبیعي مناظر او موسیقي یي خوښول، د فلسفي او اخلاقي آثارو مطالعي خوند ورکاوه، نظیف، پاک او دریشي کرده ګرځید. بنه یي اغوستل او بنه یي خوړل. د ده د زوي نصیر هنر پښتون څخه روایت دي: یوه ورځ ما په کور کي ځان مینځي او څه ګړي په تشناب کي مصروف سوم، دي غسل خاني ته راننوت او تهدید یي کړم چې څه کوې؟ بنځو غوندي په حمام کي ساعتونه تیروي، څو دقیقي بس نه دي، عسکر اوسه، توپک واخله خلک او هیواد وساته...).

پښتون صاحب په پښتو، دري عربي اردو او څه انګلیسي پوهید د پښتو او فارسي ادب مشهور لیکوال او شاعر ؤ آثار یي په یو شمیر اخبارونو او مجلو کي خپاره سوي دي.

www.sikaram.com

مشهور آثار يي دا دي: اوتوبيوگرافي و خلص تاريخچه ويښ ځلميان (چاپ سوي نه ده)، انديشه ها، فلسفي- اجتماعی مقالي او وجيزي (ناچاپه) د اوبو شکور سالمي د عقايدو ترجمه (ناچاپ)، تلخيص تاريخ جهان (ناچاپ)، يو شمير مقالي او شعرونه چې په طلوع افغان، کابل مجلي، کاروان او افغان ملت کي چاپ سوي دي.

محمد رسول پښتون متاهل ؤ او خانمه يي د پوهاند عبدالحي حبيبي خور وه. د ده يو خور د ده خوجي په حضرت رفيع الدين مجددي آغا جان واده وه چې د کتابخاني، ناستي او ولاړي څخه يي زيات خلک مستفيد ؤ.

د پښتون صاحب ځلور زامن بشير احمد پښتون د (کندهار د دارالمعلمين استاد). نذير احمد پښتون د (کابل پوهنتون د انجنيري د پوهنځي استاد او مرستيال)، نصير احمد هنر پښتون د (افغانستان د علومو اکاډمي غړي، خطاط او رسام)، ضياء احمد پښتون (د کابل د طب پوهنځي محصل)، پروين پښتون د (کابل دارالمعلمين محصله) چې اوس ټول د امريکي په متحده اضلاعو کي د مهاجر په توګه اوسي.

محمد رسول پښتون په کال (۱۴۰۲ق) کي د روژي په ديرلسمه، د (۱۳۶۲ش) کال د سرطان په ديرلسمه په کابل کي وفات سو او د صالحينو شهداؤ په هديره کي خاورو ته وسپارل سو.

د ده د قبر پر شنخته داسي ليکلي سوي دي:

انالله و انا اليه راجعون

دلته ستاسي د عاته محتاج محمد رسول پښتون د حاجي خدايار خان بارکزي کندهاري زوي ښخ دي. دي په (۱۳۱۸ق=۱۲۷۹ش) کي په کندهار کي زوکړي او د (۱۴۰۲ق) د روژي په ديرلسمه، (۱۳۶۱ش) د سرطان په ديرلسمه په کابل کي مړ سو. دي له ځواني څخه تر مرګه پوري د خرافاتو پر ضد جنګيدلي، د خلکو د حقوقو او ډيموکراسي له پاره يي مبارزه کړي او په دغه جرم يې يوولس کاله (۱۳۳۱ - ۱۳۴۲ش) سياسي بند ګاللي دي.

اللّهم اجره بما صبر جنة و حريرا.

www.sikaram.com

د پښتون د شعري کلام نمونه:

د اسمان کناري سري سوي — يا پر ما بلي لمبي سوي
د هجران تياره ما ښام دي — يا د تورو زلفو دام دي
په تياره کي روښنايي ده — په افق کي رڼايي ده
څه عجيبه نندارده ده — شين درياب سره کناره ده
يا د شنه چمن باغچه ده — په حاشيه کي يي لاله ده
يا افق دي خروښيدلي — يا سوراوردي لګيدلي
يا پسرلي دي په اسمان کي — سره ګلان يي په دامان کي
يا اميد د پښتانه دي — يا سور اور د بيلتانه دي
چې ځليږي په تياره کي — يا بليږي په سينه کي
يا مجلس دي د مستانو — په اسمان کي د خويانو
د اسمان ښائسته باغچه ده — په چمن کي نندار ده
يا شهيد دي لګيدلي — د افق شاته لويدلي
دا د دغه اسمان کړه ده — چې په ورځ پسي يي شپه ده
د عبرت تابلو رنګينه — نيمه سره ده نيمه سپينه
چې د لمر سپينه وايه ده — پر هغه ځاي تغزيه ده

قیام الدین خادم

دي د ملا حسام الدين زوي ؤ چې په (۱۳۷۵ ق) کال کي د ننګرهار په کامه کي زيږيدلي ؤ. دي د څمکنيو ميا عمر صاحب د خپلو نيکه ګانو څخه بولي. لومړني تحصيلات يي د خپل پلار څخه په سر رسولي، په صرف مير، کافيي، منيي، هدايت النحو، شرح ما ء ته عامل، شرح ملا، شرح جامي ډير ښه پوهيدله د زياتو تحصيلاتو وروسته کله چې يي ايسا غوجي هم ياد کړه، د هغه وخت د هند بيلو سيمو لکه ډهلي، لودهياني او نورو ښارونو ته ولاړ او پنځلس کاله يي تير کړه د صرف، نحو، منطقو، حکمت، کلام، فقي، تفسير، حديث او مناظري کي نومياليي عالم وګرځيد.

www.sikaram.com

د شخصي ذوق او شوق له کبله يي ادبي علوم هم زده کړه او د مولينا خادم په نامه مشهور سو. مولينا خادم په کال (۱۳۰٤ش) کال کي د کامي د لومړني ښوونځي او بيا په جلال اباد کي د ښوونکي په حيث مقرر سو. بيا يي په لوارګي کي دوه نيم کاله په تدريس تير کړه. شعر او ادب ته يي مخه سوه خادم صاحب د (۱۳۱۲ش) کال په پاي کي د کندهار د پښتو انجمن د غړي په حيث وټاکل سو، به (۱۳۱٤ش) کي دغه انجمن کابل ته نقل سو، او د پوهني په وزارت وترل سو. مولينا هم کابل ته ورسره راغي او په (۱۳۱۵ش) کي چې د کابل ادبي انجمن په پښتو ټولنې واوښت په دغه وخت کي مولينا ته د زيري اخبار چلول وروسپارل سو. مولينا خادم په (۱۳۱۸ش) کي د پښتو ټولنې د تاليف او ترجمي په (۱۳۲۰ش) کي د پښتو ټولنې د معاون او په (۱۳۲۱ش) کي د مشرقي اتحاد د مدير، په (۱۳۲٤ش) د دائرة المعارف د ترجمي د مدير، په (۱۳۲۵ش) کي د تعاوني ډيپو د تفتيش د لوي مدير، په (۱۳۲۷ش) کي د ويښو ځلميانو د سياسي مرکزي متحد گوند د جوړلو د موسسينو، په (۱۳۲۹ش) کي د کندهار د طلوع افغان د ورځپاڼي د مدير او چلوونکي، په (۱۳۳۱ش) کي د سروبي د برق د فابريکي د کوپراتيف د مدير، په (۱۳۳۲ش) کي د اصلاح د ورځپاڼي د مدير او څه وروسته د پښتو کورسونو د لوي مدير، په (۱۳۳۷ش) د پښتو ټولنې د غړي او په (۱۳٤۲ش) کي د هيواد د ورځپاڼي د مدير، په (۱۳٤٤ش) کي د مشرانو جرګي د سناتور، په (۱۳٤۸ش) کي د افغان ولس د جريدي د امتياز خاوند او مدير په حيث کار کاوه. څرنګه چې په دي وخت کي د ويښو ځلميانو ټولنه د فطور او له منځه تللو د خطر سره مخامخ سوي وه نو مولينا خادم د هغي د مرام د بيا احيا کولو او تجديد ولو له پاره د افغان ملت د سياسي ټولنې د موسسينو په غونډه کي فعاله رول ولوباوه او د ژوند تر پايه د افغان ملت د گوند د وفادارو او معتقدو ملګرو څخه ګڼل کيدي.

مولينا خادم د (۱۹۷۹م=۱۳۵۸ش) کال د سنبلي په پنځمه د کابل د علي آباد يا نادرشاه روغتون کي وفات او په دا سبايي جنازه د ننګرهار په کامي کي خاورو ته وسپارله سوه.

مولينا خادم د پښتو او دري پياوړي او چيره دست ليکوال او شاعر ؤ په عربي، انګليسي او اردو پوهيدي او ترجمي يي ځني کولاي سوي. د ده دغه څوارلس اثره زيات مشهور دي: مکارم الاخلاق، بايزيد، روښان، د شريف سرګذشت، نوي ژوندون، د ملغلرو اميل، د کوچنيانو اخلاقي

www.sikaram.com

پالنه، نبوغ او عبقریت، د پښتو نثر تاریخي تطورات، معیاري پښتو، کوشانیان څوک وو، پښتو نولي، نوي رنا، پارتیان څوک وو، لوي سهاک، پر تذکره اولیاء تبصره، روهي ګلونه، د پښتو ننۍ لیکوال، څاروان، خیالي دنیا، معلم پښتو، پښتو کلي ۱، ۲، ۳، ٤، ٥، ٦ ټوکونه، لوي اصحابان، ادبي قصي او نور.

مولینا صاحب متاهل ؤ زامن او لونې یې درلودي چې د هغو څخه (زیبا خادم) د امریکي ږغ رادیو نطاقه زیاته مشهوره ده.

د مولینا خادم د نثر نمونه:

اي د قلم خاوندانو

اي د حقیقي ضمیر لرونکو، اي د وجدان د آواز تر سیمونکو، اي د هري ژبې په ژبه پوهیدونکو، ای د تاریخ اړوونکو او اي د آدم (ع) د زړه په محفوظي تختي د سرمشق اچونکو! وایي چې دنیا د تنازع للبقاء میدان دي مه وایي چې مور په دنیا کي د رقابت دپاره پیدا یو. مه وایه چې دنیا دار د عمل دي، د کرني او ریبني. مه وایه چې هیلي منډي کړي چې کاروان ولاړ. مه وایي چې مور د قوم او وطن دپاره خدمت کوو ځکه مور انسانان پیدا سوي یو، زمور خلقت او آفرینش عبث نه دي، زمور حیات غایه لري او هغه: د وظیفي انجام دي تروړمي د نیمي شپې په سکوت کي، د غټو، غټو ستورونه ور هغه پلو، د هغه وړو، وړو سپرغیو په خفیفو اشارو کي ماته داراز څرګندیږي هلته وګوري.

د مولینا خادم د نظم نمونه:

صحیح لاره به ښایم که وم، وم که نه وم، نه وم
رشتیا، رشتیا به وایم که وم، وم که نه وم، نه وم
آزاد یم زیږیدلي بندګي کولای نه سم
بنده د خپل مولایم که وم، وم که نه وم، نه وم
په بډو خوشامندمي، ځان خوښ نه دي چې غټ شم
که غټ یم، خو هم دایم، که وم، وم که نه وم، نه وم

www.sikaram.com

چې څوک غواړي څه سپکه مي د قام له څه جهته
دښمن د هغه چایم کوم، وم کوم نه وم، نه وم
په ماته کښتي سپوریم، طوفانونه دي په مخ کښي
په دي لاره يي بیایم، کوم، وم کوم نه وم، نه وم
خدمت د خپلي ژبي قام وطن زما مسلک دي
په دي مینه به پایم کوم، وم کوم نه وم، نه وم
په تینګ عهد و پیمان چې مي بیعت ورسره کړي
د ده په تولایم کوم، وم کوم نه وم، نه وم
لرم بنکلي تخمونه حې گلزار سي پښتنو ته
په دغه تمنایم، کوم، وم کوم نه وم، نه وم
د ناز په خوب ویدي غنچې په ورو، ورو ویښومه
(خادم) باد صبایم کوم، وم کوم نه وم، نه وم
د مولینا خادم د نظم بله نمونه:
چې وړي تیاره د جهالت هغه سحر غواړو مور
وطن د علم په رڼا کي منور غواړو مور
که هر څه ډیر وي د کپو په شان سرونه نو څه
چې د وطن په درد خوږ يي هغه سر غواړو مور
چې په وطن کي يي خبري د بیګنې وسي
هسي مامور، هسي آمر، هسي عسکر غواړو مور
نه چې سبب د زرد رویي سي د ملت د پاره
چې خوار غریب په خیټه مور کا هغه زر غواړو مور
چې د نفاق په اچولو ژوند تونه اخلي
اي خان ملکه اوس دي ټول د ده تغر غواړو مور

www.sikaram.com

په فیشنو او عیاشیو پسې مه ځه ګوره
اې د مکتب ځلمیه تاته لوړ هنر غواړو مور
چې دي صادق او په ایمان سره (خادم) سي د قام
داسي ادیب، داسي شاعر داسي رهبر غواړو مور

غلام حسن ساپي

دي په کال (۱۲۹۱ش) کي د لغمان د عمرزو د اقتصادي پلوه متوسطي کورنۍ کي زیږیدلي ؤ. دي لا یو کلن ؤ چې پلار یې د کندهار په روزګان کي د سرشته دار او بیا د مالیې د مدیر په حیث مقرر سو. اته کاله یې هلته تیر کړه او په هغه سیمه کي یې بلنه ماینه وکړه. هغه وخت چې وطن ته بیرته راغي د نوي ماینې د خوشحالولو له پاره یې د زړي ماینې د اولادونو سره بې مهرۍ او بې التفاتي شروع کړه او د ساپي د تعلیم او تربیې د پاره یې څرنګه چې بنایي توجه نه کوله. ساپي په دي وخت کي د پنځو کالو ؤ د کورنۍ معلم څخه یې زړي انشاګاني، بوستان، ګلستان او مروجه کتابونه ولوستل او په دي پوه سو که دغسي پسې پاته سي، د ژوندانه وضع یې نوره هم پسې خرابیږي نو د مجبوریت له مخې جلال آباد ته ولاړ او هلته یې د خپل اخښې په مرسته د شهریه، حساب اصول، لیک او لوست تقویه کړ او په (۱۳۰۶ش) کي چې عمر یې ۱۸ کلو ته رسیدلي ؤ د شهریه د کاتب او په (۱۳۰۷ش) کي د ننګرهار د فرقې په کتابت چې فرقه مشر یې محمد ګل مهمند ؤ مقرر سو. دي په لومړي سر کي د محمد ګل مهمند د افکارو او خیالاتو تر تاثیر لاندي راغي او هغه چې به هر ځاي تلي او یا تبدیلیدي، دي به یې د عریضې اخستلو د سرکاتب او مامور په حیث له ځانه سره بیوي. ده په شمالي ولایاتو کي د دست یار او تنظیمه ریاست د دوهمې څانګې د مدیر په حیث کار کاوه. ساپي څه وروسته د یو معذوریت په بهانه د محمد ګل مهمند سره د همکاري څخه بیل سو او کابل کي یې د حقوقو د کورس په لوستلو پیل وکړ د دغه کورس څخه د فارغیدلو او د عبدالمجید زابلي سره د پیژندلو په اثر په کال (۱۳۱۷ش) کي د بلخ د رشتیا شرکت په نمایندګي کي د سرکاتب په حیث مقرر سو او د دغه شرکت د زیاتو اسهامو د رانیولو په واسطه د هغه شرکت د معاون او ریاست تر چوکي ورسید. ساپي صاحب چې

www.sikaram.com

په دي وخت کي و زابلي عبدالمجید ته زیات نژدي سوي ؤ د هغه په توجه په کال (۱۳۲۵ش) کي د تعاوني ډیپو معاون وټاکل سو او په (۱۳۲۹ش) کي د ملي بانک له خوا د قند جوړولو او د موټرونو د انحصار د ریاست چوکي وروسپارل سوه او د زابلی په اعتماد او سفارش یي د سردار محمد داؤد سره د نژدي وپیژندل او د اخلاص لاس یي ورکړ ساپي صاحب په (۱۳۳۰ش) کال کي د ندای خلق د جریدي د یوي مقالي په نسبت چې پر موي مبارک باندي لیکلي وه د حضرتانو له خوا څخه مظنون او ګنهګار وګڼل سو او محکمي ته احضار سو. که څه هم د هغوي د عوا په سرونه رسیده خو محکمي دي ځکه چې ولس د ناصالح شخصیت په حیث پیژاند تر هغو چې یي په تندي کي د صلاح آثار ښکاره یي په بند محکوم کړ خو د دوستانو او حکومت په مرسته ژر د بنده څخه خوشي سو او په کال (۱۳۳۳ش) کي چې د پښتو او پښتونستان مسئلي زور اخستي ؤ دي د هغو سیمو د چارو د سامبالولو د پاره په پیښور کي د افغاني کونسل په حیث وټاکل سو او د پیښور د ادباؤ، شاعرانو، سیاسیونو او ملي عناصرو توجه یي د افغانستان د حکومت پالیسي ته راجلبوله او ډول، ډول پټ او لڅ سیاسي فعالیتونه یي شروع کړه څو په (۱۳٤۰ش) کي هغه کونسلګري وټرله سوه او کابل ته راغي او څه وروسته په چکوسلواکیا کي د افغانستان د سفیر په حیث وګمارل سو.

ساپي صاحب د ویښو ځلمیانو د فعاله او نومیالیو غړو څخه ګڼل کیدي خو د ویښو ځلمیانو چپلاسو ملګرو د ده عضویت ته په اشتباه کتله په خبرو او خصوصي مناسباتو سا تلو کي یي احتیاط ورسره کاوه. ده په پښتو او دري کي روان قلم درلود او د هیواد په ځینو ورځپانو او جریدو کي یي آثار خپاره سوي دي چې دلته د ده یوه مقاله د انګار د جریدي څخه رانقل کیږي:

ویښ ځلمیان څه غواړي:

ډیر خود غرضه کسان د ځلمیانو پاکي او سپیڅلي ارزوګاني چې د قام د سعادت او وطن د جګوالي د پاره یي لري محضي د خپلي شخصي ګټي د پاره بل ډول تعبیروي او غواړي چې په دغه غلط تعبیر او تفسیر د ځلمیانو په نسبت ذهنیتونه وران کړي ترڅو چې زمینه د دوي د شخصي استفادي د پاره مساعده وي. نو دا دي زه غواړم ګرانو وطندارانو ته د خبرتیا له پاره د ځلمیانو ارزوګاني ولیکم:

www.sikaram.com

ځلمیان غواړي چې د هیواد علمي، اقتصادي او صحي معیار جګ یعنی ناپوهي، ناروغي، لوږه لیرې سي او ټوله قواوي د عامهؤ د ګټو او نیکمرغیو له پاره استعمال سي او له ځان ځاني ګټې څخه صرف نظر وسي.

ځلمیان غواړي چې د ديني خدمتګارانو او عالمانو احترام وسي او د رشوت خوړلو او خائنانو سره مجادله وسي.

ځلمیان غواړي چې پښتو د فارسي درجې ته ورسیږي او یو شاني حق مونده کړي یعنې پښتو آثار، کتابونه لیک او چاپ سي او پښتنو ته په پښتو تعلیم ورکړه سي او د پښتو د علمي کولو د پاره کوشش وسي.

ځلمیان غواړي چې بیله کوم تعصبه په پښتو او فارسي مساوي غږیدل وسي او هغه وطندارانو چې پښتو یې نه ده زده، په مینه له پاره د دې چې د دوي د وړونو ژبه ده زده کړي تر څو چې د دوي پښتانه وړونه په خپلو مطالبو بنه پوه کاندي.

دا دي د ځلمیانو غوښتنې او ارزوګاني او غواړي چې همدغه ارزوګاني خپلې په سره سینه د عقل منطق او حسن مفاهمې د لارې مخ کې بوزي او په دې باندې په کلک ایمان ولاړ دي. هیڅ قوت دې د خپلو پاکو ارزوګانو څخه نه سي ستنولای. دوي داسي نه غواړي چې د غه ارمان په عصبیت دهشت افګنې او یا د سیسي عملي سي. د غه هیلې د اصلاحي او تعمیري لارې غواړي په سر ورسیږي د هغه ؤ ذهنیت او فکر ځانته متوجه کړي او د غه د قوم او وطن د نجات لاره ګڼي.

او س دې نو خپله وطندارانو قضاوت وکړي چې دا ارزوګاني د ویښو ځلمیانو اصلاحي او تعمیري دی او که خدای نا خواسته تخریبي او انقلابي.

د غه کسان چې په ویښو ځلمیانو پسې پروپاګنډ کوي مرتجعین، رشوتخوران، ظالمان او استبداد خوښوونکي دي. نه غواړي په وطن کې د غه راز پاکې ارزوګانې ترسره سي ځکه د دوي د استبدادي لارې بندیږي.

www.sikaram.com

صدیق الله رشتین

دي د مولوي تاج محمد مهتمم سلیمانخیل زوي ؤ چې په کال (۱۲۹۱ش) کي د مهمندو په غازي آباد کي زیږیدلي ؤ. دي د خپل ژوندانه حالات په خپل قلم داسی لیکي: (... زما په ژوندانه کي چې ماته کوم په زړه پوري شي ښکاري هغه زما د تعلیم دوره او زما بي اسري ژوند دي. زه د شپږو کالو له پلاره پاته سوم. د دوو ماشومانو وړونو او یوي مور نه په غیر مي څوک نه لرل. پلار مي مولوي تاج محمد نومیده او په مهتمم صاحب مشهور ؤ. دي په پخواني صوبه سرحد کي د ټولو اسلامي مدرسو رئیس او مهتمم ؤ. د ده تعلیمي معیار ډیر اوچت او د انګریزي او عربي لوي فاضل ؤ. په نوو علومو کي یي د (بي. ای) درجه اخستي وه، لس کاله یي په هند کي د عربي علومو په زده کړه تیر کړل او په اخیر کي تري د خپل وخت یو زبردست سیاسي عالم، مبلغ، مجاهد، مدرس او زاهد جوړ سو.

زمور په نژدي کورني کي نور څوک عالمان او پوهان نه دي تیر سوي. بوازي زما د پلار وروسته دا سلسله شروع سوي ده. ده په خپل وخت کي د نورو عالمانو او ملګرو په مرسته ډیر دیني او مذهبي تبلیغونه کړي دي، د ملک او قام له پاره یي ډیر لوړ خدمتونه کړي دي.

زما پلار د مهمندو په (سره کمر) کي استوګنه لرله او څه زمانه په (کمانګري) کي هم اوسیده په آزاد سرحد کي هم د ده دیني مذهبي او قومي خدمتونه تر لږ ښکاره دي. بیا د منګلو د بغاوت په کال (۱۳۰۳ش) چې د ترنکزو حاجي صاحب سره هلته تللي ؤ د غور د درده په خوست کي وفات او هم هلته د عسکري چوني تر څنګ په یوه باغچه کي خاورو ته وسپارل سو. د مهمندو په هغه کړس وطن کي زما غوندي د یو بي اسري او وړوکي هلک د پاره ژوند تیرول څه ډیر مشکل ؤ، مګر زما د پښتني مور غیرت او پوه پالي پلار روحانیت مور په دغه وضع کي ټینګ کړو او د وړوکوالي دوره مي تیره کړه. البته په دي وخت کي ډیري سختي او تکلیفونه مو لیدلي دي مګر هرڅه چې وي سختي وي که راحت ټول په سري تیریږي. ما قرآن د خپل پلار نه لوستي ؤ او د هغه تر وفات وروسته مي نور تعلیم په خپل کاله کي له مخصوصو استادانو څخه کړي دي. زما وړونو هم په دي وخت کي په سبق لاس پوري کړ او په هغه وطن کي چې هلته تعلیم یو نا آشنا نوم دي، زمور کار او شغل د زده کړي نه بغیر بل شي نه ؤ. زمور مور هم زمور په تعلیم کي ډیر کوششونه او

www.sikaram.com

زحمتونه تیر کړي دي او د هغي لويه ارزو يوازي زمور تحصيل ؤ. ما په دغه وطن کي بل څوک مشر نه لاره، بي ديوي مور نه، چې هغه هم په کور کي د ننه زما پوره روزني او پالني ته نه رسيده. هو، يوازي قدرت زه تربيه کړي او روزلي يم او کله، کله د ترنکزو حاجي صاحب د شفقت نظر هم زما سره کومک او مرسته کړي ده. همداوه چې زه د ابتدايي تعليم نه وروسته په کال (۱۳۱۱ش) د ننګرهار د هډې په نجم المدارس کي داخل سوم. د دي وخت نه زما د ژوند نوي مرحله شروع کيږي. وروسته زه له تعليم سره آشنا کيږم او زما طبيعي شوق او ذوق په خپل کار لاس پوري کوي. زما طبيعت هيڅکله په هغه محدود تعليم نه بسيا کيده بلکه نوري پلټني به يي هم کولي، په دې دول دري کاله ما په نجم المدارس کي تير کړل. وروسته په (۱۳۱۵ش) کي زه کابل ته راغلم او په عربي دارالعلوم کي داخل سوم په کابل کي زما د معلوماتو دايره ورو، ورو پراخه سوه او د عربي تعليم نه پورته نور نوي معلومات مي هم لږ او ډير پيدا کړل مګر افسوس چې زما عصري تعليمات په صحيح دول سرته ونه رسيدل، ولي چې زما په رسمي تعليم کي دا شيونه نه وو. يوازي زما خصوصي کوشش ؤ چې څه نه څه مي معلومات لاس ته راوړل. په دي باب کي زما نوي استاد د (اصلاح) اخبار ؤ زما ټول نوي معلومات د دغه بختور اخبار مرهون دي. زه په دارالعلوم کي استادانو د اخبار له کتلو نه منع کولم، ولي زما طبيعت هيڅکله دي ته غاړه نه کښيښوده که په پټه او که به ښکاره خو دا خپل کار به مي کاوه. د مجلو، اخبارونو او جريدو سره زما زيات شوق پيدا سو او په دغه واسطه زه د نوي دنيا سره آشنا سوم. کوم يو بل شي چې زما په ژوند کي زما د فخر سبب ګڼل کيږي هغه زما د پښتو ژبي سره علاقمندي پيدا کيدل دي. که څه هم زما تعليم، پالنه، تربيه ټوله په فارسي او عربي کي وه، ولي چې دا مرض په هغه وخت کي عام ؤ مګر د قدرت رضا وه چې په وطن کي د پښتو د ژوندي کولو او ترويجولو تحريک پيدا سو او د پښتو ژبي د پاللو انګازي په هر ځاي کي پورته سوي. په کال (۱۳۱۵ش) کي چې زه کابل ته راغلم نو په دي وخت کي د پښتو هنګامه توده وه. زه که څه هم په دي وخت کي متعلم وم مګر بيا هم د پښتو دغه عمومي هنګامې په ما کي اثر وکړ او د پښتو کتابونو، مجلو او اخبارونو سره مي مينه پيدا سوه او په يو نيم شعر ويلو مي هم ګوتي پوري کړي. زما لومړني شعر د (۱۳۱٦ش) کال د جشن شماري په (اصلاح) اخبار کي نشر سو. وروسته زما علاقه او مينه ورځ په ورځ په زياتيدو کي وه، د پښتو

www.sikaram.com

مقالي به مي ليکلي، ښي به وي که بدي، چا چاپولي او که نه خو زما زړه به غوښتل چې دا سلسله ټينګه کړم په دي باره کي چې کوم شي زما سره مرسته کړي ده هغه يوازي زما حوصله او زما سړه سينه ده. اخبارونو ته مي مقالي ورکولي، که به چا چاپولي هم نه مګر ما د خپل کار نه لاس نه اخست او نه مي په دي خبرو زما شوق سړيده. په دي ډول زه د پښتو سره آشنا سوم او د پښتو پرمختګ د ټولو لارو سره بلد سوم. د اردو او عربي نه به مي ترجمي کولي، شعرونه به مي هم ويل، کوم وخت چې مي په شعر ويلو شروع وکړه نو د تخلص خيال هم راته پيدا سو او په رومبي فکر مي (رښتين) تخلص غوره کړ. په حقيقت کي دا زما د نامه پښتو ترجمه ده نو ځکه مي دا تخلص خوښ کړ او خلکو په رښتين وپيژندلم هر کله چې زما تعليم ټول په عربي کي ؤ نو په عربي کي مي هم پوره لاس درلود. ما ځيني عربي مقالي هم ليکلي دي چې يوه نيمه يي په (اصلاح) او د کابل مجله کي نشر سوي دي. که څه هم دا يقيني وه که ما دغه لار ټينګه کړي واي په عربي کي به مي ښه لاس پيدا کړي واي مګر خبره دا ده چې د پښتو هنګامه غالبه سوه او زه يي دي خواته را وګرځولم. دغسي مي په دارالعلوم کي يوه اندازه تعليمي دوره پاي ته ورسوله او بيا په (۱۳۱۸ش) کي د دارلعلوم څخه راووتم د متوسطي دوري اعلي درجه شهادتنامه مي واخسته. په دغه وخت کي که څه هم د دارالعلوم يو فارغ دپاره تاکلي داوه چې يادي قاضي، مفتي او يا چيرته معلم سي مګر زه د پښتو هغي زياتي مينې چې زما په زړه کي يې ځاي نيولي ؤ بلی خواته نه پرينبودم او د پښتو د خدمت خواته يي رابنکلم هغه ؤ چې په همدغه کال د سنبلي په اول تاريخ پښتو ټولني ته راغلم او دلته په ابتدايي عضويت ومنل سوم. پښتو ټولني ته زه په ډير شوق او مينه راغلم، ولي چې دا هغه ځاي ؤ چې د يو مين او رښتين پښتون آرزوګاني پکښې پوره کيدي. له دي وخته څخه زما د ژوند بله دوره شروع سوې يعنې د پښتو مسلک رسميت مومي او د پښتو په خدمت عملاً لاس پوري کوم. ما په پښتو ټولنه کي يو کال د ابتدايي عضويت په توګه کار وکړ. په دوهم کال انتهايي عضو سوم. په همدغه کال کي يي د قواعدو د څانګي مدير راته ووايه، بيا د پښتو ټولني معاون سوم، ډيره موده مي په دغه نامه د خپل وس سره سم د پښتو په عملي خدمت کي برخه واخسته. په (۱۳۳۰ش) کال کي د پښتو ټولني لوي مدير او بيا رئيس وبلل سوم، پنځه کاله په دغه حال وچليدم، ترڅو چې د (۱۳۳۵ش) کال په سر کي د معارف وزارت مشاور او بيا د

www.sikaram.com

ادبیاتو د فاکولتي رسمي استاد سوم. او اوس خپل وخت په استادي تیروم په دي شل کاله کي مي چې ما د پښتو دپاره کوم خدمت کړي دي او ما غزه مي خوړلي دي هغه هر چاته څرګنده دي. ما تر اوسه د پښتو په بیلو موضوعګانو کې لکه ګرامر، د ادبیاتو تاریخ، اشتقاق، تاریخ او نورو کي دیرش واړه او غټ کتابونه لیکلي دي چې څه یي چاپ څه یي ناچاپه پاته سوي دي چې مشهور یي دا دي:

پښتانه شعرا دوهم ټوک، د پښتو کلي لومړي لاربښوونکي، پښتو کلي شپږم سمستر، د پښتو ادب تاریخ، پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، د پښتو لومړي ګرامر په فارسي، نوي ژوند، د پښتونستان په باره کي، د پښتنو مجاهدي، د مهمند عبدالحمید دیوان، د پښتو قصي، پښتو لیار، د میوند هنداره (ترجمه)، د هند سفر، د خوشحال خان ختک باز نامه، د معارف دریم ټولګي قرائت، د معارف د شپږم ټولګي دینیات، د پښتونستان واقعات (رساله)، د پښتو ادبیات، د پښتو نثر، د پښتو ادب دري مشهوري کورني، د پښتو او سانسکریټ نژدیوالي، پښتني میرمني (ډرامه)، د ژوند وظیفي (ترجمه)، ځلانده پلوشي، د پښتو اشعارو قسمونه، پښتو څیړنه، د ننګرهار او قطغن سفر، نومیالي شاعران، د پښتونستان مقالي، د معارف د دوهم ټولګي پښتو قرائت، د ژوند سندره، پښتو ژب بنودنه، د مصر سفر، د شوروي اتحاد سفر، داوه زما علمي او قلمي آثار او عمر مي په دي وخت کي د څلویښتو کالو په شاوخوا کي ؤ. اوس به د ماموریت پر دورو وغږیږم:

په (۱۳۱۸ش) کال کي د ادبي انجمن ابتدایي عضو، په (۱۳۲۰ش) کي د پښتو ټولني د قواعدو مدیر، په (۱۳۲۱ش) کال کي د پکتیا د جریدي وړانګي موسس او لومړي ګڼي خپرونکي، په (۱۳۲۲ش) کي د پښتو دائرة المعارف د پښتو څانګي امر، په (۱۳۲۵ش) کال کي د مطبوعاتو د مستقل ریاست د نشراتو د اولي څانګي مدیر، په (۱۳۲۶ش) کال کي د فراه د سیستان د جریدي موسس او لومړي ګڼي خپرونکي، په (۱۳۲۶ش) کي د پښتو ټولني معاون او د پښتو دائرة المعارف آمر، په (۱۳۲۹ش) کال کي د هیواد د اخبار چلونکي، په (۱۳۳۰ش) کي د پښتو ټولني لوي مدیر، په (۱۳۳۱ش) د زیري د دوهمي دوري موسس، په (۱۳۳٤ش) کي لومړي رتبه مامور. څرنګه چې ما د (۱۳۲۵ش) څخه په تعلیمي چارو کي د استاد په حیث کار

www.sikaram.com

کړي دي او پوهاندی ته رسیدلي یم په کال (۱۳۵۲ ش) کي مي تقاعد وکړ.

د پوهاند ربښتین صاحب د شعر نمونه:

څو به مور ویده یو دهاتیانو په غوروونو کي
هیڅ به نه ویښیږو په دا هسي رنګ شوروونو کي
څو پیړي د مخه له مور تللي کاروانونه دي
د ک پري پراوونه دي
موږه لا پراته یو په کټونو پالنګونو کي
خان کاکا مو غرق دي تر غرمي لاپه خوبونو کي
بو کلي مو لاس کي وي ملک، ملک به بولو ځان
ځانته به هم وایو خان
سوزو به تر څو د جهالت په سر اورونو کي
لویږو به تر کومه دفتنو په کړنګونو کي
پیژنو خو راک لکه څاروي په لوي اخور باندي
په کور او په بهر باندي
غواړي مال دولت پیسي د خلکو په ودونو کي
یا په شکرانو او نذرانو او رشوتونو کي
زور زیاتي رشوت او په حرام باندي فخرونه کړو
هم یې ارمانونه کړو
نوم د ملت نه اخلو بې بیي په عمرونو کي
څو پیسو د پاره قوم لاهو کړو په سیندونو کي
زړه کي مي درد ونه ارمانونه بي حسابه دي
ټول د قوم له بابه دي
څه وکړم بي وسه یم راګیریم په غمونو کي
لیږمه یارانو ته خپل درد څکه بیتونو کي

www.sikaram.com

که څه هم رښتین صاحب د ویښو ځلمیانو د سیاسي موسسي کنګري (۱۳۲۷ش) غړیتوب درلود خو په عمل کي په ډیر مشکل حاضریدي چې د ویښو ځلمیانو په پنځلس ورځني غونډو کي په مرتب ډول ګډون وکړي. ده په سیاسي چارو کي د دولت سره مقابله او جنجال نه خوښاوه او د عافیت پسندي لاري يې غوره کړې وه.

رښتین صاحب یو مامور طبیعته او د وخت د حکومتونو د پالیسیو او طرز العمل سره برابر لیکوال ؤ د همدغه کرکټر له مخې په ورسپارل سوو رسمي وظیفو کي د ده او یو شمیر همکارانو ترمنځ هر کله کړکیچ او ناراضیګاني موجودي وي، چنانچه استاد سعد الدین شپون په خپلي یوي لیکلي او نشر سوي خاطري کي د ده په هکله داسي وایي:

(... رښتین صاحب په پښتو ټولنه کي زمور رئیس ؤ او ځینې غړي يې له اداري او نشراتي قیودونه دومره په عذاب وو چې درسته ورځ به يې عریضي ورباندي کولې او څملاوه به مو. دا نو بله خبره ده چې په دي درنې تیږي مو زور ونه رسید په خپل ځاي مو پریښوده او تر آخره نیمه خواله ځانه سره ګرېدو...).

رښتین صاحب د ژوندانه په راوروسته شلو کلونو کي د فشار او یو ډول فلج په ناروغي اخته ؤ کله به په ننګرهار او کله به په پیښور کي اوسیدي. دي په کال (۱۳۷۷ش) د قوس په پنځمه د پیښور په یوه روغتون کي وفات سو او جنازه يې د ننګرهار په سرخ رود کي خاورو ته وسپارله سوه.

عبدالشکور رشاد

دي د عبدالغفور زوي، د محمد ایاز لمسي د محمد جان کړوسي د نیک محمد کوسي او د صاحبجان کودي دي چې په کال (۱۳۰۰ش) کي د کندهار د ښار په بابړو کوڅه کي زیږیدلي دي او په خپله هم بابړ دي. دي په کال (۱۳۱۲ش) کي د لومړنۍ ښوونځي څخه فارغ سوي او نور تحصیلات يې په خصوصي توګه مخي ته بیولي او په ادبي علومو او تاریخي موضوعاتو مخصوصاً د پښتو په انسابو او ولسي روایاتو کي د پراخي مطالعي او صلاحیت خاوند دي.

دي د معلمي څخه نیولي بیا د ښاروالي د انجمن د غړیتوب (۱۳۲۶ش)، د کندهار د ښاروالي د مرستیالي او د پښتو ټولنې د مسلکي غړیتوب (۱۳۳٤ش) او د پښتو ټولنې د

www.sikaram.com

مرستیالي (۱۳۳۶ش) پوري تیري کړي او د ادبیاتو او بشري علومو په پوهنځي کی د پوهاندي تر علمی درجي او بیا د اکاډیمیسني پوري وظیفی رسیدلی دي.

پوهاند رشاد کله، کله په سیاست او ملي مبارزو کي هم برخه اخسته، د ویښو ځلمیانو او د مترقي دموکرات ګوندونو د مشهورو غړو څخه ګڼل کیږي. دي د مترقي دموکرات ګوند (مساوات) د اخبار د امتیاز خاوند ؤ چې وروسته يي په رسمي توګه د دوارو څخه استعفي وکړه.

ده په کال (۱۳۵۳ش) کي تقاعد وکړ او د ضرورت سره سم يي د اجیز به حیث په پوهنتون او د علومو په اکاډمي کي خپلي وظیفي ته دوام ورکاوه.

د طالبانو د اسلامي تحریک د نظام په راتلو سره يي تقاعد رفع سو او د افغانستان د علومو په اکادمي کي يي د بشري علومو د څانګي د مرستیال په حیث په کار شروع وکړه.

د ده مشهور آثار:

لوډي پښتانه، د ټولستوي دري نکلونه (ترجمه)، د زړه وینې، د بیلتون ږغ، لاله رونې او ښکي، پښتو قرائت، د احمد شاه بابا د شاهنامي تحشیه، د پیښور د قصه خواني د خونړو پیښو راپور، مکتبي قاموس او نور دی.

دي په فارسي، عربی، انګلیسي او ځینو تورو هندي ژبو پوهیږي.

څرنګه چې د رشاد صاحب د خبرو لهجه ډیره سنجیده ده همهغه شاني يي په لیکنو او شعرونو کي هم سنجیدګي او متانت پروت دي.

د رشاد صاحب د شعر نمونه:

حریت

د مجنون ژوندون به څه وي چې لیلا مري
څه په کار دي تش کالبوت چې زړه د چا مري
زړه ډیوه ده دا د خپو په قالب کي
خدایه مکړه چې به دا ډیوه د چا مري
چې مرغه ولاړ سي قفس د ماتیدو دي
که به زړه مري تش کوګل دي لا پخوا مري

www.sikaram.com

هیڅ ممکن نه دي پاینبت د هغه په ږي
زړه چې مري کالبوت مجبور دي خامخا مري
حریت د هر ملت د بدن زړه دي
که دا نه ؤ هم ملت مري هم بقا مري

عبدالهادي هادي (توخي، بحر)

دي د حاجي عبدالروف توخي زوي و چې د کندهار د اوسني لومړي ناحيي شاه قبر او خرقي شريفي ته ورځرمه کوڅه کي په کال (۱۳۰۰ش) کي زيږيدلي و او يوي ملاکي، قبايلي، اشرافي او مذهبي کورني ته منسوب و چې فکر او عمل يي هم د دغه ماحول او اجتماعي شرايطو څخه وده او انکشاف موندلي ؤ. هغه وخت چې عبدالهادي بحر د کندهار د روشنفکرانو او ملي خود ارادیت غوښتونکو ځلميانو سره تماس او شناخت حاصل سو، د نوو مطالعاتو او افکارو د تبادلي په رڼا کي د خپلي خوښي او قانوني حکومت جوړولو په مزيت پوه سو. نو د وينبو ځلميانو او دموکراسي تر شعار لاندي يي دوي ته د همکاري او وفا لاس ورکړ او د هغه سياسي نهضت په پياوړي کولو يي شروع وکړه. په دغه وخت کي د حکومت د سياسي او عرفاني پاليسي د پرمخبيولو د پاره په کندهار کي عرفاني او ادبي محفلونه جوړيدل (۱۳۲۰ش) چې په کي د رسمي او عرفاني موسسو د غړو د ګډون کولو علاوه د روشنفکرانو او اجتماعي نفوذ د خاوندانو له پاره هم د رايي اظهارولو او بي غرضه او وطن پرستانه بيانيي ايرادولو د پاره زمينه برابريده چې په دغه لړ کي په دغو کنفرانسونو کي د عبدالهادي هادي خپل نظريات او د تفکر طرز په پاخه منطق او رسا استدلال بيله دې چې د حقايقو په اظهارولو کي د چا څخه وويريږي او يا يي تر تاثير لاندي راسي په کمال جرائت او اخلاقي شهامت د وطن دوستي او ملت خواهي په پاکو او سرشارو احساساتو بيانول او حاضرين به يي تر تاثير لاندي راوستل.

د عبدالهادي هادي د شخصيت او حيثيت په لوړولو کي د ده طبيعي ښکلا، رسا قد او قامت، پاکو خوراکو او چينباکو، صدق او وفا، مخصوص ملګرتيا پاللو، لوي دسترخوان لرلو، ډوډي ماري او مهمان نوازي بيخي زيات تاثير درلود. د پوهي او زراکت له پلوه په ځينو ملګرو کي د (بحر) په نامه مشهور ؤ.

www.sikaram.com

د عبدالهادي هادي د ژوندانه په لومړي مرحله کي به د ده پر دسترخوان ځيني نومیالي ملایان، پیران، ملا مشربه خانان، بنکاریان، سترنج بازان او توکماران حاضریدل او بندار به یی بنه تود ؤ.

د دوهمي عمومي شخړي وروسته د ده په فکر او ذهنیت کی د ملګرو په انتخاب او مناسباتو په هکله تغیر راغي او ځاي يي تعلیم یافته کسانو او د دولت ځینو د نفوذ خاوندانو ونیوي. د ورځي په تقاضا به دغه کسان د دموکراسي او ملي حکومت جوړولو په هیله د ګډ سیاسي موقف نیولو به منظور د ده مجلس ته ورتلل او لازم تصمیمونه به یي نیول چې په دغو هلو ځلو کي یو شمیر د وینبو ځلمیانو په نامه کسانو هم ناسته او ولاړه ورسره شروع کړه او په نتیجه کی یي دی خپل ملګري وګرځاوه. نو عبدالهادي د وینبو ځلمیانو یو ټینګ او وفادار ملګري سو او پر هغوي یي ډیر اعتماد درلود. که به د ده ملګري احیاناً د یوې اشتباه او یا غلطي مرتکب وګرځیدل ده به یي سخته مدافعه کوله او دغي خوش بیني او طرز العمل دي د ډیرو سیاسي او اجتماعي لانجو سره مخامخ کړ.

بنه مي په یاد دي چې د (۱۳۲۶ش) کال په ژمي کي د کابل په ده بوریو کي د عبدالهادي توخي په ویاړ د ده یو دوست میلمستیا کړي وه چې ما هم ګډون ورسره درلود. کوربه د بنه راغلي او دوستانه خبرو اترو په اثنا کي دي ودي نزاکت ته ملتفت کړ چې د وینبو ځلمیانو ټولنې ته پردي لاسونه هم راغزول سوي دي او دغه ټولنه باید بین الایالتي او بین المللیتي هویت پیدا کړي د فاشستي او علویت پسندي د اتهام څخه وژغورل سي. ده په ځواب کي ورته وویل چې زمور په مرام کي د داسي تورونو لګولو د پاره ځاي نسته او د هر چا پر مخ يي ورخلاص دي. مور د بښمنان په دغه نامه غندي. دا یوه اجتماعي او اصلاحي ټولنه ده چې تر اوسه يي رسمي او سیاسي هویت نه دي موندلي په اوس کي يي همدومره فعالیت بس دي راتلونکي جریانات او شرایط به مور ته سمه او لازمه لار راوښودي په اصطلاح پر اخوند ښوروا ډیره ده.

د سردار محمد داؤد د حکومت د راتلو (۱۳۳۲ش) له کبله چې د هغه سردار افکار او کردار دا ځل د خپلو فکري او علمي تجربو له مخي دي فیصلي ته رسیدلي و چې د ملي اتحاد د راوستلو، سیاسي تشنجاتو د رفع کولو، د وطن د آبادي او مترقي پلانو د عملي کولو د پار[illegible]ید په موقتي

www.sikaram.com

ډول سیاسي پارټي بازیو ته خاتمه ورکړه سي او ټول ځلمیان او وطنخواهان په یوه فکر او عمل د ده ترقیادت لاندي د یو معمور او آباد افغانستان په جوړولو کي په کار او زیار لګیا سي، ځینو په سیاسي رمزونو پوهو روشنفکرانو د ده دغه توصیه استقبال کړه او هغه ته یي د همفکري او همکاري لاس ورکړ او ځینو بیا په اشتباهاتو او شخصي عقدو په پټه او بنکاره عکس العمل بنکاره کاوه او د ده د لاري خنډ ګرځیدل. نو د ویښو ځلمیانو په ځینو ملګرو کي چې دا ډول سیاست پوهنه ضعیفه او له نظره وتلي وه، د نن او سبا شرایط یي نه سوه سره بیلولاي د عمل په میدان کي د ډول ډول مشکلاتو سره مخامخ سول محرومیتونه او جیلونه یي وګالل.

د ویښو ځلمیانو د سیاسي فعالو لیډرانو څخه یو همدغه عبدالهادي هادي وۀ چې د دغي خلا درلودلو په نسبت یي د حبس اشکال ولید او د ژوندانه ډیري خوږي او مهمي ورځي یي (۱۳۳۱-۱۳٤۲ش) د کابل په دهمزنګ کي تیري کړي. په دغه اثنا کي دي د ځینو ضعیف النفس ملګرو په خواهش د عذر او توبه نامي په وړاندي کولو تشویق کیدي خو ده سخت عکس العمل بنودي او دا یي د مرام سره خیانت او بي ایماني ګڼله څو په عمومي عفو کي د بنده خلاص سو.

دي د جیل څخه د راوتلو وروسته کله په کندهار او زیات په کابل کي اوسید. څرنګه چې په دغه وخت کي په علمي ترګه د شرایطو سره سم د ویښو ځلمیانو موجودیت په هیواد کي نه سو حس کیدلاي نو ده په کندهار او کابل کي د خپلو شخصي دوستانو لکه حبیبي صاحب، رشاد صاحب، خواخوږي صاحب او نورو او په اخر کي زما سره ناسته او ولاړه درلوده او زما سره یي پر روابطو تجدید نظر وکړ او یو له بله ډیر صمیمي او وفادار وګرځیدو.

عبدالهادي هادي د عبدالروف بینوا په معرفت او اطمینان د خپلو ځینو ملګرو او دوستانو سره د محمد هاشم میوندوال په مترقي دموکرات کي شامل سو. ده په فعال او فداکارانه صورت د دغه ګوند دپاره کار کاوه خو هغه وخت چې بینوا صاحب د ځینو مصلحتونو او سیاسي دور اندیشیو په بنا د مترقي دموکرات د ګوند څخه فاصله ومونده او په رسمي صورت یي خپل او د خپلو ځینو دوستانو انفکاک د هغه ګوند د غړیتوب څخه اعلان کړ عبدالهادي هادي هم د دغه تصمیم قرباني سو.

www.sikaram.com

د (۱۳۶۳ش) کال په پسرلي کي يوه ورځ ده ماته وويل چې اوريدلي مي دي چې تا د افغانستان او روسيې پر سياسي مناسباتو لنډه تاريخچه ليکلي ده او د حکومتونو پر اجراآتو باندي دې تبصري کړي دي. پر ميوندوال او مترقي دموکراتانو ګوند دي هم څه ويلي دي، د هغه په باره کي به څه معلومات راکړي؟ ما ورته وويل (شنيده کی بود مانند ديده) زما دا پريږده زما د نوشتی د اصلاح او هموطنانو د آرزو له مخي لطفاً همدا اوس د دي سوال ځواب راته وفرمایاست چې تاسو ولي په دومره شدت د آشنايي او وفاداري د لحاظ د نه ساتلو سره په رسمي توګه د اخبارونو د اعلانيدو په واسطه د مترقي دموکراتانو ګوند څخه ووتلاست؟ ميوندوال خو په ظاهره يو پوه متقي او مترقي شخصيت ګڼل کيدي. د وطن او ملت سره يې علاقمندي درلوده، د ظلم او استبداد سره يې تروسه پوري مبارزه کوله. ده راته وويل چې لومړي خپل قضاوت او د ليکنې طرز راته ووايه. ما ورته وويل اصل چې وي فرع او بې ځايه ليکنو ته څه حاجت؟، مهرباني وکړه ما او زما په شاني نور نا خبره کسان په اصلي حقيقت او ماجرا پوه کړه. که يې نه راته وايې غاړې به دي د وطن او وطنوالو د حق نه پوهيدلو په لامل بندي وي دا ځکه چې تاسو دا ګوند يوازي د خپلو ځانو د پاره نه دي جوړ کړي بلکه د ملت او خلکو د بنيګڼو او نيکمرغيو ساتل يې مهم مرام دي او دا به يوه ملي رهنمايي وي چې د افغانستان د ګوندونو په تکامل او بريالیتوب کي مهمه برخه واخلي. ده راته وويل چې زمور د ملګرو په منځ کي يو قول اخستل سوي دي چې بايد افشا نه سي او زه د هغه سره پابندي لرم. بيا مي ورته وويل خير که د دي مهم سوال د ځواب په مورد کي تعلل کوي خو دومره وکړي د خپل ژوندانه حالات او سياسي فعاليتونه وطنوالو ته وليکه چې په خپل ملي ژوندانه کي يې د يوې سياسي کرنلاري په څير وګرځوي او د مکررو خطاګانو سره مخامخ نه سي. ده راته وويل چې ما د اعليحضرت امان الله د دوري د اصلاحاتو او سياسي جريانو په هکله دوه توکه سياسي جريانات ستا او د ځينو نورو ملګرو د خواهش سره سم ليکلي او رشاد صاحب ته مي سپارلي دي د هغه د مطالعې څخه چې خلاص سي ته به يې هم وګوري. ما ورته وويل هغه چې زمور اوس په کار دي ستا د ژوندانه کوايف او سياسي تجربې دي، چې ته يې نه سي ويلاي او ليکلاي او غواړي چې د ځانه سره يې سربسته ګورته يوسي. د اعليحضرت امان الله پر دوري باندې خو ډيرو داخلي او خارجي ليکوالانو آثار ليکلي او قضاوتونه کړي دي او داسې شي به نادر

www.sikaram.com

پاته وي چې پر هغه دي څه نه وي ویل سوي، خیر چې نه کوي حبیب څه به وکړي خوار طبیب.

عبدالهادي هادي د ژوندانه په وروستیو کلونو کي د زړه په ناروغي او خلق تنګي اخته، د صبر او حوصلي توان یي بایللي و. د خپل ساتیري او وخت تیرولو له پاره یي د کور یوه خونه د ډول، ډول مرغانو د ساتلو د قفس په شاني ګرزولي وه. ده مختصره کتابخانه، خطي معتبر آثار، ځیني عتیقه شیان او ښي موري غالي هم درلودي.

عبدالهادي هادي د کابل د خیرخاني مېنې په لومړي برخه کي په کال (۱۳٦٤ش) د حوت په اتلسمه د زړه د سکتي په ناروغي وفات سو او په جابر انصار کي خاورو ته وسپارل سو. دي متاهل ؤ دوي مایني یي درلودي چې یوه یي ناصره او بله یي توخي وه. د اولادونو نومونه یي عبدالوافي، عبدالکافي او عبدالباري وه، مشر یی انجنیر عبدالوافي دي چې اوس په کاناډا کي د افغاني مهاجرینو د اتحاد یې د مشري عهده لري.

دي پـه پښتـو، دري او عربي ښه پوهیـد او شعر یي پکښي ویلاي سو یاداشتونه او آثار پکښي لري.

ده یوه مرثیـه د پوهاند عبدالحی حبیبي د وفات په مناسبت ویلي ده چې دلتـه یي د کلام د نمونې په ډول راوړه کیږي:

کتاب ژاړي، قلم ژاړي

ګـوري قـصـد د سـفـر وکـړ حـبـیـبي له دي عـالمه
کـتـــاب ژاړي، قلم ژاړي په ورټ، ورټ له دي المه
څـونـه، څـونـه چې زه ژاړم زمـا زړه نـه ارامـیـږي
درد مي لا پسي زیاتیږي، د زړه څـریکه نه سـوه کـمـه
عـلامـه ؤ د خـپـل عـصـر، لوي اسـتـاد د زمـاني ؤ
عـالمان یي افـتـخـار په شـاګـردي کـاندي عـالمه
شـاهدان یي د ي د علم سل و دیرش کـتـابونه
اته سـوه مـقـالي کـړه د تحـقـیـق ورسـره ضـمـه

www.sikaram.com

د لویانو سره لوي ؤ په کوچنیانو مهربانه
که قریب ؤ که رقیب ؤ برخوردار ستا له کرمه
د جنت بلبله ولاړي، جنت الماوا دي ځای سه
څوژوندي پر دي دنیا یم زه به دا دعا کومه
د وفات تاریخ دي گوره حبیبي کلي غرقاب سو
علم و فضل دواړه ډوب سول څوک یي باسي له دي یمه

پوهاند عبدالشکور رشاد د عبدالهادي هادي د وفات په مناسبت دغه مرثیه ویلي ده:

وعده

زړه وره وطنپاله، باغیرت عبدالهادي
داغ کړي مي کوگل دي ستا فرقت عبدالهادي
له خولي وزي اهونه، د مات زړه له سوو کریږو
لیمه تویوي اوښکي د حسرت عبدالهادي
په یاد دي، وي، وعده موه که روس له ملکه ووت
پر مړو به کوو ږغ د حریت عبدالهادي
په فخر نن وړم زیري، د سرو لښکرو ماتي
په ویاړ اوس درته وایم، تهنیت عبدالهادي
وطن موخداي آزاد کړ د پردو له اسارته
خاوند د آزادي سو زمور ملت عبدالهادي
بي غمه اوس بیده سه، دا تشویش کړه د زړه لیري
دعا کوه چې خداي مو د نفاق مرض کړي لیري

www.sikaram.com

محمد ابراهیم خواخوري

دي د در محمد زوي ؤ چې په کال (۱۹۲۰م) د فبروري په ۲۸ (۱۲۹۹ش) د کندهار د محله جات په دهچکني کي زیږیدلي ؤ او د مستعجله دارالمعلمین د لوستلو وروسته د حبیبي په لیسه کي د پښتو ښوونکي په حیث او بیا د کندهار د لیلیي ښوونځي د تدریسي آمر او د هغه ځاي ځخه د احمد شاه بابا لیسي د اداري هیئت په غړیتوب وټاکل سو. دي د ویښو ځلمیانو یو فعال او وفادار غړي ؤ چې په کال (۱۹۵۰م) د اکتوبر په میاشت کي د زیاتو حزبی فعالیتونو په وجه د کندهار د نائب الحکومه محمد یونس خان مغضوب وګرځید او یوه میاشت هلته بندي سو. وروسته د کندهار د معارفو د رئیس پوهاند محمد اصغر په وساطت له بنده خوشي سو او په کابل کي په اوسیدلو مجبور سو. دي لومړي ځل د بناغلي عبدالروف بینوا په توجه د پښتو ټولني په غړیتوب ومنل سو او په (۱۳۳۶ش) کي د افغانستان رادیو د مراقبت د څانګي د مدیر او په حبیبیه لیسه کي د پښتو استاد، په کال (۱۳۳۹ش) کي د پوهنې نندارې د مرستیال او د نادریه په لیسه کي د تاریخ د معلم، په کال (۱۳٤۲ش) کي د مطبوعاتو د وزارت د ادبیاتو د عمومي مدیر او په کال (۱۳٤۵ش) کي د اطلاعاتو او کلتور وزارت د چاپولو د موسسي د رئیس په توګه وټاکل سو.

دي په کال (۱۳٤۵ش) د محمد هاشم میوندوال صدراعظم د مترقي دموکرات په ګوند کي شامل سو، په کال (۱۳٤٦ش) کي د افغانستان د عامه کتابخانو د رئیس، په ګال (۱۳۵۰ش) کي د افغانستان د اکادمي د پښتو د تقویې او انکشاف د رئیس په توګه تبدیل سو. په کال (۱۳۵۲ش) کي یې تقاعد وکړ او په (۱۳۷۱ش) کي په خپل کور شهر نو کي د زړه د دریدو په ناروغي وفات سو او د وصیت سره سم د خپل سنګر ښه شهادي هادي توخي د قبر له څنګه په شهداي صالحینو کي خاورو ته وسپارل سو.

مشهور آثار یې دا دي:

د مینې ورځه (شعري مجموعه)، حکایت نه دی حقیقت او درد دی، یوه زړه ونکي منظره، ملغلره او نور خان، شین خالي او ګلالي، د ګوستال لوبون لنډي ویناوي، دوه ځواني مرګ مینان، د اشعارو دریمه مجموعه او نور.

www.sikaram.com

ده د ټولو ملګرو مخصوص د حبیبي صاحب، بینوا صاحب او رشاد صاحب سره زیاته مینه درلوده او د دوی د زیاترو رسمي او شخصي چارو د په سر رسولو متکفل او کلخوا ؤ.

د شعري کلام نمونه یي:

غواړم

دغه پسرلي کي نوبهار زه د پښتون غواړم
نوي هنګامه، نوي احساس نوي ژوندون غواړم

وینې چې کړي له خوبه سم وغړته ژوندون وبخښي
په هغه آسماني رحمت خپل ګران وطن زرغون غواړم

ځان چې کړي ټول وقف د خواږه هیواد په مینه کي
ځلمو ته هغه مینه لیونی زه د مجنون غواړم

سوي چې په اور د مینې تل د ملیت وي خپل
هغسي ګوګل، هسي زړګي، هسي لرمون غواړم

څوک چې په زحمت کي د ولس شخصي راحت غواړي
زه د هغو خلکو همیشه د بیخ ختون غواړم

ساتي چې رمه خپله پرډیو شرمنبانو څخه
خپل عزیز ملت ته زه (خواخوږي) داسي شپون غواړم

محمد انور احکزي

دي په کال (۱۲۵۵ش) کي د جنوبي پښتونخوا د کوټي د پښین په ګلستان نومي کلي کي د یو قبایلي حمید زي اچکزي خان په کور کي زیږیدلي ؤ، لومړي زده کړه یي د کورني د غړو څخه په سر رسولي وه. د آزادي او ملي خود ارادیت احساسات یي د هند د نیمي وچې د آزادي غوښتلو د نهضتونو کانګریس څخه پیاوړي سوي وه. د اعلیحضرت امان الله د اصلاحي پروګرامونو او ملي غورځنګونو یو وفادار او سرښندونکي شخصیت ؤ. ده د سقاو د زوي په مخالفت د اعلیحضرت امان الله په طرفداري د یوي قومي ملیشي په سرکردګي پر کندهار حمله وکړه او هغه

www.sikaram.com

یي ونیوي خو هغه وخت چې سپاه سالار محمد نادرشاه کابل ونیوي او پر تخت کښیناست دي د خپلي ملیشي او ملګرو سره لکه مهردل خان بارکزي او نور ورتسلیم سو چې د هغه له خوا د قومي جرنیل په اعزازي لقب وویاړل سو او د کندهار د بنار شمالي برخي ته ورځرمه یی څه مځکه او جایداد ور وباخښه. د دي وروسته خانصاحب او یو زوي یي محمد علم بځرکي او لمسي یي محمد ظاهر افق د کندهار په ملي نهضتونو، اصلاحي او عرفاني فعالیتونو کي فعاله برخه اخسته او د ویښو ځلمیانو د نهضت سره یي پوره همکاري او هم آهنګي درلوده چې د همدغه کبله دي د کندهار د یو شمیر نورو نومیالیو ویښو ځلمیانو سره د بندي په توګه کابل ته و استول سو او د ځلورو کالو دپاره په بند کي پاته سو څو د خان محمد ایوب خان اڅکزي په شفاعت چې اکایي کیدي د بنده خوشي سو او کندهار ته راغي او د کندهار په تجارتي موسسو لکه زرغون شرکت او داسي نورو کي په کار لګیا سو. خان محمد انور خان اڅکزي د ډیري زوړتیا او کهولت په سن په کال (۱۳۵۰ش) کي په کندهار کي وفات سو او جنازه یي د وصیت سره سم د میوند د شهیدانو په هدیره کي خاورته وسپارل سوه.

قاضي بهرام خان احکزي

دي په کال (۱۲۶۰ش) کي د کندهار د ارغستان د مولید په کلي کي زیږیدلي او ابتدایي تحصیل یی د خپلو شاوخوا سیمو د ملایانو څخه په سر رسولي او بیایي د پخواني هند په یو شمیر بنارونو لکه ډهلي، لاهور او کوټه کي د کلام، فقي او فلسفي علوم تحصیل کړي او د هند د آزادي غوښتلو او سیاسي فعالیتونو هلي ځلي یي د نژدي لیدلي او په نتیجه کي یي د غیر ملي حکومتونو او استبدادي رژیمونو سره سخت حساسیت پیدا کړي ؤ. هغه وخت چې په (۱۳۰۸ش) کي کندهار ته راغي دلته یي د ملي حکومت جوړولو او ولسي اتحاد قایمولو دپاره ډیر زیار ویوست. دي وروسته کابل ته وغوښتل سو او د علماو په جمعیت کي داخل سو. ده د (۱۳۳٤ش) کال په لویه جرګه کي د انتقادي وینا په کولو سره د برسر اقتدار رژیم خوا توره کړه او څه وروسته د آزاد مشربي او خوله نه بندیدلو په تور جیل ته ولیږل سو او ۱۱ کاله یي په بند کي تیر کړه د بنده څخه څه موده وروسته وفات سو او په کندهار کي د صاحب آغا په هدیره کي خاورته وسپارل سو.

www.sikaram.com

د ده خواجي حضرت محمد یوسف جان آغا

دي د فضل قیوم مجددي زوي و چې په کال (۱۲۷۵ش) کي د سیند په حیدر آباد کي زیږیدلي و. نیکه یې عبدالرحیم مجددي د میوند په غزا کي د سردار محمد ایوب خان په طرفداري او د انګلیسانو په مخالفت شمولیت درلود. هغه وخت چې امیر عبدالرحمن خان پر تخت کښیناست دي یې په مرګ محکوم کړ. ده د دي له پاره چې په لاس ورنه سي د سیند حیدر آباد ته یې مهاجرت وکړ. دغه کورني فاروقي نسبه دي خو هره فاروق نسبه کورني مجددي نه ده. دغه کورني په هند، پاکستان، افغانستان او منځني آسیا، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او نورو ورځرمه سیمو کي په تقوا او بزرګواري زیات شهرت لري. دوي نقشبندي طریقي ته زیات انکشاف اوده ورکړي وه. وایي چې د دوي اصلي تاټوبي د کابل په شمالي کي د پنجشیر د فرخ شاه دره ده او لوي نیکه یې شهاب الدین فرخ شاه نومید. د دغي کورني یو غړي امام رفیع الدین د مجدد الف ثاني پنځم نیکه د کابل څخه هند ته تللي دي. خو د دغي کورني شهرت د شیخ احمد مجدد الف ثاني د مولینا عبدالاحد د زوي څخه را شروع کیږي چې د نسب سلسله یې په ۲۸ پښت حضرت عمر فاروق ته رسیږي. مجدد صاحب په کال (۹۷۱هـ) کي په سرهند کي زیږیدلي او په نقشبندي طریقه کي د خواجه محمد باقي کابلي وفات (۱۰۱۲هـ) چې په دهلي کي ښخ دي، مریدو.

د کندهار ښار ختیځي خواته د کابل دروازي د دکانو په پای کي د ده خواجي آباد او سر سبزه کلي پروت دي چې د حضرتانو یو کور پکښي اوسي. د دغي کورني لوي مشر شاه غلام حسین نومید چې د نهر کاریز، د هراود، د کندهار د ښار، جلال آباد او کامي د حضرتانو لوي پلار ګڼل کیږي.

د امیر حبیب الله سراج الملة و الدین د تخت کښینستلو مجرد چې سیاسي بندیان خوشي او فراریانو ته بیرته د وطن راتلو اجازه وسوه، محمد یوسف جان حضرت د خپل مشر ورور رفیع الدین آغا (آغا جان) سره یوځاي بیرته کندهار ته راغلل او په خپله آبایي مینه کي په ارشاد او تبلیغ لګیا سول. د رفیع الدین آغا څخه د محمد رسول پښتون خور او د پوهاند عبدالحي حبیبي خور د پښتون څخه وه او دغو دوو روشنفکرانو هر کله د حضرتانو مجلسونه او محفلونه تاوده ساتلي وه.

www.sikaram.com

فضل قیوم آغاز او زامنو یې د مروجه علومو په زیاته بیا د ادبیاتو او سیاسیاتو سره زیاته علاقمندي درلوده او ځان ته یې شخصي او مجهزه کتابخانه درلوده چې عامه استفاده ځني کیده.

د دوي پر مینه تل مخصوص د پنجشنبو او جمعو په ورځو کي به د کندهار یو شمیر روشنفکران را ټولیده څرنګه چې دوي د فیاضي او سخاوت طبیعت درلودنو د کندهار د صالحانو د کلي د مځکي عایدات یې زیاتره د دودي او دسترخوان په شکل په میلمنو او باندارو مصرفول. دوي د دم او چوف نه کاوه او نه یې د چا څخه د خیرات او نذر توقع درلوده. دوي د کندهار په سیاسي او ولسي چارو کي د بې غرضي او عالي جنابي موقف ساتلي و او د هر چا سره یې د خواخوږي او ملګرتیا علایق ساتل. د دغي کورنۍ د غړو هلي ځلي د کندهار د معارفو د پراختیا، سیاسي استقلال حاصلولو په معرکو. عمومي اذهانو په روښانولو کي زیاتي څرګندي دي. د اعلیحضرت امان الله، اعلیحضرت محمد نادرشاه، اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د پاچاهیو په دوران کي یې د فکر او بیان د آزادي علمي او سیاسي محفلونو په جوړولو کي فعاله برخه اخسته. د دموکراسي او ازادي خواهي احساسات یې هر کله تائیدول. د همدغو دلچسپیو او فعالیتونو له کبله و هغه وخت چې د ډیښو ځلمیانو د ځینو اراکینو د فعالیت څخه د حکومت نظر واوښت او بندیان یې کړل (۱۳۲۹ ش)، حضرت محمد یوسف جان مجددي هم پنځه کاله په بند کي پاته سو. د جیل څخه د راتلو وروسته که څه هم په عمومي جسمي ضعف او روحي علالت اخته و او ټول جایداد یې په نس خورلي و بیا یې هم د سیاسي فعالیت او مجلسو څخه لاس نه اخست، څو د چنګاښ او غوایي انقلابونه راغلل، د ثور په انقلاب کي دي د خپلي کورنۍ سره د امریکي متحده اضلاعو ته مهاجر سو او هم هلته وفات سو.

غلام محمد اورمړ

دي د حاجي امر الله اورمړ زوي و چې په کال (۱۲۹۷ ش کي د لوګر په برکي برک کي زیږیدلي و او لومړني تحصیلات یې د کورني د غړو څخه او تر پنځمي ټولګي پورې په ښوونځي کي لوستي او د کار د موندلو له پاره مزار شریف ته تللي و او د هغه ځاي په مستوفیت کي د کاتب، په ګمرک کي د سرکاتب، د خلم او نهر شاهي په ولسوالي کي د سرکاتب په حیث کار کړي

www.sikaram.com

په کال (۱۳۲۰ش) کي له کاره ګوښه سو او شولګره کي د خپلي مځکي د آبادولو او توليداتو زياتولو په کار لګيا سو.

غلام محمد اورمړ په کال (۱۳۲۷ش) کي د مزارشريف د ښاروالي په انتخاباتو کي د وکيل او بيا د مزارشريف د ښاروال په حيث تاکل سوي و.

دي د ويښو ځلميانو يو فعال او وفادار غړي و چې په ناحيوي کومیتو کي د کومیتې د مشري په حاصلولو سره يې د غه نهضت پياوړي او نومورې ساتلي ؤ. ده د مزار د تجارانو او نورو روشنفکرانو سره د نژدي علايق درلودل. د عبدالمجيد زابلي د تجارتي پاليسيو او کلتوري فعاليتونو سخت معتقد و. ده د پښتو او پښتونستان مسئله په پيګير صورت تعقيبوله، دي په کال (۱۳٤٦ش) کي په کابل کي د (هدف) جريدي د امتياز خاوند او د اساسي قانون د مزايا و او ښيګنو د بيانولو او څرګندولو دپاره يې د سيد قاسم رشتيا په قلم ډير مضامين خپاره کړي وو. ده په پښتو او دري ژبو پاخه او د وطني احساساتو ډک شعرونه ويل. مولوي خال محمد خسته په خپل مشهور اثر معاصرين سخنور کي د ده د شعرونو هغه برخه چاپ کوي ده چې اجتماعي او ملي حساسيت لري ځکه يې څرګندوي.

قطعه

منکه از فطرت چوني مضمون نالان داشتم
لعل گویای تو جانا ساخت خاموشم به زور
تیره بختی بین که تا کارم به زلف او فتاد
روزگاری شد چو کاکل در پس گوشم به زور
من کجا تشریف عشق ساده رویان از کجا
این قبادست قضا افگند بر دوشم به زور
دیشب از خواب پریشانی که دیدم صبحدم
باز آن بد عهد ترسم گشته یا اغیار، یار
داغدار اوست دل، حیرت مده ارزان ز کف
این متاع از بهر خاطر داري، دلدار، دار

www.sikaram.com

اورمړ د (۱۳۴۷ش) کال د قوس په ۲۷ په خپل امتیاز او د محمد رحیم مهربان په مسؤل مدیریت یوه جریده د هدف په نامه لومړي په مزار او بیا په کابل کي خپروله. د دغي جریدي نشراتي مرام د اجتماعي فسادونو سره مبارزه کول، د واقعي دموکراسي راوستل، نوي نسل ته د علم او تخنیک مزیتونه ښودل، د اجتماعي عدالت او اقتصادي مناسباتو پرې ټینګول، د ملي وحدت ریښې پیاوړي کول، د استعمار او استثمار سره مبارزه کول او داسي نور شامل و.

غلام محمد اورمړ اصیل او پر ملي مفاخرو مین افغان و. د بایزید روښان په کارنامو او افکارو یې ویاړل. دي په کال (۱۳۶۵ش) کي وفات سو.

عبدالقدوس پرهیز

دي د ننګرهار د شفیع کوت د قلعتک په کلي کي په کال (۱۲۹۶ش) د حوت په ۲۲ د غور د ملکانو په کورني کي زیږیدلي او پلاریي شمس الدین قلعتګي نومید چې ۱۳ کاله د ننګرهار یا اتحاد مشرقي د اخبار چلونکي او مشهور ادیب و. ده د کوز کنړ د جمال په ښوونځي کي (۱۳۰۵ش) کي درس لوستي او سقوي اړو دوړ یې په تحصیل کي خندړاوستي او بیا یې په خصوصي توګه متداوله علوم د شاوخوا علماو څخه تحصیل کړي او په (۱۳۰۸ش) کي د پلار سره جلال آباد ته راغي او د مشرقي اتحاد په جریده کي د لیکوال په څیر ورسره همکار سو. دي په (۱۳۱۳ش) کي په رسمي توګه د ننګرهار د مطبوعاتو د کاتب، په (۱۳۱۵ش) کي د ننګرهار د پیچ د ولسوالي او په (۱۳۱۶-۱۳۱۸ش) د ننګرهار د کامي د ولسوالي سرکاتب او په (۱۳۲۰ش) کی د مطبوعاتو د مستقل ریاست د داخلي نشراتو د مسلکي غړي او د همدغه کال د سرطان په میاشت کي د مزار شریف د مطبوعاتو د مرستیال او پنبتو کورسونو د ماموریت او د قوس په میاشت کي د پروان د اعلي حکومت د باختر آژانس او کورسونو د مامور، په (۱۳۲۱ش) کي د پکتیا ولایت د مطبوعاتو مرستیال او د وړانګي د جریدي د چلونکي د کفیل، په (۱۳۲۲ش) کي د هغي د چلونکي، په (۱۳۲۳ش) کي د مطبوعاتو د مستقل ریاست د داخلي نشراتو د لومړي مدیریت د پنبتو د آمر په توګه وټاکل سو. دي په کال (۱۳۲۵ش) کي د پنبتو ټولني د داخلي ژبو د مدیر، په کال (۱۳۲۷ش) کي یې د دارالامان په افشار کي د ویښو

www.sikaram.com

ځلمیانو د لومړي سیاسي کنګرې په غونډه کي اشتراک درلود او د همدغه کال په پای کي د ننګرهار ولایت د قبایلو مدیریت د مرستیال، په (۱۳۲۹ش) کي د کابل مجلي د چلونکي او د دي کال په نیمایي کي د کابل راډیو د خپرونو د پښتو مرستیال، په (۱۳۳۰ش) کي د باختر آژانس پښتو مرستیال، په (۱۳۳۱ش) کي د کنړ د خلکو له خوا څخه د ولسي جرګي د وکیل په توګه وټاکل سو. دي په کال (۱۳۳۵ش) د جدي په میاشت کي د داخلي وزارت په موافقه د قطغن ولایت د اشکمش د ولسوال، په (۱۳۳۸ش) کي د مزارشریف د شورتپی د ولسوال، د همدغه کال په میزان کي د پښتون کوټ په اوله درجه حکومت مقرر سو.

پرهیز صاحب یو وطن دوست او جدي طبیعته لیکوال و، په صحبت کي یي عصبیت، قاطعیت او چپي افکار څرګندیدل. وایی چې د عمر په اخیر کي د پرچمي افکارو سمپتایزر ګرځیدلي و. ده د پښتو او پارسو روانه او د ملي جذباتو ډکه طبع درلوده.

مشهور آثار یي دا دي:

دري افساني، د ټوکو مینه، شاپیري، ټرون د انیس په ملي ورځپانه کي چاپ سوي او قلمي آثار یي د پوهانو افکار، د زړه بڼري، ادبي لیکني فرزند صالح او نور دي.

د شعر نمونه یي:

یا شمع سه بلیږه، پلوشو سره راځه　　یا ځان ستي پتنګ کړه له ایرو سره راځه
محفل د ګلرخانو سوز و ساز و محبت ته　　مطربه کې راځي سوز و نغمو سره راځه
یو ځل بیا هنګامه د بښکلا ګرمه د ګلزار کړه　　بلبله دې ګلشن ته ترانو سره راځه

(لوي شعر دي)

پرهیز صاحب سږ کال په جلا وطني کي په آلمان کي وفات سو او مړي یي په وطن کي په خپلي پلرني هدیره کي خاورو ته وسپارل سو.

www.sikaram.com

داود شاه لیوال

دي د محمد شاه جبار خیل زوي و چې په کال (۱۲۹۷ش) کي د لغمان په شمشیر آباد کي زیږیدلي و. موریي د سید حسین پاچا د کورنۍ څخه وه چې د خپلو ماما خیلو او نورو خپلوانو څخه یي د وطن دوستي او عدالت شعاري خویونه زده کړي وه. ده خپل لومړني تحصیلات د خانګي ښوونځیو څخه په سر رسولي او په (۱۳۰۵ش) کي هغه وخت چې مولوي محمد امین خوګیاني په جلال آباد کي د مشرقي اتحاد د اخباز مدیر و، ده هلته د حروف چین او د اخبار د موزع په توګه کار ورسره کاوه. ده د شمس الدین قلعتګي سره هم خپلي مرستي ته دوام ورکړي او وروسته یي د کندهار د نهر سراج او بیا په شمالي سیمو لکه پلخمري په فابریکي، د ارزاقو په څانګه کي هم په کار لګیا و. دي یو ویښ او وطندوسته افغان و د شعر او ادب سره یي زیاته مینه درلوده په پښتو کي د ښې قریحي خاوند و. نظم او نثر یي ډیره پوخ او د ملي جذباتو ډک ؤ د همدغه استعداد، لیاقت او صداقتمندي له کبله و چې د لومړي سره دي د ویښو ځلمیانو د وفادار او ثابت قدمو غړو څخه وګرځید.

لیوال صاحب د ژوند په وروستیو مرحلو کي په جلال آباد کي د ویښو ځلمیانو د ټولني منشي و. کله د کتابفروشي او کله د ښاروالي په بیلو څانګو کي په کار لګیا و. دي د ډیري سپینې زړتیا او ناروغي له اثر په جلال آباد کي وفات سو.

شعري نمونه یي:

د پغمان ښکلا

په هر زړه ډیره مینه ستا ده — چې جمال یي ستا لیدلي پري رنا ده
نندارې ته ستا سپورمي راښکته ښکاري — ستا فضا کي څومره ښکلي ښه ځلا ده
بې پورې نې برینډ مخ ګلو خندا کړه — د بلبلو په هر ښاخ ځکه ګډا ده
چې ودان سي ټول هیواد دامي آرزو ده — د لیوال دعا د قام د ژوند لوړتیا ده

(لوي شعر دي)

www.sikaram.com

غلام جیلاني الکوزي

دي په کال (۱۲۸۷ش) د کندهار په اوسني دوهمه ناحیه کي زیږیدلي او د اعلیحضرت امان الله په عصر کي په کندهار کي د تلګراف د ښوونځي څخه د فارغیدو وروسته د کندهار د تلګراف خاني د فني مامور او بیایي د فراه د تلګراف کورس چاري مخي ته بیولي.

ده د سیاست سره د علاقمندي له مخي د تلګرافي چارو څخه لاس واخست او د ویښو ځلمیانو د فعالو غړو څخه وګرځید. د همدغو سیاسي فعالیتونو له مخي په کال (۱۳۳۱ش) د حمل په لسمه د یو شمیر ویښو ځلمیانو په جمله کي کابل ته بندي و استول سو او هلته یي په دهمزنګ کي څلور کاله او شپږ میاشتي حبس تیر کړ. د راخلاصیدو وروسته یي د کندهار په یو شمیر تجارتي شرکتونو لکه میوي شرکت، پنبتون شرکت او داسي نورو کي د مدیر او کارفرما په حیث کار کړي ځکه په مدیر صاحب مشهور دي. دي په کال (۱۳٤۸ش) کي د یو شمیر پخوانیو ویښو ځلمیانو سره د میوندوال صدراعظم د مترقي دموکرات په ګوند کي شامل سو او د هغه د مستعفي کیدلو او پاچا سره د مخالفت پیدا کولو وروسته د یو شمیر نورو ملګرو سره په رسمي توګه د مترقي دموکرات ګوند څخه ووت د ثور په انقلاب کي یي د پنبتونخوا د کوټي ښار ته مهاجرت وکړ او په ۱۳۸۱ هـ.ش کال د جوزا په میاشت همهلته وفات سو.

نداء خلق او ډاکتر عبدالرحمن محمودي

ډاکټر محمودي د محمد اعظم زوي و چې په کال (۱۲۸۸ش=۱۹۰۹م) کي د کابل د بارانې په کوڅه کي زیږیدلي و. پلار یي کم رتبه مامور، غریب او علیل مزاجه سړي و. که څه هم دي د برنج فروشانو د کورني غړي و خو په کشمیري یي شهرت درلود، مګر اصلاً یي د سرحدي افغانانو د مهمندو په قبیلي اړه درلوده. څرنګه چې پلار یي د خپلو ناچیزو عوایدو څخه کورنه سو چلولای نو محمودي مجبور سو چې د ښوونځي د لوستلو علاوه د پلار سره د مرستي په توګه هم کار وکړي. د همدغه مجبوریت له مخي په ۱۱ کلن عمر د تنور سازي مدرسي ته ولاړ او هغه وخت چې د یوناني طب ښوونځي تاسیس سو په هغه کي شامل سو د غه ښوونځي تر درو کالو زیات دوام ونه کړ او د تعلیم د دوام دپاره په (اسدیه) ښوونځي کي شامل سو. دي لا د دغه ښوونځي په دریم

www.sikaram.com

کال کي و چې ماینه يي مړه سوه او د پنځو اولادونو چې کوچني يي شپږ میاشتني و روزنه او پالنه ور په غاړه سوه. محمودي د طب د فاکولتي په دوهم صنف کي دې ته اړ سو چې په دوبي يخي او په ژمي سکاره وپلوري.

محمودي په کال (۱۳۱٦ش) د فاکولتي څخه فارغ او د طبابت په شغل لګيا سو. دي په کال (۱۳۲۰ش) کې د هرات د روغتون د طبیب او په (۱۳۲۲ش) کي د کابل د عقلي او عصبي شفاخاني د سرطبیب په حیث وټاکل سو. محمودي د کوچنیوالي څخه لوړي او تبعیضونو ډیر زورولي و، د ژوندانه تودو او سړو جریانونو دي شعوري په دي پوهولي و چې د وطن د بدبختي او بیچارګي یوازني علت همدغه د طائفوي دولت مشران، د دوي ځیره خوران او تش په نامه ځیني فاسد فرهنګیان دي نو د هغو د منګولو څخه د وطنوالو د خلاصولو له پاره يي د دموکراسي له مخي د ملي شعایرو حکومت د جوړولو له پاره مبارزه کوله. د ده نوم هغه وخت د وطنوالو او روشنفکرانو غوږونه ورسید چې ده د کابل سینما په تالار کي د پوهنې د وزیر فیض محمد ذکریا وینا قطع کړه چې واقعیت نه وایي او ولس د فکر او وینا آزادي د تامینولو د پاره نه پریږدي. د سینما څخه د راوتلو په وخت کي دی پولیسو ونیوي او پنځلس ورځې يي بندي وساتي څو خوشي سو.

د دوهمي عمومي شخړي وروسته چې زمور په هیواد کي په دموکراسي تظاهروسو د شورا د اوومي دوري له پاره د کابل د ښاریانو له خوا څخه محمودي په خپل وکالت وټاکل سو. ده د خپل وکالت په دوره کي د دموکراسي او ملي حکومت د راوستلو او اجتماعي عدالت د تامینولو د پاره په تاریخي مبارزو لاس پوري کړ او د خلکو احساسات يي د خپلو طبیعي او قانوني حقوقو په لاس راوړلو له پاره تحریکول څو دولت مجبور سو چې د ملي شورا د اتمي دوري په انتخاباتو کي د ده او د ده د ملګرو د ناکامولو موجبات راغونډ کړي. په توطئو او دسیسو سره پارلمان ته د دوي د راتلو مخ ونیسي. هغه وخت چې انتخابات ختم سوه او د دوي د عدم بریالیتوب خبر خپور سو د کابل روشنفکرانو د پوهنتون د محصلینو او یو شمیر ښاریانو په انتخاباتو کي د حکومت مداخله دیوي مظاهري جوړولو په صورت وغندله او په دغه هکله يي د پاچا سره د لیدلو کتلو په هیله ارګ ته په زوره د ننوتلو هڅه وکړه چې د دوي او پولیسو تر منځ نښته وسوه او حکومت مجبور سو چې محمودي او ځیني ملګري يي د یو شمیر محصلینو سره بندیان کړي.

www.sikaram.com

د پیښور د آزاد افغانستان جریده دغی واقعي ته داسي اشاره کوي:

(... کذالك اطلاع رسیده که رویه دژخیمان شاه محمودي با پیشوایان بزرگ وطنخواهان یعنی جناب داکتر محمودي و جناب میر غلام محمد غبار نیز خیلی شدید و توهین آمیز و جگر سوز است که به ضرب چماق آنها را خاموش میسازند و از قرن ۲۰ زندانیان سیاسی را با لت و کوب و شکنجه نمودن از اعمال چنگیزی حکومت کابل است...).

محمودي د خپلو ملي مبارزو په بیلو مواقعو او حوادثو کي د خپلو موکلینو او هیواد د روشنفکرانو د حمایي او طرفداري څخه کله، کله مننه او شکران کاوه چنانچه پر ده باندي د سوء قصد د ناکامیدلو په دسیسه کي د خپلو موکلینو او دوستانو څخه د مننې داسي اظهار کوي: (... **از احساسات پاك هموطنان گرامی خود که در قضیه سوء قصد به حمایت بنده اظهار و از بنده تفقد فرموده اند خیلی ممنون و سپاس گذار این احساسات شده هموطنان عزیز مصائب زندگی را بر من سهل ساخته و موفقیت شانرا تمنا دارم...).**

محمودي د خپلو وړونو ډاکټر عبدالرحیم محمودي، محمد عظیم محمودي او محمد امان محمودي سره یوځاي اته کاله د وطنوالو د حقوقو د طلبولو په جرم په زندان کي فشارونه او جبرونه ولیدل خو د هغو په اثر په بند کي ناتوان او مرگي حاله سو، حکومت د دي د پاره چې په وژلو یي بدنام نه سي څو ورځي د مرگ د مخه یي د جیل څخه راویوست او په کال (۱۳۳۸ش) کي وفات سو.

محمودي د خپلو افکارو او خیالاتو د خپرولو د پاره یوه جریده د (ندا ء خلق) په نامه درلوده چې د امتیاز خاوند یي خپله دي او مسؤل مدیر یي د ده زوم ولي احمد عطایي او دائمي همکاران یي عبدالحمید مبارز، محمد یوسف آئینه، محمد نعیم شایان او نور محمد تاپیست ګنډل کیدل. دغه اخبار په کوچني قطع او ګستټنر چاپیدي. په دغه اخبار کي د پارلماني دموکراسي، د اصنافو د حقوقو د دفاع، د حکومت د ځینو نامطلوبو اعمالو غندنه، د پارلماني جریاناتو خپرول، د کابل د بناریانو حال او احوال د ششدرک د آژانس په نامه د ګوند جوړیدلو او د ندا ء خلق د ګوند د مرام په خپرولو سره مهیج او د عامه احساساتو مضامین خپریدل چې وروستي شماره یي (شماره بیست و نهم سال اول دوشنبه ۱۶ سرطان ۱۳۳۰ش) په ۲٤ مادو کي د خلق د حزب د مرام په خپرولو سره د قانون څخه مغایر عمل وګنډل سو او مصادره سوه.

www.sikaram.com

ډاکټر محمودي د پښتونستانیانو د ملي خود ارادیت او ملي ازادي ننګه کوله او د هغوي په مخالفت يي استعماري دسيسي غندلي. ده ملي اسلامي اخلاق درلودل، د شرق او غرب مخصوص انګلیسانو څخه يي ډير بد راتلل او ناوړي خاطري يي ځني درلودي. ده ديني کتابونه او تفاسیر لوستل او کله، کله به يي په خپلو خبرو کي د هغو په متنو استناد کاوه. د ده د کورنۍ ځيني غړي لکه ډاکټر عبدالرحیم محمودي، عبدالهادي محمودي په را وروسته کي د ستمي او شعله يي افکارو تر اغيزي لاندي راغلي دي خو خلک تل ډاکټر محمودي د يو مسلمان، متقي افغان او بزرګوار ملي شخصيت په نامه پيژني. د ندا ء خلق د ګوند د تاسيس د مخه ده د کندهار او ننګرهار د يو شمير روشنفکرانو سره ناسته او ولاړه درلوده هغه وخت چې کندهار ته راغلي و ده د ويښو ځلميانو غړيتوب منلي و خو کله چې کابل ته ولاړ د هغه د غړيتوب څخه يي معذرت وغوښت او ځانته يي يو بل ګوند او اخبار تاسيس کړ.

د ندا ء خلق د ګوند په موسسينو کي ډاکټر عبدالرحمن محمودي، محمد اسلم (د فرانسي تحصيل يافته) چې د اعليحضرت امان الله د سلطنت په وخت کي د کابل د معارفو مدير و، ډاکټر عبدالرحيم محمودي، انجنير ولي احمد عطايي، محمد اسلم (د برنج فروشانو وکيل)، پوهاند عبدالله واحدي د پوهنتون رئيس او بيا د کابل والي، انجنير فقير محمد لودين، محمد نعيم شايان، محمد يوسف آينه، عبدالحميد مبارز او نور شامل وو.

داکتر عبدالرحیم محمودی

دي په کال (۱۳۰۷ش) کي په کابل کي زيږيدلي او په کال (۱۳۲۹ش) د حبيبي د عالي ښوونځي څخه فارغ سوي او د خپل ورور ډاکټر عبدالرحمن محمودي د کړنلاري پيرو و. خو د څو کلونو وروسته د دموکراسي او نوي اساسي قانون (۱۳۴۳ش) په دوره کي يي په افکارو او سياسي روشنو کي تغير راغي او د شعله جاويد د اخبار په خپرولو سره يي د خپل خوريي عبدالهادي محمودي په ملګرتيا سره په چپي او ستمي افکارو او خيالاتو د مظاهرو او غونډو په جوړولو سره د شعله جاويد د جريدي په خپرولو سره د چيني سوسيالزم او ماو ايزم په طرفداري فعاليتونه کول. ډاکټر عبدالرحيم محمودي د شعله جاويد د جريدي د تحرير د هيئت مهم غړي و.

www.sikaram.com

دغه یوه هفته ایز جریده وه چې په کال (۱۳٤٤ش) کې د ډاکټر عبدالهادي محمودي په امتیاز او مسؤل مدیریت په څلورو کوچنیو مخونو کې په دولتي مطبعه کې چاپیده نشراتي مرام یې د اندیشه هاي دموکراتیک نوین تر شعار لاندې خپریدي او تر (۱۳۵۲ش) کال پورې خپریده.

د اصلاح رسمي ورځپاڼه د دغې جریدې د توقیفولو په هکله داسي لیکي: (... **به اثر مراجعه وزارت اطلاعات و کلتور و امر اداره عالی حارنوالی جریده شعله جاوید پس از نزدهمین شماره خویش توقیف شد علت توقیف آن تخلف از مواد (۳۱، ۳۲، ۳۳) قانون مطبوعات اعلان گردیده است.**)

ډاکټر عبدالرحیم محمودي د (۱۳٤۸ تر ۱۳۵۱ش) پورې سیاسي بندي ؤ د سردار محمد داود د جمهوریت په لومړنیو وختونو کې په کال (۱۳۵۲ش) کې د خپلې کورنۍ د لسو غړو سره د هیواد څخه د باندې ووت افغانستان در پنج قرن اخیر په دي هکله داسي لیکي: (... **همچنان در سال ۱۳٤۷ش جریده شعله جاوید به صاحب امتیازی داکتر عبدالرحیم محمودی برادر داکتر عبدالرحمن محمودی به صفت ارگان حزب دموکراتیك نوین تاسیس گردید. این حزب که از نظریات مارکسستی خط پیکنگ چین توده ای پیروي میکرد، در محیط به نام شعله جاوید شناخته شد. اداره متمرکز نداشت و رهبران چون محمد عثمان معروف به لندي، محمد اکرم و محمد صادق یاری از خانواده اعیان هزاره های جاغوری و داکتر عبدالرحیم محمودی و داکتر عبدالهادی محمودی در عین حال با دولت و سایر احزاب مخصوصاً دو شعبه حزب دموکراتیك خلق افغانستان می جنگیدند و گاه در داخل حزب با یکدیگر ستیزه داشتند. حرکت زیر زمینی دیگری که درین وقت به راه افتاد و در شهر و روستا علیه رژیم کار روایی میکرد، جنبشی بود که به نام های ساما (سازمان انقلابی مردم افغانستان)، ساوا (سازمان وطن پرستان واقعی)، گروه اخگر، و سازمان پیکار در داخل وفازا و هجاما و امثال آن در خارج شناخته شده است.**

منشاء اصلی این جنبش های شعله جاوید و ستم ملی در دوره مشروطیت بود که از تیف های گوناگون مارکسستی غیر خط ماسکو تشکیل یافته و هم با دولت و هم با حزب خلق و پرچم مقابله داشت. در دوره جمهوری محمد داود خان اینها زیر فشار قرار گرفته و

www.sikaram.com

رهبران شان زندانی شدند. پس از کودتای کمونستان سال (۱۳۵۷ش) بقیه آنها کنگره را در پنجشیر تشکیل دادند که در آن (ساما) به رهبری مجید کلکانی از (ساوا) به رهبری داکتر عبدالهادی محمودی جدا شد در کوهدامن، بدخشان و نیم روز به عملیات چریکی دست زد و در قیام های هرات، چنداول به پیمانه محدود سهم گرفت. بعد ها جریان های اسلامی وابسته به سازمان های مقیم پاکستان و ایران رهبری و مبارزه را در داخل زیر اداره خود گرفته، دست سامائیها و بقایای شعله و ستم ملی از عملیات کوتاه ساخته فعالان آنرا از بین بردند و فعالیت سامائیها به نشرات در داخل و خارج کشور محدود شد.

د شعله جاوید څخه دغه سازمانونه بیل سوي دي:

حزب جفاکشان (۱۳۴۹ش)، گروه اخگر چې د آزادي نشریه يي درلوده (۱۳۵٤ش)، نهضت وطن پرستان نوا، سازمان خراسان، سازمان رهایبخش سرخا د ډاکټر فیض او ماینې په مشري، د عثمان لنډي په مشري ستمیان (۱۳۵۰ش)، سازمان آزادي بخش مردم افغانستان (ساما) (۱۳۵۷ش) گروه جاوید چې درفش سرخ یی نشریه وه. سازمان ولسي (ملت)، سازمان پیکار برای نجات افغانستان، کانون فازا چې په آلمان کي يي د صدا نشریه درلوده سازمان ملي دموکراتیک مردم افغانستان، چریک های شهری حق پرست، سازمان تدارک و ایجاد حزب کمونست، هواداران جنبش انقلابی مردم افغانستان (هجاما)، جمعیت انقلابی زنان افغانستان او نور.

محمد یوسف آئینه

دي د کندهاري معمار محمد یعقوب زوي دي چې په کال (۱۲۹۸ش) کي په کابل کي زیږېدلي دي. ده خپل لومړني تحصیلات او منځني تحصیلات د کابل د نجات په لیسه کي پاي ته رسولي او په کال (۱۳۱۷ش) کي يي په یوه تجارتي شرکت کي د آلماني ژبي د ترجمان په حیث په کار شروع کړي ده.

د هغي علاقمندي له کبله چې د وطن د مطبوعاتو، شعر او ادب سره درلوده د انیس د ورځپاڼې، د باختر آژانس، رادیو او نورو جریدو د پخوا او چیره دستو لیکوالو او شاعرانو څخه

www.sikaram.com

وگرځید. ده په خپلو ادبي، شعري، اصلاحي او انتقادي مضامینو د ادبي او فرهنگي مقاماتو توجه ځانته را وگرځوله. ده د تجارتي او اقتصادي موسسو څخه مخ و مطبوعاتي نشریاتو ته را وگرځاوه لومړي د اقتصاد په وزارت کي د خدماتو مدیر، په (۱۳۲۷ش) کي د انطباعاتو په عمومی مدیریت کي د اقتصادي سالنامي د مضامینو د تهیه کولو او په (۱۳۲۸ش) کي د انطباعاتو د مدیریت د مستقله شایعاتو د مدیر په حیث وټاکل سو. ده په دغه وخت کي د ډاکتر عبدالرحمن محمودي سره د نژدي وپیژندل او هغه ته یي د نداء خلق په جریده کي د قلمي همکاري لاس ورکړ چې د محمودي سره د ملگرتیا په اتهام څو میاشتي بندي سو څو وروسته ژر خوشي سو. د همدغه ژر خوشي کیدلو او د محمودي د ملگرو سره د علایقو د کمزورولو په نسبت یي سیاسي شخصیت تر تبصرو لاندي نیول کیدي.

آئینه صاحب په کال (۱۳۳۳ش) کي د پامیر د سینما د مدیر او بیا د مرستون د برگ سبز د مدیر، بیا د کرني او اوبو لگولو د وزارت د سمعي او بصري نندارو د آمر او کرهني مجلي د مسؤل مدیر په حیث کار کاوه څو هغه یونټ د اطلاعاتو او کلتور په وزارت پوري وتړل سو او په کال (۱۳۵٤ش) کي یي په دریمه رتبه تقاعد وکړ. د خلقي انقلاب په وخت کي ده پیښور ته مهاجرت وکړ او هلته یي د اسلامي جمعیت د نشراتو سره همکاري شروع کړه هغه وخت چې پروفیسر برهان الدین رباني د افغانستان د اسلامي دولت د ریاست چوکي ته ورسید آئینه صاحب ته هم د ژورنالستانو د اتحادیې ریاست ورسید (۱۳۷۲ش). آئینه صاحب آزاد مشربه، کاکه، خراباتي طبیعت لري. تر اوسه متاهل سوي نه دي د رسمي حیثیت او ماموریت مراعات لږ ساتي. دي د دري ژبي د نازکخیالو او ماهرو شاعرانو څخه ګڼل کیږي او ځانته د شعري قریحي او لیکني سبک لري دلته یي د نمونې په ډول یو شعر راوړه کیږي:

مست

به شوق طرز خرامت غزال صحرا است
هر آنقدر که بلندست سر و پیشت پست
به پای سیمبران چون دل شکسته من
نگشتم هیچ متاعی خراب دست بدست

www.sikaram.com

پی ربودن دل فتنه دگر دارد
کرشمه های تو ای خود نما بروی دوشست
بدین طریق که برخاستی قیامت خاست
بدین طراز نشستی که آفتاب نشست
بسان شبنم گریان در آفتاب نمود
سحر بروی تو آئینه تافتاد شکست

دغه لیک د پوهاند محمد اصغر د شعرونو د خطي نسخي د مجموعي یا دیوان څخه را نقلوم چې د شاغلي محمد یوسف آئینه یو یادګاري شعر پکښي قید سوي دي: (... در حوالی ساعت یازده قبل از ظهر روز ۲۸ میزان (۱۳۶۸ش) بمبی در دست سرور هزاره آهن فروش عقب منزل ما در بره کی منفجر شد، دروازه، پنجره و شیشه ها را همه درهم شکست و بی بی گل خانم را که در دهلیز بالا بود تکان شدیدی داد اما به جز سرور که جسمش با انفجار پارچه، پارچه شد از فضل ایزد متعال دیگر خساره جانی نداشت. بی بی گل را که در حالت شوك شدیدی قرار داشت، به بسترش بردیم و پس از چند دقیقه به حال آمد، در همین وقت پروین جان دخترم در تکسی رسید وقتی هجوم مردم را در اطراف خانه دید، پرسید چه خبر است یك مرد رزیل و بی احساس برایش گفت، در خانه وزیر راکت افتاد و کسی را زنده نه گذاشته او دفعتاً شوك شدید و با دوش مادر مادر گفته به طرف خانه روان، من در حویلی بیرون او را در بغل گرفته او که میلرزید و اشك از چشمانش جاری بود مرا نه شناخت و خود را رها کرده به سوی خانه دوید. من به تعقیبش خود را رساندم هر چند دقیقه سپری شد تا من و مادرش توانستم او را به هوش بیاوریم و آرام کنیم. اتفاقاً در همین وقت صادق جان و کریم جان و صدیق جان دگروال شوهر همشیره شان رسیدند، آدینه و روګل هم آمدند، آدینه باجه ام چند نفر را از ناحیه خواست تا در پاکی خانه و حویلی کمك کنند، دروازه های اطاقها و بعضی پنجره ها از جا کنده شده و شکسته و به هر طرف پراکنده شدند، یك شیشه در خانه درست نماند، چند ترموس و شیشه های چینی نیز شکست دوستانی که در بالا ذکر شد به چیدن پارچه های گوشت سرور و پاك کردن اطاقها مصروف شده و کمك قابل قدر نمود. مصرف تجدید شیشه های پنجره ها و کلکین ها به سی و هفت هزار افغانی بالغ شد. درین سانحه که شاغلی محمد یوسف

www.sikaram.com

آئینه و محمد آصف آهنگ وکیل سابقه ناحیه اول ولسی جرگه به احوال پرسی آمده بودند این قطعه شعر را انشاء نمودند:

بمبی منفجر زبام پوهاند — بهم زد ناگهان آرام پوهاند
ز بام و در فرو ریزد هم و غم — هم و غم هست بام و شام پوهاند
به ناپوهی بمبی با آهن آلات — کفید آن سوی راه عام پوهاند
شکست سر مباد، دگر کله نیست — به عالم زنده باشد نام پوهاند
همیشه یاد، دور پروران کابل — همای آسه یابی پای پوهاند

آئینه په کال ۱۳۸۰ ش کی په کابل کی وفات شو.

عبدالحمید مبارز

دي په کال (۱۳۰۸ش) د کابل په (باغبان کوچه) کي د يو نظامی وړوکي صاحبمنصب په کور کي زيږيدلي او د سوات د يوسفزو څخه دي چې نيکه او مربوطين يي هغه وخت چې پيښور د افغاني سردارانو تر اداری لاندي و، کابل ته راغلي دي. د ده د کورني نور غړي (ابوي) تخلص کوي ده د استقلال د ليسی څخه د بکلوريا د په لاس راوړلو وروسته د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو په پوهنځي کي شامل سو. خو کله چې د سپهسالار شاه محمود غازي د صدارت په وخت کي د دموکراسي مخ په وطن کي ښکاره سو، مبارز صاحب د ملي شورا په انتخاباتي مبارزه کي فعاله برخه واخسته او په انتخاباتو کي د لاس وهني او جعل کاري د اعتراض په مظاهره کی د ګډون له کبله څو مياشتي بندي او بيا نظر بند سو او د يو موټر چا په سفارش بيرته د حقوقو او سياسي علومو د شاګرد په حيث قبول سو. مبارز صاحب د کابل د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي د بين المللي روابطو د څانګي څخه ليسانس په لاس راوړي، په کابل کي يي د ژورنالزم کورسونه ويلي او د فرانسي د ورځپاڼي ليکونکو د تربيي په مرکز او د فرانسوار، پاريسی روژ په ورځپانو او د پاريسی د راديو او تلويزيون د اطلاعاتو په څانګه کي يي د ستاژ او مطالعي دوره تيره کړه.

عبدالحميد مبارز په کال (۱۹۵۷م) کي د انيس ورځپاڼي د مسؤل مدير، په کال (۱۹۵۸م) د باختر آژانس د رياست د مرستيال، په کال (۱۹۶۰م) کي د مطبوعاتو د مستقل رياست د

www.sikaram.com

فرهنگي روابطو د لوي مدير او بيا د وحدت او ملي جبهي د گوند د موسسانو په جمله کی يي چې مشري يې استاد خليل الله خليلي کوله او بناغلو گل احمد فريد، عبدالرب اخلاق د ملي جبهي د اخبار چلونکي يې همکاري او عضويت درلود، د گوند د راستي او چپي افکارو تر منځ د منځني طبقې د گټو او افکارو طرفداري کوله چې د زرنگار د گوند په نامه هم پيژندل کيدي. دغه گوند وروسته د چپي افکارو د فشار له کبله د منځه ولاړ او خپله مبارز صاحب د څو ملگرو سره د محمد هاشم ميوندوال مترقي دموکرات گوند ته مخ وگرځاوه.

مبارز صاحب په کال (۱۹٦٦م)، د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پارلماني مشاور، په کال (۱۹٦۷م) د باختر آژانس د رئيس او د جمعي په ورځپاڼو او راډيو د سياسي مبصر په حيث کار کاوه. ده په کال (۱۳۵۰ش) کي د بامياڼو د والي، په کال (۱۹۷۳م) کي د تاريخ د انجمن د غړي، په کال (۱۳۵۹ش) د پوهني وزارت د سواد زده کولو د انجمن د رئيس او دوهم معين په حيث کار کاوه.

دي وروسته د افغانستان د يو علمي هيئت په گډون چې فرانسي ته تللي ؤ هلته د پناه گزين په حيث پاته سو.

مشهور آثاري:

قانون، نظم جديد اقتصادی بين المللی (ترجمه)، حقوق (مونوگراف)، نهضت جديد افکار نوين، حالات سياسی افغانستان در دو جلد (۱۹۱۹ تر ۱۹۹٦م)، افغانستان و چگونگی دولت فدراتيفی او نور.

مبارز صاحب بورژوا دموکراتيک او ملي سوسيالزم ته متمايل افکار لری. د ظلم، ناروا او بي عدالتي سره جوړ نه دي. په لومړي سر کي د پاچاهي د مقام او مشروطي شاهي د علمبردارانو څخه گڼل کيدي. د هيواد د معتدلو روشنفکرانو په ټولنو کي به يي هر کله حضور درلود او کله، کله به يي د هغوي نشرات هم رهنمايي کول. دي متاهل دي او د استاد هاشم شايق افندي لور نفيسه يي خانمه وه چې تير کال په فرانسه کي وفات سوه.

د ده علايق د افغانستان د روشنفکرانو د هڅو څخه نه دي شليدلي په کال يا دوو کالو کي يو ځل پيښور ته راځي او د افغانستان پر حالاتو او سياسی وضع باندي ورسره ږغيږي او کله، کله يي د هغه ځاي په ورځپاڼو او جريدو کي مقالي ليدلي کيږي.

www.sikaram.com

میر محمد صدیق فرهنگ

دي د سید حبیب مستوفي زوي ؤ چې په کال (۱۲۹۲ش) کي د کابل په چهلستون کي زیږیدلي د نسب سلسله یی د پلار له خوا سید مهدی آتش نفس، چې د بابر شاه په وخت کی د هند څخه کابل ته راغلی او د چشتی طریقی لوی پیر ؤ او د مور له خوا مشهور آزاد یخواه میر واعظ (میرسید احمد وفات ۱۲۲۵ ق) ته رسیږی. او خپل تحصیلات یي د استقلال په لیسه کي (د هغه تنقیدی او انتباهی شعر له کبله چې د مکتب پر تخته یی لیکلی ؤ له مکتبه خارج) بشپړ نه کړای سول او بیا یي په ملي بانک او تعاوني ډیپو کي په کار لاس پوري کړي ؤ. د ده یوه مقاله د کابل مجلی د ویښو ځلمیانو په ګنډه کی د دولت او زابلی عبدالمجید پر اقتصادی پالیسی باندی د اعتراض کولو په نسبت د نشر څخه پاته سوه.

فرهنګ په فلسفي علومو، سیاست، اقتصاد او تاریخ ډیر ښه پوهیدی او د استادي مرتبي ته رسیدلي ؤ.

فرهنګ د (وطن) د ګوند د موسسینو او لارښوونکو څخه ګڼل کیدي. د مشروطي د راوستلو او مطلقیت د تعدیلولو په لار کي یي ډیر زحمتونه او خواري ګاللي او تر مرینې پورې یي د تلاښ او خدمت څخه ځان نه ګوښه کاوه. سیاسي تقوا او اجتماعي نبوغ یي د ستاینې وړ افراط او تفریط نه پکښې لیدل کیدی. فرهنګ د کابل د ښاروالي د ۱۳۲۷ د جوزا د ۲۵ کال په انتخاباتو کي د ښاروالي د وکیل، د ښاروالي د معاون او بیا د ښاروال د کفیل او تر علي محمد خروش وروسته یي د وطن د جریدي د مسؤل مدیر په حیث کار کړي ؤ.

فرهنګ صاحب د (۱۳۳۱ش) کال د حمل د میاشتي د ۳۱ ورځي په مظاهره کي د لاس لرلو په ګناه د خپلو نورو ملګرو لکه میر غلام محمد غبار، عبدالحی عزیز، ډاکټر عبدالقیوم رسول، غلام فاروق اعتمادي ډاکټر ابوبکر، فتح محمد فرقه مشر هزاره، علی احمد نعیمی، عبدالحلیم عاطفي، علی محمد خروش او برات علي او نورو ملګرو سره څلور کاله په زندان کی تیر کړه.

فرهنګ د نوي اساسي قانون (۱۳۴۳ش) د تسوید د کمیسیون غړي او د ډاکتر محمد یوسف د حکومت د کړنلاري پشتیبان او تیوریشن ګڼل کیدي. د نوي اساسي قانون تر انفاذ د مخه فرهنګ د (۱۳۴۱ش) څخه تر (۱۳۴۲ش) پوري د کانو او صنایعو د وزارت د معین په

www.sikaram.com

حیث کار کاوه څرنګه چې یې د رسمي ماموریت سابقه نه درلوده نو د دغې چوکۍ د قانوني کفالت له عهدې څخه منفک سو.

که څه هم فرهنګ د بورژوا دموکراتیک افکارو خاوند ؤ خو د وطن د هري طبقې روشنفکرانو مخصوص سوسیالستانو او مارکسستانو د هغه د علمي او سیاسي تبحر څخه زیاته استفاده کوله او د بیګانګي او مخالفت په ستر ګه یې نه ورته کتل. فرهنګ په کال (۱۳۵۱ش) کې په بلګراد کې د افغانستان د لوي سفیر په حیث کار کاوه. د خلقي انقلاب (۱۳۵۷ش) په دور کې یې په علمي سیمینارونو او مطبوعاتي محفلونو کې برخه اخسته او د وطن پر تاریخ او سیاسي جریاناتو باندې یې نوي نظر اچاوه. فرهنګ د ببرک کارمل د رژیم په وخت کې (۱۳۵۸ش) د عظمي صدارت د مشاور په حیث کار کاوه خو پر افغانستان باندې د روسانو د یرغل کولو په مخالفت د ناروغي په بهانه په وطن پرېښودلو مجبور سو او د امریکا په متحده ایالاتو کې د پناه ګزین په حیث ومنل سو.

ده هلته د (افغانستان در پنج قرن اخیر) په نامه یو اثر ولیکې چې د ځینو افغاني وطندوستانو او ملت خواهانو د ملت دوستي احساسات یې را وپاروي. په دغه اثر کې ده د افغانانو د یو مستضعف اقلیت په طرفداري د افغانستان د ملت د اکثریتي طبقې پر ملي هویت او تاریخي اعتبار د وخت د مصلحت او ملي اتحاد او وحدت مغایر جارحانه او غیر مصلحانه تبصره کړې او د پخوانیو یو شمیر سهوو او نامطلوبو جریاناتو د تازه کولو له پاره یې حق او ناحقه لمنه وهلې چې د هغه په نسبت یې د وطن او وطنوالو د وحدت د دښمنانو په ژرنده کې د مخالفت او دښمني اوبه ورزیاتې کړي دي. په داسي حال کې چې د مطلق العناني او استبدادي حکومتونو په وخت کې نه یوازې مستضعفي قبیلي بلکه ټول افغاني هغه قومونه چې د دوي استبداد او حکم فرمایي ته یې غاړه نه ایښودله ځپل سوي وه نژادي، لساني او ایالتي رنګ یې نه درلود. چنانچه د امیر دوست محمد خان او امیر حبیب الله ضیاء الملة و الدین یو شمیر ماینی ګانی د دغه مستضعف اقلیت او داسې نورو اقوامو او قبایلو د جملې څخه وی.

میر محمد صدیق فرهنګ د زړه د ناروغي په اثر په کال (۱۳۶۹ش) د حمل په ۶ نیټه د امریکې په ورجینیا کې وفات او هم هلته خاورته وسپارل سو.

www.sikaram.com

مشهور آثاري:

صفاریان، مساله افغان (ترجمه)، منطق و فلسفه علوم (ترجمه)، تسوید قوانین، مساله پښتونستان او نور دي[1].

علي محمد خروش

دي د پیر محمد زوي او د علي احمد داګي وراره ؤ چې د سردار نصر الله نائب السلطنه د اعتمادي شخصیتونو او ملي مشاهیرو څخه ګڼل کیدي. د خروش مور د انجنیر محمد اکرم پرونتا د فواید عامي د وزیر او محمد صالح پرونتا خور کیده.

دي یو اقتصادي متشبث ؤ چې د کشمش پاکي او چرګانو د فارم د جوړولو په عوایدو سره یي خپله ګذاره کوله او یو مستغني د چا څخه د مرستي توقع نه درلودلو انسان ؤ. دي د وطن ګوند د فعالو او وفادارو غړو څخه ګڼل کیدي چې د وطن جریدي لومړي ګڼه د ده په مسئول مدیریت را وتلي وه. په کال (۱۹۵۲م) کي چې د وطن ګوند فعال او موسس غړي په جیل کي واچول سول. ده هم د دهمزنګ په جیل کي پنځه کاله په ډیر صبر او میړانه تیر کړل. د ده کورني په اصل کي د کابل د بګرامیو په شینه کلي کي اوسیده.

احمد علي کهزاد

دي د میرزا محمد علي زوي په کال (۱۲۸۷ش) د ثور په اتمه په کابل کي زیږیدلي و. ده خپل لومړني تحصیلات د اوه کلن سن څخه په خصوصي توګه د کورني د غړو او سید عبدالحمید معلم څخه شروع کړي او ورپسي یي د کابل د چندولو په خافیا، اتحاد، حبیبیي، جبل السراج او استقلال په ښوونځیو کي خپل تحصیلات مخي ته بیولي څو په (۱۳۰۸ش) کي یي د استقلال د مکتب څخه بکلوریا شهادت نامه واخسته. څرنګه چې کهزاد په فرانسوي ژبه ښه پوهید نو په شاهي دارالتحریر کي د فرانسوي ژبي د ترجمان په حیث وټاکل سو. د هغي علاقمندي له کبله چې ده د اجتماعي، کلتوري او تاریخي مطالعاتو سره درلوده، نو ژریي د رسمي او مقیدي وظیفي څخه ځان ګوښه کړ او د لومړي ځل د پاره د فرانسوي باستان شناسي هیئت سره د سیستان د

1- *Biographical Dictionary of Contemporaly Afghanistan Graz 1987.*

www.sikaram.com

تاریخی خرابو د لیدلو او مځکې کیندلو د پاره هغې سیمې ته ولاړ. همداشانې په کال (۱۳۱۱ش) کې د دوو فرانسوي او سویسي پوهانو سره د کنړ، اسمار او بریکوټ څخه نورستان ته ننوتل او د هغې سیمې ټولې دري او د لیدلو وړ ځایونه یې تر پښو وکښل.

په کال (۱۳۱۲ش) کی یی د فرانسوي هیئت سره د اوه ویشتو ورځو له پاره په د ائروي سیر د ښکاري دري د لاري د ایبک، بلخ، بالامرغاب، هرات، گرشک، بست، کندهار، غزني او د کابل ټولې دري او تاریخي ځایونه ولیدل. د دغه سفر په نتیجه کې د کهزاد د څیړنو او پلتنو ذوق لاپسي تقویه او پر مخ ولاړ او د یو شمیر مهیجو تاریخي او فرهنگي مقالو په لیکلو لکه د (طی سه هزار کیلومتر در افغانستان)، در امتداد کوه بابا و هریرود، از سروبی تا اسمار په نامه بریالي سو. د دغو بریالیتوبونو له مخې کهزاد په ادبي انجمن کې د فرانسوي ژبې د ترجمان په حیث وټاکل سو. کهزاد په (۱۳۱۲ش) کې په ایټالیه کې د افغاني سفارت په سرکتابت تبدیل سو. ده چې د ژبو د زده کړې زیات استعداد درلود نو ایټالوي ژبه یې ښه زده کړه او د خپلو مطالعاتو په پراخوالي یې شروع وکړه. څرنگه چې د هیواد سیاسي وضع مطمئنه نه وه نو دي ژر بیرته کابل ته راوغوښتل سو او د رسیدلو سره سم یو کال بندي سو. د بنده څخه د خوشي کیدلو وروسته په ادبي انجمن کې د تالیف او ترجمې د معاون او بیا د پوهنې وزارت د کابل موزیم د مشر په حیث وټاکل سو، په کال (۱۳۲۱ش) کې چې د تاریخ انجمن (تاریخ ټولنه) جوړ سو، دي د هغه انجمن د عمومي مدیر او د آریانا مجلې د موسس او مسئول مدیر په حیث وټاکل سو. د دغې مجلې لومړي گڼه په کال (۱۳۲۱ش) د دلو په میاشت کې را ووته او تر (۱۳۲۵ش) کال پورې د ده په نامه چلیده. دي د (۱۳٤۰ش) کال د حمل تر میاشتې پر دغې وظیفې پاته سو او نولس کاله یې وچلوله څو په همدغه کال د پوهنې د وزارت د مشاور په حیث تبدیل سو. لکه چې د مخه ذکر سوه دي په دري، پښتو، فرانسوي، انگلیسي او ایټالوي ژبو ښه پوهید. بیانیې او خطابې یې پکښې ورکولای سوي.

ده دغه فرهنگي او کلتوري سفرونه کړي وه:

په کال (۱۳۱٤ش) کې د ایټالیه په روم کې د مستشرقینو په کنفرانس کې د افغاني نماینده په حیث، په کال (۱۳۲۵ش) کې یې په دهلي کې د سرویلیم جونز د زیږیدنې په دوه سوه کلن تلین

www.sikaram.com

کي ګډون وکړ، (نوموړي د بنګال د شاهي آسیایي ټولنې موسس هم ؤ) هلته یې په دهلی، کلکتې کي د کابل موزي آثارو نندارتون هم وپرانست. په (۱۳۲۶ - ۱۳۳۰ش) کلونو کي یې د افغاني هیئت سره په هند کي د آسیایي هیوادونو په کنفرانس کي ګډون وکړ.

په (۱۳٤۰ش) کي یې په دهلي کي د آسیا د باستان شناسي په کنفرانس کي ګډون وکړ، په (۱۳۳۱ش) کي یې د امریکي متحده اضلاعو ته سفر وکړ. په دغه سفر کي د موزیمونو او کتابخانو لیدل، د دانشمندانو او تاریخ پوهانو سره لیدنه کتنه د سانفرانسسکو او فلادلفیا په تلویزونو کي د خطابو ایرادول هم شامل وو. په کال (۱۳۳۱ش) د فرانسې د خارجه وزارت په بلنه فرانسې ته ولاړ، په (۱۳۳۰ش) کي ایران ته د ایران باستان په موزه کي د خطابي د ایرادولو له پاره ولاړ، په کال (۱۳۳۳ش) کي د افغان او شوروي د دوستي د ټولنې په بلنه ماسکو ته د مستشرقینو په کنګرې کي د وینا کولو له پاره ولاړ، همداشان یې په کلتوري هیئتونو کي ولسي چین، مصر، ترکیې او نورو هیوادونو ته هم سفر کړي ؤ.

کهزاد صاحب د واشنګټن د جغرافیایي ټولنې، شرق اقصي د فرانسوي آسیایي انجمن، د فرانسې د ورځپاڼو لیکونکو د ټولنې هم افتخاري غړي ؤ.

ده د خدمت او پوهني یو شمیر معتبر نښانونه اخستي دي چې مشهور یې دا دي:

د پوهني وزارت څخه مطلا رشتین نښان، د (۱۳٤۲ش) کال د لویي جرګي نښان، د پوهني دوهمه درجه نښان، د فرانسې د جمهور رئیس دوګول له خوا څخه د هنر او ادب (شوالیه) نښان، د ایټالوي عالي ژبي د زده کړي نښان، د اریانا، خوشحال خان د جوایزو مستحق او نور.

کهزاد صاحب موقر، متین او مهذب شخصیت ؤ، د دي سره چې کله، کله د ده افکار او طرز العملونه د ژوندانه د اجتماعي ماحول او شرایطو د ناسازګاري له کبله د حکومتونو له خوا څخه په ناحقه او بدبیني تر فشار او سانسور لاندې نیول کیده، خو د دغو مشکلاتو سره یې بیاهم د شکایت او اعتراض کرکټر نه درلود او هر ډول ناخوالي یې په صبر، حوصلې او شکیبایي تیرولي او د افراطي او احساساتي حرکاتو څخه یې ډډه کوله.

کهزاد صاحب د وطن د ګوند د تیوریشنانو او وفادارو غړو څخه ګڼل کیدی. هم دي ؤ چې د لومړي ځل د پاره یې د وطن د ګوند مرام د پاچا له حضوره تیر کړ. آثار یې د وطن د فرهنګ او تاریخ د زوایاؤ په روښانولو کي برجسته علمي او تحقیقي مقام لري.

www.sikaram.com

مشهور آثار یې دا دي:

امپراتوري کوشان (۱۳۱۷ش)، بگرام (۱۳۱۷ش)، مسکوکات قدیم افغانستان (۱۳۱۷ش)، مردان پاروپامیزاد (۱۳۱۸ش)، مسکوکات افغانستان در عصر اسلام (۱۳۱۹ش)، آریانا (د آریانا لومړي جایزه ورونکي ۱۳۲۱ش)، رتبیل شاهان (۱۳۲۱ش)، تاریخ افغانستان جلد اول (۱۳۲۲ش)، شاهنامه ها و مقایسه میان بعضی پهلوانان آن و اوستا (۱۳۲۳ش)، رایان کابل (۱۳۲۳ش)، تاریخ افغانستان جلد دوم (۱۳۲۵ش)، کنیشکا (۱۳۲۵ش)، اسکندر در افغانستان (۱۳۲۵ش)، ادبیات افغانستان در ادوار قدیم (۱۳۳۰ش)، افغانستان و ایران (۱۳۳۰ش)، به یادبود جشن هزارمین سال تولد شیخ الرئیس ابوعلی ابن سینا بلخی (۱۳۳۱ش)، در زوایای تاریخ معاصر افغانستان (۱۳۳۱ش)، رجال و رویداد های تاریخی (۱۳۳۱ش)، روابط فرهنگی افغانستان و هند (په انګلیسي ژبه) او دري ترجمه یې په کال (۱۳۳۲ش)، عرف و عادات افغانها (په فرانسوي ژبه) چې په کال (۱۹۵۳م) کې په پاریس کې چاپ سو، لشکرگاه (۱۳۳۲ش)، رهنمای بامیان (۱۳۴۳ش)، رهنمای مختصر بامیان په انګلیسي او فرانسوي ژبه (۱۳۳۴ش)، از سروبی تا اسمار (۱۳۳۴ش)، بالاحصار و پیش آمد های تاریخ (۱۳۳۶ش)، افغانستان در پرتو تاریخ (۱۳۴۶ش)، فروغ فرهنگ (۱۳۳۶ش)، سپرلو (د اسونو د اهلي کولو سوابق ۱۳۴۶ش)، شاه بهار (د غزني یو پخواني معبد ۱۳۴۶ش)، تاریخ برای صنف هفتم مکاتب (۱۳۵۰ش)، رجال و رویداد های تاریخی (۱۳۵۱ش)، درفش ملي جمهوریت (۱۳۵۴ش)، افغانستان در شاهنامه (۱۳۵۵ش)، غرغښت یا گرشاسب (۱۳۵۵ش)، افغانستان چهار راه تمدن و تهذیب (۱۳۵۶ش)، زمان شاه و فعالیت دستگاه استعماری، چند رساله کوچک در موضوع سیاسي روز (۱۳۳۰ش)، نتایج تاریخ کشفیات جدید افغانستان (ترجمه)، آثار عتیقه بودایی بامیان (ترجمه) (۱۳۱۵ش)، صنعت بودایی باختر و مبداء صنعت گریک و بودیک (ترجمه ۱۳۱۶ش)، منظره افغانستان (ترجمه)، تایان (ترجمه) (۱۳۳۷ش)، هنر قدیم افغانستان (۱۳۴۶ش)، از چنگیز تا تیمور.

www.sikaram.com

د کهزاد صاحب مضامین او ترجمې د کابل په مهمو اخبارو جریدو او د لویو هیوادونو په مطبوعاتو کې چاپ سوي دي چې شمیر یې په دغه لنډه لیکنه کې نه سي راتلای تر دي زیات پلټنې او څیړنې ته اړتیا لري.

کهزاد صاحب د (۱۳۵۰ش) کال را په دیخوا د ژبې د بندښت او لاس ریږدیدنې او مزاج د ضعف په ناروغي اخته ؤ د ویلو او لیکلو توان یې کرار کرار زوالیدی څو د (۱۳٦۲ش) کال= (۱٤۰٤ق) د صفري د میاشتې په ۱۹ نیټه د زړه د دریدو په ناروغي وفات سو او د کابل د شاه دو شمشیري زیارت په اړخ کې خاورو ته وسپارل سو.

د کهزاد صاحب یو شعر چې د افغانستان په ملي ترانو کې زیات اوریدونکي لري دا دي:

ای کشور افغانستان ای سرزمین باستان
مهد فروغ اریان پاینده نامت جاودان
پاینده نامت جاودان
ای کشور آزادگان ای مهبط فرزانگان
خاکت کهن بختت جوان زی شادمان، زی کامران
زی شادمان، زی کامران
ای مرکز مشرق زمین فرتو باشوکت قرین
کانون رسم و راستین در پیکر مشرق روان
در پیکر مشرق روان
ای قلب پاك آسیا ای منبع صدق و صفا
خاك تو را چون توتیا در دیده عالم هر زمان
ای مادر شیرین من
ای کشور با عز و شان ای کشور با عز و شان
افغانی افغان دیار آزاده در کهسار
دارم به نامت افتخار
تا زنده باشم در جهان تا زنده باشم در جهان
تا پرچم فتح و ظفر محراب و منبر را ببر
دارد تو باشی جلوه گر
در مطلعه شرق عیان

www.sikaram.com

استاد خلیل الله خلیلی

خلیل الله خلیلی د مستوفی الممالک محمد حسین خان زوی ؤ چې په کال (۱۳۳۷ق=۱۹۰۷م) کی د کابل د بنار په یوه برخه کی چې (جهان آرا) نومیده او اوس یې یوه برخه د میوند د جادی او د روسیې د پخوانی سفارت په مځکه او پولی کلنیک کی راغلی ده زیږیدلی ؤ.

پلاریې مستوفی الممالک د شمالی د کوهستان د سیدخیلو د سیمی د قومی مشرانو څخه ؤ چې د امیر عبدالرحمن خان او امیر حبیب الله خان په عصر کی د نظامی او ملکی نائب سالاری رتبی ته رسیدلی ؤ چې په عین حال کی یې د مستوفی الممالک یا مالیه وزیر حیثیت هم درلود. موریې یوه غیوره ساپی پښتنه وه چې د نائب سالار عبدالرحیم ساپی خور کیده چې د افغانی شهامت او نفس د عزت زیاتی بیلگی پکښې لیدلی کیدی. پلاریې په دولتی او ولسي چارو کی د زیات غیر مطلوب نفوذ لرلو له کبله د اعلیحضرت امان الله د اشتباه مورد ؤ افغانستان در مسیر تاریخ په دی هکله لیکی: (... **مستوفی الممالك ادارات و امور مالی کشور را در معرض بیع شرا قرار داده بود، مالیات کشور اعم از اراضی و گمرکات همه در اجاره مستاجرین خاین گذاشته می شد، این مستاجرین هر نوعیکه میخواستند میتوانستند بامالیه دهان رفتار نمایند. شدت فشار بالای مردم تا جای رسید که از ولایات شمالی کشور صد ها خانواده دهقان ورشکست شده به قلمرو روس و ایران فرار کردند...**)

مستوفی الممالک د نائب السلطنه سردار نصر الله خان د پاچا کیدو په دسیسه کی شامل ؤ او د جلال آباد څخه د سپاه سالار محمد نادر خان سره یوځای کابل ته بندی را ولیږل سو. دی په کال (۱۲۹۸ش=۱۹۱۹م) د ثور په ۱٤ مه د ارګ د باغ به یوی ونه وځړول سو او اعدام سو.

د ده ټول مال او جایداد ضبط سو او کورنی یې خپل کلی سید خیلو ته ولیږله سوه او تر مراقبت لاندی ونیوله سوه. خلیلی د دغو مشکلاتو او بدو عواقبو له کبله خپل تعلیمات په رسمی او اساسی توګه پوره نه کړای شول او د نژدی دوستانو او خپلوانو څخه یی لیک او لوست زده کړ او په میربچه کوټ یا سرای خواجه کی یې په معلمی شروع وکړه. بیا د دغی وظیفی څخه د مالیې وزارت په یوه څانګه کی د محاسب په توګه تبدیل او د (۱۲۹۸-۱۳۰۸ش = ۱۹۱۹-۱۹۲۹م)

www.sikaram.com

کال پوری هم هلته په کار لګیا سو. په سقوی دوره کی د مزارشریف د مستوفی په حیث مقرر سو. په جدی او د غرضه د ک فعالیت کولو سره یې ځینی خلک د ځانه څخه ناراضه وګرځول. ده دوه ځله بندیخانه او حبس ولیدی یو د اعلیحضرت امان الله په عهد کی او بل د اعلیحضرت محمد نادرشاه او سردار محمد هاشم د صدارت په وخت کی د خپل ماما عبدالرحیم نائب سالار د صدارت د معاون او د فواید عامی وزیر سره د ساپیانو په اغتشاش کی د همکاری او لاس لرلو په تور. دی د اعلیحضرت محمد نادرشاه په دور کی د عظمی صدارت د لومړی څانګی د مدیر، بیا د کابل د پوهنتون د مرستیال او د ادبیاتو د پوهنځی د فارسی ادبیاتو د استاد او د سردار شاه محمود خان د صدارت په دوره کی د (۱۳۲۵-۱۳۳۲ش = ۱۹٤٦-۱۹۵۳م) پوری په بیلو مهمو رسمی چارو لکه د وزیرانو د مجلس د منشی، د مطبوعاتو د مستقل رئیس، د پاچا د مطبوعاتی د مشاور، د ولسی جرګی د جبل السراج د وکیل، د ملی جبهی د ګوند د تولنی تهداو اینبوونکی او بیا په عربستان، عراق، سوریه، بحرین، کویت، اردن، قطر او عربی اماراتو کی د افغانستان د لوی سفیر او فوق العاده نماینده په حیث کار کاوه.

د (۱۳۵۷ش=۱۹۷۸م) کال د اپریل په ۲۷ د ده لاس د رسمی ماموریت څخه لنډ او په جهادی فعالیتونو کی یې په پاکستان کی د حماسي اشعارو، ملی ترانو جوړولو سره د مجاهدینو حوصله افزایي کوله.

استاد خلیل الله خلیلی د (۱۳٦٦ش) کال د ثور په څوارلسمه د شپی په دوو بجو د پاکستان په مرکز اسلام آباد کی وفات سو او په سبایي جنازه د حضرت صبغت الله مجددی په امامت د پیښور ښار د رحمان بابا په هدیره کی خاورو ته وسپارله سوه.

د استاد خلیلی مشهور تالیفات دا دی:

آثار هرات (په درو توکو کی)، د مولینا بشیر احمد د تفسیر ترجمه، شرح احوال حکیم سنایي، شرح احوال بیدل، سلطنت غزنویان، یمګان (آرامګاه ناصر خسرو)، نی نامه (د رومی مولوی د احوالو شرح) از بلخ تا قونیه، شرح دیوان خطی سنایي، عقاب زرین، د دانش آموزانو دپاره ابتدایي او نهایي په دری ژبه درسی کتابونه، آرامګاه بابر، دیوان اشعار جلد اول، هرات (آثار و اشخاص په عربی، اللفقها اللمغانیون (عربی)، ابن بطوطه فی افغانستان (عربی)،

www.sikaram.com

رباعیات (عربی او انگلیسی ترجمه)، برگهای خزانی، درویشان چرخان (زندگی مولینا جلال الدین بلخی)، پیوند دلها، نورهان، د تاگور د ځینو آثارو ترجمه.

د ده هغه جهادی رسالی چې په پاکستان کی خپری سوی دی:

یاد آشنا (د اقبال او افغانستان په هکله)، د اسلامی جمعیت د رهبر پروفیسر ربانی د رسالی دارد و ترجمی څخه، مسجد جامع هرات، پنجشیر و قهرمان مسعود، ماتم سرا، نخستین تجاوز شوروی در افغانستان، ایاز از نظر صاحبدلان، ناهید و دختران، زمزم اشک، عیاری از خراسان، سجاده تا شمشیر، از مدرسه تا سنگر، بهشتی که در آتش سوخت، سوزن زر و جامه سفید، غوث الاعظم، سرور داستان، به بارگاه سعدی، فرهنگ جمهوری اسلامی ایران در پشاور، تجلیل سالگرد امام ربانی، کاروان اشک، داستانی از داستانها، مادر گلگون کفنان، جشن آزادی ملت پاکستان، پیام سلطان محمود، اشک و خونها (جلد سوم دیوان اشعار) ادبی، تاریخی، سیاسی، انتقادی، مضامین چی په کابل، جدی، بغداد، کویت، ترکیه، پاکستان، ایران، مصر کی خپاره سوی دی.

خطی آثار یې چې تر اوسه نه دی چاپ سوی:

قهرمان کوهستان، خواجه سبزپوش، پیام عروة الوثقی، نماز عاشقان، پادشاه و دو راهی، دو شنبه نامه، مراسلات، زنگی در روستا، رویت ها و روایت ها، بلخ در ادب عرب، ابوزید بلخی، سفراء افغانستان (از محمود تا محمود).

استاد خلیلی د ستر ادیب، قصائد سرا او شاعر په حیث:

دی یوازی د افغانستان نه بلکه د منطقی د دری ژبی د مشهورو قصیدی سرایانو، عرفانی او ولسی مقتدرو شاعرانو څخه ګڼل کیږی. لومړی ځل که څوک د ده د شعر او قریحی سره پوره بلدیت او وقوفیت و نه لری حتمی فکر کوی چې د فردوسي، فرخي، عنصری او مسعود سعد د قصایدو او اشعارو سره مخامخ سوی دی. استاد خلیلی په خپل نظم او نثر کی فارسی او عربی کلمات په دومره مهارت او لیاقت سره یو په بل پیښلی چې سړی د هغوی د اصالت او ریښی د بیګانګی تنافر اډو پکښی لیدلای نه سی. د ده په شعرونو کی د فورم او معنی په لحاظ علمی او هنری کمالات او اعجاز موجود دی. استاد سلجوقی د ده د اساس شاری قریحی او توانا طبع لرلو له

www.sikaram.com

کبله دی د سخن د استادانو درجې ته رسولی دی. د ده د اشعارو نا یابه ملغلرو د همیشه بهار د گلونو په شانی د خزان مخ هیڅ نه دی لیدلی. د فارسی ادب د مینانو او هوا خواهانو په خولو او زړونو کی به د تل د پاره باقی پاته وی په خوند او ویاړ به یې لولی...)

استاد خلیل الله خلیلی خلیق، مهذب، مؤدب او د ملی شعایرو سره وفادار شخصیت ؤ. د خدای پرستی، فقیر مشربی او انسان دوستی جذبی او روحی کیفیتونو دی معنوی عالی مدارجو ته رسولی او کله چې به د سیاست او فاسدی اجتماع د ناوړو چارو څخه یو ګړی فارغیدی، بیرته به یې عبادت او ریاضت ته مخ نیوی او د ناصوابو او خجالت آورو اعمالو څخه به یې ندامت او عذر غوښت او استغفار به یې وایه.

د همدغی ناتوانی او ضعف له کبله ؤ چې کله کله به یې په خپلو اشعارو کی د پاچاهانو او زورګویانو په نسبت بیځایه ستاینی کولی او د هغوی په خدمت او مصاحبت یې ویاړ کاوه لکه چې د پاچا محمد ظاهر خان په یوه دعائیه او خوشامند نامه کی داسی وایي:

گر گویم عمرت از هزار افزون باد قولیست خطا
ورگویم کاخ دشمنت واژگون باد این نیست دعا
امید من آنست که در روز جزا در پیش خدا
نامت به شمار عادلان مقرون باد این است بجا

په بل ځای کی د (شاه دادگر) تر عنوان لاندی پاچا محمد ظاهر شاه ته داسی کورنش او غوره مالی کوی:

شاه دادگر

شهان دادگر در کشور خویش — بنای عدل را معمار باشند
برای دیدن الام مردم — به حکم دیدهء بیدار باشند
شهانی سایه پروردگارند — که نیکو خوی و نیکو کار باشند
اگر اشکی چکد از چشم مظلوم — به مژگان ابر گوهر بار باشند
اگر در خانه مردم وزد باد — به پیش باد چون دیوار باشند
خدا بیزار میباشد از آن شاه — که خلق از دیدنش بیزار باشند

www.sikaram.com

شهه ما سایه پرودگار است که ظلها اصل را آثار باشند
نه باشد بارگاه را زوالی که خلق آنجا برادر وار باشند

یو بل ملی شاعر د استاد خلیلی د مداحی او غوړه مالی د شعرونو څخه نفرت کوی او داسی وایی:

ته د سلطان د دربارونو شاعر زه د محرومو ولسونو شاعر
ته د زخمونو او جامونو شاعر زه د پیړی د قیامونو شاعر
ته د پاچا د غرورونو شاعر زه د غلام د فریادونو شاعر
ته د سلطان د نعمتونو شاعر زه د بزگر د سوکړ کونو شاعر
زه د بې وسو د ځگیرویو آواز د اسیرانو د پیړیو ژړا
زه ولسونو ته د مینی قاصد زه ظالمانو ته د توری سزا
زه عذابونه زیږولی یمه زه توفانونو آزمویلی یمه
زه د خونی بادو څپیړو په مخ تر زرکرته ډیر وهلی یمه
زه همدغه یمه، دغه به یمه نگه د خلکو وم، نگه به یمه

همداشانی د ده د شعری طبع په غندنه کی د پوهاند عبدالحی حبیبی خلیلی نامه د یادونی وړ ده.

د استاد خلیلی یو شمیر اشعار لکه په کندهار کی د سپاه سالار شاه محمود خان صدراعظم حضور ته د ده د تبعید بخنبلو، د پاچا محمد ظاهرشاه څخه د یو سرپناه غوښتلو، امیر حبیب الله خادم دین رسول الله د خراسان په عیارانو کی شمیرلو، احمد شاه مسعود ته د ثانی احمد شاه ابدالی او شیر پنجشیر لقب ورکولو په هکله زیات مشهور دی.

د استاد خلیل الله خلیلی سیاسی فعالیتونه:

د (۱۳٤۳ش) کال د اساسي قانون د نافذیدلو وروسته زمور په هیواد کی یوشمیر عناصرو ته موقع مساعده سوه چې په واقعی او یا غیر واقعی توگه د وطن د نیکمرغی او د خلکو د ذهنی ترقی او اجتماعی عدالت د تامینولو د پاره د سیاسی ټولنو د جوړولو له لاری په کار لاس پوری کړی. په دغو کی د استاد خلیلی په مشرتابه ملی جبهه (زرنگار، وحدت) او داسي نور شهرت لری.

www.sikaram.com

د دغی جبهی یو شمیر غړو د ولسی جرگی د دوولسمی دوری په انتخاباتو کی گډون وکړ او بریالیتوب یې په لاس راوړ. دغی ټولنی څخه چې د پاچا، شاهی کورنی او په اصطلاح د مخورو، اشرافو او نورو مسلطو طبقو د خلکو په گټه کار کاوه بیله یو شمیر فرصت طلبانو او استفاده جویانو نورو خلکو ښه نظر نه ورته درلود او د استاد هراړخیځ او دو رویه سیاست ته یې په اشتباه کتل. دوی لومړی ځل یوه جریده د مولانا خال محمد خسته په نگارندگی راوایستله چې د محافظه کاری سیاست یې خوښاوه. څومره چې د دغی ټولنی غړو فعالیت کاوه هغومره د ملی مقاومتونو او مخالفتونو سره مخامخ کیده، چنانچه د وخت صدراعظم ډاکټر محمد یوسف او سید قاسم رشتیا د مالیی او مطبوعاتو وزیر د استاد خلیلی د مخفی او حکومتی ضد فعالیتونو څخه په رسمی توگه د پاچا حضور ته خپل اعتراض وړاندی کړ او د هغه د ناوړو اعمالو څخه د راگرځیدلو هیله یی وکړه چنانچه سید قاسم رشتیا په خپلو (سیاسی خاطراتو) کی په دی هکله داسی لیکی: (... به مجرد بازگشت اعلیحضرت از سفر فرانسه که استاد خلیلی جزء ملتزمین رکاب شاهانه بود، در کابل آوازه تاسیس یك حزب سیاسی به نام (حزب زرنگار) بلند شد که قیادت این حزب را استاد به دوش دارد.

و هر روز در منزل جدیدی که به مساعدت شاه در کارته پروان تعمیر و تجهیز گردیده عده زیادی گردهم جمع شده و تازه واردین در یك اطاق نیم تاریك داخل و از زیرکمانی که بالای آن یك جلد قرآن کریم اویخته شده بود گذشته و به قرآن کریم، شاه و قانون اساسی قسم وفاداری میکردند. در همان روز برای ادای فاتحه به منزل یکی از دوستان میرفتم، چون منزل دوست مقابل استاد بود، وقت بازگشت که ازدحام را پیش دروازه استاد دیدم، توقف نموده داخل شدم درین وقت عده زیادی در سالون که با قالین های قیمتی هدیه تجار فرش شده بود، روی توشکهای پوشیده از قالیچه ها نشسته و گرم صحبت بودند. استاد بالطف خاص از من پذیرایی کرد، گفتم ازدحام را دیده خواستم ببینم چه خبر است. انشاء الله خیریت است، با لکنت زبان که در چنین اوقات دست و پاچگی برایش دست میدهد، گفت چیزی نیست دوستان و مهربانان برای تبریك کلبه محقر من آمده اند. با همان لحن مزاح آمیز گفتم خدا به همه ما چنین کلبه محقر نصیب کند بهرصورت من هم خانه نو به شما تبریك میگویم و از خداوند میخواهم که درین خانه به خوشی و راحت زندگی کرده

www.sikaram.com

آثار و اشعار برجسته در زیر سقف آن بوجود بیاورید که نام و شهرت شما را بلند تر گرداند.

در وقت خارج شدن که استاد از من مشایعت میکرد با وجود اصرار استاد بیشتر توقف نه کرده وداع نمودم.

فردای آن ماجرا را به داکتر محمد یوسف قصه کردم، گفت من هم شنیده ام میگویند محض برای کامیابی انتخابات است و در حقیقت به مقصد جلب مردم به طرف قانون اساسی میباشد و دیگر کدام مقصدی ندارد، گفتم به بخشید، برای هر مقصدی که باشد اقدام به تاسیس حزب و نام نویسی اشخاص برای شامل شدن در حزب کاملاً مخالف قانون اساسی و مرامیست که ما و شما تعقیب می نمائیم. مخصوصاً ابتکار آن از طرف استاد که مشاور نزدیك شاه است و میگویند به اشخاص عادی و اطرافی حزب خود را به نام حزب شاه معرفی میکند. موقف اعلان شده حکومت و جدای مقام سلطنت را از مسائل و کشمکش های سیاسی بکلی نقص میکند، شما باید پیش از آنکه موضوع از طرف مخالفین مورد بهره داری قرار گیرد و یا دوستان و طرفداران را مشکوك سازد، جلو آنرا بگیرید. همان بود که داکتر محمد یوسف که یقیناً پیش از من درین باره معلومات داشت و اوضاع را مراقبت میکرد وعده کرد که هرچه زودتر موضوع را به حضور شاه عرض نماید...)

استاد خلیلی په دغه منطق خپلو سیاسی فعالیتونوته د حکومت په مخالفت دوام ورکاوه چې څو محدود او مجهول الهویه عناصر د ډیموکراسی په نامه ونه سی کولای د افغانستان پر حکومت سلطه و مومی د ملت او سلطنت د صلاحیتونو او چارو د بیلولو په ادعا سره د پاچا او خلکو په منځ کی د بد بینی تخم پیاوړی کړی.

برات علي تاج

دي د نوروز علي زوی د ترکمن دري د هزارګانو څخه ؤ چې په کال (۱۲۹٤ش) کي هلته زیږیدلي او وروسته د خپلي کورني سره په کابل کي اوسیدلي دي. دي د اعلیحضرت امان الله د پاچاهي په دوره کي د تحصیل د پاره د ترکیي هیواد ته ولیږل سو او د تجارتي تصدیو او محاسبي په څانګه کي د تحصیلاتو تر بشپړولو وروسته بیرته وطن ته راغی (۱۳۱۹ش) او د ملي اقتصاد

www.sikaram.com

په وزارت کي د تجارتي شرکتونو د اداري په ماموريت لګيا سو (۱۳۲٤ش). دي په راوروسته کلونو کي د هزاره جات د ترکمن شرکت رئيس ؤ، د دغي عهدي علاوه يي په کال (۱۳۲۷ش) کي د کابل د حقوقو او سياسي علومو په فاکولته کي د تجارتي محاسبي تدريس کاوه.

تاج صاحب متين، با وقار او جدي شخصيت ؤ. د عياشي استبداد او رشوت خوري سره يي سازش نه سو کولاي او د وطن د ګوند د وفادارو او مخلصو پيروانو او د هغه ګوند د اجرائيه هيئت د غړو څخه ؤ چه د خزانه دار په حيث يي وظيفه اجرا کوله. دي د وطن د ګوند د نورو فعالو غړو په جمله کي د سردار شاه محمود خان صدراعظم په وخت کي څلور کاله بندي ؤ.

او وروسته د تنګ نظري او سکتارستي په اتهام څو ځله بندي او خوشي سوي دي.

تاج صاحب د هغه هيئت غړي ؤ چې د سردار محمد داؤد د صدارت په وخت کي د عبدالحي عزيز په مشري د منځني افغانستان د اوسيدونکو د حالاتو د خبريدلو او ژوندانه د مشکلاتو د رفع کولو د پاره ليږل سوي وو، دي په دغه سفر کي د دايزنګي په پنجاب کي نابوبره د زړه په سکتي وفات سو (۱۳٤۲ش).

علي احمد نعيمي

دي د ميرزا محمد نعيم چندولي زوي ؤ چې په کال (۱۲۹٤ش) کي په کابل کي زيږيدلي ؤ. ده خپل متوسط تحصيلات د استقلال په ليسي کي سرته رسولي وو، څرنګه چې يي د مطلقيت او استبداد څخه ډيري ترخي خاطري او شکنجي ليدلي وي او په دغه مبارزه کي يي د کورني ډير وطندوسته او با شعايره غړي د لاسه ورکړي وه نو دي هم د هغو ذ ظلم او فرياد څخه په آرامه نه سو کښينستلاي په ښکاره او پته يي د وخت د زمامدارانو مخصوص دسره دارانو او فيوډالانو د ناوړه سلوک او تبيعضي حرکاتو څخه شکايتونه کول. روشنفکران او ملي مبارزين يي د خپلو سياسي او اجتماعي حقوقو د په لاس راوړلو د پاره تحريکول چې په همدغه جرم د عالي تحصيلاتو د دوام څخه محروم پاته سو، د ځواني او روشنفکري ښې شپې او ورځي يي په بند کي تيري سوي.

نعيمي صاحب په کال (۱۳۱۷ش) کي د کابل د ادبي انجمن په غړيتوب او په کال (۱۳۱۸ش) کي د تاريخ د انجمن د غړي او بيا د اريانا مجلي د مسئول مدير او د هغه انجمن د مرستيال په حيث وتاکل سو.

www.sikaram.com

په (۱۳۲۸ش) کي يې د افغانستان راډيو د نشراتو د عمومي مدير او د پښتون ژغ مجلي د مدير عهده لرله، په کال (۱۳۳۰ش) کې د ژوندون د موقري مجلي د مديريت او په عين حال کي د غازي ليسي د لسم، يوولسم او دوولسم ټولګيو د دري ادبياتو د استادۍ عهده درلوده.

علي احمد نعيمي په کال (۱۳۳۱ش) کې د وطن د ګوند د فعال غړيتوب درلودلو په جرم څلور کاله او څو مياشتي په بند کي تيري کړي خو هيڅ ډول سياسي سازش او د عقيدي انحنا ته يې غاړه نه کښيښوده. د بند څخه د خلاصيدلو وروسته يې د اتو کالو د پاره د وطن په مطبوعاتو او جرايدو کي د اجير ليکوال او مترجم په حيث کار کاوه او په ډيرو مشکلاتو يې يوه ګوله ژوند مونده.

دی د ۱۳۴۲-۱۳۴۸ پوری د کابل د صحو کو د مطبعی د رئیس او په ۱۳۴۹ کال د زړه د درد یدلو په ناروغی په کابل کی وفات سو.

مشهور آثار یی:

تاریخ ادبیات افغانستان از حمله چنگیزانی اخیر دوره تیموریان، تذکره خوش نویسان، تاریخ سنبله، طاهریان، گوهر شا بیگم ملکه شاه رخ میرزا، نگاهی به تاریخ غور، مزارات غزنی، سخنوران نامی کشور، دلدادگان تاریخ، خواجه حسن میمندی، تحشیه بر کتاب اکبر نامه کشمیری، تاریخ زبان سانسکریت، مدنیت شرق، دو طفل فریاد میکند، عشق بازیها، موسولینی او نور.

حاجي عبدالخالق فراري

دي د آمو د سيند د پوري غاړي د مهذبو او وطندوستو کورنيو څخه ؤ چې د امير عبدالرحمن خان د پاچاهي په وخت کي کابل ته راغلي دي. خپله حاجی صاحب موقر، خداي دوسته او پارسا شخصيت ؤ چې د ميړي په ازارولو او تکليف نه ؤ رضا. حاجي د اعليحضرت امان الله د مور شخصي منشي او معتمد ؤ. دي د شهزاده عبيدالله جان چې په شاه آغا مشهور ؤ د خط، کتابت، املا، انشاء، ادبي او عرفاني مضامينو استاد ؤ. ده د هغه اخلاص او ارادت له مخي چې د اعليحضرت امان الله او د هغه کورنۍ ته يې درلود د سردار محمد هاشم صدراعظم د غضب

www.sikaram.com

موجب وگرځید او دي يې د خپلي کورنۍ د نورو غړو سره د هیواد ولویدیځو سیمو کندهار او فراه ته فرار کړ. هغه وخت چې د سردار شاه محمود خان په وخت کې بندیان وبخښل سول دي هم د خپلي کورنۍ او وړونو عبدالحلیم او عبدالحمید مشهور په قندي آغا بیدل شناس او صوفي عبدالبصیر سره کابل ته راغلی.

ده د کابل د ښاروالي په انتخاباتو کې ځان کاندید کړ او موفق سو او څه وروسته د وطن د ګوند غړي وګرځید. څرنګه چې ده ته خلکو زیات اخلاص او عقیدت مندي درلوده د دي سره چې یو بي ازاره او عمومي خیر خواه ؤ، د ضبط احوالاتو دستګاه هر کله دي تر تعقیب لاندي نیوي او په سیاسي دسیسو کې یې د ده پښه داخلوله څو یې د عبدالملک مالیه وزیر په ماجرا کې هم د ده پښه داخله کړه او بندي یې کړ او ډیر زحمتونه او بې ادبي یې و د غه شریف او متقي انسان ته ور ورسول. د عمومي بخښنې په لړ کې چې دي هم وبخښل سو په یوه محفل کې چا د ده څخه د بند موجبه او قضیه وپوښته ده په ځواب کې ورته وویل: د یو سړي لکه ما غوندي چې د مرزایي او قلم سره سروکار وي هغه څرنګه کولای سي چې دولت ته خطر پیښ کړي. زه یو غریب سړي یم د ملک خانه سره مي نه پیژندل او نه یې په قضیې اوس هم خبریم، پیښه د خداي ده، څه چې د خداي رضا وي قبوله مي ده. په دي تور یو بل شخصیت محمد آصف آهنګ د مهدي جان زوي د کابل د لومړي ناحیې وکیل هم وویل چې زما نوم یې په ناحقه د عبدالملک په قضیه کې داخل کړي ؤ، والله و باالله که مي عبدالملک پیژانده او که به په خبروم، دومره لت او کوب مي وخوړ چې په مرګ خوشحاله وم، دالا څه هغه وخت چې به مي په سپینه ږیره او ناتوان صورت د حاجي عبدالخالق خان وهل او ټک اوریدل ما به ویل چې څرنګه آسمان ولاړ دي او نه چپه کیږي.

حاجي عبدالخالق په کال (۱۳۷۰ ش) کې د ډیر سپین ږرتیا، ناروغي او اقتصادي ناتواني له کبله په کابل کې وفات سو او په شهداي صالحینو کې خاورو ته وسپارل سو.

www.sikaram.com

ډاکټر عبدالقیوم رسول

ډاکټر عبدالقیوم رسول د سردار عبدالرسول خان مشهور شاعر او اديب زوی ؤ. چې خپل لومړي تحصیلات يې د خپلې مهذبې او وطن دوستې کورنۍ د غړو سردار عبدالعزیز او سردار عبدالحسین عزیز څخه په سر رسولي او د استقلال د لیسې څخه فرانسې ته د طب د زده کړې له پاره ولیږل سو چې د کوچنیانو د طبابت په څانګه کې د ډاکټرۍ شهادت نامې اخستلو وروسته کابل ته راغې او د اطفالو په شفاخانه کې د ډاکټر او د روغتیا په وزارت کې د صحي چارو د عمومي مدیر او د طب په پوهنځي کې د استاد او د رئیس په حیث وګمارل سو. څرنګه چې د یوې متقي او د مطلقیت سره د مخالفې کورنۍ غړو ته منسوب و نو ځکه يې د (وطن) د ګوند مرام په ډیر صداقت او وفا شعاري مخې ته بیوې کله چې د سردار شاه محمود خان د صدارت په دوره کې د وطن د ګوند نومیالي غړي بندیان سول په دغو بندیانو کې ډاکټر عبدالقیوم رسول هم شامل ؤ. خو د یوه کال بند وروسته د شاهي کورنۍ سره د خپلوي او دوستي علایقو درلودلو له کبله د بنده خوشي سو او د روغتیا د وزارت د معین او وروسته په بلګراد کې د افغاني لوي سفیر په حیث وټاکل سو. دي د څه وخت له پاره د افغاني سري میاشتي د موسسې رئیس هم ؤ. ډاکټر عبدالقیوم رسول یو احساساتي زړه سواند، وطن دوست او پر ملي شعایرو مین افغان ؤ، د زړه او خولې په خپرو کې يې هیڅکله تفاوت نه لیدل کیدي، بې تکلیفه او د تشریفاتو څخه خالي انسان ؤ. دي په کال (۱۳۵۸ش) کې وفات سو.

ډاکټر محمد ابوبکر

دي د کابلي محمد شریف زوی ؤ چې په کال (۱۲۹۱ش) کې د کابل د باراني په کوڅه کې زیږیدلی ؤ لومړني تحصیلات يې د امانیه یا استقلال په لیسه کې په سر رسولي او د عالي تحصیلاتو د پاره په کال (۱۳۰۲ش) کې فرانسې ته ولیږل سو او د هغه لیاقت او کفایت له مخې يې چې درلود په کال (۱۹٤٥م) کې د فزیک په څانګه کې د ډاکټرۍ درجې حاصلولو وروسته کابل ته راغې او د استقلال په لیسه کې د پروفیسر په حیث په تدریس لګیا سو او د رقیې د سید حبیب مستوفي د لور او رشتیا او فرهنګ د خور د واده کولو له کبله د کابل د یوې لویې فرهنګي

www.sikaram.com

او سیاسي کورنۍ د سیاسي او کلتوري فعالیتونو سره آشنا او ملګري سو او د (وطن) په ګوند کي شامل سو، څرنګه چې يي په معارف او د کابل په روشنفکرانو کي زیات نفوذ وموند او د (۱۳۳۱ش) په مظاهرو کي يي ګډون وکړ، د دغه ګوند د نورو غړو سره ونیول سو او څلور کاله يي په بند کي تیر سول. د خوشي کیدلو وروسته څه موده بیکاره پاته سو او د ډاکټر محمد یوسف د صدارت په وخت کي د جبل السراج د سمنټو د فابریکي د رئیس او د سردار محمد داؤد د جمهوریت په وخت کي د کور جوړولو د فابریکي د رئیس او بیا د پلخمري د سمنټو د فابریکي د رئیس په حیث وټاکل سو. په دغه وخت کي يي د سیاسي فعالیتونو څخه زړه تور او نا امیده سو او د خپلي ماینۍ رقیه ابوبکر سره يي هم بیلتون اختیار کړ او په (۱۳٤۹ش) کي وفات سو.

ډاکټر نصرالله یوسفي

دي په کوټه کي د افغاني وکیل التجار خدایداد زوي او د محمد نادرشاه د پاچاهي په وخت کي د تجارت د وزیر حاجي محمد اکبر وراره ؤ چې په کال (۱۲۹۲ش) کي په کابل کي زیږیدلي ؤ لومړني او ثانوي تحصیلات يي د استقلال په لیسي او وروسته يي د طبو ښوونځي لوستي په کابل او ولایاتو کي يي د ډاکټر په حیث په کار لاس پوري کړي ؤ. ده په هغه وخت کي چې د طبي ښوونځي فارغ التحصیلانو کولای سو چې د طب په فاکولته کي شامل سي د دغه فرصت څخه استفاده وکړه او د طب په پوهنځي کي يي تر درو کالو تحصیل وروسته د عقلي او عصبي ناروغیو په څانګه کي د کتوره په لاس راوړه او په طبابت يي شروع وکړه. دي یو منور او د مطلقیت او استبداد مخالف شخصیت ؤ د همدغه کبله يي په کمال علاقمندي او فداکاري د وطن د ګوند غړیتوب ومانه دي په (۱۳۳۱ش) کي د وطن د ګوند د نورو نومیالیو غړو سره بندي سو او د څلور کاله بند ګاللو وروسته خوشي سو او پر کور کښیناست. بیا يي هم په ډیر احتیاط او بیله ډغ او ډوغ پورته کولو خپلو فعالیتونو ته دوام ورکاوه او بي بضاعته ناروغان يي وړیا معاینه او تداوي کول. د خلقي انقلاب په دوران کي په هجرت کولو مجبور سو او اوس د لویدیځي اروپا په هیوادو کي اوسي.

www.sikaram.com

عبدالحلیم عاطفي

دي د غلام قادر کاکړ کرنیل زوي ؤ چې د جنوبي پښتونخوا د ږوب څخه د اعلیحضرت تیمورشاه دراني د سلطنت په وخت کي لومړي کندهار او بیا د کابل ده افغانانو ته راکډه سوي ؤ. پلار یي د کابل د ښاروال عبدالرحمن لودین د وژلو وروسته د کابل د ښاروال په حیث کار کاوه.

خپله عاطفي د هیواد د مشهورو لیکوالو او مطبوعاتي شخصیتونو څخه ګڼل کیدي چې د (۱۳۲۲-۱۳۲٤ش) پوری د قطغن او بدخشان د مطبوعاتو د مدیر په حیث کار کاوه او د وطن د ګوند د مهمو او وفادارو غړو څخه ګڼل کیدي. دي د وطن د ګوند د نورو نومیالیو غړو سره پنځه کاله د کابل په دهمزنګ کي بندي ؤ.

غلام حیدر پنجشیري

دي د هیواد د وطندوستو او استبداد ضد شخصیتونو څخه ګڼل کیدي چې د میر محمد صدیق فرهنګ په ملګرتیا او اعتماد یي د وطن د ګوند د مهمو چارو په پرمخ بیولو کي فعاله برخه اخسته او د ژوندانه ډیر مشکلات یي په کمال صبر او حوصلي زغمل. ده د خپلو نورو ملګرو سره څلور کاله سیاسي بند د کابل په دهمزنګ کي تیر کړ. دي د خلقي انقلاب په لومړنیو ورځو کي د هغه سره د مخالفت په تور ووژل سو. (۱۹۸۰).

نورالحق ارغندیوال

دي د ملا عبدالحق ارغندیوال سلیمانخیل زوي ؤ چې په کال (۱۲۹۸ش) کي په کابل کي زیږیدلي او پلار یي د معلمي وظیفه په وطن دوستي او ملي شعایرو سره په سر رسوله او د مشروطي غوښتلو په تور د سراج الملة والدین په عهد کي تر زیاتي مدي پوري په جیل کي پاته سو. په کال (۱۳۲۷ش) کي ارغندیوال هند ته د هوا پیژندني په څانګه کي لیږل سوي ؤ، د تحصیل وروسته په کال (۱۳٤۱ش) کي د عامه فوایدو په وزارت کي د میترولوژي د مدیر په حیث مقرر سو او د افغانستان په مهمو ښارونو کي یې د هوا پیژندني موسسي وپرانستلي. ده د وطن دوستي، د مطلقیت او استبداد ضد په احساس سره د وطن د ګوند غړیتوب په اعتبار او قرباني منلي او د میر محمد صدیق فرهنګ تر لارښوونې لاندي یي د وطن د ګوند د مرام په پرمخ

www.sikaram.com

بیولو او پیاوړي کولو کي د قدر وړ خدمتونه کول. دي وروسته د ملي اقتصاد وزارت ته تبدیل سو او د تجارتي اطاقونو د رئیس او بیا د کلیو د پراختیا د بانک د رئیس په حیث یي کار کاوه.

دي د سردار محمد داؤد د جمهوریت په لومړیو وختونو کي متقاعد او د ثور د انقلاب (۱۹۷۸م) په اوله مرحله کي محبوس او تر اوسه یي د ژوند او مرګ پته د چا څخه نسته.

فتح محمد فرقه مشر هزاره

دي د میر غلام حسن بیګ هزاره زوي ؤ چې په کال (۱۲۸۰ش) کي د هزاره جات د بهسود و د منګسک په کلي کي زیږیدلي او د هزارګانو یوي مهذبي، باسوادي او روشنفکري کورني ته منسوب ؤ. څرنګه چې یي د مطلقیت او استبداد سره ضدیت درلود نو د اعلیحضرت امان الله د اصلاحي پروګرامونو مجذوب وګرځید او په خپلو فداکاریو او ارشاداتو یي د اعلیحضرت امان الله توجه ځانته جلب کړه او د جوانان افغان د فعالو او فداکارو غړو څخه وګڼل سو چې د دغو خدمتونو په بدل کي د اعزازي فرقه مشري رتبي ته ورسید ده د اوني په کوتل کي سقوي اغتشاشیونو ته سخته ماته ورکړه. د اعلیحضرت محمد نادرشاه په دوره کي یي عسکري عالي کورس ولوست او د یو وطن دوست او متجدد صاحبمنصب په حیث وپیژندل سو. دي د هغه اعلیحضرت د قتلولو په دسیسه تورن او بندي سو او وروسته کندهار ته تبعید سو. د سپاه سالار شاه محمود خان د صدارت په دوره کي د عمومي بخښني د اعلان خپریدلو له کبله له بنده خوشي سو او کابل ته راغي او د کابل د روشنفکرانو او مشروطه خواهانو سره یي د پیژندګلوي ناستي او ولاړي له اثره د (وطن) د ګوند غړیتوب حاصل کړ. دي د وطن د ګوند د نورو مشرانو سره د حکومت په مخالفت او بد امني جوړولو په ګناه بندي سو.

د خلقي انقلاب په وخت کي د پلار وطني ملي جبهي غړي د دموکراسي او ملي حکومت د راوستلو له پاره یي فعالیت کاوه. دي په کال (۱۳۵۹ش) د یو ناپیژندل سوي چا په ډزو په قتل ورسید.

www.sikaram.com

افغان ملت

دغه گوند د (۱۳٤٤ش) کال د حوت په ۱۷ نیټه د سه شنبې په ورځ د ۲۶ تنو غړو په گډون د میوند واټ په خادم مینه کې د هغه وخت د برق د رئیس ډپلوم انجینیر غلام محمد فرهاد په وینا تاسیس سو. ده وویل: اوس د دې وخت را رسیدلي چې وطن دوستان د یو ملي گوند په جوړولو سره د هیواد د مشکلاتو په حل او د ټولنې د سیاسي، اقتصادي او کلتوري ودې په تصمیم نیولو کې د ولس د پراخو پرگنو د برخې اخستلو امکانات برابر کړو. وروسته مولانا قیام الدین خادم وویل چې زمور خلکو ته د اساسي قانون په اساس یو څه آزادي راکړه سوې او دلته راز، راز فکري تحولات راتلونکي دي نو مور باید یو داسي ملي او مترقي گوند جوړ کړو چې د هیواد منورین او د نوي عصر ځلمیان پر راتول سي او دغه ډول ویناگاني بیا فدا محمد فدایي او ځینو نورو ملگرو تائید او تفسیر کړي، نو دوي فیصله وکړه څرنگه چې د گوندونو قانون لانه دي نافذ سوي باید سمدستي د مطبوعاتو د قانون څخه د استفادې کولو د لارې د یوې جریدې په چلولو چې افغان ملت نومیږي په کار لاس پوري سي. د دغې جریدې مسؤل مدیران په نوبت سره یو په بل پسې احمد علي ملتیار، قدرت الله حداد، حبیب الله رفیع وو. همداشاني دوي به د خپل ارمان مهم ټکي د ادبي محافلو او لویانو پر مقبرو باندې د تجلیل د غونډو (لکه د کابل په چهاردهي کې د عمر اخان، په کوهدامن کې د سیدال خان ناصر او نورو ملي مشرانو) د جوړولو په ترڅ کې څرگندول. د اخبار د چلولو او ادبي غونډو په دائرولو کې افغان ملت د ډیرو سیاسي او اجتماعي مشکلاتو سره مخامخ سو. پر فعالیتونو او ملي هیلو باندې به یې د ځینو مخالفینو له خوا نامطلوبې تبصرې کیدې څو د (۱۳۵۲ش) کال په حمل (۱۹۷۳م) مارچ کې گوند مجبور سو

www.sikaram.com

چې خپله مرامنامه او اساسنامه د عبدالملک عبدالرحیم زي، ډاکټر محمد احسان تره کي او وفي الله سمیعي په مرسته او مشوره خپره کړي. د دغي اساسنامي له مخي فرهاد د ګوند د رئیس او نهه تنه د ګوند د عالي شورا او فقیر محمد بختیاري د لوي منشي په حیث وټاکل سول. د غونډې په پاي کي چې د فرهاد په کور کي جوړه سوي وه، فرهاد داسي وویل: تر اوسه مو تعهد نه درلود او وروسته له دي باید د ګوندي معیارونو سره سم باید ځانونه عیار کړو.

دوي په سیاسي چارو کي د ګډون په عزم د ملي شورا (ولسي جرګي) په انتخاباتو کي فعاله برخه واخسته او د خپلو ګوندیانو لکه فرهاد صاحب، فدایی صاحب، طاهر محسني صاحب د بریالي کیدلو دپاره یې په تبلیغاتو او سیاسي فعالیتونو پیل وکړ چې کله کله د عمل او عکس العمل مرحلو ته رسیدل. په دغه ګوند کي د اعتمادي پر حکومت باندي د پاپا د اعتماد د رایي ورکولو په نسبت انشعاب راغي او یو شمیر فعالو غړو یي لکه فدا محمد فدایي، سید یوسف میړني او نور د پاپا قیادت خوشي کړ او په علیحده ډول یي د افغان ملت د مرام د پرمخ بیولو دپاره په فعالیت پیل وکړ.

د افغان ملت جریده:

دغه یوه اوونیزه جریده وه چې هره سه شنبي په څلور لویو اخباري مخونو او شپږو ستونو کي د ډپلوم انجنیر غلام محمد فرهاد په امتیاز او د احمد علي ملت یار په مسئول مدیریت د دولتي مطبعي په حروفي چاپ خپریده. لومړي ګڼه یي د وري په ۱۶ د (۱۳۴۵ش) کال راوتلي ده. د دغي جریدي نشراتي مرام داسي خپور سوي دي: (... د لوي څښتن په نامه او د افغاني روح په برکت د (افغان ملت) د توحید، انکشاف او پرمختګ په مقدس کار پیل کوو. زیاته دلچسپه او خوندوره دا ده چې همدا کار په خپله د (افغان ملت) په واسطه کیږي. افغان ملت یو لوي تاریخي او د جامعي نوم دي چې څومره د تاریخ په دورونو کي تر مخه او مترقي ؤ هغومره د نوي عصر او تمدن په منډه کي ترشا پاته دي، خو د دي ملت په عنصر او خټه کي د ترقي او وړاندي والي هغه خواص او ممیزات سته او پاته دي چې که فرصت وي او د انکشاف دپاره په افغاني همت ملاوتړله سي، نو په لږ زمانه کي به افغان ملت په خپلو پښو ودریږي، د مشرق او مغرب د ملتونو ترمنځ به د

www.sikaram.com

نړي د امن او ارتقاء د پاره د پخوا په شان عظیم الشان فطري استعداد په کار واچوي. مورږ د یر ښه او د رنګارنګ صلاحیتونو او خواصو خاوند ملک لرو، ننګیالي ملت، معنوي پانګه. په دي وخت کي چې مورږ د افغان ملت د انحطاط د عواملو د لټولو او له منځه وړلو او د ملي توحید، استحکام او په خپلو پښو د درولو د پاره شدید احتیاج لرو، بیسوادي او ناپوهي باید ورکه کړو. زمورږ له چا سره شخصي غرض، د چا سره اختلاف یا د چا سره بر علیه مبارزه او مجادله نه ده د ښي او کینې خوا د تمایل په فکر کي نه یو...).

د دغي جریدي مشهور لیکوال: مولینا قیام الدین خادم، فدا محمد فدایي، قدرت الله حداد، سید یوسف میرنې، محمد امین واکمن، ایمل عبدالمحمد او نور وو.

انجنیر غلام محمد فرهاد (پاپا)

دي د حاجي سید محمد څرخي لوګري زوي ؤ چې په کال (۱۲۹۶ش) کي کابل ته نژدي د میدان په ابراهیم خیلو کي زیږیدلي او په خته یوسفزي افغان ؤ. ده خپل لومړي او منځني تحصیلات د کابل د نجات په لیسه کي بشپړ کړي او د بریښنا په څانګه کي د عالي تحصیلاتو د زده کولو له پاره المان ته ولیږل سو. ده په (۱۳۱۱ش) کي د بریښنا د انجنیري ډپلوم واخست او وطن ته راغي د کانو او صنایعو وزارت او د بریښنا شرکت په بیلو څانګو کي په وظیفه او فعالیت لګیا سو. د هغو فعالیتونو او خدمتونو له کبله چې ده د کابل ښاریانو او نورو وطن والو ته په سر رسول، د کابل د ښاروالي د (۱۳۲۷ش) کال په انتخاباتو کي د کابل د ښاروال په حیث وټاکل سو. ده د ښاروالي په دوره کي د کابل د میوند جاده وکښله سوه، د ګمنام سپاهي څلي جوړ سو، خو د خواشیني ځاي دا دي چې د کابل تاریخي چهارچتي، د کوټوالي تعمیر او ځیني نور تاریخي آثار د نوو پروژو د تطبیق په لړ کي وران سول.

د بریښنا د شبکو د غزولو او قوي کیدلو د پاره جدي توجه وسوه د همدغه فعالیت او بریالیتوب له کبله د ښاروالي د دوري په سر رسولو وروسته د کابل د بریښنا د موسسي د رئیس په حیث وټاکل سو. دي په کال (۱۳۴۳ش) کي د بریښنا د شرکت څخه د کانو او صنایعو وزارت ته تبدیل سو او د هغه کار سره د موافقي نه لرلو په نسبت مستعفي او بیکاره پاته سو. وروسته د

www.sikaram.com

کابل د ښار د دریمي ناحیي له خوا څخه د ملي شورا د دوولسمي دوري د وکیل په حیث وټاکل سو. یو کال وروسته د شورا د کانو او صنایعو د کمیسیون سره د کار کولو په طرز باندي د اختلاف لرلو په نسبت د ولسي جرګي د غړیتوب څخه یي استعفي وکړه او پر کور کښیناست.

د ده سره یو زیات شمیر افغانانو د زړه له کومي مینه درلوده او د پاپا یا خپل بابا په نامه یي یاداوه. دي یو فقیر مشربه، خوش اخلاقه، موقر او په عین حال کي جدي، خداي دوسته افغان ؤ او له هر چا سره یي د ورور ګلوي او خوا خوږي احساسات څرګندول، د ده ناسته، ولاړه، خوب او خوراک د یو ساده افغان په څیر ؤ. د افراط او تفریط وضع یي په ژوند کي نه لیدل کیده چې څه به یي ویل هغه به یي کول د خوش باوري او سپیڅلتیا هسکه نمونه وه، د وفات وروسته یي د کابل په ده بوریو کي د یو محقر کور او د ابتدایي لوازمو څخه پرته بل څه هیڅ پاته نه سول.

پاپا غلام محمد د عبدالملک عبدالرحیم زي (د سردار محمد داؤد د صدارت د دوري د مالیي وزیر د لوګر د ګمران د کلي اوسیدونکي) چې د ۲۱ کلونو بند ګاللو وروسته په کال (۱۳۵۷ش) کي د خلقي انقلاب په وخت کي د بند څخه را خلاص سوي ؤ او د ډاکټر محمد یوسف، میوندوال، اعتمادي او ډاکټر ظاهر او شفیق دوري د حکومتونو د عمومي عفو د اعلان سره، سره په دي نسبت پرده باندي د عمومي عفو فرمان نه سو تطبیقولاي چې غوښته یي د خپل بند او محکومیت په نسبت د سردار محمد داؤد سره په عام محضر کي محاکمه سي او د هم دغي غوښتني د نه په سر رسیدلو له کبله د سردار محمد داؤد د جمهوریت تر پایه په بند کي پاته سو. سید مسعود پوهنیار د ده د بند په هکله په خپل اثر کي په دي هکله داسي لیکي: (در سال ۱۹۷۸م وقتی اینجانب به لندن رفته سردار محمد عزیز نعیم را دیدم در بین صحبت سخن از ملك خان به میان آمد. از او پرسیدم که راجع به آن چه اطلاع دارد که حقیقت مسئله حبس او چه بود؟ موصوف گفت: یك روز او هم از کاکای خود سردار محمد داؤد پرسید که زندانی شدن ملك خان چه علت داشت. کاکایش به جواب گفت که او نیز چیزی در آن باره نمیداند، ملك خان از مسافرت امریکا (۱۹۵۶-۱۹۵۷م) برگشت یك روز خسرت (شاه سابق) برایم گفت که او را محبوس کند.

محترم داکتر سید قاسم رشتیا در آن باره گفتند: که سردار محمد داؤد خان گاهی

www.sikaram.com

آنقدر تابع امر شاه نه بود، در همه موارد به تنهایی تصمیم میگرفت، البته به صورت عمومی سردار موصوف در اوامر خود، خود سر بود، اما به گمان اینجانب در مسایلی که بین اوشان وجه مشترك داشت باهم متفق الرای می شدند یکی از آن وجود چنین موضوع ملك خان بود...).

بند او فشار د عبدالملک عبدالرحیم زي فکري او جسمي موازنه زیاته خرابه کړي وه او د بند څخه خوشي کیدلو دري کاله وروسته وفات سو.

پاپا د عبدالملک عبدالرحیم زي سره د ملګرتیا او د خلقی رژیم سره د مخالفت په تور څو میاشتي بندي سو، په بند کي تحقیر او وزورول سو او په کال ۱۳٦٤ش) د میزان په اتمه په خپل کور کي چې په ده بوریو کي ؤ وفات سو او په شهداي صالحینو کي خاوروته وسپارل سو.

فدا محمد فدایي

دي د اختر محمد زوي ؤ چې په کال (۱۳۰۷ش) کي د کابل په چهاردهي کي زیږیدلي ؤ لومړني تحصیلات یي د کابل په ښوونځیو او نجات لیسي کي په سر رسولي او بیا یي په بیلو تجارتي او صناعتي موسسو کي د ترجمان، مدیر او په راوروسته کي د کابل د بریښنا په موسسه کي د (پاپا) سره د مخصوص قلم د مدیر په حیث کار کاوه. د نوراحمد اعتمادي پر حکومت باندي د پاپا د موافقي رایي ورکولو په مخالفت د افغان ملت یو شمیر ملګري چې په هغو کي (فدایي) صاحب هم شامل ؤ. د پاپا د ملګرتیا څخه لاس پرسر سول، او خپله (فدایي) ځانته د (ملت) جریدي په نامه نشریه په خپل امتیاز او مسئول مدیریت خپروله، د ملت تر کلیشي لاندي دغه سور شعار خپریدي: (د افغانستان د ملي مترقي جنبش د دموکراتیکو اندیشو خپرونکي اورګان). د لومړي ګڼې سرمقاله یي د لومړي مخ په دوو ستونو کي د (یاد بود رنجهای بی پایان ملت کبیر افغانستان) په نامه خپره سوي وه. د خپرونو څخه یي داسي څرګندیده چې د دست چپي داسي نشنلزم ملي مبارزي تکتیکونو خپرول غواړي چې د افغان د ملي عنعنوي خصوصیاتو څخه را زیږیدلي وي او د یو دموکراتیک دولت په پلیټ فارم کي د ملت له خوا رشد او رهبري ومومي.

www.sikaram.com

فدایي صاحب د (ملت) په ۲۳ گڼه کي د (یک قیام ملي) د مقالي په خپرولو سره د څارنوالي له خوا تر محاکمي لاندي ونیول سو او بندي سو او د سردار محمد داؤد په جمهوریت کی خوشي سو. دي په کال (۱۳۵۳ش) کي په کابل کي د زړه په ناروغي وفات سو.

قدرت الله حداد

دي د حاجي سید محمد څرخي زوي ؤ چې د (۱۳۱۰ش) کال د تلي د میاشتي په لسمه د کابل د اهنگري په کوڅه کي زیږیدلي ؤ. د (۱۳۱۷ش) کال څخه یي د آهنگریو او د کابل په نورو ابتدایي ښوونځیو کي درس لوستي او په کال (۱۳۲۸ش) کي د نجات د ښوونځي د لسم ټولگي څخه راوتلي ؤ. څه وخت یي د جرمني ژبي شفاهي ترجماني کوله، څرنگه چې یي د لیکلو او ملي ویاړونو د معرفي کولو سره زیاته علاقمندي درلوده د (ولس) د جریدي سره یي همکاري شروع کړه. په دي وخت کي د آئیني جریدي مرستیالي هم وروسپارله سوه، په (۱۳۲۳ش) کال کي د پامیر د جریدي سرمحرر. په (۱۳۲٤ش) کي د تجارت د اطاقو د خارجي ارتباط د سرکاتب او د اقتصاد جریدي همکار او بیا وزگار سو او د مخابراتو د ښوونځي د پښتو ژبي د حق الزحمه یي استاد په حیث وټاکل سو. دي په (۱۳۳٦ش) کي د تجارت د اطاقو د اقتصاد د جریدي مرستیال او په (۱۳۳۷ش) کي د مطبوعاتو د ژورنالزم په کورس کي شامل سو او بیا په (۱۳٤۱ش) کي د سري میاشتي د ټولني د تبلیغاتو د لوي مدیر په حیث وټاکل سو. دي په (۱۳٤٥ش) کي د افغان ملت د جریدي د مسئول مدیر په حیث وگمارل سو.

د حداد مشهور آثار دا دي:

د پښتنولي د لاري مشال چې په (۱۳۳۸ش) کي یي د رحمان بابا جایزه وړي ده، لوي اروا گاني چې په (۱۳٤۱ش) کي یي مطبوعاتي جایزه وړي ده، د میرویس نیکه او احمد شاه بابا میراث.

دي د افغان ملت د هغي څانگي غړي او له مشرانو څخه دي چې د پاپا د افکارو او طرزالعملونو پیروي کوي. قدرت الله حداد د خپل فامیل سره په کال (۱۳۵۸ش) کي پیښور ته مهاجرت وکړ او د هغه ځاي څخه د امریکي د متحده اضلاعو مرکز واشنگټن کي پناه گزین سو او ستیزن شیف یي حاصل کړ.

www.sikaram.com

سید محمد یوسف میوڼي

سید محمد یوسف میړني د حاجي سید جلال زوي په کال (۱۳۲٤ش) کي د ننګرهار د خوګیانو په احمد خیلو کي زیږیدلي او د کابل د عالي تخنیک د دوولسمي ټولګي څخه فارغ التحصیل سوي او په کال (۱۳٤٥ش) د مخابراتو په وزارت کي د تکنیشن او میخانیک په حیث په کار لګیا سوي دي. څرنګه چې ده د ادبیاتو او شعر ویلو سره علاقمندي درلوده پښتو ټولني ته يي ځان تبدیل کړ او یو کال يي د پښتو کورسونو د معلم په حیث وظیفه اجرا کړه او د دغه ځاي څخه بیا د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د تعمیم او انکشاف موسسي ته تبدیل او دلته يي د افغان ملت د ګوند د غړیتوب په ساتلو سره د پښتو د تعمیم او پراختیا او د افغانانو د سیاسي او کلتوري وحدت او ترقي په لار کي زیات فعالیت وکړ او ملي شهرت يي ومونده چې په نتیجه کي د افغان ملت د برجسته ګوندي کدرونو او جزباتي ځوانانو د جملي څخه وګرځېد او ځانته يي علیحده مخلصان او پیروان ومونډل.

ده د غلام محمد فرهاد د ډلی څخه ځکه ځان ګوښه کړ چې هغه د نوراحمد اعتمادي حکومت ته د اعتماد رایه ورکړه. د سید یوسف میړني زیات آثار د هغه وخت په اخبارونو او مجلو کي خپاره سوي دي. ده په زیاتو سیاسي مظاهرو کي د افغان ملت په نمایندګي ګډون کاوه او ډېر پرښور او احساساتي شعارونه يي ورکول. دي د ثور انقلاب په لومړني کال ووژل سو.

سید یوسف میړني د پښتو ښه شاعر او لیکوال ؤ چې دلته د ده د نثر او نظم نمونه وړاندي کیږي:

که غواړی

که غواړي چې یو لوي قوي افغان منځ ته راسي لکه څنګه چې پامیر د دنیا بام، د هندوکش غر د عظمتونو ډک او بلخ د ښارونو مور ده، دغه شان مور هم نړیوالو ته د لمر په څیر وځلیږو او د اقام دیوه نوي تحول په ویاړ یاد سي، نو په افغان ملت او افغانیت راغونډ سي، که غواړي چې بیا په رونو ستر ګو د میرویس نیکه او احمد شاه بابا ملي روحیه ووینې او دا توتي، توتي افغان یو سي، د استعمار او استثمار مقابله وسي، غدر او خرافات ورک سي نو په یوه فکر د افغان په ښه

www.sikaram.com

ښکاره سي. افغان د دي ملت هغه لوي او تاريخي نوم دي چې زمور تولي مذهبي، ثقافتي ويارني پکښې پرتي دي او د همدي ټکي ترسيوري لاندې به مور خپل مرام ته رسو.

که غواړي چې دغه وړي، تړي، لوڅ او برېنډ خاوري پر سر قام په پښو ودرپرې، د ترقي جام شونډو ته کړي، ناوړه خويونه له منځه ولاړ سي، ځيني مضر عناصر ورک يا اصلاح سي يوځل بيا داسي ملت منځ ته راولو چې هغه زمور د ننګ او غيرت، ايمانداري او نيکونو د کوښښونو نخښه وي نو په ملت او مليت راټول سي او د يو افغان په نامه سره يو موټي سي.

د افغان ږغ

زه لوي سمندريم په کنډول کي بنديدي نه سم
ځمه خپل مرام ته په هيڅ رنګ ايساريدي نه سم
زه يمه انسان او د انسان سره ژوندون غواړم
مست مي جذبي دي په بل رنګه بدليدي نه سم
خوښه مي دنيا ده چې هر کام پکښې آرام اوسي
دومره خو بيا وايم چې د خپله تيريدي نه سم
زړه کي د ايشيايم د جهلمه تر آمو پوري
ژوند کړم په آزاده په بل چا کي ورکيدي نه سم
غواړمه ملي وحدت خو خپله صبغه ساتمه
دا مي فطري رنګ دي په بل رنګ کي رنګيدي نه سم
زه ميرني وايم په رشتيا زه لوي افغان يمه
خدايږو که سم مړ د چا په جال کي ګيريدي نه سم

ډاکټر انوارالحق احدي

ډاکټر انوارالحق احدي په کال (۱۳۳۰ش) کي د کابل ولايت د سروبي ولسوالي مربوط د جګدلک په کلي کي په يوه متدينه کورني کي تولد سوي پلاريي قاضي عبدالحق جبارخيل نومېد چې د افغانستان په ډيرو ولاياتو کي يې په ابتدائيه، مرافعه او تميز محکمو کي يې قضا کړي ده.

www.sikaram.com

ډاکټر انوار الحق احدي ابتدائیه مکتب د کابل په بنار، قره باغ ولسوالي (کوهدامن) او تگاب په ولسوالي کي لوستي، ثانوي تعلیمات یي د حبیبي په لیسه کي ترسره کړي او له همدغي لیسي څخه یی په یوولسم کي په امریکا کي د یو کال تعلیم دپاره سکالرشپ ترلاسه کړ.

له حبیبي لیسي څخه تر فارغیدو وروسته احدي صاحب د کابل په پوهنتون کي د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځی کي ومنل سو او له کابل پوهنتون څخه له دري میاشتني درس څخه وروسته ورته د (USAID) سکالرشپ ورکړه سو او لیسانس (S,A) او ماسټري (M,A) یي په سیاست او اقتصاد کي په بیروت کي د امریکایي پوهنتون څخه ترلاسه کړه. په سیاسي علومو کي د دکتورا د تحصیلاتو له پاره احدي په کال (۱۹۷۸م) کي د امریکي د نارتوسترن پوهنتون څخه سکالرشپ ترلاسه کړ، په دغه پوهنتون کي احدي په کال (۱۹۸۳م) په سیاست کي دکتورا (Ph,D) ترلاسه کړه، وروسته بیا احدي د شیکاگو په بنار کي د کانټیننټل بین المللي بانک سره دري کاله کار وکړ، خو څرنگه چې په بانک کي وظیفې احدي ته دا موقع نه ورکوله چې د افغانستان له سیاست سره نژدي علاقمندي پاته سي نو یي د بانک د وظیفي څخه استعفي ورکړه او د دیراویدنس په پوهنتون کي یي په کال (۱۹۸۷م) کي د سیاست د پروفیسر په صفت وظیفه ترلاسه کړه.

احدي په انگریزي ډیري علمي لیکني کړي، چې په معتبرو او اکادمیک ژورنالو او کتابونو کي نشر سوي، له همدي امله دیراویدنس پوهنتون احدي ته په کال (۱۹۹۵م) کي د پوهاند ترفیع ورکړه، او اوس هم په همدغه پوهنتون کي د سیاسي علومو پوهاند دي.

هغه وخت چې احدي د حبیبیي لیسي په دریم صنف کي ؤ، د افغان ملت له گوند سره علاقمند سو او په کال (۱۹۶۹م) کي یي د گوند غړیتوب حاصل کړ.

احدي د (۱۹۸۷م) کال په گوندي انتخاباتو کي د افغان ملت د عالي شورا غړي سو، د (۱۹۹۰م) کال د گوندي انتخاباتو څخه وروسته دي د اجرائیه کمیتي وغړیتوب ته ورسید.

انوارالحق احدي د (۱۹۹۵م) کال په گوندي انتخاباتو کي د افغان ملت د گوند د رئیس په حیث وټاکل سو او اوس هم د گوند مشر دي. او د گوند په مرامنامه کی یی د وخت او زمانی د تقاضا ؤ سره سم ډیر تعدیلات راوستی دی.

www.sikaram.com

دی د روم د کنفرانس او پاچا سره نیکی هیلی لری. دي متاهل او وایي د پیر سید احمد گیلاني آغا زوم دي.

شمس الهدي شمس

دي په کال (۱۳۱٦ش) کي د کنړ ولایت د نورگل علاقداري د کوز نورگل په کلي کي زیږیدلي دي. لومړني زده کړه یي د همدي علاقداري د مزار دري په ابتدایي ښوونځي کي تر شپږم ټولگي پوري سر ته رسولي، د دوولسم ټولگي پوري یي په حربي ښوونځي کي زده کړه کړي او په کال (۱۳٤۳ش) کي له حربي پوهنتون څخه فارغ سوي دی. یو کال یی د عظمي صدارت د کارتوگرافي په ریاست کي، اته کاله یی د ننگرهار په یوولسمه فرقه، یو کال یی د بالاحصار د مخابري په قطعه او یو کال یی د ریشخور په اوومه فرقه کي خدمت کړي او په (۱۳۵۲ش) کال کي د نورو صاحب منصبانو په ډله کي د دفاع وزارت له خوا څخه د کورنیو چارو وزارت ته راتبدیل سوي او تر (۱۳۵۷ش) کاله پوري یي د دي وزارت د روغنیاتو د آمر په حیث کار کړي دی. دي د جگړن تر رتبي رسیدلي او د ثور انقلاب په لومړي کال د (۱۳۵۷ش) کال د لیندي د میاشتي په څلورمه له وظیفي څخه موقوف او د همدي کال د جدي په ۲۲ هغه وخت چې د حکومت له خوا څخه د ده کور محاصره او تلاښي کیدي، دي د کنړ د سیند څخه پوري وت او د آزاد سرحد د لاري پیښور ته مهاجر سو.

د دي واقعي پنځه میاشتي د مخه دي په کابل کي د افغان ملت گوند د کدري غړو په یوه غونډه کي د گوند د لوي منشي په حیث وټاکل سو.

د هجرت څخه وروسته د ده په مشري د نورو مهاجرو افغان ملتیانو په ملگرتیا یو گوندي شورا جوړه سوه، دفتر تاسیس سو نشریات پیل او هم په اساسي صورت په هیواد کي د ننه د گوند له مخفي سازمان سره ارتباط ټینگ سو او څو گروپه افغان ملتیانو په گوندي امکاناتو په جهاد کي برخه واخسته. په کال (۱۳٦٦ش) د حمل په ۱۳ یوه لویه گوندي غونډه (کنگره) جوړه سوه او شمس الهدي شمس د انتخاباتو په نتیجه کي د دري کاندیدانو له جملي څخه په واضح اکثریت د گوند د منتخب رئیس په حیث وټاکل سو چې تر اوسه ځانته رئیس وایي او د گوند په خدمت لگیا دي.

www.sikaram.com

د مطلقیت او استبداد په مقابل کي د سرحدی افغانانو او بلوحانو د ملي خود ارادیت او یووالي غوستلو اغیزی

د افغانانو او بلوڅانو د ملي یووالي غوښتلو او د مطلقیت او استعمار سره د مجاهدي احساس ډیري تاریخي ریښې لري. هغه وخت چې دوي د اریانا ویجي څخه د باختر او بلخ او بیا د هندوکش جنوبي خواته راغلل او د دي سیمي د ښکلو هسکو غرونو په لمنو کي خپاره سول له همهغه وخت څخه یعني له دري نیم زرو کالو راهیسي یې د خپلي آزادي او خاوري د تمامیت د ساتلو له پاره تاریخي مجاهدي کړي او هر تجاوز گر ته یې خوله ماتونکي ځواب ورکړي دي.

د دوي مجاهدي د اسلام د ابتدا، د هند د مغولو، د سکهانو او انگلیسانو په زمانه او اوسني وخت کي په نامه یادیږي.

د دي له پاره چې د دوي ملي هویت او تاریخي منزلت لږ څه څرگند سي پس منظر او شاوخوا ته یې لږ څه مراجعه کیږي.

آسیایي ځینې هیوادونه چې په اصطلاح د پخوانیو ختیځو هیوادونو په نامه یادیږي د مصر څخه نیولي بیا تر چینه غځیدلي، د جنوبي او منځني آسیا ځینې برخې یې د افریقي ترشماله نیولي دي، دوي پر پنځو آبادو درو او سیمو ویشل سوي دي: د آسیا په جنوب لویدیځ کي د فارس خلیج ته نژدي دجله او فرات چې په بین النهرین مشهور وو، په هند کي د سیند او گنگاه دره، په چین کي د هوانگهو دره، په شمالي افریقه کي د نیل دره. دغه دري د کرنې او مالداري د پاره زیاتې مساعدي وي، ډکو سیندونو یې هر کله مځکې ورخړوبولي، هوایې توده وه، خاوره یې د کښت او کار له د پاره وړوه، ځکه یې اوسیدونکو د یوې او غولیې په واسطه د نورو قومونو د مخه

www.sikaram.com

د مځکو په آبادولو او مالونو روزلو شروع کړي وه. د دغو درو اوسیدونکو تر نورو انسانانو د مخه په تمدن او تهذیب شروع کړي وه چې د هغو څخه د آثور، کلدي د میلاد د مخه (۲۱۱۸)، د بابل د میلاد د مخه (۱۵۹۵) د سور یې په ساحل کي د فنیقیانو مدنیت د میلاد د مخه دوه زره کاله، د هند ویدي مدنیت د میلاد د مخه (۱۷۶۶) د چین د شنګهائیانو (ینیبانو) مدنیتونه تاریخی اهمیت لري.

هغه وخت چې د دیرلسمي پیړي وروسته آسیایي هیوادونه د بحري موقعیت او لویو لارو د عدم ارتباط په نسبت د ثقافتي، سیاسي او اقتصادي مشکلاتو سره مخامخ سول او خانه جنګي پکښې پیدا سوي په دغه لړ کي برهمایي او اسلامي تهذیبونه یو د بل په مقابل کي ودریدل. برهمایي مشرانو د یو ډول تعصب، خاصي دښمني او تنګ نظریو له کبله د یو لوي ملي او اصلاحي اتحاد او مرکز جوړولو د پاره د مسلمانانو فاتحینو ته د مرستی او ګډ نصب العین لاس نه ورکاؤ او مسلمانانو چې ځانته علیحده فرهنګ او ثقافت درلود، د قرآنی او امرو او ارشادانو سره یې پابندی درلوده، د هندوانو سره یې د دوی تر لاس لاندی ژوند تحمل نه سوکولای نو هر کله به یو د بل په مقابل کی دریدل، په ۱۹ پیړی کی غربی استعمار او استثمار دغو سیمو ته مخ راوښوی، او مختلفو اوسیدونکی یې د آزادی، اقتصاد او دموکراسی په مزیتونو کرار، کرار پوهیدل د دی سره چې دوی د بیلو مذاهبو، سیاسی او اجتماعی عقایدو خاوندان وو، او ځانته یې د نشنلزم خاص اصول درلودل، یو شمیر هغه مشران چې په چین، روسیه او اروپا کی تربیه سوی وه د غربی مدنیت تر تاثیر لاندی راغلل او په خپلو هیوادونو کی یې په اصلاحاتو شروع وکړه.

آسیایي ملتونه که د نړي د نورو ځینو ملتونو په شاني د لیک او لوست د نعمت څخه نابلد او یا محروم وي خو هر یو د خپل طبیعي استعداد او تاریخي ژوندانه د پروسي له مخي ځانته یو ډول تعلیم او معنوي منزلت لري، چې د ژوندانه ټول مشکلات او عوایق د خپل طرز تفکر او ارادي په مرسته تغیروي، دغه ډول کرکټر او فکري پوهنه خپلو طبیعي استعدادونو او تاریخي طرز العملونو ورښودلي ده، د مثال په ډول که یو اسیایي د دي سره چې د اروپایي مدنیت او تعلیم له فیوضاتو څخه برخوردار وي، خو بیا هم په مشکل کولای سي د خپلو فزیکي او فکري روایتونو څخه چې د نیکونو او پلرونو څخه د روایاتو، عنعنو او عقیدو په څیر ورپاته سوي دي، ځان

www.sikaram.com

خلاص کړي او نه سي کولاي چې په مطلق تقلید د ځان څخه هو به هو یو سچه اروپایي جوړ کړي او که احیاناً اروپایي هم سي ظاهري او تشریفاتي بڼه به ولري. غربي مادیت او مطلقه منفعت پرستي ته به تسلیمیدل یو ډول هتک حرمت او فرومایه گي په نظر ورځي.

ټوله اروپایان مخصوصاً د دوي ابرقدرتونه که وغواړي چې د آسیایانو د ژوندانه پر طرز او انگیرنو باندي مطلوبه اغیزه وښندي، باید د هغوي د تفکر د طرزونو او ژوندانه د وسیلو سره پوره بلدیت ولري، بیله عمیقي مطالعي او زیات احتیاط په نظر لرلو سره د صنعت او تخنیک په قدرت د دوي په فکري او اجتماعي موسساتو کي د بدلون راوستلو اقدام و نه کوي. د دي پرځاي چې جانبینو ته په گټه تمام سي د ډول ډول اجتماعي او سیاسي لانجو د پیدا کیدلو به موجب وگرځي.

په دغه لړ کي دلته د افغانانو او بلوڅانو د اجتماعي، اقتصادي او سیاسي نظام د بدلولو او ترقي ورکولو په هڅه د دوي د طبیعي خصوصیاتو، ملي روحیاتو او سیاسي فکرونو د څیړلو په منظور د دوي د یو شمیر ملي مشرانو او سیاسي مبارزینو د ژوندانه پر حالاتو لنډ نظر اچول کیږي.

خان عبدالصمد خان اچکزي

خان عبدالصمد خان اچکزي د حاجي نور محمد خان زوي د کوتي د پښین د گلستان د سیمي اوسیدونکي په کال (۱۳۲۸ق) کي زیږیدلي، په خصوصي توگه یي د علماؤ څخه ديني او مذهبي علوم لوستي په پښتو، دري، اردو او عربي کي د معلوماتو خاوند ؤ. ده په څلور کاله کي تر اتم ټولگي خپل تحصیلات پر مخ بوتلل او په همدغه وخت کي یي په زړه کي د قوم او وطن مینې ځاي ونیوي او د هند د آزادي او استقلال نهضتونو خوند ورکړ. په (۱۹۳۱م= ۱۳۱۰ش) کي هند ته ولاړ او د لاهور د کانگرس په کلني غونډه کي یي گډون وکړ. د استعمار خلاف جذبات او شعارونه یي وارویدل. هغه وخت چې کورته راغې ټول حال یي خان محمد ایوب خان اچکزي او خپل ورور عبدالسلام خان ته بیان کړ، دوي دري واړو د یوي ملي سیاسي تولنې په جوړولو اقدام وکړ. انگریزان د دوي د فعالیتونو څخه ناراضه سول او د سیاسي ناوړه او غیرقانوني گوند د جوړولو لـ کبله یي دري واړه بندیان کړه. په جیل کي دوي د لوړي اعتصاب وکړ ځکه ژر د بند څخه خوشې

www.sikaram.com

سول او په جنوبي پښتونخوا کي يي د سياسي مرکز په جوړولو (۱۹۳۲م) لاس پوري کړ. د همدغه کال په دسمبر کي د سند او جنوبي پښتونخوا په پوله يعقوب آباد کي د عبدالصمد خان تر مشري لاندي د (انجمن وطن) د ملي تحريک اساس کښيښودل سو چې د هند کانګرس او خدايي خدمتګارانو په رسميت وپيژاند. نومورې خان په (۱۹۳۶م) په خپلو شخصي پيسو چاپ خانه را نيوله او د استقلال اخبار يي په پښتو او اردو په (۱۹۳۸م) په جنوري کي راويوست. دغه اخبار په (۱۹۵۰م) کال د پاکستان د حکومت له خوا مصادره او ضبط سو او خپله خان هم ونيول سو. نورو ملګرو يي د محمد ايوب خان اڅکزي په مشري چې په هغو کي ارباب عبدالقادر کاسي، ملک اختر محمد خان کاسي، عبدالباقي خان اڅکزي، محمد اعظم اڅکزي، خان حيات الله خان پير عليزي اڅکزي وو (چې يو آزادي خواه، وطن دوست او مترقي افغان ؤ چې په کال (۱۳۵۷ش) کي د پاکستان او افغانستان پر سرحد باندي د الوتکي د رالويدو په حادثه کي په شهادت ورسيد او د کندهار هوايي ميدان ته ورځرمه برخه کي خاورو ته وسپارل سو کشر ورور يې غلام سرور خان پير عليزي اڅکزي چې يو تعليم يافته او قوم دوسته شخصيت دي اوس په کوټه کي د نشنل عوامي پارټي د محلي څانګي د سکرټريټ عهده لري).

دوي د افغانستان د حکومت په حمايه په توبه کي د ملي خود ارادیت جنډه پورته کړه.

خان عبدالصمد خان د بند د دمودي تر تيرولو وروسته دوه نور ګوندونه د (ورور پښتون او استمان ګل) په نامه هم تاسيس کړه چې د لومړي مشري خپله د خان عبدالصمد خان او د دوهم مشري شهزاده عبدالکريم بلوڅ پر غاړه وه. په (۱۹۳۹م) کي چې په جنوبي پښتونخوا کي د ملي خود ارادیت موجونه په څپو راغلي وه او پاکستان د هغو د آرامولو او له منځه وړلو له پاره د مارشال لا د نظامي حکومت قيودات لګولي وه، خان يي د مارشل لا د قوانينو څخه د سرغړولو په تور په (۱٤) کاله بند محکوم کړ. خان د جيل په دغه موده کي اول ټولګي منشي فاضل، دوهم د فارسي ادب، دريم د پښتو ادب، څلورم انګريزي متريک، پنځم ايف بي انګليسي، شپږم انګريزي، اردو او داسي نور علوم ولوستل، د راخلاصيدلو وروسته يې په کال (۱۳٤۸ش) کي د افغانستان د حکومت په بلنه د استقلال په جشن کي ګډون وکړ. خان عبدالصمد خان اڅکزي د پښتنو او بلوڅو د ملي خود ارادیت په حاصلولو کي زيات تکليفونه وليدل دي د (۱۳۵۲ش) کال

www.sikaram.com

د میزان په ۱۱، (۱۹۷۳م) د ډسمبر په دوهمه د کوتې په بنار کې د خپل کور په مهمان خانه (بیټک) کې د لاسي بمب اچولو په پیښه کې ووژل سو.

د ده یو اثر د پښتو د رسم الخط د اصلاح کولو په نامه زیات مشهور دي.

خان محمد ایوب خان احکزي

خان محمد ایوب خان اځکزي د محمد یعقوب خان زوي په کال (۱۹۰۹م) کې د کوتې د بنار د پښین د ګلستان په علاقه کې زیږیدلی و. دي شل کلن ؤ چې په سیاسي مبارزو کې شامل او د انجمن وطن د فعالو غړو څخه شمیرل کیدي. ده په کال (۱۹۲۹م) کې د انجمن وطن د نورو حساسو غړو سره د انګلیسانو په مخالفت او د پښتنو د ملي خود ارادیت په جرم دوه کاله بامشقته حبس وګاله او د بند څخه د راخلاصیدلو وروسته له وطنه اخراج سو او ډیر کلونه یې په لاهور او ډیلي کې په جلا وطني تیر کړه. دي په کال (۱۹٤۰م) کې د خان عبدالصمد خان په مشري د هند د کانګرس سره همنوا سو. هغه وخت چې عبدالصمد خان د پاکستان حکومت د فرنټیر کرایم ریګولیشن تر قانون لاندې بندي سو، خان محمد ایوب خان یې په عوض کې رئیس وټاکل سو څو د پاکستان حکومت انجمن وطن غیر قانوني اعلان کړ او د استقلال اخبار یې وربند کړ. کله چې پر خان باندې د سیاسي مبارزي حلقه تنګه سوه نو دي د خپلو پنځو ملګرو ارباب عبدالقادر کاسي، ملک اختر محمد کاسي، عبدالباقي اځکزي، خان حیات الله خان اځکزي او محمد اعظم اځکزي (د خان محمد ایوب خان زوم) سره په کال (۱۳۲۹ش) د میزان په لومړي ورځ خپل ورور هیواد افغانستان ته راواوښتل او په توبه کې یې د آزاد جنوبي پښتونستان په نامه حکومت وپرانست او د یوې محلي شورا په واسطه یې چې په هغه کې د پښتنو د سیمې د ټولو قومونو نمایندګان شامل وو، د حکومت چاري مخې ته بیولې او یوه جریده یې د آزاد پښتون په نامه په پښتو او اردو او بله یې د آزادي ورځې په نامه د خپل مرام د پرمخبیولو د پاره چاپوله.

ده د قبایلی پښتنو د ملي خود ارادیت حاصلولو په لار کې ډیر زحمتونه او خواري ولیدي خو د محرومیت او مایوسي د چپلاخي په خوړلو او د پښتنو او بلوڅو د ملي خود ارادیت د نهضت د ضعیفیدلو له کبله (۱۳٤۱ش) په جسمي او روحي ناروغی مبتلاسو او په کال (۱۳٥٤ش) کې د

www.sikaram.com

کابل د جمهوریت په روغتون کي وفات سو او د صالحینو شهداؤ په هدیره کي خاورو ته وسپارل سو.

د ده لنډه سوانح د ده په خپل قلم دا ده:

(...زه د نوم په لحاظ محمد ایوب یم، د ختیې په لحاظ پښتون یم، د قبیلي په لحاظ اڅکزي یم، د ولدیت په لحاظ د محمد یعقوب زوي یم، د عمر په لحاظ ۵۵ کلن یم، د سکونت په لحاظ د گلستان اوسیدونکي یم، د تعلیم په لحاظ د اتم صنف څخه فارغ التحصیل یم، لیکن دا بله خبره ده چې زه ټوله عمر ټوله تعلیم او ټوله تعلیم ټوله عمر گنهم، نو ځکه زه ځان تر اوسه متعلم گنهم او متعلم انتهایي ابتدایي. د مسلک په لحاظ ډیر کج رو واقع سوي یم یعني پر جورو روغو لارو رفتار نه خوښوم، همیشه د نوو لارو او شارو په تلاښ کي ژوند خوند راکوي.

په جمالیاتي لحاظ د حسن قدر کوم، مگر د دامن کشان حسن، د سینه کشان حسن نه.

د ژوند په لحاظ د رحم قابل یم ولي چې هم مي جیلونه او د هغه کلفتونه لیدلي، هم مي جلا وطني او د هغه دردناکو مهجوریتونه، هم مي د مذهبي اجازه دارانو د کفر فتوي گاني اوریدلي او د هغه نفرتونه مي لیدلي دي او هم مي د پلار محروم الارثي او عتابونه، هم مي د اقرباؤ بیزاري او کناره کشي لیدلي دي او هم مي د اقتصادي حرمان ننبي.

د اصولو په لحاظ د هر چا برداشت کولای سم خو د احمقانو او بدتمیزو نه، و هر چاته د تسلیم کیدو عادت لرم مگر اقتدار مستو او ډوډي مستو ته نه.

د اخلاقو په لحاظ د رهباني نظریې قایل نه یم، د ژوندانه آداب پرځای کول خپله انساني وظیفه گنهم، مگر تکلف پکښې کول عذاب، د نظافت او صفایي ډیره دلداده یم مگر تصنع پکښې کول د اخلاقو زیان بولم، وایي چې ځواني حیواني وي، که د ځواني دغه تعریف واقعي او صحیح وي که زه دا ووایم چې زه پیدا سپین ږیري سوم، ځوان سپین ږیري سوم او زوړ سپین ږیري سوم، غلطه به نه وي. د دي ټولو محرومیتو پر بنا اوس په دا خیال ژوند کوم چې اي خدایه د کړو گناهونو سزا خو به ضرور راکړي، آیا د ناکرده گناهونو د حسرت عوضونه به هم وي که څرنگه؟.

زما د جسم کوم خصوصیت چې عکس یې نمایندگي نه سي کولای، هغه دا چې قدمي پنځه فوټه او اته انچه دي، خوله مي طبیعي او غاښونه مي غیر طبیعي دي نو ځکه مي په ملفوظاتو او منطوقاتو کي هم آهنگي هم نه وي.

www.sikaram.com

په آخر کي زه دا جمله بیا تکراروم چې څه عمر چې تیر سوي دي د هغه یاد د بربادي یاد دی چې څه تیریږي هغه یکسر حسرت آباد دي او څه چې راتلونکي د هغه آئینه وګڼي د ماضي او حال.

او هم وایم: زه راغلي وم افغانستان ته د پښتونستان دپاره چې یو څه کار وکړم خو پکښي زده مي کړه آشپزي... په کوم کی چې نه د ځوانې حیواني کیفیتونه وو او نه د شباب دلکش کمندونه، نه د محبت جام په لاس محبتونه وو او نه د حسن او عشق رنګین واردا تونه، غرض دا چې نه مو د پخوانیو عاشقانو په شان د زړه غوښي او د ځګر وینې وخوړلي او نه مو د اوسنیو عاشقانو په څیر شراب او کباب نصیب سول، نه مو د فرهاد په شان سرشکني وکړه او نه مو د مجاهدانه سر کښیو امتیاز په نصیب سو. اوس ناست یم او دغه احساس تیروم، چې نه څه کوم او نه څه کیږی او پر تیر ژوند چې نظر وکړم نو بیا دغه وایم چې د هغه یاد فقط د بربادي یاد دي او کم چې تیریږي هغه یکسر حسرت آباد دي نو نه ګیله کولای سم که یې وکړم نو د چا څخه او نه شکوه لرم او که یې ولرم نو په کمه ژبه؟

آنچه دل از فکر آن می سوخت بیم هجر بود
آخر از بی مهری گردون به آه هم ساختم

د خان محمد ایوب خان اڅکزي سره زما (د دي اثر لیکونکي) ډیر وروسته هغه وخت چې ده ډیر مطبوعاتي او قبایلي آشنایان موندلي وه د نژدي پیژندګلوي پیدا سوه او دا دومره محکمه او پایداره پاته سوه حتي د دوو درو ورځو ترمنځ به مو کله که سره ونه لیدل یو په بل پسي به ډیر دق کیدلو او د لیدلو تلاش به مو کاوه.

خان صاحب محمد ایوب خان اڅکزي یو مترقي فکره، خوش اخلاقه، په قول او عمل پابنده او جدي وفادار انسان ؤ. که څه هم دي د خان په نامه یادیدي خو د خاني صفت او نوښاني بیله ملي غرور او شهامته بل څه نه پکښي لیدل کیدل. د جاګیرداري، سرمایه داري، سرداري او مطلقیت څخه یې ښه نه راتلل او د ریشخند او پسخند په څیر یې یادول. د پښتونولي او قامولي د ځینو کودونو او مراسمو سره یې حساسیت درلود. د آزادي او بشر دوستي احساسات یې زیات تقدیرول، د وینا او قضاوت په حال کي د هیڅا تر تاثیر نه لاندي کیدي او د چا د مخالفت او یا موافقت خیال یې نه ساتي.

www.sikaram.com

خان محمد ایوب خان ته د پاچا کورنی مخصوص سردار محمد داؤد خان په زیات قدر او عزت کتل د همدغه کبله د زیاترو فرصت طلبانو مامورینو او مخورو مرجع ؤ.

زه خپله د خان صاحب د دوستي او مهرباني څخه ډیری خوږي او پخي خاطري لرم چې دلته یې د فکر او بیان د آزادي د محدودیدلو په معذرت نه سم بیانولای بیاهم یوه د هغو څخه دا ده.

د (۱۳۵۳ش) کال په لومړیو ورځو کې د خان صاحب د زیاتي مهرباني او اصرار له مخې زه او محمد گل سلیمانخیل د قبایلو د مستقل ریاست مرستیال د ماپښین په دوو بجو د سردار محمد داؤد جمهور رئیس د لیدلو د پاره د هغه کورته چې په نوي ښار کې ؤ ولاړو او د یوه پیش خدمت په واسطه د سالون یوه اطاق ته رهنمایي سوو او سمدستي د سردار حضور ته ورسیدلو. سردار صاحب د خان څخه د وطن د حال او احوال پوښتلو په ضمن کې د جمهوریت د تاسیسیدلو او د خلکو د پیش آمد او تبصرو په هکله د رایي اظهارولو په انتظار او فکر کې سو. زما په گومان لکه چې دغه طرز سوال د خان پر طبیعت او کرکټر باندي ښه ونه لګید نو سمدستي یې په ډیره تنده او خشنه لهجه د توقع خلاف ځواب ورکړ: چې دانو په ما څه اړه لري، د خپل ضبط احوالاتو او مخبرانو څخه یي په لاس راوړلای سي. د څه مکث وروسته یي بیا وویل چې سوال دي بي ځوابه باته نه سي، داسي وایم: هغه وخت چې ته پر کور ناست وي او باچا پاچاهي کوله، ته ډیر نیک نام او پاچا سخت بدنام ؤ، اوس چې تا د هغه ځای ونیوي ته ډیر بدنام او پاچا ښه نیک نام دي. دغي وینا سردار زیات متاثر کړ او علت یې ځینې وپوښتې؟ خان ورته وضاحت ورکړ: دا کارونه او ویناګاني چې ته یي کوي ستا دي که د نورو؟ ستا د کړو وړو سره دا اته کاله کیږي بلد یو او د عظمي صدارت په وخت کې مو یو له بله ښه سره پیژندلي دي اوس د هغه فکر او عمل سره نه یي. سردار ورته وویل څرنګه؟ خان ورته وویل دغه راډیویي وینا (خطاب به مردم) ستا ده؟ هغه مثبت ځواب ورکړ. خان ورته وویل په دغه لهجه او ادبیاتو چې تا ویلي ده ستا د نورو ویناګانو سره ډیر توپیر لري او ستا نه ګیلې کیږي. ځینې کلمات یي بیخي بیګانه او زمور د فرهنګ او ملي ادب څخه مغایر دي او د پرچمي روحیي او طرز تفکر نمایندګي کوي. په ځواب کې یي سردار لږ څه په متاثره لهجه وویل خان صاحب د جمهوریت د مخالفینو تر تاثیر لاندي راغلي یي او ستا غوندي ملي شخصیتونو څخه دا توقع نه سي کیدلای. خان په ځواب کې ورته وویل که زه د چا تر تاثیر

www.sikaram.com

لاندي راتلاي هغه به استثناء تاسو واست دا ځکه چې د هر پلوه زما معتمد او معتقد یاست. بیا سردار د چایو په قندو خوړه پیاله چې په هیل خوشبویه سوي وه ور وراندي کړه، خان د هغي د چنبلو څخه د وخت د کمي په نسبت معذرت وغوښت او له ځایه ولاړ سو او مور ته یي اشاره وکړه چې ځو به. سردار ورته وویل چې داسي مجلسونو او لیدلو کتلو ته هر کله ضرورت دي او ستر گي په لاریم.

ما د ده هغه یو شمیر مضامین چې قانوني او نشراتي ممانعت یي نه درلود او د خورجین په نامه په څو توکو کي راغونډ سوي وه د سید محمد یوسف میړني په مرسته په لاس راوړه چې نشر ته یي وسپارم خو په وطن کي د سیاسي تحولاتو او لانجو پیښیدلو په نسبت د هغو په طبع موفق نه سوم په خپله خان صاحب د خپل خورجین د معرفي په باب داسي لیکي:

(... د ساعت تیري د پاره چې کوم وقت سیاسي نامعقولیت راپیدا سي نو چار و ناچار په معقولو هزلیاتو وقت تیروم او هم فقط د دغه کیفیت نتیجه ده چې د عاقلانه هرزه کاریو په نوم مي دا لاندي سلسله شروع کړي ده او هرڅه چې دي، په هر شکل چې دي، دا د نظریاتو او نشریاتو یوه داسي مجموعه ده چې څوک یي د مذهبیاتو او نفسیاتو، څوک یي د جمالیاتو او سیاسیاتو او څوک یي محض د ادبیاتو رنګ لري مګر دا یاد لري چې دغه توټکي په مختلفو او قاتو کي تر مختلفو کیفیاتو لاندي په مختلف انداز قلم بند سوي دي چې اسلوب یي ګاهي مذاحیه رنګ لري او ګاهي سنجیده، البته دا بله خبره ده چې زما مزاح ستاسو سنجیدګي وي او ستاسو سنجیدګي زما مزاح دا هم یاد لري چې په دغه مجموعه کي بعضي اظهارات داسي هم سته د کوم تعلق چې زما د شخصي حالاتو او تعلقاتو سره دي او د یوي خاصي واقعي یا کیفیت څخه د شدت تاثر په صورت کي بي اختیارانه د قلم په مخ کي راغلي دي. و هغه ته نه زه نظریات وایم، مه تاسو د نظریاتو په نګاه ورته ګوري، هغه ایوبي کیفیات دي په ایوبي رنګ او انداز کي.

هرڅه چې مي لیکلي دي هغه پدي خیال نه دي چې هره نظریه یا کلیه د خپل نوعیت او معنویت په لحاظ د حرف اخر حیثیت لري او نه په دي غزم دي چې په هغو کي به نه موجوده او نه آینده کم تغیر او اضافه وسي مګر دا هم ورسره وایم چې په دغه مجموعه کي داسي کلیات هم موجود دي چې زما په خیال د تکذیب سعي او د ابطال کوشش یي هغه وخت د ناکامي د رنځ او غم

www.sikaram.com

سره چار وي ترڅو چې ټوله دنیا احمقه سوي نه وي. البته د اظهار کول ضروري ګڼم چې په موجوده حالت کي زه پر ټوله مجموعه باندي یقین لرم او ستاسو د یقین ذمه وار نه یم...).

خان محمد جعفر خان احکزي

دي د خان محمد ایوب خان مشر زوي دي چې په کال (۱۳۱۳ش=۱۹۳٤م) کي د کوټې د پښین د ګلستان په کلي کي زیږیدلي دي، ګلستان د لویدیځ پښین په ۲۲ میلي کي د (غره بند) د لاري په ٤۲ میلي کي واقع دي چې د دې ځای څخه افغانستان ته ډیري لاري تللي دي چې په هغو کي وچه دره، تانده دره او سپینه تیږه زیاته مشهوره ده.

ده خپل لومړني او منځني تحصیلات په ګلستان کي په سر رسولي او د عالي متریک تعلیماتو د زده کړي د پاره کوټې ته تللي او تر لسم ټولګي پورې یې لوست کړي او وروسته د پلار د جلاوطنې او فامیلي سرپرستي د مسئولیت د رفع کولو په منظور یې د تعلیم سلسله وشلیده په سیاسي او ولسي چارو پر مخ ږیولو لګیا سو.

خان محمد جعفر خان اخکزي تر دي لوړ دي چې څوک یې په دغه مختصره لیکنه وپیژندلای سي. افکار او نظریات یې د پښتنو د اجتماعي، سیاسي او ذهني خالیګاهو د ډکولو، تمثیلولو، د اصلاح، ترقي او نیکمرغي پر لار باندي د رهنمایي کولو او سیخولو د پاره د یو معتبر تحقیقي او کلامي قاموس اهمیت لري او د پښتنو د لومړنیو علمي څیړونکو او سوسیولوجستانو د ډلې څخه شمیرل کیږي چې په خورا خوږه او خوندوره لهجه د مزاح او طنز په صورت اجتماعي معایب او کمزوري بیله کم او کاسته په دلاوري او د لهجي په صراحت په قلمي او فکري قدرت داسي بیانوي چې خپل لاڅه بلکه پر دي د هغو د لوستلو څخه بیخي نه په تنګیږي، شخصیت فکري ذهانت او پیاوړتیا ته یې د احترام او مننې سرټیټوي عجیبه خو دا ده چې دي د دومړي پوهې او بشر پالنې سره څرنګه د اخکزیتوب د قبیلي او نژاد د لغوړنو د احساساتو په محدودیت کي ځان ایساروي او کله په هغه هم استناد کوي، خو خیر دا نیوکه نیول به د تاریخ د جبر او ماحول د شرایطو د ناسازګاري له اثره وګڼو او ملامتیا به نه باندي وایو.

www.sikaram.com

خان محمد جعفر خان اڅکزي زیات آثار لري چې مشهور یې دا دي:

پاچا خان په بلوچستان کي، وندر، پښتو او پښتونستان، شخوند، ته وابنه، چپلاخي، ډ زړه خروښ، ټولواکي او نور.

د کلام د نموني او سیاسي فکر د وړاندي کولو په غرض یې هغه سوالاً جواباً، سوانح را نقلوو چې ده په خپله لیکلي ده:

معذرت نامه

(... ژوند حسن دي او حسن ژوند، د ژوند تصویر کشي هغه قدر مشکل ده لکه د حسن تجسیم ولي چې په دي کي جمود نسته، انقطاع نه سته، بلکه تسلسل رواني او ابدیت دي، ژوند خواه د یو معروف شخصیت وي، یا د یو عالم سړي، یوه خاصه دلکشي لري، د روزانه تجرباتو او معلوماتو د ذخایرو څخه مالامال وي، د هغه دلپذیري د هر سړي توجه ځان ته را اړوي چنانچه د خود نوشته سوانح قدر و منزلت د خپل بي تکلفاتو واقعیت په وجه ډیر دلچسپ او دل فریب وي. د دنیا په یو څو مشهورو او نامتو شخصیتونو کي سینټ اګوستاین، روسو، ایټرنډبرګ، تالستوي، اناتول فرانس او اندري ژبد نومونه را واخله هغوي خپل خود نوشته سوانح او واردات د لیکلو سره نه صرف د خپل زړه د تسکین اسباب جوړ کړه بلکه د دل اویزي او دلکشي داسي تصویرونه یې پیش کړه چې پر ځاي لافاني دي. نه هغه سته او نه د هغه کارنامي مګر د هغه دور جمله خصوصیات او سرګرمیاني متحرک او ځلاندي ښکاري. د خود نوشته سوانح احتیاج په دي لحاظ هم ناګزیر دي، په اردو کي د خود نوشته سوانح شمیر پر ګټو حسابل کیداي سي. د شرقي تهذیب او وضع داري یو نمایان او ښکاره خصوصیت انکساروي او غالباً د غه انکسار د خود نوشته سوانح په دي سلسله کي د مطالعي دپاره یو قابل قدر کتاب دي. د ده د شخصیت همه ګیري او جد حیات د شش جهتي سره، سره د هغوي سوانح د یو سبک رو چشمي غوندي ده د کم نغمي چې د الوهیت او ابدیت د تاوه څخه پرښوره دي. څه وخت چې ماته د خپل سوانح او واردات حیات لپکلو خیال راغي نومي په زړه کي قسم قسم وسوسي پیدا سوي. تر ټولو اول سوال خو دا ؤ چې اخر د دي ضرورت څه دي. په کم عهد کي چې مورږ اوقات تیروو په هغه کي وخلکوته د فکر معاش څخه کله دومره وخت پیدا کیږي چې زما خودنوشته سوانح ته متوجه سي او که چیري څه

www.sikaram.com

خلک متوجه سي هم نو د هغوي د پاره د عبرت او بصیرت سامان چشي وي. دا خیال هم د دل گرفتگي باعث ؤ چې خپل سوانح خو عام طور هغه خلک لیکي چې قریب المرگه وي، زه ځوان یم، تندرست او توانایم، په زړه کي مي د جوش او ولولو خزانه ده، د حیات بخش او حیات آفرین ژوند باوجود ماته د خپل سوانح او حیات په دومره عجلت سره د لیکلو په زړه کي ولي خیال پیدا سو، خداي ناکرده زما د حیات مستعاره دائره تنگه نو نه سوه. غرض د مختلفو معقولو او نامعقولو خیالاتو څخه چې مي په ذهن کي راووتي نوي زندگی پیدا کړه، د هغه ډرامایي کیفیات مي محسوس کړه پرله سپور مست دریاب مي ولید چې پکښې مي د خپل حیات کښتي د یوه نامعلوم ساحل په تلاښ پسي روانه ولیده داسي راته ښکاریده گویا د دور جدید کولمبس دیوي نوي دنیا په تلاښ پسي وتلي دي. زما ژوند په واقعیاتو او وارداتو کي یو افسانوي رنگ دي زما ژوند په نشو ارتقاء کي د حادثاتو په بنیادي حیثیت حاصل دي او زما د تجرباتو نوعیت داسي دي لکه د رسم و راه منزل څخه نا آشنا او سالک څخه بي خبره او غیر متعارف مرید چې کیدلاي سي زما ژوند مثال د هغه ماشوم غوندي دي کم چې د سمندر پر غاړه ولاړ د طغیاني او تلاطم انگیزي څخه خوند اخلي او د هغه پورته کښته کیدو ته په معصومانه حیرت او تجسس گوري مگر ناگهانه یي یو ظالم واخلي په سمندر کي یي واچوي، د سمندر په غیږ کي د تللو بعد دوي لاري دي یا د هغه په غیږ کي د عمر ابد د پاره بیدیدل او یا بیا د دي چیلنج په میړانه سره مقابله. اول الذکر لار که مي اختیار کړي واي نو اوس به د دي سوانح لیکلو نوبت نه واي راغلي، ما موخر الذکر موقف شعار جوړ کړ او د دي چلینج جواب مي په ډیر شدت سره ورکړي، زما ژوند د دغه چلینج او مقابلي څخه عبارت دي.

ماما عزیزالله

ماما عزیزالله د سید محمد خان (سدوخان) احمد خیل کاکړ زوي دي چې په کال (۱۹۵۰م) کي د نومبر د میاشتي په یوولسمه د کاکړو د توبي د حاجي خان په نوي کلي کي چې د افغانستان او پښتونخوا پر سرحد پروت دي او د پښین په ضلع اړه لري، زیږیدلي دي.

ده خپل لومړني تحصیلات په خپله پلارني مینې حاجي خان د کلا په کلي کي او تر پنځمي تولگي پوري د کلي په لومړني ابتدایي ښوونځي (گورنمنټ پرائمري سکول) کي په سر رسولي او

www.sikaram.com

د هغه څخه د فارغیدلو وروسته د پښین ښار په عالي لیسي (های سکول) کي شامل سو چې د شپږمي ټولګي څخه يي تر لسمي ټولګي پوري هم هلته درس ووايه او په کال (۱۹۶۷م) په ټوله ليسه کي د اول نمبري درجي په ګټلو سره يي د لسمي ټولګي امتحان ورکړ او د يوولسمي ټولګي د فنون (ارټس) د څانګي د محصل په توګه د کوټې د ښار په مشهور ګورنمنټ کالج کي داخل سو. د دغه کالج څخه يي په امتيازي نمري اخستلو سره د دولسم (اف، اي) ازمويښه ورکړه او په (۱۹۶۹م) کي په ګورنمنټ ډګري کالج کوټه کي په (بي، اي) کي شامل سو او په دي توګه يي په (۱۹۷۱م) کي د څوارلسم امتحان په ښه توګه ورکړ او د بلوچستان پوهنتون چې په هم دغه کال نوي پرانستل سوي و، د لومړي محصل او بيج د متعلم په توګه ومانه او د انګريزي ادب په پوهنځي يا فاکولته کي شامل سو او په کال (۱۹۷۳م) کي يي د بلوچستان پوهنتون څخه د (ايم، اي) انګلش لټريچر يعني په انګليسي ادب کي يي ماسټري واخسته.

عزيز الله ماما د کالج د لومړني ټولګي څخه د پښتنو محصلينو د ملیت پال سازمان (پښتون سټوډنټس فډريشن) غړي ؤ او د تحصيلاتو تر پايه د دغه سازمان په عمومي او وطني سياست کي د نشنل عوامي پارټي (NAP) ملاتړ کونکي وګرځيد د پليټ فارم په (۱۹۷۳م) کي د سازمان د يو فعال او بنسټيز غړي په حيث د (NAP) د هغه وخت د سياست په ملګرتيا په سياسي مسافرت او ملي مبارز په توګه افغانستان ته راغي او نژدي څلور کاله د پښتونستان د مسئلي د موضوع په اړه د يو سياسي کارکن په حيث په کندهار، کلات، کابل او ننګرهار کي پاته سو ترڅو چې په (۱۹۷۸م) د افغانستان څخه د سردار محمد داؤد د جمهوريت په وخت کي بيرته کوټې ته راغي او د افغانستان څخه د راستنيدو وروسته دي د حقوقو په فاکولتي (ايل، ايل، بي) کي شامل سو او د يو محصل سياست مدار په توګه يي د پښتون سټوډنټس فيډريشن (پي، ايس، ايف) د ډګر د پليټ فارم څخه په ډير فعاله توګه سياست کاوه. په دغه وخت کي د سازمان د غير قانوني (زير زميني) اورګان (ترجمان)، د (ټرون) اخبار مديريت هم ور په غاړه ؤ چې په پښتو او اردو ژبو ګډ خپريده.

ماما عزيز الله د شپږمي ټولګي څخه د پښتو ادب او شاعري سره مينه درلوده او کله، کله به يي شعرونه ويل او تر (۱۹۷۴م) پوري يي په محلي جرايدو کي آثار ليدل کيدل خو وروسته يي د

www.sikaram.com

شاعري څخه د ځینو سیاسي ملحوظاتو او ځینو تش په نامه شاعرانو د شخصیتونو د ضعف له کبله ډډه وکړه او د شل پنځه ویشتو کالو راهیسي یې چا منظوم شعر نه دي لیدلي. ده د شعرونو مطالعه او ادبي ذوق نه دي پري ایښي او په خپله کتابخانه کي د نورو علمي او فلسفي آثارو علاوه د ادبیاتو مهمي ذخیري او خطي کتابونه لري.

ماما هغه وخت چې په کال (۱۹۶۷م) کي د کالج محصل ؤ د پښتو نثر یې هم لیکلي چې ادبي او څیړنیزي لیکنې او مضمونونه لنډې کیسې او ډرامې یې مشهوري دي. د دغه وخت نظمونه یې و شهیدته، صادق شهید ته، خان عبدالصمد خان ته، غوڅکي ته، په نامه زیات مشهور دي، چې د کوټې په پښتو اخبار هیواد، د پښتو د ودي د ټولنې پښین په پاڼه کیانو کي چاپ سوي دي. د ماما د ننګ، ادیب په نامه ډرامې او لنډې کیسې ډیري خوندوري او جذباتي دي.

دي په (۱۹۶۱م) کال کي د (پښین د پښتو دودي ټولنه) ادبي سازمان غړي او خزانه دار چې او وروسته عمومي منشي ؤ.

تر دي د مخه د ښاغلي سلطان محمد صابر اندړ تر مشري لاندي د جوړ سوي سازمان (پښتو لټیریي سوسایټي) مهم غړي ؤ. د (۱۹۷۴م) کال وروسته د ده پر ادبي ذوق او شعري قریحي سیاست غلبه وکړه، په پښتو، اردو او انګلیسي ژبو کي یې پر تاریخي، فلسفي، سیاسي او نورو موضوعاتو باندې تحقیقي او علمي مقالي خپري سوي او د خپلو خاطراتو او ماجراګانو اثر یې د پښتنو د وحدت او راوینبولو په مورد کي د زیاتي مطالعې وړ دي.

په (۱۹۸۵م) کي د مارشل لا یې رژیم له کبله په خفیه توګه او وروسته په څرګنده توګه پر پښتنو، مترقي او ملیت پاله ګوانانو مشتمل یوه سیاسي ډله چې په شمالي پښتونخوا (پیښور)، سندھ (کراچي) او جنوبي پښتونخوا (کوټه) کي یې تشکیلات لرل، د (پښتون اولسي کومیټي) په نامه جوړ کړه سوه چې وروسته یې ماما په علني توګه د مشري او صدارت حیثیت درلود. په (۱۹۸۸م) کي د کوټې په ښار کي د صادق شهید پارک کي جوړه یوه غټه جلسه کي چې شل زره کسانو پکښې ګډون کړي ؤ، پښتون اولسي کومیټي (پي، یو، سي) د ماما او د ده د ملګرو له خوا په نوي جوړه سوي سیاسي پارټي عوامي نشنل پارټي (ANP) کي خپله ډله منحله او یوځاي کړه او په دي توګه د (ANP) غړي سو.

www.sikaram.com

په کال (١٩٨٨م) کي د عامه رايو په وخت د پښين د حوزي يا حلقي څخه د ملي اسامبلي دپاره او ورسره د خپلي سيمي کاريزات د صوبايي ايالتي حوزي حلقي دپاره د هغه وخت د خپل گوند د کانديد په توگه د عام چن کي برخه لرونکي و ، چې د ملي اسامبلي پر حوزه يي شپږ زره او د صوبايي اسامبلي پر حوزه يي څلور زره رايي ترلاسه کړي خو بريالي نه سو.

ماما عزيز الله په رايو سره د عوامي نشنل پارټي د مرکزي کومیټي غړي او د بلوچستان د ايالت عمومي منشي ؤ.

په (١٩٨٩م) کي عوامي نشنل پارټي د مسلم ليگ سره د يو ځای کيدو په ضد ماما او ملگرو يي د (ANP) څخه انشعاب وکړ او په سپتمبر کي يي د يو لوي کنفرانس په ترڅ کي قومي انقلابي پارټي جوړه کړه چې خپله ماما يي د خپل ايالت د منشي په حيث وټاکل سو. په (١٩٩١م) کي دوو ډلو پښتونخوا قومي انقلابي پارټي چې هغه وخت يي مشر افراسياب خټک ؤ او دا د (١٩٩١م) د جنوري په چارسده کانگره کي د پښتونخوا قومي انقلابي پارټي په نامه ونومل سوه او عوامي نشنل پارټي حقيقي (افضل خان) د پيښور په نشتر هال کي د شريکي کانگري په ترڅ کي يو نوي مليت پال گوند ، پښتونخوا قومي پارټي (PQP) په نامه جوړه سوه چې ماما يي د سينير وايس پريزيډنټ (مشر نائب صدر) سيمه ايز معاون په توگه وټاکل سو.

په (١٩٩٥م) په گوند کي انشعاب راغي ماما او ملگري يي د لطيف اپريدي په مشري (P,Q,P) ملگري پاته سول، ماما په اوس کي د گوند ايالتي مشر دي د ماما او ملگرو گوند د دروپښتنو مليتپالو گوندو (عوامي نشنل پارټي، پښتونخوا ملي عوامي پارټي، پښتونخوا قومي پارټي) ، پښتون رهبر کومیټي برخوا او غړي دي، په دغه اړه د هيواد د ټولو محکومو قومو د اتحاديي ۰ پونم) د پاکستان د محکومو قومونو د تحريک پر خوا او غړي دي. ماما عزيز الله د حقوقو د فاکولټي څخه د فراغت وروسته لږ د لاندي عدالتونو (سيشن) مدافع وکيل او په (١٩٨٢م) کال کي د بلوچستان هايي کورټ د يوي محکمي مدافع وکيل او سږ کال د پاکستان د ستري محکمي (سپريم کورټ اف پاکستان) مدافع وکيل په حيث کار کوي.

د ده د وکالت د مسلک اتلسم کال دي. دارالوکاله يي په لياقت بازار کوټه عصمت پلازه کي د نشنل لاء چمبرز په نامه يادږي.

www.sikaram.com

ماما عزیز الله یو خلیق، پښتون طبیعته، موقر انسان دي د هغي مینې او اعتماد له مخې چې خلک یې پر ده باندې لري هر څوک یې د ماما او خواخوږي په نامه پیژني.

ماما د افغانستان او افغانانو د یووالي، ارامي، ترقي او نیکمرغي په لار کې ډیر زحمتونه کښلي دي او د پښتنو د ملي خود ارادیت د حاصلولو په مجاهده کې یې خدمتونه د قدر وړ دي.

د ماما د کلام نمونه:

ملګرو فکر وکړي چې ملي ژوندون مو خراب دي
ژوندون د انقلاب دي، ژوندون د انقلاب دي
مورږ په خپل وطن کې د کور څخه بې کوره یو
وحدت د فکر نه لرو کمزره یو بې زوره یو
په ژوند پورې حیران یو د هر څه څخه خواتوره یو
نفوذ د استعمار دي چې ژوندون مو په عذاب دي
د ژوند فرشته ګوره د سامراج سره ټکر وهي
ځپلي ولسونه او قامونه یې پر سر وهي
غورځنګ د آزادي دي غلامي ته چې غومبر وهي
افسوس پښتون ولس دي چې د ژوند کاریې خراب دي
مورږ عالم ولس قوت غټان یې ټوله خاننان ګڼو
مورږ تش ناري وهونکي د هوکه باز سوداګران ګڼو
مورږ تل د ولسو د ارمانو مرکز ځوانان ګڼو
جرس د وخت ناري وهي چې پاڅه انقلاب دي
وینې سوي یو، پوه سوي یو، میدان ته راوتلي یو
زورګیرو، ستمګرو ته عجب په سا وتلي یو
د خپل ولس بچي یو پر دښمن ورپاوتلي یو
د ژوند د نوي فکر په رڼا ماضي جواب دي

www.sikaram.com

ځوانانو ته په کار دي چې راپورته سي تکل وکړي
زور ژوند و فکر پریږدي پر دانوي لار منزل وکړي
د خوار ولس له پاره پر دښمن باندي یرغل وکړي
ناره د انقلاب ده د ځوانانو سور سیلاب دي

ایپي فقیر صاحب
(الحاج میرزا علیخان وزیر)

افغانانو په زیاته بیا قبایلي افغانانو د تاریخ په بیلو دورو کي د خپلي آزادي، د خاوري د تمامیت، ننګ او ناموس او ملي فرهنګ د ساتلو په لار کي د هیڅ ډول مالي او ځاني قربانیو او ستونزو څخه ځانونه نه دي سپمولي. د آزادي دوستو، میرنیو، بهادرو او مجاهدو ولسونو په څیر یي خپل نوم او نښان د دنیا او سیمي د ملي آزادي بخښونکو نهضتونو د تاریخ په مسیر کي په برجسته عنوانو ثبت کړي دي. چې د دغو څخه مور د مثال په ډول د سوات میر عالم خان، محبت خان، زنګي خان، باري فقیر، مولینا ګلاب الدین وزیر، کاکا صاحب شهید، حاجي محمد وزیر، ترین خان، نظام الدین چکي، شیرعلي مسعود، ملا پیوند مسعود، نظم خان مسعود، رمضان خان مسعود، د اکاخیلو ملا صاحب، مولینا اتکړ، ګلستان دور بنګل کاکړ، فیض محمد کاکړ، شیر جان کاکړ، شاه جهان جوګیزي، ګوهر خان بلوڅ، خیر بخش مري، نواب محمد خان، ملتان خان اپریدي، عجب خان اپریدي، ملا مستان، سندوکي بابا، سعادت خان مهمند، د بابري ملا صاحب، قاري عبدالمستعان، مولوي میراجان کاکاخیل، مولینا سیف الرحمن، مولوي فضل ربي، مولینا فضل محمود مخفي، مولینا منصور، د النګار فقیر صاحب، قاضي هیبت شاه، سید انور شاه او په زهاته بها د فقیر ایپي صاحب مجاهدي په افتخار او زغرده یادولای سو.

الحاج میرزا علیخان چې په ایپي فقیر صاحب مشهور و د ارسلا خان زوي د محمد ایاز لمسي په قوم اتمانزي، ابراهیم خیل، نوري خیل، مداخیل، بوربه خیل، ګداخیل، بنګال خیل، ختک خیل، علي محمد خیل وزهر چې په کال (۱۲۸٤ش=۱۸٦۳م) کي د وزیرستان په شاوخوا خیسور کي زیږیدلي ؤ. د مور له خوا د یو متقي او بزرګوار شخصیت میرزمان خان لمسي چې دي

www.sikaram.com

د وزیرستان د توچي په سیمه کي د ایپي په کلي کي چې د کجوري او میر علي تر منځ واقع دي اوسیدي. د ایپي نوم امکان لري چې (اویي) وي ځکه وزېر خلک معروف واو په یا اوړي او وروسته عوامو او میرزایانو هغه په ایپي تلفظ کړي وي، چې د انګلیسي په شاني ښکاري.

فقیر صاحب خپل لومړني تعلیمات لکه عقاید، فقه، تفسیر د حیدر خیلو، دور، بنو، کوهاټ، پیښور، رامپور، خوست او ګیلان خیلو کي د محلي ملایانو څخه تحصیل کړي او وروسته د خپل کلي مدي خیل څخه چې د کجوري کلا څخه یي یو کیلومتر فاصله درلوده د ایپي کلي ته راغي یو کور او مسجد یي جوړ کړ. فقیر ایپي ته چې د هند پر نیمي وچي او ختیځو ملتونو باندي د انګلیسانو د مظالمو تاریخ څرګند سو او پر پښتنو باندي ظلمونه او ناروا وي یي په خپلو ستر ګو ولیدلي نو لومړي ځل د خپل وطن او بیا د هند د نیمي وچي د مسلمانانو د ملي خود ارادیت په حاصلولو لګیا سو او په یوي لکړي او رابړي چوتي یي د انګلیسانو د لوي امپراتوري په مقابل کي د جنګ اعلان وکړ. فقیر ایپي صاحب غوښتنه هغه نا ارامي او بد امني چې د اعلیحضرت امان الله غازي د اصلاحي پروګرامونو د ناکامولو په مقابل کي شروع سوي وه په خپلو جمیله مساعیو او حسن مفاهمو غلي کړي، په همدغه نیت دي د وزیرستان څخه د یو وفد او ملي ټولنې په مشري چې په هغه کي ملایان او روحانیون هم شامل وو د پکتیا ولایت د ترازیو ته راغی؟ څرنګه چې د غه نا آرامي د انګلیسانو له خوا ایجاد سوي وه نو هغوي د پیسو په زور او ډول، ډول توطئو د ایپي فقیر صاحب د عزم په ناکامولو شروع وکړه او فقیر هم څو میاشتي په رنځ او ناروغي تیري کړي چې نور د خپل پروګرام د تعقیبولو څخه ولوید.

هغه وخت چې انګلیسانو پر باجوړ، مهمندو، اپریدو، وزیرستان باندي په تیري کولو شروع وکړ نو فقیر ایپي صاحب د کربوغي د حاجي صاحب په ملګرتیا انګلیسانو ته د جنګ اعلان وکړ د غه مجاهدي د دارماریو، لوټماریو، بی نظمیو او وحشي ګریو له مخي نه کیدي بلکه د خداي د رضا او د ملي نوامیسو ساتلو په نیت کیدي.

د ملي مجاهدینو مشرانو لکه محمود خان اتمانزي وزیر، مولینا محي الدین (پیونده) شاهي خیل مسعود، مولینا حمزالله احمدزي وزیر، قاضي، حاجي محمد احمدزي وزیر، کاکا صاحب اتمانزي وزیر، انګلیسانو ته ډیر مالي او ځاني تاوانونه ورسول. د توچي، میرانشاه، د ته خیلو،

www.sikaram.com

رزمک، وایه، جنډوله جنګونو چې انګلیسان ډیر ستړي کړي وو په صلح راضي سول، خو په (١٣٥٥ق) د محرمي په پنځمه د مارچ په ٢٩ (١٩٦٣م) کي په بنو کي د یوي هندوانۍ په مسلمانیدو چې نوم یې شیخ الاسلامه (اسلام بي بي) باندي کښیښودل سو او د سید نور په نکاح ورکړه سوه، د انګلیسانو په مداخلو او هندوانو ته د بیرته په لاس ورکولو سره د بنو څو، مروتو، ختکو، بیټنیو، مسعودو او وزیرو ملي احساسات راپاریدل او د فقیر ایپي په مشرتابه د دغو سیمو د اوسیدونکو او انګلیسانو په منځ کي د کلونو کلونو جنګونو شروع سول چې د هغو څخه د خړي، مزدک، وام، بنو، بټنیو، دمه دولي، سره مرغه، مکین، وانه مجاهدي زیاتي مشهوري دي.

په (١٩٤٧م=١٣٢٦ش) کال کي چې د هند لویه وچه پر دوو برخو د هند او پاکستان په نامه ویشله کیده، فقیر ایپي صاحب د آزاد وزیرستان د ایالتي حکومت د مشر په حیث خپله خط مشي داسي اعلام کړه:

(... د لوي خداي په کومک او د حضرت رسول (ص) د روحانیت په برکت او د افغان غیور قوم په همکاري سره د (١٣٢٨ش) کال د جدي د ٢٦ ورځي څخه چې زمونږ یوه تاریخي ورځ ده د وزیرستان د ملي حکومت تولي لښکري، تعلیمي، سیاسي او اداري چارې د دي پروګرام سره سمیږي.

١ - د پاکستان د حکومت څخه غواړو چې د پښتونستان په تمامیت او استقلال د صلح او امن د لارې اعتراف وکړي او له ننې ورځي څخه دي وخپلو تولو لښکري او ملکي اجنټانو او مامورینو ته امر وکړي چې فوري د پښتنو او بلوڅو د تولي خاوري څخه ووزي، که داسي ونه کړي نو د هغو د وخیمو عواقبو مسؤلیت به چې د پاکستان د دي لجاجت په اثر پیښیدونکي وي، هم د خداي او هم متحد او مللو د موسس په نزد د پاکستان په غاړه وي.

٢ - څرنګه چې زمونږ نشراتي وسایل نیمګړي دي نو د خپل ورور افغانستان د دولت څخه چې تل د پښتونستانیانو سره صمیمي همدردي لري، هیله کوو چې د پښتونستانیانو مربوط زمونږ پروګرام او اطلاعات دي د افغانستان په جرایدو کي خپاره کړي.

www.sikaram.com

۳- د دنیا د عدالت خوښونکو مرکزونو او د متحده مللو د موسسي څخه خواهش کړو چې د پښتنو او بلوڅو خاوره دي د یو آزاد ملت او مملکت او د خپل یو اساسي غړي په حیث وپیژني او د پاکستان حکومت دي مجبور کوي چې د پښتنو او بلوڅو د خاوري په آزادي او تمامیت اعتراف وکړي.

د فقیر ایپي صاحب ژوند ډیر ساده او فقیرانه و. په خوراک پوښاک ځښاک کي سادګي او سپیڅلتیا موجوده وه، د تکلفاتو څخه یي ښه نه راتله فقیر صاحب متاهل و خو اولاد یي نه درلود. د سهار د سپیدو تر مخه ویښیدي، تر لمر ختو پوري د خداي په عبادت او ریاضت لګیا و.

په څلورویشت ساعته کي یي یو ځل ډوډي خوړه او زیاتره ورځي به روژه و. فقیر صاحب یوازي په خپله سیمه او مسلمانانو کي لوي قومي او ملي نفوذ نه درلود بلکه د دنیا زیاترو خبیرو منابعو ته د ده د مجاهدو او استعمار ستره د مخالفت ازانګه رسیدلي وه. د مثال په ډول د پیام غرب مجله چې په (۱۳۱۸ ش) کال کي په برلین کي په فارسي خپریده د فقیر صاحب په هکله داسي لیکي:

(... فقیر صاحب آن کسی است که طوایف وزیرستان را در شمال غربی هندوستان علیه دولت انگلیس شورانیده است. این شخص یکی از شجاعترین انقلابیون بوده و داراي اراده بس محکم و راسخ است. در اثر مساعی فقیر ایپی صاحب صلح و آرامش که انگلیسها در شمال غرب هند بوجود آورده بودند، به یك آشوب و طغیانی مبدل گشته و طوایف وزیرستان با مسرت و هیجان تابع اراده این شخصیت میباشد...).

د فقیر ایپي د مجاهدو او ملي مبارزو په هکله زیات آثار لیکل سوي دي ځینې یي سحر آمیزه جادویي او غیبي انسان بولي او هر عمل او فکر ته یي په خارق العادګي ګوري.

فقیر ایپي صاحب د زیاتو مجاهدو وروسته په کال (۱۳۳۹ ش) کي وفات سو او د ولس د عمومي غوښتني له مخي یي مړي څلور ورځي د احترام او دعا په خاطر ښخ نه کړه سو. دي د ګرویک د شهیدانو په هدیره کي خاورو ته وسپارل سو. په افغانستان او قبایلو سیمو او د نړي د مسلمانانو په مهمو مرکزونو کي یي شاندارې فاتحې واخستلې سوې. د فقیر ایپي صاحب خلیفه ګانو او ماذونانو هم د انګلیس د استعمار سره د پښتنو د ملي خود ارادیت او ننګ ناموس ساتلو په لار

www.sikaram.com

کې تاریخي مجاهدي کړي مالي او ځاني قرباني يې ورکړي دي. د ده د ماذونانو څخه دغه کسان زیات مشهور دي: مشک عالم احمدزي وزیر (١٣١٦ش)، محمد راز دوړ (١٣١٧ش)، جرنیل بنادي خان (١٣١٨ش)، کرنیل فرمان الله احمدزي (١٣١٨ش)، غازي میرجان اتمانزي وزیر (١٣١٩ش) او نور.

درویش درانی

درویش درانی چې اصل نوم يې عبیدالله او د پلار نوم يې ملا احمد شاه او د نیکه نوم يې ملا علي احمد حبیب زي، سیمکزي، جمالزي، پوپلزي دی د نفوسو د تذکرې له مخې په کال (١٩٥٣م) د جون د میاشتې په څلورمه نیټه د پښین د ګلستان په سیمه کې زیږیدلی او نیکه ګان يې له اوو او اتو پښتو څخه دیني عالمان او عارفان تیر سوی دی.

د ده پلارنی اصلی تاتوبی د کندهار د ارغستان ولسوالی ده چې د نیکه پلار محمد او د هغه نیکه قاضی عبدالکریم هم هلته خاورو ته سپارل سوی دی.

خو پلار يې د خپل فامیل سره د اعلیحضرت محمد نادرشاه د پاچاهی او په کندهار کې د وزیر محمد ګل خان مومند د تنظیمه ریاست په وخت کې د جنوبی پښتونخوا د ګلستان سیمې ته راکوچیدلی او اوسیدلی دی.

درویش درانی تر لسمې ټولګی پورې په ګلستان کې تحصیل کړی، او تر څوارلسم پورې يې په کوټه کې سبق ویلی دی، ده د زیاتو تعلیماتو د پاره د کراچی د پوهنتون داخله اخستی او د شپارسم ماسټرۍ علمی ډګری يې د هغه پوهنتون څخه په لاس راوړی ده. دی په عربی او فارسی ښه پوهیږی او په دغه پورې متداوله علوم يې د پلار او د کورنی د نورو غړو څخه ویلی دی.

د تحصیل څخه د فارغیدلو وروسته د تدریس او استادی شغل يې اختیار کړی او اوس د کوټې په ګورنمنټ سائنس کالج کې د اسسټنټ پروفیسر په حیث کار کوی.

دی د سیمې یو بشر دوست، آزادیخواه، پر ملی ثقافت او قومی فرهنګ مین. مترقی فکره او غیور افغان دی چې د فکر او قلم د لارې يې د افغانانو او پښتنو د یووالی، ترقی او نیکمرغی د پاره د قدر وړ خدمتونه کړی او د دغو تلاښونو او جانفشانیو له کبله دی چې د پیر دوستان او

www.sikaram.com

مخلصان لری او د نوی نسل د شعراو او لیکوالو په محفلونو کی د مرکزی هستی او ځانته حیثیت خاوند دی.

درویش صاحب د پښتو نازک خیاله، د عالی، حماسی، ملی او اصلاحی جذباتو سرشار شاعر دی چې د شعر او ادب په محافلو کی یې پر خوږو او مهیجو اشعارو ډیری ژبې تکول کیږی او په جوش او خروش استقبالیږی.

ده د کوچنیوالی د مرحلی څخه شعری طبع درلوده او د شعری قریحی په هکله وایي: (زه شاعری تش د ساتیری شي نه ګڼم، بلکه دامی خیال دی چې شاعری د ټولنی په وده او تعمیر کی باید رول ولوبوی. په شاعری کی په کار ده د ظلم، جبر استحصال او نا انصافی خلاف آواز پورته شی.

کله چې زه په ښه او بده پوه سوم نو دلته د مرحوم ذوالفقار علی بوټو حکومت و. هغه بنګال د فوج او پنجاب په مرسته ټکولی او شړلی و. د بلوچستان او سرحد جایز حکومتونه یې ختم کړی وه. او د دی دواړو صوبو سیاسی مشران یې جیلونه غوڑولی وو او د غداری مقدمې یې باندی چلولی. په عام ژوند کی انصاف له منځه تللی وو رشوت او سفارش عام سوی وو، د حکومت چاپلوسانو مزی کولی. سم او خود داره خلک له رنګارنګ بی انصافیو سره مخامخ وو. ما د خپلی شاعری لومړی مجموعه پر دغو حالاتو لیکلی او چاپ کړی وه. په دغه مجموعه کی د دغو خلاف سخت احتجاج سوی دی. البته دا کوشش می کړی دی چې دغه احتجاج خالی شعارونه، نه وی بلکه شعرونه وی).

درویش صاحب دا پورته چې څه فرمایلی دی یقیناً واقعیت او حقیقت لری.

شعری طبع او اخلاقی وضعه یې د افغانستان د پیاوړی ادیب او شاعر اړوابنډ ګل پاچا الفت سره مشابه کیدلای سی چې هغه یو بزرګوار، متین، درونډ، وطندوست، د حق او عدالت پرخوا، مترقی په قول او عمل پابند ادیب او متفکر افغان و.

د ده دوی نوری شعری مجموعی د افغانستان د دی روان اوږده جنګ په دوران کې لیکلی سوی او چاپ سوی دی. د افغانستان دی کورنی جنګ د درویش صاحب زړه ډیر زیات کړولی او زوروولی او په روحیاتو او نفسیاتو یې دردولي دی. په دغو دوو مجموعو کې یې د افغانانو د

www.sikaram.com

اتحاد ، دوست او دښمن د بیلولو په هکله غلبلی او کوکاری ترخولی وتلی ، د سیاسی او ملی مشکلاتو د رفع کولو د پاره یې د هغوی د مشرانو او صالحانو ارواح او کرامتونه ننګولی دی.

دلته یې یو شعر (د شهید قبر ته) تر عنوان لاندی د نمونی په ډول وړاندی کیږی.

لحده نیسه یې کرار په غیږ کی — یو زهره چاودی او خوږمن درسپارو
چې یې زخمونه دی دستورو په شمیر — د کهکشان غوندی بدن درسپارو
د صداقت له گلو ډکه چې وه — پاره پاره هغه لمن درسپارو
دا یې گناه وه چې یې نه پریښوول — پر خپل اسمان باندی د بل لمرونه
توره تیاره به یې تیاره بلله — سپینو لمرو ته یې ویل لمرونه
خپل ژوند یې په تروړمی کی تیر کړ — د قام د پاره یې تراشل لمرونه
ژبه وشونډی او اواز یې وقف وو — پر دی دنیا د دې اعلان د پاره
چې د بل چا په وینو داړی سرې کړی — دا حق به نه وی د انسان د پاره
څوک به د چا قصیدې نه پرې وایي — منبر به وی تش د اذان د پاره
هغه وگړی به جابر باله شی — نوم به څوک نه یږدی د امام وربانډی
چې د بل چا له اوښکو ستوری جوړ کړی — اوښائسته کړی خپل مانښام وربانډی
بی وسه زړونه یې هواروی مخ ته — په ناترسی لګوی گام وربانډی
خو د فرعون وارثان ژر راغوندۍ شول — چې دا سړی کې یې خبرې کوی
زموږ د واک سیسی به ښکار کړی یو وخت — دا د شاهین بچی وزری کوی
نن که تنها دی خو صبا به گوری — چې اقتدار پسی لښکری کوی
راځی چې اوس لاترنده ولټوو — د دی روښانه او سپین لمر د پاره
راځی چې وکړو انتظام د غشو — دا دولس د ښی وزر د پاره
راځی چې مځکه له اغزو کړو پاکه — نن د گناه د نوی کور د پاره
بس بیا هر لور ته غلبلې جوړی شوې — چې د وطن دا لوی غدار ونیسی
غابن د هیواد په پاک وجود لګوی — دا د لستونی تور ښامار ونیسی
د خپلی خاوری دا دښمن ونیسی — د خپل دښمن دا مددګار ونیسی

www.sikaram.com

د درواغـــجنو په دی نارو باندی ســـاده اولس ســـو ټول خطا لحـــده
چا چې د دوی په سـرو زخـمـونو ژړل مـــاته يې کـړه د هغـــه مـــلا لحـــده
دا دی پـه ويـنـو کـي لـړلـی راغـی په بيـــوسی ســـره تر تا لحـــده
نو ته يې ونيـسـه کـرار په غـيـږ کی دا زهره چاودی او خـورږ من درسـپـارو
چې يې زخمونه دی دستورو په شمير د کـهکشـان غـوندی بدن درسـپـارو
د صـــداقت له گلو کـــه چې وه پاره پاره هغـــه لمن درســـپـــارو

www.sikaram.com

ماخذونه

مباحث علوم القرآن ډاکټر صبحي صالح

الفهرست ابن ندیم

برهان استاد محمد عزت دروزه

الانفاق امام سیوطي

تفسیر القرآن مولینا محمود الحسن

ملل و نحل ابو الفتح محمد

البداء و التاریخ مطهری مقدسی

سیرة النبی مولانا شبلي نعماني

احزاب سیاسي ولي الله یوسفیه

احزاب سیاسی ډاکتر حسن محمدي نژاد

حزب چیست ډاکټر دلاوری سهري

مکتوبات شاه ولي الله عظیم الدین

مکاتیب سید احمد پروفیسر محمد عبدالجمیل

تاج التواریخ امیر عبدالرحمن خان

سراج التواریخ فیض محمد کاتب

افغانستان در قرن ۱۹ سید قاسم رشتیا

افغانستان در پنج قرن اخیر محمد صدیق فرهنگ

افغانستان در مسیر تاریخ میر غلام محمد غبار

رجال و رویداد های تاریخی احمد علی کهزاد

افغانستان در پرتو تاریخ احمد علی کهزاد

تحریک شیخ الهند مولینا سید محمد میان صاحب

کابل مین سات سال مولینا عبیدالله سندهی نسب و زاده گاه سید

www.sikaram.com

جمال الدین افغاني پوهاند حبیبي
بینش تاریخی قرآن یعقوب نعماني
کلیات علامه اقبال لاهوري اقبال اکاډمي
جلد دوم و سوم اشعار استاد
خلیل الله خلیلي استاد خلیلي
اوسنی لیکوال جلد ا، ۲، ۳ استاد بینوا
غوره اشعار، نثرونه استاد گل پاچا الفت
مجموعه مقالات پوهاند حبیبی
انگار جریده فیض محمد انگار
کلکسیونهای کابل مجله انجمن ادبی، پښتو ټولنه
وطن جریده میر غلام محمد عبار
نداء حق جریده عبدالرحمن محمودي
افغان ملت جریده انجنیر غلام محمد فرهاد
شمس النهار منشي غلام قادر
مقالات محمود طرزي ډاکټر روان فرهادي
در زوایای تاریخ معاصر استاد احمد علي کهزاد
حبیب الاسلام کشککی
تاریخ مختصر افغانستان پوهاند حبیبي
امیر حبیب الله کلکاني ډاکټر خلیل الله
افغانستان چا وران کړ عبدالجبار ثابت
افغانستان در دائرة المعارف تاجک پوهنتون کابل
چهار پادشاه در یک سال حضرت سید بخاري
حوادث افغانستان اشتو سرا
روابط خارجی افغانستان
در نیمه قرن بیستم ادمک، ایل، ډبلیو

www.sikaram.com

مردم و سرزمین افغانستان ماري لویس
حوادث در افغانستان ریسزاي، ایم
رویداد لویه جرگه ۱۳۰۳
دارالسلطنه افغانستان کشککی
تذکره انقلاب فیض محمد کاتب
اسناد روابط خارجی افغانستان
اتحاد شوروي چاپ کابل
افغانستان قبایل کوچ نشین مجموعه مقالات
مرامنامه اساسي فرقه استقلال و تجرد ۱۳۰۷ هـ.ش
خروج شوروي و آینده سیاسي و
اعمار مجدد افغانستان پوهاند ډاکتر احمد شاه
د پښتنو تاریخ ډاکتر عبدالرزاق پالوال
پښتانه ډاکتر حبیب الله تري
تاریخ فتوحات مسلمانان در اروپا شکیب ارسلان
تاریخ فلسفه در جهان اسلام حنا ، الفاخوري
اسلام و صلح جهاني سید هادي
د افغانستان نومیالي لومړي، دوهم، دریم څلورم ټوک استاد عبدالروف بینوا
دین و جامعه ډاکتر حمید عنایت
الاسلام و اصول الحکم عن عبدالرزاق
بحثي درباره مرجعیت و روحانیت سید محمد حسین
عبادت در اسلام ډاکتر یوسف قرضاوي
ستاره های فضیلت ابوالقاسم
تاریخ تمدن اسلام و عرب جرجي زیدان
روانشناسي اسلامي ترجمه ډاکتر شرقاوي
تفسیر المیزان روح الدین الاسلامي

www.sikaram.com

اندیشه های سیاسی غزالی حاتم قادری
مکتوبات امام ربانی چاپ لکنهو
افغان نامه علی اکبر ده خدا
شرح تعرف خواجه امام ابو ابراهیم
رساله قدسیه نجم الدین رازی
حیات افغانی محمد حیات خان
د افغانستان تاریخي پیښي پوهاند عبدالحي حبیبي
روضت الصفا محمد خاوند شاه هروي
جنبش اسلامي در کرانه غربي و نواره غزه داکتر زیاد ابو عمر
ادوار فقه محمود شهابي
یاقوت سیر مولینا عبدالحق خروتي
د کابل د سلطنت بیان الفنستن
مخزن افغاني نعمت الله هروي
د افغانستان او بلوچستان په باره کي یاداشتونه را ورتي
بابرنامه ظهیر الدین
تاریخ شیرشاهي عباس سرواني
مشاهیر شرف جرجي زیدان
تاریخ هرات سیفی هروی
د هند د شمال غرب سرحد سرویلیم بارتن
تذکره علمای هند رحمان علی
قاموس الاعلام شمس الدین سامی
جغرافیای خلافت شرقی لسترنج
ایران شهر مارکوارت
کانون های علوم و ثقافت اسلامی افغانستان فخر الدین
لغت نامه علی اکبر ده خدای

www.sikaram.com

www.sikaram.com

بنگاه انتشارات میوند
کابل - افغانستان